
روضة الحبیب (اوله حصه)



تصنیف

خادم الاسلام حاجی مُحمَّد آمین (مرحوم)

حاجی آباد عمرزئی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دائم ایمان خاوندہ

هزار هزار عالمه درستا کښې هر آن خاونده
لوئے لوئے کرم کړے نصیب م دا ایمان خاونده

د کائنات جمله ذرے که م روحونه کړے ته
په هر نفس قسم پتا تا ته اسان خاونده
ستا د دیر لوئے علم په شمار ازل نه تر ابده
قسم پتا تا نه قربان تا نه قربان خاونده

دغه ایمان او عقیده عشق و حیا او ادب
تا ابد غوارم تا نه ستا په لوئے احسان خاونده

ازل نه تر ابد هردم ستا د لوئے علم په شمار
کړے ایمانا احتسابا م کل گذران خاونده

ازل نه تر ابد هردم ستا د لوئے علم په شمار
ادب حیا جرا سپارم تا ته سبحان خاونده
ازل نه تر ابد هردم ستا د لوئے علم په شمار
رضا ثنا شکر سپارم تا ته هر آن خاونده

هزار هزار هزار هزار کرت سوال کوم
هغه چه تا ته ئے معلوم دے د جمله شان خاونده

په وسیلے د محمد ﷺ محمود محبوب کریم
جمله دعا م مستجابه کړے رحمٰن خاونده
احقر ذلیل فقیر محمد امین خوار سره تل لارے جنت کښې جلکې موا که دوستان خاونده

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دائم ایمان محبوبه

هزار هزار عالمه درستا کښې هر آن محبوبه
لوئے لوئے کرم شه نصیب م دا ایمان محبوبه

د کائنات جمله ذرے که م روحونه کړی رب
په هر نفس قسم په رب تا ته اسان محبوبه
د خپل رب العزة د لوئے علم پشمار تر ابد
قسم په رب تا نه قربان تا نه قربان محبوبه

دغه ایمان او عقیده عشق و حیا او ادب
تا ابد غوارم رب نه ستا په مخ روخان محبوبه
ازل نه تر ابد هردم د رب د علم پشمار
شه ایمانا احتسابا م کل گذران محبوبه

ازل نه تر ابد هردم د رب د علم پشمار
ادب حیا جرا سپارم پخپل سبحان محبوبه
ازل نه تر ابد هردم د رب د علم پشمار
رضا ثنا شکر سپارم په رب هر آن محبوبه

هزار هزار هزار هزار هزار کرت سوال الله کوم
هغه چه رب ته ئے معلوم دے د جمله شان محبوبه

خپله محبوبه په عزت او وسیلے ستا بانده
جمله دعا م مستجابه کړے رحمٰن محبوبه

احقر ذلیل محمد امین خوار سره تل
اوسه جنت کښې جلکې خوازه دوستان محبوبه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

مقدمه

اَلْحَمْدُ وَالشُّكْرُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدٰنَا لِهٰذَا وَ مَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰنَا اللّٰهُ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۔ فِیْ كُلِّ لَمْحَةٍ وَنَفَسٍ وَطَرْفَةٍ وَلَحْظَةٍ وَحِیْنٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ تَعَالٰی وَبِقَدْرِ عَظْمَةٍ وَعِزَّةٍ وَشَرَافَةِ ذَاتِهِ الْحَقِّ الْمُقَدَّسِ الْكَبِیْرِ الْاَكْبَرِ الْعَظِیْمِ الْاَعْظَمِ وَجَمِیْعِ صِفَاتِهٖ وَاَسْمَآئِهِ الْحُسْنٰی كَمَا هُوَ اَهْلُهٗ وَیُحِبُّ وَیَرْضٰی وَ هُوَ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ۝ بِالْسِنَةِ وَ لَطَائِفِ ذَرَّاتِ الْمَوْجُوْدِ الْكِبْرِیَائِیَّةِ ۔

وَكَذَالِكَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی اَشْرَفِ الْبَرِیَّةِ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَ اَزْوَاجِهٖ وَاَهْلِ بَیْتِهٖ اَجْمَعِیْنَ ۝ اٰمِیْن ۔

○

دَ ګران او خوږ اسلام ګرانه اوخوږه روره رضا اولقا دَرب العزة جل جلاله دِ سره دَ جمله مُسلمانانونصیب شه ۔

اَلسَّلَامُ عَلَیْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی وَ بَرَكَاتُهٗ ط

ته چه داکتاب لولے ۔ نو داسے فکراو مراقبه اوکړه ۔ لکه ته چه په مدینه منوره کښے دَ محبوبِ انورصلی الله علیه وسلم په حضورمبارک دَجنت په روضه کښے ئے ۔ او دا هم یقین لره چه ته هغه کتاب لولے چه دَرب العزة جل جلاله په توفیق اوهدایت او دَ محبوب انورصلی الله علیه وسلم په ارشادمبارک یو عاجزبنده داکتاب لیکلے دے په روضه دَ جنت کښے متصل دَ پنجرے مُبارکے سره په مابین دَ (اُسطوانة سریر) او "اُسطوانة حرس" کښے ۔

او دغه عاجزبنده په ډیرے عاجزئ په دغه خاص مقام کښے سوالونه او دُعاګانے کړی دی ۔ بارِ بارِ چه یاالله هر مسلمان رور چه داکتاب هرځائے لولی ۔ ته ئے داسے اجراو محبت نصیب کړے لکه چه هم دلته ئے په دے خاص مقام کښے لولی ۔ اوچونکه داجنّت دے نو په جنت خو ستاوعده ده چه دَ

غوښتونه تاسره زیات احسانونه دَ رضا او لقا خپلے دی ۔ لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ فِیْهَا وَلَدَیْنَا مَزِیْدٌ ۝ نو یا الله ته څومره له غوښتونه زیاتی احسانونه دَ رضا او لقا خپلے نصیب کړے ۔ اٰمین

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ اَمَرْتَ بِالدُّعَآءِ وَ قَضَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ بِالْاِجَابَةِ وَاِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ ۝

لیکن خوږه اوګرانه روره ته هم په ګریوان کښے اوګوره ۔ چه دَ داسے بهترین محبوب صلی الله علیه و سلم دَ پاکیزه اخلاقو سنتونه مخالف نه ئے ۔ دَ ظاهری باطنی ناجائزونه دِ سره لما رب العزة جلّ جلاله په وسیلے او شرافت دَدے محبوب صلی الله علیه وسلم صحیح توبة النصوح نصیب کړه ۔ لیکن بلکه څرنګ چه انسان په کل مخلوق کښے مکرّم دے ۔ دسے مخ په کل انسان کښے مکرّم دے ۔ لدے وجے نه رب پاک ته سجده په مخ لګولے شی ۔

نوچه دَ چا مخ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ مخ مبارک نه مخالف وی ۔ نو نهایت افسوس اونقصان او زیان دے ۔ یوه قبضه پوره ۔ نه کمه ږیره دِ نصیب شه ۔ اودا مقدار واجب[1] دے ۔ ځکه چه په دے رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشه والے کړے دے ۔ سره دَ جُمله صحابهؓ وو ۔ بلکه دا دَ جُمله پیغمبرانو اخلاقِ کریمانه دی ۔ اوخره یل وغیره دَ رذیلو بلکه دَ ډیرو بیغیرتو پیرنګیانو مشابهت دے ۔ دا دِ نصیب مهٔ شه ۔

بلکه دَ بے غیرتو په مشابهت اکثرخلق خواران بے غیرته کیږی ۔ بیا ئے دَ خپلے ښځے لور په بے پردګئ پروا نه وی ۔ اوپه بے غیرتو باندے بوئے دَ جنت حرام یئ ۔ العیاذ بالله تعالیٰ ۔

بله داچه خوشبوئی دَ جمله پیغمبرانو علیهم الصّلوٰة والسّلام سنت ده ۔ اوملائک په خوشبو ځائے کښے اوسیږی ۔ اوشیطان په بد بویه ځائے کښے ۔ نو خوله دَانسان چه دَ الله جل جلاله دَ قرآن ، او ذکر ، او ثنا ، لوښے دے ۔ دا خودِ دَ تمباکو ، په لوګو ، او دَ نسوارو په بد بوئی بد بو یه مهٔ شه ۔ آمین

[1] اشعة اللمعات ۔ شرح المشکوٰة جلد اول ۱۲

دا خو ظاهري يو دوه مثالونه وو. نو د رب پاک په خپل ايماني بصيرت او شرافت په جمله ناجائزو دانا او بينا او په امن د امان لره. سره د دې عاجز بنده. آمين

ګرانو او خوږو رورو دا نصيحت هم په دې خاص مقام کښې ليکلې شي. نو د دې ډير نزدې محبوب صلی الله عليه وسلم په خاطر درته په ډير ادب سوال کوم چه رازه. چه څه اوس دوارو له جمله وو بدو توبه کړو. څما خو د توبه وي. ته هم ايماني صحيح اقرار اوکړه اووايه چه څما د هم توبه وي. آمين. ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله العلي العظيم ۝ وَمَا ذَالِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ ۝ بلکه جمله خوږو او ګرانو رورونو که په دې مجلس کښې وي. ټول د په ايماني اقرار او محبت او فرمايي چه څمونږ د هم صحيح توبه وي. آمين

خوږو او ګرانو رورو څوک چه په حقه مسلمان وي. هغه حقيقت مني. نو حقيقت دا دې چه د دوارو جهانو جمله عزتونه، شرافتونه، حيا، ادب، سيالي، بهادري، سرې توب، ښه اخلاق په شرعي جوند. يعني په جوندون د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم کښې دي. حضرت محبوب انور صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه "اَدَّبَنِيْ رَبِّيْ فَاَحْسَنَ تَادِيْبِيْ". يعني څه چه الله جل جلاله په ادب کړې يم، نو څما ډير ښه ادب دې. او رب العزة جل جلاله ورته په قرآن کريم کښې فرمائي اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۝ يعني تحقيق ته په لويو خويو نو ئې. نو دا شرعي جوندون په حقيقت کښې خوئې د حضرت محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم او يو لاکه څلير ويشت هزاره پيغمبرانو خوئې او ادب دې.

نو چه څوک دا سې مبارک خوئې او ادب پريږدي. او په خلاف د دې د پيرنګيانو خوئې خوخ کړي د څان دپاره بس هم د هغوئ په شان څان جوړوي چه په تمام جهان کښې د پيرنګيانو نه بې غيرته او بې حيا انسانان نشته. د څناورو په شان پکښې د مور، خور، لور، او د خپلې ښځې فرق نشته. څه چه په مخ ورغلو بس خپل مخ تور ه وي.

نو چه د دا سې سپکو بې غيرتو خلقو مشابهت څان د پاره خوخ کړي. مثلاً سر انګريزي، ګيره بريت خريلي، کله د سپيکو لاندې د مچانو پشان لږ بريت پريښي،

بې پردګي، بې غيرتي، وغيره وغيره.

نو اوس مسلمانان د انصاف اوکړي. چه د داسې خوار دوکه شوي نه به بې عقل نادان جاهل بل څوک وي. العياذ بالله تعالیٰ. قسم په رب العزة جل جلاله چه شريف سيال غيرتي مسلمان به د خپل شرعي جوندون د يو ساعت فخر او لذت د لکونو کالونو په سلطنتونو چه په فسق وفجور کښې وي وانه خلي. او په حقيقت کښې د شرعي څوان سيال او بهادر د شليدلې څپلئ نه د فاسقانو خوارانو تاجونه تختونه قربان او نثار شه. نو رب العزة جل جلاله د په برکت او شرافت او خاطر د دې ډير نزدې محبوب انور صلی الله عليه وسلم جمله مسلمانان رونړه د شرعي جوندون په عزت سرفراز او عزتمند کړي. آمين

خوږو او ګرانو رورو! دا کتاب ډير په تدبر او فکر او ښه نيت لوله. مناسب چه په يوه مياشت، دوه درې کښې، بلکه تر پنځو مياشتو پورې خوئې يو څل ضروري ختم کړې. نو په خپله به ئې په خوږو پوئې شې.


مناجات:-

اللهم ربنا الكريم العظيم الرؤف الرحيم - هر دوست رور چه دا کتاب په خپل محفل درس، دار العلوم کښې د محبوب انور صلی الله عليه وسلم په محبت ستا د رضا لقا د پاره تبرګا په يو خپل مناسب فرصت اسانه اندازه کښې معمول کړي. نو دغه محفلِ درس دار العلوم ئې د دې ډير نزدې محبوب انور صلی الله عليه وسلم په وسيلې او شرافت سرفراز او ممتاز کړې. او دا توفيق هم جمله مسلمانانو لوستونکو ته ورکړې. چه د عاجز ذليل لاچار انسان ته ستا د رضا او د لقا د ډير حصول دعا اوکړې. آمين

خپله اې ډير بيا بيا خپله رب العزة په شمار د علم خپل د دې کتاب حرف حرف د سره د جمله دعاګانو، ذکر و ثنا، د دې عاجز، او د جمله دوستانو بلکه د جمله مسلمانانو ستا د معلوماتو په شمار په لمحه لمحه او طرفه طرفه د ابد الابد کښې په ژبو او لطائفو د ذرو د کائناتو ايماناً واحتساباً ادباً وحياءً، شوقاً ومحبةً تکرار وي.

آمين يا رب العلمين ۝

سُبحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ہ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ہ
وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ہ



د مصنف د دستخط عکس

فی روضة
من ریاض
الجنّةِ

بسم الله الرحمٰن الرحیم ہ اللهم ربنا الکریم العظیم الرءوف الرحیم لک الحمد و الشکر فی کل لمحةٍ و طرفةٍ ونفَسٍ وحینٍ عدد ما فی علمک. وبقدر عظمة وعزّة و شرافة ذاتک الحق المقدس الکبیر الاکبر عظیم الاعظم وجمیع صفاتک و اسمائک الحسنیٰ کما انت اهلهٗ وتحب و ترضیٰ. وکذالک الصّلوٰة والسلام علیٰ هٰذا النبی الکریم العظیم الرءوف الرحیم وعلیٰ اٰله واصحابه اجمعین ہ کما هو اهلهٗ ویحبّ ویرضیٰ۔

بسم الله الرحمٰن الرحیم ہ

ستا قُربت هم ستا په وجهُ الکریم غوارم ... ستا وصلت هم ستا په وجه الکریم غوارم
دَ ازل نه ترابده په بار بار ... ستا دَ لوئی او محترم علم په شمار
څه عایز ستا د رضا او دَ دیدار ... لوئی نعمت هم ستا په وجه الکریم غوارم
دَ ازل نه ترابده په بیا بیا ... خپله الله الصمده په بیا بیا
زیات، له هر حد او عدده په بیا بیا ... ستا رحمت هم ستا په وجه الکریم غوارم
ډیر احسان ستا دَ رضا او دَ لقا ... گران جانان ستا دَ رضا او دَ لقا
لوئی فیضان ستا دَ رضا او دَ لقا ... په عظمت هم ستا په وجه الکریم غوارم
لوئی دولت ستا دَ رضا او دَ لقا ... لوئی نعمت ستا دَ رضا او دَ لقا
شرافت ستا دَ رضا او دَ لقا ... په عزّت هم ستا دَ وجه الکریم غوارم
لوئی کمال ستا دَ رضا او دَ لقا ... پاک جمال ستا دَ رضا او دَ لقا
پاک وصال ستا دَ رضا او دَ لقا ... هر ساعت هم ستا په وجه الکریم غوارم
چه لتا سره خائیگی خپله رب ... چه لتا نه صادریگی خپله رب

ماسوا پرے نهٔ توانیگی خپله رب ... دالذّات هم ستا په وجه الکریم غوارم
چه هم ستا رضا دَ پاره وی فقط ... چه هم ستا لقا دَ پاره وی فقط
چه هم ستا عطا دَ پاره وی فقط ... دا طاعت هم ستا په وجه الکریم غوارم
بس چه ستا بنکلے رضا پرے حاصلیگی ... بس چه ستا پاک لقا پرے حاصلیگی
بس چه ستا لویه عطا پرے حاصلیگی ... دا خدمت هم ستا په وجه الکریم غوارم
قربانی تر خپل اشرف الانبیا ... قربانی تر خپل محبوب کبریا
قربانی تر خپل محمّد مصطفیٰ ... په حُرمت هم ستا دَ وجه الکریم غوارم
قبلیدل مولا دَ روضة الحبیب ... ختمیدل مولا دَ روضة الحبیب
خوښیدل مولا دَ روضة الحبیب ... په زینت هم ستا دَ وجه الکریم غوارم
لوئی احسان ستا په دِ روضة الحبیب ... لوئی فیضان ستا په دِ روضة الحبیب
په هر آن ستا په دِ روضة الحبیب ... په شفقت هم ستا دَ وجه الکریم غوارم
بس هم تا لره دا روضة الحبیب ... ستا رضا لره دا روضة الحبیب
ستا لقا لره دا روضة الحبیب ... په قدرت هم ستا په وجه الکریم غوارم
محمّد امین روضه کښے دَ جنّت ... په ارشادِ مبارک دَ خپل حضرت
کړی لیکل دغه نے سوال دے هر ساعت ... اِجابت هم ستا په وجه الکریم غوارم

بسم الله الرحمٰن الرحیم ہ

ستا ثنا شُکر چه تا سره خائیگی ... آنْ تر ابدا چه تا سره خائیگی
ستا دَ علم په لوئی شمارِ بیا بیا خپله ... ستا دَ علم په تکرارِ بیا بیا خپله
ستا دَ علم په مقدارِ بیا بیا خپله ... مالا هغه را چه تا سره خائیگی
په حُرمت ستا دَ وجه الکریم خاونده ... په عزّت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په عظمت دِ دَ وجه الکریم خاونده ... شے له ما رضا چه تا سره خائیگی
په ابرو دِ دَ وجه الکریم خاونده ... په خوشبو دِ دَ وجه الکریم خاونده
په کل خودِ دَ وجه الکریم خاونده ... غوارم تل لتا چه تا سره خائیگی
ستا دَ عِلم په لوئی شمارِ بیا بیا خپله ... ستا دَ عِلم په تکرارِ بیا بیا خپله
ستا دَ عِلم په مقدارِ بیا بیا خپله ... غوارم ربّنا چه تا سره خائیگی
ستا ثنا شکر په شمار دَ علم ستا ... په بے حده لوئے تکرار دَ عِلم ستا

ستا دَ علم په مقدار م بیا بیا خپله
غواړم ربنا چه تا سره خایُګی

ستا ثنا شکر په شمار دَ علم ستا
په بے حده لوئے تکرار دَ علم ستا

په بے حده لوئے مقدار دَ علم ستا
مونږ له کړے اَدا چه تا سره خائیګی

قربانی م کړے نصیب په در دَ یار
ستا دَ لوئے او محترم علم په شمار

په ادب حیا تعظیم او انکسار
چې ذو العلا چه تا سره خائیګی

ربه او بخے ما خوار او ګنهګار
ربه او بخے ما خوار او جفا کار

ربه او بخے ما خوار او ستم کار
په هغه وفا چه تا سره خایُګی

او کړے فضل او احسان رب العزته
دَ زړهٔ کودرم کړے روخان رب العزته

په وصال دَ خپل جانان رب العزته
په هغه رښړا چه تا سره خایُګی

ځما جُمله عملونه کړے قبول،
ځما جُملګی عُذرونه کړے قبول

ځما جملګی سوالونه کړے قبول
په هغه دُعا چه تا سره خایُګی

هغه راکړے چه غوښتلی دِ په مادی
هغه او کړے چه ویلی دِ په مادی

احسانونه ستا تر دغه هم سِوا دی
غواړم کبریا چه تا سره خایُګی

په روضه کښے دَ جنت دَ خپل محبوب
په ابرو او شفاعت دَ خپل محبوب

کړے نصیب م محبت دَ خپل محبوب
په هغه عطا چه تا سره خایُګی

په عُقبیٰ کښے هم قُربت دَ محبوب غواړم
په عُقبیٰ کښے هم وصلت دَ محبوب غواړم

په عُقبیٰ کښے هم جنّت دَ محبوب غواړم
په هغه سودا چه تا سره خایُګی

ډیره ښکلے کړے دا روضة الحبیب
تازه وُلے کړے دا روضة الحبیب

تل ویلے کړے دا روضة الحبیب
په هغه وینا چه تا سره خائیګی

محمدؐ امین عاجزنه شے رضا
کل دوستانو سره خپله ربنا

دَ پیرانو درجے دے کړے سِوا
په احسان حقّا چه تا سره خائیګی

بسم الله الرحمن الرحیم

ربنا ذلیل عاجز او خوار بنده یم
بینوا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ربنا رب العزته اعلیٰ شانه
کبریا رب العزته اعلیٰ شانه

حق مولا رب العزته اعلیٰ شانه
ډیر ادنیٰ ذلیل عاجز او خوار بنده یم

که هزار هزار هزاران عالمونه
کړے پیدا هره ذره کښے بے چګونه

ته کولے شی پټام قسمونه
ځه بیا بیا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

زهٔ دَ یو ذرے په توان نهٔ یم قادر
یو نفَس باندِ دَ ځان نه یم قادر

په تحریک دَ خپل زبان نه یم قادر
کبریا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ته هم هغه ئے چه ته ئے اعلیٰ شانه
ډیر په مونږ خپله خاونده مهربانه

ځه هم هغه یم چه یم دَ پلار له شانه
راجُدا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ته هغه او کړے چه تا سره ښائیږی
ستا له شان کبریا سره ښائیږی

هغه مه کوے چه ما سره ښائیږی
بے پروا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ستا په وجه الکریم غواړو تا نه ربه
ستا په فضلِ عظیم غواړو تا نه ربه

ستا په ذاتِ قدیم غواړو تا نه ربه
ستا رضا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عظمت
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عزّت

ستا دَ علم په شمار غواړو هر ساعت
ستا لقا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

ستا دَ علم په لوئے شمار تا ته شکرونه
ستا دَ علم په لوئے شمار تا ته حمدونه

په دا کوزو سترګو سپارو بیچګونه
ابدا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

په جنت کښے دَ محبوب په هدایت ستا
غواړم ستا رضا لقا په عنایت ستا

په ابرو او وسیلے دَ پاک حضرتؐ ستا
مصطفیٰؐ ذلیل عاجز او خوار بنده یم

محمدؐ امین حقیر خوار بینوا
مات کچکول کښے غواړی خیر یا ربنا

ستا دَ علم په لوئے شمار تر ابدا
ګری صدا ذلیل عاجز او خوار بنده یم

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده جانان دلته کښے دے
دَ خوږو زړونو دَ عُمرونو ارمان دلته کښے دے

رب العزةؔ چه پرے روخان دواړه جهانه کړله
هغه ډیر ښکلے مخ زیبا او روخان دلته کښے دے

دَ دواړو کونوؐ مقتدا صدر العلیٰ محترم
شمس الضحیٰ بدر الدجیٰ مهربان دلته کښے دے

چه خپل شیدا له په واجب شی شفاعت دَ محبوب
هغه زیارت باسعادت عالیشان دلته کښے دے

چه صد هزار هزار فردوسه په هر خم کښے لری

دَ ځهلو زلفو هغه شاهِ خوبان دلته کښې دے
واللّٰه پاتنزار نه ئے کړمه زار دواړه جهانه زرګل
قسم په ربّ دومره په ما باندِ ګران دلته کښې دے
چه جبرائیل غندے ئے فخر په خدمت کولو،
اشرف الانبیا صاحب دَ قرآن دلته کښې دے
چه ئے تابع شی څوک پخقه شی محبوب دَ اللّٰه
هغه روئدار مختار محبوب دَ سبحان دلته کښې دے
رب العزته دَ جُمله اهلِ اسلام نصیب کړے
ستا چه کوم خاص فضل وکرم واحسان دلته کښې دے
سُبحانَ اللّٰه څومره احسان دے دَ خپل رب العزة،
خوار محمّد امین فقیر نعت خوان دلته کښې دے

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

لاهوتی انوار وریګی مدینے منورے کښې
عاشقان په شوق جریګی مدینے منورے کښې
دَ محبوب دَ مخ انوار، عرش نه پورته کړی رفتار
عجب ښکلے نور زلیګی مدینے منورے کښې
دَ نبیانو په امام، دَ صلوٰة او دَ سلام،
عجب ښکلے دور غږیګی مدینے منورے کښې
ملائیک دَ آسمانونو، په هزار ذوق و شوقونو
هزار ونه راکوزیګی مدینے منورے کښې
چه ئے دواړه جهانونه، په رنړا روخانه شونه
هغه پاک مشعل بلیګی مدینے منورے کښې
تر هزار هزار جنته، عاشق خوخ دے زړګرته
چه ئے شپے ورځے تیریګی مدینے منورے کښې
چه هر خم کښې دَ زلفانو، ښته جمال دَ کل خوبانو
هغه دلرُبا اوسیګی مدینے منورے کښې

که ذرے دَ کائنات، رم روحونه شی کرّات،
خوخ یم دا چه خاورے کیګی مدینے منورے کښې
دَ صبا بلبله راشه، ګلشن پریده په هوا شه
ستا مراد به حاصلیګی مدینے منورے کښې
مُحمّد امین خوار جاړی، خپل مولانه رضا غواړی
خپل دلبرنه قربانیګی مدینے منورے کښې

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

دا مدینه منوّره ده څه کوے زړګیه
ډیر ملامت ئے چه جوندے ګرځے نه مرے زړګیه
تا ته ئے چه خاورے دَ فردوس تر ګلو ښکلے ښکاری
نن په هغو لارو کوسو کښې تلل کوے زړګیه
ته چه ترِ صد هزار فردوسه به کړے زار په قسم
هغه باغچه کښې دَ زیبا محبوب نن ئے زړګیه
عرش نه چه پورته تا منلے دَ محبوب دُر شله،
نن دَ هغے دُر شل په خوا کښې جریدے زړګیه
ستا ډیر زیبا محبوب چه ډیر مونځونه کړی پکښې
نن خو هغے محراب کښې سر په سجده وے زړګیه
دَ رب دَ لوئے علم په شمار شکرونه سپاره په ربّ
بله هیڅ چار دَ دے شکرونو نهٔ لرے زړګیه
دَ کائنات جُمله ذرے که دے روحونه کړی ربّ
دا پتا حق دے تر محبوب به ئے زاره وے زړګیه
دَ دے محبوب په مخ دِ شه نصیب رضا او لقا
دَ کل دوستانو سره دا سوال به کوے زړګیه
محبوب له غواړه وسیله دَ ربّ دَ علم په شمار
په ډیر تعظیم تکریم درود پرے وایئے زړګیه
ربّ دِ نصیب کړه دَ محبوب دَ محبّت په کمال

روړو نعتونه به محبوب ته اوره وے زړګیه
دَربْ دَ لوئے علم په شمار دِ مبارک وی دی ته
خوار **محمدّ امینه** ډیر بختوری شوے زړګیه

بسم الله الرحمٰن الرحیمْ

دَربْ دَ لوئے علم په شمار صلوٰة سلام محبُوبه   هره لمحه دِ وی پتا علی الدوام محبوبه
دَ کائنات جمله ذرے کړم روحونه کړی رب   په هر نَفَسْ قد التاشه ذوالکرام محبوبه
په دردَرب العزة ستا چه احترام دے خوښ ه   رب دِ نصیب کړه دغه جمله احترام محبوبه
رب دِ نصیب کړه وسیله په خپل جمال و کمال   دَ مدینے منورے ذوالاحتشام محبوبه
زار دِ حیانه شه عالم حیانه روغ ستړے   پناز را پورته کړه ځما بدر تمام محبوبه
ستا په جوار کښے موړ ستا پنخاطر کو رنصیب کړو   زار بر دِ کو رنه کرم دَ کل جهان انعام محبوبه
لِله په لعل و لبو او کړه یو پرسان په احسان   ستادَ دربار دَ غلامانو یم غلام محبوبه
دَ **محمدّ امین** محبوبه محمدٌ مصطفیٰ   رب دِ نصیب کړه وسیله اعلیٰ مقام محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیمْ

اے پنجرے ستا جمال کمال له عرشه ډیر بره دے   اشرف الانبیا محبوب محمدٌ تا سره دے
ستا نزدیکت مو دِ نصیب لری رب ستا په شرف   اتو جنتو کښے مو نږه له دا ډیر غوره دے
دَ محمد رسول الله باغچه روضه دَ جنّت   ترصد هزار فردوسه قد رزیات له ما سره دے
ثنا شکرونه دَرب العزة دَ علم په شمار   بیا بیا دِ وی خوښه نعمت نن خوار ګدا سره دے
کله پنجرے پورے نږدے سر په سجده وی رب ته   بهره یاب کله له محرابه دَ خپل دلبره دے
دَ کائنات جمله ذرے که م روحونه کړی رب   په هر نَفَسْ قربانه ول م شوق له ډیره دے
محبوبه رب دَ یاره پورته کړه چشمان دَ حیا   ما ستا وصال ستا په مخ غوښتے له ربْ اکبره دے
ستا دَ کوڅے خاورو قد رمزلت او شمیم   والله ځما په دماغ زیات له مشک عنبره دے
ربْ دِ نصیب کړه وسیله په شمار دَ علم دَ رب   دَ **محمدّ امین** دا سوال تا روزِ محشره دے

بسم الله الرحمٰن الرحیمْ

مصرع

چه دَ جانان کوسو کښے ګرزم   دا سے ګنړم چوړ په اسمان بږدم قدمونه
محبوب ته ډیر ډیر ملامت شوم   جوندے ګرزیږم نڼ ایرے شوم نڼ ګردونه

دَ یاره وصل ګلستان کښے   ډیر وار خطا یم تاب دَ وصل نهٔ لرمه
ما ته چه عرش نه پورته ښکاری   دَ یار ځغے درشل سره جړا کومه
دَ ګُلو بوئے خو ډیر غالب دے   خو ستړے اوخورم که یاران به هیرومه
یاران دِ ډیره دُعا اوکړی   چه دا عاجز ډکه جولئے درور ی ګلونه
سلام م ګیر چاپیره خور کړیُ   دَ یاره دَ ډیر آدب نه کم لیکل کومه
یاران دِ ما نه ګِله نهٔ کړی   ځه ډیر معذوری او ملامت او حیران یمه
دا خوله ما سره نهٔ ځائیٔ   خو دَ خپل رب دَ کرم لوئے ...... یا بونه
په شمار دَ علم دَ خاوند خپل   هره لحظه رب ته بیا بیا سپارم نګرونه

بسم الله الرحمٰن الرحیمْ

ستا تر شین ګنبده ذاری کړم صد هزار هزار عالمه
ځما ډیر خپله محبوبه محترمه مکرّمه
په حرم دَ خپل محبوب کښے چه ګرزیګمه حیران یم
دا اُوده یم او که ویخ یم په زمین که په اسمان یم
ځائے په ځائے حیران اُودریږم بیا روان شم سوقدمه
ملامت خو درته ډیر یم چه په سترګو نهٔ ګرزیږم
لاس م نهٔ رسی بے وس یم تلهٔ په ستړو نهٔ توانیږم
ورنه خوخ په تلو دَ ستړو یم هزار هزار قسمه
په حضور کښے دَ محبوب چه صلاة و سلام وایم
ستړے ښکته ملامته شرمنده او وار خطا یم
داحال نهٔ دے دَ ویلو ملامت نهایت یمه ،
کله جنّت بقیع ته زم کومه نیا رتونه
شروع حضرتِ عثمانؓ نه په زهراؓئے ختمه ومه
تو جمله وُ اهلِ بیتو اصحابانو قربان شمه
کله غاړی دَ اجابت نه ځم په لور دَ مساجدو
قبلتین پورے ورزم بیا سر په ذکرو محامدو
کله مسجد قبا ته دَ عُمرے ثواب له ځمه

پاک سردار د شهیدانو د حضرت حمزهؓ زیارت
د اُحد د غرهٔ په خوا کښې کړم په شوق او محبت
د جمله وُ شهیدانو د اُحد نه قربان یمه
په باغچه کښې د جنت چه پنځه وقته کړم مونځونه
په خهٔ شانِ به اداشي دا حمدونه او شکرونه
بس خاوند کریم ته بیا بیا دا شکرونه ورسپارمه
د رضوان د باغ ګلونه او ریحان مشک و عنبر
چرته ری سی خوشبوئي ته د مزارِ منوره
شه نصیب د عاشقانو دغه بخره مُسلمه
خوار **مُحمّد امین** جارم خپل دلبر ته په زارزار
ورنه خیر د دیدن غوارم مات کچکول کښې عاجز خوار
په وجه الکریم د پاک رب د قبول اُمید لرمه
ماشاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم ۞
بسم الله الرحمٰن الرحیم ۞
په مدینه منوره کښې اوسیدل مزکه
په کوزو سترګو خپل محبوب ته اودریدل مزکه
د جُملګی جهان تاجونه او تختونه خهٔ دی
کوسو د ښکلی دلرُبا کښې ګرزیدل مزکه
رضوانه راشه تماشا اوکړه خُما د محبوب
د عاشقانو تړینه خنګه زاریدل مزکه
د دوارو کونو تر جمله وُ نعمتونو والله
د خپل محبوب حضور کښې روړو جړیدل مزکه
عرش نه قربان شمه ډیر لوړ دے خوځما د محبوب
د ښین ګنبد هم په مولا قسم لیدل مزکه
د عرش په لوړو منارو دِ خپل عالم ولاړوی
دلته د یار د مخ په شمعه سوزیدل مزکه

عاشقه راشه که ثبوت د عاشقۍ وړ کوے
دلته د خوږو زړونو څومره خوګیدل مزکه
ډیر ملامته یم جانان ته چه جوندے ګرزمه
قسم په رب دلته خو بس خاورے کیدل مزکه
مُسافران میلمانه راشی او بیا ځی په تلوار
د ګدایانو دلته ډیر پاتے کیدل مزکه
وَاللهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْم خوار **محمّد امینه**
د خپل رب العزة بیا بیا فضل کیدل مزکه
بسم الله الرحمٰن الرحیم ۞

خهٔ عجیبه شان دا مدینه منوره لری   ډیر ښکلے جانان دا مدینه منوره لری
دواړه جهانونه چه د چا په مخ روښانه دی   هغه مه تابان دا مدینه منوره لری
خاورے د کوسو به ئے د جنت په ګلو ورنه کړی   داسے فدایان دا مدینه منوره لری
چه هزار هزار فردوسونه هر خم کښې د زلفو دی   دغه مخ روښان دا مدینه منوره لری
عرشِ مُعلّیٰ نه چه هزار هزار واریو ښه شو   شاهِ لامکان دا مدینه منوره لری
صد هزار فردوسونه پراته هر غنچے کښې دی   داسے ګلستان دا مدینه منوره لری
خوخ په اوسیدو یکښې له جنت الفردوس دی   داسے مشتاقان دا مدینه منوره لری
اے د مدینے منورے مشتاقه زړ رازه   ډیر په ځان قربان دا مدینه منوره لری
یو کرت جوړ به ئے په خاود د عالم ورتکړی   داسے عاشقان دا مدینه منوره لری
چه د محمّد امین حقیر غندے منظور کړلو   داسے مهربان دا مدینه منوره لری

بسم الله الرحمٰن الرحیم ۞

سرورِ عالم په مدینے منورے کښې دے   شاهِ محترم په مدینے منورے کښې دے
اے رضوانه تا که تماشا د دے ګلزار اوکړه   هیر به جنتونه کړے په قول مِ اعتبار اوکړه
دومره مُکرّم په مدینے منورے کښې دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښې دے
صد هزار عالمه به ئے لوګے کړم په دربار والله   دغه مِ ایمان دے او هم دا کوم اقرار والله
داسے دلبرم په مدینے منورے کښې دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښې دے
صد هزار فردوسه عاشقان چه تر ے قربان لری   دغسے اقرار کوی هم دغسے ایمان لری

داسے پاک حرم په مدینے منورے کښے دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښے دے
اشرف واکرام صدر العلٰی اشرف المرسلین   گران په رب ترجمله عالم رحمة للعالمین
دانور الظلم په مدینے منورے کښے دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښے دے
سرستر یے د موراو پلار به زار کړم تر هزار کرت   داسے دلربا ځما صاحب دَ قدر و منزلت
خوږم په رب قسم په مدینے منورے کښے دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښے دے
مَنْ زَارَ قَبْرِیْ (رنو) وَجَبَتْ لَهٗ شَفَاعَتِیْ   داسے ئے چه ویلی ئی نصیب شه دَ هر اُمتی
دا صاحب کل فم په مدینے منورے کښے دے   سرورِ عالم په مدینے منورے کښے دے
تنکه سوے شوے ئے دَ عشق په نشتر باندے   تنکه لړے زخم دَ محبوب دَ زړه په سر باندے
ستا دَ زړه مرهم په مدینے منورے کښے دے   شاهِ محترم په مدینے منورے کښے دے
پاک ربُ العزة لایق لرخیر شانه احسان کوی   که دَ محمد امین فقیر دوستانی پُرسان کړی
دا ملامت گرم په مدینے منورے کښے دے   شاهِ محترم په مدینے منورے کښے دے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خوږم لوئے دَ رب احسان مدینه منوره ده   دَ وصال ځائے دَ جانان مدینه منوره ده
دَ کوسو دَ خاروخس ئے دَ جنت گلونه زار کړم   مانته گرانه هسے شان مدینه منوره ده
بس دَ دواړو جهانونو مُرادونه چه پکښے دی   هسے دائی فدایان مدینه منوره ده
اته واړه جنتونه چه لری یوه غنچه کښے   هسے شکلے گلستان مدینه منوره ده
که رښتیا مین په یار ئے نو دا زړه مه بیائے کیږه   ستا دَ خوگ زړګی درمان مدینه منوره ده
پخاطر دَ یار دَ پاک مخ په قسم چه مانته گرانه   تر باغونو دَ رضوان مدینه منوره ده
هُم په دے دُنیا جنت چه پکښے دے آے عالمه   په باوری او په ایمان مدینه منوره ده
ډیر خجل او شرمنده یم چه په ستر کونه گرزیګم   داکوسے او دا میدان مدینه منوره ده
په لوئے شمار دَ رب دَ علم رب سپارمه شکرونه   نن ځما کورو گذران مدینه منوره ده

محمد امینه خواره مبارک دِ شه زر واره
داچه کړے پکښے بیان مدینه منوره ده

بسم الله الرحمٰن الرحیم

څهٔ عالی دربار په مدینه منوره کښے دے   سرورِ مختار په مدینه منوره کښے دے
دواړه جهانونه چه چاپه مخ روخانه دی   هغه پاک روښدار په مدینه منوره کښے دے

په هره غنچه کښے چه هزار هزار فردوسما دی   داسے پاک گلزار په مدینه منوره کښے دے
هر خم کښے دَ زلفو ئے چه جمال دَ کل خوبانو دے   دغه پاک دلدار په مدینه منوره کښے دے
روبرو مختار دَ کل عالم بانذِ سلام ویل   دا ښکلے روزگار په مدینه منوره کښے دے
اے چه زخو شوے ئے دَ عشق په نشترخوانه   ستا دَ زړهٔ قرار په مدینه منوره کښے دے
پاک رب العزة ئے چه په لامکان لید لے دے   دغه دیر نامدار په مدینه منوره کښے دے

دے په **محمد امین** فقیر خوږم دَ رب فضل
دا عاجز او خوار په مدینه منوره کښے دے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

څهٔ عجب دی و دوران دے مدینه منوره کښے
چه محبوب دَ پاک سبحان دے مدینه منوره کښے
چه هر خم کښے دَ زلفانو، شته جمال دَ کل خوبانو
هم دغه شاهِ خوبان دے مدینه منوره کښے
چه له عرشه پورته تلے، په عزت مولا بللے
دغه دلبرِ ذیشان دے مدینه منوره کښے
چه جبریلؑ غندے نامدار ئے په خدمت کوی فخرونه
دغه پاک دَ دین سلطان دے مدینه منوره کښے
که په پاک دلبر شیدا ئے، دَ محبوب دَ در گدائے
زر رازه دغه جانان دے مدینه منوره کښے
را پاسیږه په تلوار ه، دَ زخمی زړګے بیمار ه
دَ زخمی زړونو درمان دے مدینه منوره کښے
محمد امین فقیر، په توفیق دَ رب قدیر
دَ بلبل غندے گویان دے مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

صلوٰة سلام په ډیر تعظیم تکریم بے حد ربنا   په دے محبوب دِ وی ازل نه تر ابد ربنا
لمحه لمحه طرفه طرفه کښے ستا دَ علم په شمار   چه ښائی شان ستا سره اَللهُ الصمد ربنا
اشرف الانبیا صدر العلٰی دَ جُمله عالم   پاک محمدؐ، پاک محمدؐ، پاک محمدؐ ربنا

دَ عاشقانو په مذهب کښې رسيږي چرته شي
عرش عظيم دَ دې محبوب ترشين گنبد ربنا
دوارو جهانو چه روخانه دي په مخ دَ محبوب
ته پر روخان کړې ځمونږ زړونه او لحد ربنا
دا دَ محبوب روضه هم خوښه تر هزار جنته
قسم پتا دې قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدُ ربنا
رب العزته په ابرو او شرافت دَ محبوب
له خپل دربار مکړې مونږه خواران رَدُ ربنا
په وسیلې دَ دې محبوب پنا پتا یو رې یو
دَ غمازانو دَ فریب بُغض حسد ربنا

شکر ثنا خوار **محمدامین** سپارې تا ته تل
ستا دَ بې حد مبارک علم په عدد ربنا

بسم الله الرحمن الرحیمہ

په روضه کښې دَ جنت
ستا دَ علم په کرت
کل سوالونه مو قبول کړې
ناست خاونده دَ رحمت
زهٔ دَ دې ځائې لرم چرته
په خپل فضل و عنایت
ستا دَ لوئې علم په شمار
په هغه شان او کرت
وسیله مقام محمود
دَ دې پاک محبوبؐ وصلت
خپل مجیب السائلینه
چه ئې قران کښې شته صفت
کړې نصیب ئې په خپل فضل
معرفت او حقیقت

الله غوارو مغفرت
دَ دې پاک محبوب محمدؐ
دَ محبوب په دې قُربت
دا خو ستا احسان کرم دې
خپله ربه لیاقت
چه نصیب دې ځما کړلو
حمد و شکر هر ساعت
کړې نصیب دَ دې محبوبؐ
په عزت او شرافت
چه له دهٔ سره خاشیږي
کړې هر سوال مو اجابت
جُملګی دوستان هم ربه
شریعت او طریقت
دَ **محمدامین** دیرخواد

په وجهُ الکریم ستا ربه
کړې نصیب مو شفاعت
متصل پنجرې سره یم
ځما چرته دې طاقت
تا را وستې یم خاونده
دَ محبوب پاک زیارت
چه لتا سره خاشیږي
په خپل فضل و عنایت
او ځما دَ خوار نصیب کړې
په هغې شان او زینت
دَ دې پاک محبوبؐ په پاک مخ
خاوندان کړې دَ عزت
هم مو کړې نصیب خاونده
تهٔ ایمان کړه سلامت

بسم الله الرحمن الرحیمہ

شي رضا رب العزته
غوارم تا رب العزته
ستا دَ علم په لوئې شمار

خپل اعلیٰ رب العزته
دا روضه ده دَ جنت
اَبدا رب العزته

دَ جنت پاکه روضه کښې
په رښتیا رب العزته
ستا رضا او لقا غوارو

په بیا بیا رب العزته
کل سوالونه مو قبول کړې
روضه دا رب العزته
ته مو کړې نصیب جنت
کبریا رب العزته
په ابرو او شرافت
ابدا رب العزته
ستا شکرونه او حمدونه
هم پتا رب العزته

په عزت ستا دَ ذات پاک
ربنا رب العزته
دَ دې پاک محبوبؐ په پاک مخ
په عقبیٰ رب العزته
دَ دې پاک محبوب محمدؐ
او حیا رب العزته
شي رضا او لقا ور کړې
او ثنا رب العزته
محمدامین ذلیل خوار

ذو العلیٰ رب العزته
چه په دې دُنیا دې را کړه
او زیبا رب العزته
ستا رضا لقا دَ پاره
مصطفیٰ رب العزته
کل دوستانو دَ دې خوارنه
خپل حقا رب العزته
ستا دَ علم بشمار سپارې
او گدا رب العزته

بسم الله الرحمن الرحیم ہ

راشه او گوره رضوانه مدینه منوره ده
ښکلې ستا تر گلستانه مدینه منوره ده
ستا دَ باغ تر خو گلونو، ترجمله ؤ نعمتونو
ماته ښکلې خو چندانه مدینه منوره ده
چه دَ دوارو جهانونو، مقتدا پکښې اُوسیږی
هغه ښکلې او روخانه مدینه منوره ده
په خاطر دَ دلربا هم، ترهزار هزار فردوسه
په قسم چه ماته گرانه مدینه منوره ده
جبرائیل غندې نامدار، چه پکښې کړې خدمت
محترمه دومره ځوانه مدینه منوره ده
دَ محبوب عاشقه راشه، دَ بلبل شان په هوا شه
پاتې شوې ولې تانه مدینه منوره ده
هم په دې دُنیا پکښې ده، دَ جنت باغچه قسم دې
دومره ډیره عالیشانه مدینه منوره ده

سترگې ښکته ملامته **محمدامین** خرنګی
گیر چاپیره له هر خوانه مدینه منوره ده

بسم الله الرحمن الرحیم

اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام — خموږ د خوګ زړونو قرارہ الصلاۃ سلام

د خپل رب العزۃ د لوئے علم پشمار محبوبه — ازل نه ترابد بیا بیا په ډیر وقار محبوبه

په ذوق و شوق ادب بار بارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

کرم په هر نفس دې د کائنات روحونه — خاوند پیدا کړی نو قادر دے ورله ډیر شکرونه

تا نه به ئے زار کړمه دلدارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

دغه ایمان او عقیده عشق و حیا او ادب — خپل رب نه غوارم ستا په مخ په شمار د علم د رب

ډیره زیبا نور الابصارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

هزار هزار فردوس هر خم د زلفانو کښے ستا — د بے نوا فدا او یلی عاشقانو کښے ستا

د ایمانی ذوق له ګفتارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

هزار هزار عالمه ستا په د نثار کړم والله — دا ایمان او عقیده دغه اقرار کړم والله

د خپل رب العزۃ د یارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

چرته زه خوار او چرته ستا بنکلی روضه د جنت — کومه مونږ پکښے پنځه وقته په درد و لذت

جمله خاطر ستا دے مختارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

ستا په حضور کښے یوه او ښکه له چشمانو ځنے — هزار کرت ما ته عزیزه دوه جهانو ځنے

د عاشقانو له کسب کارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

ستا په کوسو کښے چه ګرزیږم نو هیراً ګرزیږم — ویخ که اوده یم په زمین که په اسمان ګرزیږم

خپله محبوبه ګلعذارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

ستا په حضور کښے چه زه جارم عجب خوند راکوی — رضا د رب ستا په مخ غوارم عجب خوند راکوی

اے په ما ډیر ګرانه روندارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

دا محمد امین جړیګی په حضور د جانان — که دوی د عشق و شوق غلیګی په حضور د جانان

د عاشقانو په تخت تاجدارہ الصلاۃ سلام — اشرف الانبیا سردارہ الصلاۃ سلام

بسم الله الرحمن الرحیم

پاک محبوب د رب اکبر دے مدینه منوره کښے — محمد خیر البشر دے مدینه منوره کښے

صد هزار هزار جنته تر لوګے کړم بے مهلته — د جمله عالم سرور دے مدینه منوره کښے

صاحب وجه الجمیل شاهد طرف الکحیل — زیات له شمس و له قمر دے مدینه منوره کښے

چه ئے مخ شمس الضحیٰ دے چه ئے مخ بدر الدجیٰ دے — دغه ډیر ښکلے دلبر دے مدینه منوره کښے

چه مراد المشتاقین دے رحمة اللعالمین دے — تر جمله عالم بهتر دے مدینه منوره کښے

پلار و مور د یتیمانو، تکیه ګاه د بے کسانو — تسله د خوګ جګر دے مدینه منوره کښے

عرش نه ډیر پورته ختلے د خپل رب وصال ته تلے — دغه شاه نامور دے مدینه منوره کښے

چه ور کړے رب قرآن دے مونږ ته راوړے پر ایمان دے — دا د کل عالم رهبر دے مدینه منوره کښے

د جبرئیل غندے نا مدار چه په در و خدمتګار — زار شم دومره معتبر دے مدینه منوره کښے

د محمد امین خوار دے په حقه دا اقرار

چه یقه پیغمبر دے مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمن الرحیم

الله کړے نصیب مو دا شان د مدینے — په پاک مخ د دے پاک جانان د مدینے

روحونه د جمله عالم که حماشی — والله کړم به جمله قربان د مدینے

له عرش معلیٰ نه ډیر پورته تلے — رونډیدار او مختار او سلطان د مدینے

دا ډیر پاک محبوب ئے نصیب کړے خاونده — له صدقه چه وی عاشقان د مدینے

صلاۃ و سلام د ابد الابد وی — په پاک روح د ماه تابان د مدینے

هزاران فردوسه لری یو غنچه کښے — دے هسے عالی ګلستان د مدینے

الله به پاک مخ د دے ډیر پاک محبوب — واصل کړے جمله فدایان د مدینے

محمد امینه الله دے نصیب کړه،

جمله ذوق و شوق د بیان د مدینے

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا رضا ستا د رضا په لذت غوارم — ستا لقا ستا د لقا په عزت غوارم

ستا د علم په مقدار لمحه لمحه کښے — د ازل نه تر ابد هر ساعت غوارم

متصل پنجرے سره د دے محبوب پاک — په عزت ئے د محبوب د قربت غوارم

په جنت کښے ورکوے مَا یَشْتَهُوْنَ — دے جنت کښے درنه جمله نعمت غوارم

وَلَدَیْنَا مَزِیْد ستا احسان دے ربه — ستا احسان ستا د احسان په رفعت غوارم

ستا وعده ده ته مجیب السائلین ئے — کل سوالونه ستا په حق حقیقت غوارم

تا جنت کښے کینولے یم په خپله — دا جمله ستا په توفیق هدایت غوارم

څوک چه لولي دا کتاب که په رحمت وي   تا نه دلته د هغو اِجابت غواړم
مدينه منوره چرته او څه خواړ   جمله ته يې هر څه ستا په قدرت غواړم
چه هر خم کښې يې شته هزار هزار فردوس   د هغو زلفو د مخ په زينت غواړم
کل دوستان د طريقت او جماعت   په ابرو د دې دير ښکلې حضرت غواړم
چه په دواړو جهانونو سرفراز شي   دې جنت کښې ورله تا نه وصلت غواړم
باباجي صاحب ترنګزئي او جمله مشائخ پاک   دې جمله وُ له جمله شرافت غواړم
ستا ثنا او شکر تا ته تر ابده   سپارل دير په عاجزي او ذلت غواړم
ستا د علم په مقدار لحه لحمه کښې   نيمله ربه څه په دير خجالت غواړم
د جمله عمر سوالونه دُعاګانې   دلته ستا د علم پاک په کوت غواړم

څه محمد امين دير خواړ او ذليل
خپله حقه ي به حق عبادت غواړم

بسم الله الرحمن الرحيم

عجيب ښکلې او سيدل دې مدينه منوره کښې
دير د رب فضل کيدل دې مدينه منوره کښې
مدينه منوره ده ځائې د جمله مرادونو
خپل مقصد مطلب موندل دې مدينه منوره کښې
چه تريو ساعت لذت يې زار شه دواړه جهانونه
والله هسې جريدل دې مدينه منوره کښې
اَلصَّلٰوةُ والسلام فدايان چه دوړو وائي
عجب ښکلې اوريدل دې مدينه منوره کښې
د کوسو د خاورو خس نه يې زار ګلونه د رضوان شه
عجب ښکلې ګرزيدل دې مدينه منوره کښې
چه د عرش مانړئي نه پورته د عشاقو په مذهب دې
د هغې ګنبد ليدل دې مدينه منوره کښې،
د جنت باغچه ښکښې ده هم په دِ دُنيا قسم دې

له يعنې جماعت ناجيه صالحه ١٢

حق جنت ته رسيدل دي مدينه منوره کښې
په محبوب پاک چه واجب شي شفاعت د اُمتي خپل
د مُراد حاصليدل دي مدينه منوره کښې
د محمد امين خواړ، په حضور د خپل دلدار،
ګرې او ښکې وريدل دي مدينه منوره کښې

بسم الله الرحمن الرحيم

دا مدينه منوره ده شه خبر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
جبريل امين غندې نامدار دلته خدمت کړي ګ   دو مره احسان په دې پاک ځائې رب العزة کړيدې
چه يې بيان کولې نه شي هيڅ بشر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
اشرف الانبيا محبوب پرِ قدمونه ايښي،   محبوب کبريا محبوب پرِ قدمونه ايښي
قدم په مکه لګوه روح او بصر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
که وس دِ نه وي چه په سترګو تلل کولې نشې   قدرت د سترګو په تلو هيڅ شان موندلې نشې
رب ته جريګه ملامت خجل مضطر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
د خپل محبوب د حرم څه او وايم څه ويلې شم   بيا د جنت د باغچې څه او وايم څه ويلې شم
رب دِ رضا شي د محبوب په مخ انور زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
دواړه جهانه چه روڼ دي د چاپېر رُخسار   هغه محبوب محترم د دواړو کونو مختار
دا نه چه جاړې دې هم دلته جلوه ګر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
چه صد هزار هزار فردوس يې د زلفانو هر خم   لري هغه ښکلې د جملګي عالم محترم
هم دلته دې دغه محبوب د پاک اکبر زړګيه   دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه
د رب د لوئې علم بې شمار حمد و ثنا شکر و نه   په دير ادب حيا سپاره رب ته کوه عذرونه

د محمد امين حقير ذليل پرهر زړګيه
دې جلوه ګر پکښې ستا دير ښکلې دلبر زړګيه

بسم الله الرحمن الرحيم

اشرف الانبيا محبوبه اَلصَّلٰوةُ سلام   محبوب کبريا محبوبه اَلصَّلٰوةُ سلام
د رب د لوئې علم بې شمار ازل نه تر ابده   په دير تعظيم ادب وقار ازل نه تر ابده
بې مثله دلربا محبوبه اَلصَّلٰوةُ سلام   محبوبِ کبريا محبوبه اَلصَّلٰوةُ سلام

ځنګه چه بنا ئی د رب العزة له شانه پاکه — وی د ِ پتا په هغه شان خپله جانانه پاکه
په ډیر ادب حیا محبوبه الصلاة سلام — اشرف الانبیا محبوبه الصلاة سلام
رب دِ نصیب کړه وسیله پخپل جمال وکمال — د رب دَلو ئے علم پشمارم رب دے دَ سوال
محترم سیّدا محبوبه اَلصّلاة سلام — محبوبِ کبریا محبوبه الصلاة سلام
دَ مدینے منوره لارو کو سو ګنبے ګدا — خو خ دے چه ګرزی په مولا قسم محبوبِ خدا
ترجنت المئوا محبوبه الصلاة سلام — اشرف الانبیا محبوبه الصلاة سلام
دَ کائنات جُمله ذرے کړم روخوشکری رب — په هر نفَسْ دومره بیا خوا احسانونه کړی دَ رب
کړم به نے لتا فدا محبوبه الصلاة سلام — محبوبِ کبریا محبوبه الصلاة سلام
دغه ایمان او عقیدۀ عشق وادب او حیا — ستا په مخ غوارمه جانانه اشرف الانبیا
له خپل کریم مولا محبوبه الصلاة سلام — اشرف الانبیا محبوبه الصلاة سلام
شکر ثنا ادب حیا جرا سپارمه بیا بیا — دَ ربِّ دَ لو ئے علم په شمار پخپل خاوند کبریا
ځه خوارغا جز ګدا محبوبه اَلصّلاة سلام — اشرف الانبیا محبوبه الصلاة سلام
دَ هغه دا مین محبوبه محمّدؐ مصطفٰیؐ — رب دِ نصیب کړه خپل جمال کمال حیا او وفا
غوارم دَ رب رضا محبوبه الصلاة سلام — محبوبِ کبریا محبوبه اَلصّلاة سلام

بسم الله الرحمن الرحیمۃ

رب العزته خپله دَ خپل وجه الکریم په عزت او شرافت دا صلاة و سلام او دا جمله کتاب دَ دے عاجز او دَ جمله دوستانو دَ هر نسبت، بلکه دَ جمله مسلمانانو سبب دَ خپلے رضا او لقا اوګرزه ئے.

خصوصًا دا صلاة و سلام دَ محبوبِ انور صلی الله علیه وسلم په حضور مبارک کښے دلته، او له نورو ملکونو نه ئے محبوب انور صلی الله علیه وسلم ته دَ زړهٔ په حضور دَ فِدا یانو، مشتاقانو نصیب کړے. په شرافت دَ دے روضے دَ جنت، او دَ دے محبوب دَ دے پنجرے مبارکے دَ قربت چه دَ دے عاجز او دَ پنجرے ترمیانه بل ځوک نشته.

بلکه جمله کتاب دلته جوړ یدی. او لیکلے کیدی. ماشاءالله لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیمۃ وان الفضل بید الله یؤتیه من یشاءۃ والله ذو الفضل العظیمۃ (الروضه)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

حمدے و شکرے بے عدد شایان رحمٰن الرحیم — مقدار علم پاک او کو ہست باقی و قدیم
ہر لمحہ و ہر لحظۂ از روز اوّل تا ابد — بر صد نیاز و صد ادب بر ذوق و شوقِ بیعدد
از جملہ ذرات جہاں بہر رضائے پاک او — بر رشد و بر توفیق او بہر لقائے پاک او
ہم اینچنیں اے سیّد و مختار جملہ عالمین — محبوب ذات کبریا حق الیقین حق الیقین
بر قدرِ علم پاکِ حق با صد وقار و صد ادب — اے سیّد ہر دو جہاں فخر ہمہ محبوب رب
بر تو صلوٰۃ والسلام اے صاحب قرآن حق — بر تو صلوٰۃ والسلام اے معدنِ عرفانِ حق
بر تو صلوٰۃ والسلام اے صاحب وجہ الجمیل — بر تو صلوٰۃ والسلام اے شاہد طرف الکحیل
بر تو صلوٰۃ والسلام اے سیدِ خلق عظیم — بر تو صلوٰۃ والسلام اے منبع فیضِ عمیم
بر تو صلوٰۃ والسلام اے سرور عالی وقار — بر تو صلوٰۃ والسلام اے شافع یوم الفرار
بر تو صلوٰۃ والسلام اے مقتدائے مرسلاں! — بر تو صلوٰۃ والسلام اے پیشوائے انس و جان
بر تو صلوٰۃ والسلام اے سرور کل انبیاء — بر تو صلوٰۃ والسلام محبوب ذات کبریا!
بر تو صلوٰۃ والسلام اے مقتدائے عارفاں — بر تو صلوٰۃ والسلام اے مدعائے عاشقاں!
بر تو صلوٰۃ والسلام اے ابر رحمت فیض بار — بر تو صلوٰۃ والسلام اے جان من بر تو نثار!
بر تو صلوٰۃ والسلام اے صیقل زیغ جگر — بر تو صلوٰۃ والسلام اے محترم نور البصر!
بر تو صلوٰۃ والسلام اے بحر علم من الدن — بر تو صلوٰۃ والسلام محبوب حق شیریں سخن
بر تو صلوٰۃ والسلام اے مطلع انوار رب — بر تو صلوٰۃ والسلام اے محترم مختار رب
بر تو صلوٰۃ والسلام اے معدنِ جود و وفا — بر تو صلوٰۃ والسلام اے منبع نور و صفا
بر تو صلوٰۃ والسلام اے آنکہ جملہ رحمتے — بر تو صلوٰۃ والسلام اے خستہ دل را راحتے
بر تو صلوٰۃ والسلام اے شاہد خدا السبیل — بر تو صلوٰۃ والسلام اے کور چشماں را دلیل
بر تو صلوٰۃ والسلام اے روئے تو شمس الضحیٰ — بر تو صلوٰۃ والسلام اے ذات تو نور الہدیٰ
بر تو صلوٰۃ والسلام اے سیّد کل انبیاء — بر تو صلوٰۃ والسلام اے جملہ احسان و حیاء
بر تو صلوٰۃ والسلام اے اشرفِ کل مرسلین! — بر تو صلوٰۃ والسلام اے سرورِ کل عالمین
بر تو صلوٰۃ والسلام اے مقتدائے انبیاء — بر تو صلوٰۃ والسلام اے پیشوائے اولیاء
بر تو صلوٰۃ والسلام اے صدر و بدر عالمین — بر تو صلوٰۃ والسلام اے رحمۃ للعٰلمین
بر تو صلوٰۃ والسلام اے بحر انوار خدا — بر تو صلوٰۃ والسلام اے جملہ در کار خدا

برتو صلوٰۃ والسلام اے چارۂ بے چارگان | برتو صلوٰۃ والسلام اے مونس غمخوارگان
برتو صلوٰۃ والسلام اے قاب قوسین مقام | برتو صلوٰۃ والسلام اے جملہ عالم را امام
برتو صلوٰۃ والسلام اے برتر از عرش بریں | برتو صلوٰۃ والسلام محبوب رب العلمین
برتو صلوٰۃ والسلام اے شافع یوم الحساب | برتو صلوٰۃ والسلام اے محترم عالی جناب
برتو صلوٰۃ والسلام بیروں ز اعداد وشمار | برتو صلوٰۃ والسلام شایان ذات کردگار
برتو صلوٰۃ والسلام اے صاحب نیکو جمال | برتو صلوٰۃ والسلام مقدار علم ذوالجلال
برتو صلوٰۃ والسلام اے اشرف واکرم نبی | برتو صلوٰۃ والسلام اے اشفق وارحم نبی
برتو صلوٰۃ والسلام اے سید کل انس وجان | برتو صلوٰۃ والسلام اے رہنمائے گمرہان
برتو صلوٰۃ والسلام اے نور رب العلمین | برتو صلوٰۃ والسلام اے عذر خواہ مذنبین
برتو صلوٰۃ والسلام اے فکر تو درمان من | برتو صلوٰۃ والسلام اے ذکر تو ایمان من
برتو صلوٰۃ والسلام اے روح من ریحان من | برتو صلوٰۃ والسلام اے جان من جانان من
برتو صلوٰۃ والسلام اے منبع نور وضیا | برتو صلوٰۃ والسلام اے معدن حلم وحیاء
برتو صلوٰۃ والسلام شمس الضحیٰ بدر الدجیٰ | برتو صلوٰۃ والسلام کہف الوریٰ خیر الوریٰ
برتو صلوٰۃ والسلام باجملہ رسل انبیاء | برتو صلوٰۃ والسلام با اولیاء واتقیاء
برتو صلوٰۃ والسلام اے اولین وآخرین | باآل با اصحاب تو با امہات المؤمنین
ارحم حبیبا برمن بے چارہ وخوار وحزین | ارحم حبیبا برمن خستہ فقیر اندوہ گین
ارحم حبیبا جلوہ گر شو خاطر رب العزت | برایں ذلیل وبے نوا کن رحم وفضل ومرحمت
بنما جمال پاک خود برخاطر وجہ الکریم | بنما جمال پاک خود بر عزت ذات قدیم
من گرچہ بس آلودہ عصیانم اے محبوب حق | من گرچہ بس حیران وسرگردانم اے محبوب حق
للہ شیئاً از جمال روئے تو اے مصطفیٰ | للہ شیئاً از جمال روئے تو اے مجتبیٰ
للہ شیئاً از جمال روئے تو ہادی السبل | للہ شیئاً از جمال روئے تو مختار کل
للہ شیئاً از جمال روئے تو اے محترم | للہ شیئاً از جمال روئے تو بحر کرم
ایں بے نوا خوار وذلیل آمین حبیب کبریا | گوید بہ صد عجز وادب شرمندگی عجز وحیا
بس رحم کن بس رحم کن اے رحمۃ للعلمین | اے مخزن اسرار کن اے سرور کل عالمین

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝
وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ۝

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

محبوبہ ستا د حرم دیر محترم شو اوو ایم | تعظیم ادب ادا کولے نہ شم شو اوو ایم
ستا قدموں چہ ښکل کړی دی د ستا دی شلے | ما تہ خو پورتہ دہ پہ عرش اعظم شو اوو ایم
عرش نہ قربان شہ نصیب ئے شہ خپل زیب زینت | ما تہ لہ عرش ستا گنبد نہ دے کم شو اوو ایم
د مدینے منورے خاورے دیر قدر لری | رب چہ ورکړے عزت ستا پہ قدم شو اوو ایم
ما تہ جنت ښیکلے ښکاری ستا روضہ د جنت | ور بہ ئے نہ کړمہ پہ باغ ارم شو اوو ایم
ستا پہ حضور کښے چہ څوک اوور یری شو حاضرے دی | هغه دی ذوق وشوق دردو الم شو اوو ایم
در رب د لوئے علم بے شمار صلاۃ سلام شہ پتا | لحظہ لحظہ کښے زیاتیدہ پہ درزہ گرم شو اوو ایم
دعا شغانو پہ مذہب هزار هزار فردوسہ | لری ساتلی ستا د زلفو هر خم شو اوو ایم
چرتہ شہ دیر ذلیل او پاک مدینہ چرتہ کښے | د خپل رب العزۃ د دیر لوئے کرم شو اوو ایم

زہ محمد امین شکر و نہ رب تہ سپارم بیا بیا
پہ شمار د علم د رب نور زیات و کم شو اوو ایم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خاوندہ لوئے عظمتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
لمحہ لمحہ کښے ئے د ازل نہ تر ابدہ | رضا لقا د غواړم خپلہ اللہ الصمدہ
هزار هزار کرتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
د کائنات کل ذرے کہ کړے رو حونہ | نصیب کړے دوی تہ دیر زیات خپل احسانونہ
زار لتا بے مہلتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
ستا د رضا و لقا سوال ستا د علم بے شمار | ازل نہ تر ابدہ پہ دیر ادب انکسار
سرہ د دیر ذلتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
کومہ زہ خوار او عاجز لتا نہ یا ربنا | رحمٰن رحیم کریما سبحانہ یا ربنا
لہ شوق وذوق لذتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
د مدینے طیبے د دے محبوب احترام | هم د محبوب پہ پاک مخ سپارمہ تاتہ مدام
خاوندہ مرحمتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم
بختور خو مرہ دیر دے ازل قسمت کښے یمہ | پہ دے دنیا د اوس او نہ پہ جنت کښے یمہ
زارے لہ دے قسمتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم | خپلہ رب العزتہ ستا پہ پاک وجہ الکریم

خوار ذلیل حقیر لاچار محمد امین   ډیر ملامت او خجل بیا خوار محمد امین
سائل ستا له رحمته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم   یا ربنا څه خوار مدینه منوره کښې یم
خومره دِ احسان دے له احسانه دِ قربان شمه   خومره دِ فیضان دے له فیضانه دِ قربان شمه
ستا په عطا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
چرته مدینه منوره او چرته څه عاجز   چرته دا عظیمه نظاره او چرته څه عاجز
دے کرم ستا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
خپل رب العزته ته رم کړے نصیب دا خپل کرم   مونږ باندِ لرے د دے محبوب له مخه تل کرم
زاره و فدا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
ستا ثنا شکرونه سپارم تا ته په بیا بیا ربه   ستا دَ علم شمار باندِ خاونده کبریا ربه
ستا په وفا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
خاوره دَ کوسو به ئے دَ جنت په کلو ورنکړم   دغه م ایمان او عقیده دغه باوری لرم
داسے گدا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
خپل رب العزته دَ محبوب ادب پتا سپارم   څه حقیر ذلیل هیڅ لیاقت او طاقت نلرم
ډیر وارخطا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
خپل رب العزته ستا احسان خومره بیا دے نن   ناست یم په جنت کښې نزدے ډیر پاک مصطفے دے نن
دا نن گویا څه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم
ستا شکر ثنا څه محمد امین پتا سپارم   ترا بدئے ستا دَ علم شمار باندِ بیا بیا سپارم
خوخ په جرازه خوار مدینه منوره کښې یم   خپله مولا څه خوار مدینه منوره کښې یم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

رَبَّنا مولا بوجهک الکریم   شے له مونږ رضا بوجهک الکریم
ستا دَ علم په لوئے شمار موتا ته سوال دے   ستا دَ علم په مقدار موتا ته سوال دے
ستا دَ علم په تکرار موتا ته سوال دے   غواړو ستا لقا بوجهک الکریم
ته هغه او کړے چه بنائی ستا له شانه   څمونږ ډیر خپله خاونده مهربانه
په عزت او شرافت ستا مو لتانه   سوال دے اَبدا بوجهک الکریم

دَ رضا او دَ لقا ستا په بیا بیا   نهایت زیات خپل خاونده کبریا
په تعظیم ادب نیاز شوق و حیا   رضا غواړو ستا بوجهک الکریم
دَ دے پاک محبوب په ډیر پاک مخ روخانه   چه له مخه ئے دی روښان دواړه جهانه
ته رضا شے له مونږ ډیر خپله سبحانه   خپله ربنا بوجهک الکریم
زهٔ چه خومره یم حقیر پریشان خوار   زهٔ چه خومره یم ذلیل او بے وقار
دَ عزت خاونده ته ئے خبردار   شے رضا لما بوجهک الکریم
ستا چه خومره په ما ډیر دی احسانونه   ستا چه خومره په ما ډیرد... موډ
زهٔ دَ هغے چرته کړے شم شکرونه   بس خو غواړم تا بوجهک لکریم
ستا دَ علم په شمار ستا ثنا شکرونه   تا ته سپارم په بیا بیا له ښه مضمونه
څمونږ ډیر خپله خاونده بے چگونه   غواړم ستا عطا بوجهک الکریم
چه په دِ دُنیا دِ راکړلو جنت   په قربت کښې دَ حبیب محبوب حضرت
په عقبیٰ هم درنه غواړم کل نعمت   زهٔ خوارئ او گدا بوجهک الکریم
جنتیان وی به جنت کښې خَالِدُون   په جنت کښې ورکوے مَا یَشَاءُون
وَلَدَیْنَا مَزِیْد ستا احسان مَیْمُون   غواړم جمله دا بوجهک الکریم
که ذرے دَ کائنات م کړے روحونه   خپله ربه دومره او کړے احسانونه
ستا دَ علم په لوئے شمار م قسمونه   وی به کل فِدا بوجهک الکریم
ډیره خپله حقه رب العلمینه   شے رضا له محمد امین مسکینه
شه نصیب ئے هم دا ستا محبت مینه   اَبدا بیا بیا بوجهک الکریم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دَ محبوب پاک په حرم کښې   په حرم ډیر محترم کښې
خپل کریم رب العزته   سوال کوم په صبح و دم کښې
دَ رضا او دَ لقا ستا ،   هر ساعت او په هر دم کښې
ستا دَ علم په لوئے شمار   کمے نشته ستا کرم کښې
رب سوال م کړے قبول ،   درته یم ستړے په نم کښې
چه ئے هزار هزار فردوسه   شته دَ زلفو په هر خم کښې
دَ دے پاک محبوب په پاک مخ   بهترین نسلِ آدم کښې

ستا رضا او لقا غواړم   زهٔ عاجز په کل عالم کښې
ستا دَ علم په لوئې شمار   په هر دم په هر نَدم کښې
جُمله ته ئې خپله رب   بنکته پورته بیشُمار کم کښې
چه په دِ دُنیا دِ ی اکرو   ځائې په دے باغِ اِرم کښې
دَ محبوب په خوا کښې ناست یم   مضامین م کړے قلم کښې
جمله ته ئې ستا احسان دے   په عرب او په عجم کښې
زهٔ خوار تا نه ډیر رضا یم   حقیقت وایم قسم کښې
دَ دے خوار جمله دوستان   الله یرے نه دے تورتم کښې
ته ئې رضا لقا نصیب کړے   اوئې لرے نازو نعم کښې
محمدؐ امین معاف کړے   ډیر عیبونه دی دِ کرم کښې

بسم الله الرحمٰنِ الرحیمہ

ستا دَ دی بارگردو غبار نه شم نثار محبوبه   دَ رب مختار محبوبه
دَ خپل رب العزة دَ لوئې علم په شمار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
رب دِ نصیب کړه خپل عزت او شرافت دلداره   دَ کل عالم سرداره
نشته په دواړو کونو ستا پشان رونډار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
هزار هزار تاج و تختونه به ترے زار کړم والله   دغه اقرار کړم والله
ما سره قدری دومره دے ستا دَ پاتزار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
که م په هر نفس روحونه شی دَ جمله عالم   بخپل مولام قسم
لمحه لمحه به ئې کړم لوګے ستا په دربار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
هر خم دَ زلفو کښې هزار هزار فردوسه لرے   عجَب زیبا دلبرے
دواړه جهانه دی روښان ستا په رُخسار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
چرته دا پاکه مدینه چرته زهٔ خوار او ګدا   په حق محبوبِ خُدا
څومره دے فضل دَ خاوند خپل په ما خوار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ کښې نزدے تا پورے   محبوبه ته خوئې کوړے
څومره احسان کوی خپل رب په ما باربار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
قسم بخپل رب العزة ترصد هزار تاجونو   ترصد هزار تختونو

ګران دے په ما ستا دَ پاتزار ګردو غبار محبوبه   دَرب مختار محبوبه
لله تماشه **محمدؐ امین** خوار جاری بیا بیا   دیدن دِ غواړی بیا بیا
رب خوئې نصیب کړه ستا وصال ستا په رُخسار محبوبه   دَرب مختار محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب   تا ته موسوال دے دِ روضه کښې دَ جنت دَ محبوب
تا ته مو سوال دے ستا دَ علم په لوئې شمار خاونده   ازل نه تر ابد لمحه لمحه باربار خاونده
ته ئې قبول کړے خپل مولا په برکت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
رب العزته خپله غواړو ستا رضا او لقا   قائمه تل تر تله غواړو ستا رضا او لقا
په وسیلے او په خاطر او په قربت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
تا چه روښان دواړه جهانه کړه په وجه الجمیل   دَ مدینے منورے دَ محبوب طرف الکحیل
مونږ نه هم شے رضا دَ پاک فخر په زینت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
زړونه مو کړے روښانه ډیر ستا په رضا او لقا   کریم خاوند سبحانه ډیر ستا په رضا او لقا
په دے حده مشرف پاک زیارت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
چه راوریږی کوم انوار په دے مزار مبارک   دَ دے ډیر پاک حضر دَ کل عالم رونډار مبارک
مونږ نه هم شے رضا په ډیر نورانیت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
ما ته چه عرش ته پورته بنکاری ستا په فضل و کرم   دا مناجات لیکی هغه در شلے پورے دا کرم
ته ئې قبول کړے ربنا په شفاعت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
رب العزته جملګی لیکل لوستل اوریان   ستا په توفیق دے چه کوم زهٔ پریشان او ناتوان
خپلے رضا دَ پاره کړے په ډیر عزت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب
دَ محمدؐ امین عاجز فقیر ذلیل او لاچار   جمله سوالونه کړے قبول بخپل بے مثله دربار
په دے حق الیقین بے مثله نبوت دَ محبوب   الله رضا شے په عزت او شرافت دَ محبوب

بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

په روضه کښې دَ جنت ستا رضا غواړم   دَ محبوب په شفاعت ستا رضا غواړم
ستا دَ علم په لوئې شماران تر ابده   هر نَفَس او هر ساعت ستا رضا غواړم
ستا وعده ده ته مجیبُ السائلین ئې   دَ دُعا په اجابت ستا رضا غواړم
ستا دَ ذاتِ مقدس بلا زوال،   په بے حده لوئې عزت ستا رضا غواړم

ستا دَ جمله صفتونو مبارکو   په کمال جلال صفت ستا رضا غواړم
ستا دَ اسمآء حسنیٰ په شرافت   او عزت او په حرمت ستا رضا غواړم
یا الله دَ دې محبوب پاک محمدﷺ   په دې ډیر ښکلی قربت ستا رضا غواړم
جلوه گر چه پکښې حضرت محترم دے   په دې ډیر پاک زیارت ستا رضا غواړم
چه له عرشه ئې پورته تلی دی انوار   دَ دے پاک مخ په زینت ستا رضا غواړم
ستا رضا او ستا لِقا چه خومره ښه ده   په هغې پاک حقیقت ستا رضا غواړم
خپله ئې به دَ رضا او دَ لقا ستا   په بے حده لوئے لذت ستا رضا غواړم
خپله ئې به دَ رضا او دَ لقا ستا   په اعلیٰ مقصد وصلت ستا رضا غواړم
ستا دَ علم په لوئے شمار تنا شکرونه   تا ته سپارم زیادت ستا رضا غواړم
زهٔ احقر اذل مضطر او پریشان ډیر   په ډیر عجز او ذلت ستا رضا غواړم
دا لیکل او دا غوښتل جمله هم ته ئې   ستا په توان او هدایت ستا رضا غواړم
دا کتاب چه هر ځائے لولی دَ دین رونړه   ورله دلته ستا رحمت ستا رضا غواړم

ډیر محتاج احقر محمد امین خواړ

ستا دَ علم په کرت ستا رضا غواړم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

رب العزته په عزت ستا دَ رضا او لِقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
ستا دَ رضا او دَ لقا سوال ستا دَ علمه شمار   ازل نه تر ابد لمحه لمحه بیا بیا په تکرار
تا نه کوو په شرافت ستا د رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
خپله رحیمه او کریمه او عظیم خاوندهٔ   ارحم الراحمین غفار ستار قدیم خاوندهٔ
تل مولره په محبت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
پیدا کولے شے هزار هزار هزار عالمه   هره ذره کښې دَ عالم هزار هزار قسمه
سوال مو په لوئے توان قدرت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
په وسیلے دَ دې نزدې پاک محمدﷺ مصطفیٰ   اشرف الانبیا محبوب کان دَ عطا او وفا
سوال مو په مخ دَ دې حضرت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
ستا دَ لوئے علم په لوئے شمار بیا بیا سوالونه کوو   ستا دَ لوئے علم په مقدار بیا بیا سوالونه کوو
په دې روضه کښې دَ جنت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا د رضا او لقا

په ورکولو دِ دریاب دَ کرم نهٔ کمیږی   دَ جملګی عالم سوالونه که بیا بیا قبلیږی
په مونږ دِ وی ستا مرحمت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
چه عرش نه پورته ئې دَ پاک رخسار انوار رسیږی   ولے به سوال دَ دې محبوب په پاک مخ نه قبلیږی
الله نصیب مو کړے نعمت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
دَ جملګی پیغمبرانو په آبرو خاوندهٔ   دَ جملګی خپلو دوستانو په کرمو خاوندهٔ
نصیب خُمونږه کړے وصلت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا
رب العزته ډیره خپله دَ محمد امین   کړے مو نصیب په وسیلے دَ دې محبوب بهترین
عزت په مستقل شوقی او لذت ستا دَ رضا او لقا   خُمونږه کړے نصیب دولت ستا دَ رضا او لقا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ستا په راتلو به شی محشر په مونږ اختر محبوبه
ته چه میدان کښې د محشر شې جلوه گر محبوبه
لاس پناه وارهٔ نبیان په تعظیم ستا ولاړ دی
دَ مرسلانو دَ جرګے ډیر معتبر محبوبه
دَ رب دَ لوئے عام پښمانی دِ مبارک وی درته
تاج دَ عزت او شفاعت چه کړے په سر محبوبه
که زهٔ په هر دم شی ذرے دَ کائنات ریحونه
لوګے لوګے هره لحظه شم ستا په در محبوبه
هر خم دَ زلفو کښې هزار هزار فردوسه لوړے
ما عاشقانو ستا کښې کړے دا خبر محبوبه
دا ستا نعتونه لیکم تا پورے نزدے جنت کښې
خومره احسان دے دَ خاوند کریم اکبر محبوبه
دَ مدینے منورے دَ کوسو خاورے ماته
ستا په مخ کړانے تر شاهئے دَ بحر و بر محبوبه
محبوبه ما باندے یو نعت واوره وه هلته کښې بیا
ته چه قسمت کوے په غاړه دَ کوثر محبوبه
ستا په حضور کښې شرمنده کوزګورم روی و جارم

خاوند کرم ستا له مخه څومره بختور محبوبه
دَ رب دَ لوئے علم په شمار صلاة سلام شه پیتا
لمحه لمحه کښے ترابده پیغمبر محبوبه
خوار او مضطر ذلیل حقیر عاجز محمدٌ امین،
ستا په مخ غواړی دیدن ستا دَ مخ انور محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیمؕ

ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم   خاونده غواړم هر ساعت بوجهک الکریم
لمحه لمحه کښے دَ ازل نه ترابد ربّنا   ستا دَ لوئے په شمار الله الصمد ربّنا
لرم اُمید دَ اجابت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
ربُ العزته اکرم الاکرمین خپله مولا   رحمٰن رحیمه ارحم الراحمین خپله مولا
غواړم ستا رحم وعنایت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
تاله ثنا تاله شکرونه ستا دَ علم پشمار   لمحه لمحه کښے دَ ازل نه ترابده بار بار
تا ته سپارم زهٔ ملامت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
تا نه هغه غواړو چه بنائی ستا له شان خاونده   ستا غفاره او رحیم کریم رحمٰن خاونده
ستا دَ لوئے په کرت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
که صد هزار هزار هزار هزاری هزار عالمه   لمحه لمحه پیدا کوے خاوند دَ لوئے کرمه
بے حدا اسان ستا په قدرت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
که صد هزار کائنات کړے هره ذره کښے دَرون   ستاله قدرت دا کار نه دے یو ذره هم بیرون
دا م ایمان او عقیدت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
رضا لقا دِ بیا بیا غواړم ستا دَ علم پشمار   لمحه لمحه کښے ترابده زهٔ ذلیل خوار و زار
په دے روضه کښے دَ جنت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
دَ اشرف الانبیا خوا کښے دا سوالونه کوم   دَ قبلید لوئے یقین دیر اُمیدونه لرم
په شرافت دَ دے زیارت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
په وسیلے دَ محمدٌ محبوب اکرم خاونده   رضا لقا دِ بیا بیا غواړو په هر دم خاونده
په شوق او ذوق محبت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم
دَ محمدٌ امین حقیر نقیر ذلیل خاونده   جمله سوالونه کړے قبول ربّ الجلیل خاونده

دَ دے محبوب په دَ قربت بوجهک الکریم   ستا دَ رضا لقا دولت بوجهک الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم   خاوند دَ لوئے عظمته ستا په پاک وجه الکریم
لمحه لمحه کښے دَ ازل نه ترابد خاونده   رضا لقا دِ غواړم پاک او صمد خاونده
هزار هزار کرته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم
چه ستا له شانه بنائی هغه کرم غواړمه   چه ستا له شانه بنائی فضل هر دم غواړمه
خاوند دَ لوئے رحمته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم
ستا دَ لوئے علم په شمار لمحه لمحه کښے مولا   رضا لقا دِ غواړو طرفه طرفه کښے مولا
سره دَ دیر ذلته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم
شکر ثنا ستا دَ لوئے علم په شمار خاونده   ازل نه ترابده سپارم بار بار خاونده
زهٔ خوار په ستړگو بشکته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم
په هر نفس م ذرے دَ کائنات روحونه   که کړے خاونده تاله بے حده بسیا شکرونه
تا نه زار بے مهلته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم
تا دَ محبوب حضور ته راوستم خپله ربه   دواړه جهانه زار کرم ستا تر احسان ادبه
زار ستاله مرحمته ستا په پاک وجه الکریم   خپله رب العزته ستا په پاک وجه الکریم

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

دیر عاجز مفلس ولاړ په دربار ستا یم   شَيْئًا لِلّٰهِ لہ جمالہ دَ رخسار ستا یم
زهٔ که څومره شرمنده ملامت کړم یم   شکر شکر دَ وفا اُمیدوار ستا یم
دَ وفا دفتر هم ستا په نوم مختوم دے   زهٔ مضطر او پریشان بے قرار ستا یم
مات کچکول کښے درنه خیر دَ دیدن غواړم   که نور دِ یر نالایق یم خو بیمار ستا یم
مدعی دَ صد هزار هزاری فردوسو   په هر خم کښے دَ زلفانو دَ تار ستا یم
چرته زهٔ خوار چرته ستا دَ کوسو خاورے   ستاله مخه نن دروں په گلزار ستا یم
په وجه الکریم دَ خپل رب العزة پاک   دَ وصال سائل محتاج په بار بار ستا یم
دواړه کونه به ترزار کرم هزار وارے   قدردان دومره والله دَ بازار ستا یم

که ذرے د کائنات ږ شی روحونه   دم په دم بروالله زاراونثارستا یم
زهٔ محمد امین خوار حقیر لاچار   معزز نن د دربار په غبار ستا یم

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله تعالیٰ کما هو اهله ویحب ویرضیٰ وهو ذو الجلال والاکرام ۔ دَ باب الرحمة بوّاب صاحب محمد عثمان سندی الله جل جلالهٗ مهربان کړیدے ۔ چه روزانه بار بار داعاجز په خدمت سرفرازوی ۔ کله دَ بازارنه ورله سودا راوړم ۔ کله دروازه او دَ دروازے مخه جارو کوم ۔ کله هغهٔ چرته ځی ۔ نو داعاجز الحمد لله دَ هغه په ځائے په تخت ناست وی ۔ او دَ پېرو خدمت کوی ۔ په ۲۷ ، جمادی الثانی سنه ۱۳۷۶ھ بوّاب صاحب چرته تلے وو ۔ دَ خپل عادت نه زیات حصار شو ۔ او داعاجز ئے په ځائے ناست وو ۔ دَ حرم شریف تماشا هم کیده ۔ او باهر بازار هم لیدے شو ۔ نو دا ابیات په هغه ساعت په باب الرحمة کښے او لیکلے شو ۔ ماشآءالله لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم

بسم الله الرحمن الرحیم

دروازه کښے دَ رحمت   دمحبوب حبیب حضرت
کله کله منظوری پړم   زهٔ دَ پاره دَ خدمت
دَ رب خومره لوئے احسان دے   دَ رب خومره عنایت
دَ بوّاب صاحب نه زاری شم   په ما دیر لری شفقت
چه خدمت را باندې کاندے   دا پهادے دیر منّت
په مولا ږ دِ قسم وی   صد هزاری هزاری کرت
په لوئے شمار دَ دهٔ دَ علم   په دیر ذوق وشوق لذت
چه به هیچرے وړ نکړم   دلته ناسته یو ساعت
دَ دے جملگی جهان   په دولت او سلطنت
دا لیکل کړم دروازه کښے   ناست په شوق او محبت
کله کوی مه حرم کښے   دَ حرم زیب و زینت
کله دے خواته نظر کړم   دَ حرم په خوا قُربت
دکانونه لګیدلی   خلق ګرزی کړی عشرت

ربه داساعت بم تیرشی   وخت به راشی دَ فرقت
ما پتا باندے سپاری لے   بیا هغه وخت دَ هجرت
تهٔ رضاشے لقا راکړے   په خپل فضل و مرحمت
دَ محبوب په وسیلے ږ   کل دوستان دَ طریقت
په رضا لقا مسرور کړے   هم دلے په قیامت
هم دوستان دَ جماعت[1]   هم دوستان دَ هر نسبت
دَ محمد امین خوار   الله کړے نصیب وصلت

بسم الله الرحمن الرحیم

الله خومره دِ کرم دے   ستا کرم څهٔ سرېم سم دے
ستا دَ بحر له کرمه   جملګی عالم یو نم دے
که هزاری هزار عالمه   نوی پیدا کړے نو قسم دے
یو ذره به دِ کم نهٔ شی   توان دِ دومره لوئے محکم دے
مدینه روښانه چرته   چرته دا ملامت ګرم دے
دا ستا فضل او احسان دے   دا ستا رحم په هر دم دے
دا کوسے دَ مدینے دی   که اعلیٰ باغِ اِرم دے
چه ئے دیر عزت موندلے   له محبوبِ محترم دے
دَ محبوب په خاطر باندِ   دا اقرار ږ مُسلّم دے
تر هزاری هزاری جنته   ګران په ما داپاک حرم دے
دَ محبوب جنت کښے ناست یم   عجیبه ناز و نعم دے
متصل پنجرے سره یم   عجب حال عجب رقم دے
چه محبوب ته روبرو شم   په لغزش ږ دم قدم دے
وار خطا ذلیل کوز ګورم   دَ حیا او ادب غم دے
هیڅ لایق دَ دے شان نهٔ یم   خو دَ رب کرم اَتم دے
دا په مخ ږ راروان چه   دَ محبوب حضور کښے نم دے
دَ دے قدری دب لیکلے   آن په لوح و په قلم دے

[1] :- اے جماعتِ ناجیه صالحه ۱۲

دَ جُملہ مخلوق طاقت   لہ بیانہ خُنے کم دے
دَ رب شکر هم پہ پاک رب   ما سپار لے دم پہ دم دے
دَ محمدؐ امین ډیر خوار   څہ عجب روان قلم دے

بسم اللہ الرحمن الرحیمؒ

تالہ ثنا تالہ شکرونہ ستا دَعلم پشمار   ادب حیا او تعظیمونہ ستا دَعلم پشمار
لمحہ لمحہ کښې دَ ازل نہ ترابدہ پورے   پہ مونږہ ستا دی احسانونہ ستا دَعلم پشمار
دا مدینہ منورہ دہ خپل رب العزتہ   سپارلی تا تہ ادبونہ ستا دَعلم پشمار
اشرف الانبیا محبوب پرے قدمونہ ایخی،   خمونږ ترے زارشہ دارونہ ستا دَعلم پشمار
تا نہ رضا او لقا غواړو دَ جنت باغچہ کښې،   تہ مو قبول کړے کړسوالونہ ستا دَعلم پشمار
لمحہ لمحہ کښې دَ ازل نہ ترابدہ خاوندہ   پہ مونږ دِ ستا وی رحمتونہ ستا دَعلم پشمار
پہ اشرف الانبیا محبوب محمدؐ مصطفٰے   اوسہ درود او سلامونہ ستا دَعلم پشمار
هرخمِ دَ زلفو دَ محبوب کښې صد هزار فردوسہ   دی ما منلی قسمونہ ستا دَعلم پشمار
چہ دَ محبوب حضور کښې جارم ستا پہ فضل و کرم   ترینہ قربان کړم جهانونہ ستا دَعلم پشمار

بنکلے باغچہ کښې دَ جنت خوار محمدؐ امین
تا تہ سپاری شکر و حمد ونہ ستا دَعلم پشمار

بسم اللہ الرحمن الرحیمؒ

بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل، خاوندہ   ولاړ پہ دردیم حیران خوار و ذلیل خاوندہ
ستړے مړے ابنکتہ ملامتہ شرمندہ یمہ ډیر   دَ گناهونو کندکښې باندِ گندہ یمہ ډیر
بخښنہ غواړم زہ ناتوان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ
اللہ مونږ او بخښې دَ خپل وجہ الکریم پہ عزت   اللہ مونږ او بخښې دَ خپل شانِ عظیم پہ عزت
بخښنہ غواړم سرگردان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ
تا چہ پہ دې دُنیا جنت راکړو احسانہ دِ زرار   لمحہ لمحہ کښې ترابدہ ستا دَ علم بہ شمار
بس هم پتا زہ پریشان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ
کہ م ذرے دَ کائنات کړے پہ هردم روحونہ   حقہ خاوندہ پہ ما او کړے دومرہ احسانونہ
تا نہ بہ ئے زار کړم زہ نالان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ
رب العزتہ پہ عزت ستا دَ ذات پاک مقدس   پہ لوئے عظمت او شرافت ستا دَ ذات پاک مقدس

ستا دَ رضا یمہ خواهان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ
ربُّ العزتہ محمدؐ امین تہ عفوہ او کړے   دے بینوا حقیر فقیر حزین تہ عفوہ او کړے
نشتہ بړ دا سے پہ جهان خوار و ذلیل خاوندہ   بړخوک بہ نہ وی ما پشان خوار و ذلیل خاوندہ

بسم اللہ الرحمن الرحیمؒ

رضا شے خپلہ ربنا بوجهک الکریم   پہ وسیلے دَ مصطفٰی بوجهک الکریم
پہ وسیلے دَ اشرف الانبیا پاک محمدؐ   خوا کښې ئے چہ ناست دے دا گدا بوجهک الکریم
رَوْضَةٌ مِّنْ رِّيَاضِ الْجَنَّةِ کښې خاوند کریمہ   غواړمہ ستا رضا لقا بوجهک الکریم
تہ هغہ او کړے چہ بنائیگی ستا لہ شانہ سرہ   خپلہ خاوند کبریا بوجهک الکریم
طرفة العین مو هم مہ پرېږدے نفس شیطان ظالم تہ   پہ شرافت دَ ذات اعلیٰ بوجهک الکریم
عَاجِلًا اٰجِلًا قبول مو کړے جملہ سوالونہ   هم عاجزئے خوارئے دُعا بوجهک الکریم
لمحہ لمحہ پہ شمار دَعلم ستا بیا بیا ترابد   تکرار خمونږ دہ مدعا بوجهک الکریم
لرے خاوندہ ډیر خپلہ اَللّٰہُ الصَّمَدہ   کړے مو نصیب خپلہ عطا بوجهک الکریم
جملہ دوستانو دَ دے خوار خنے رب العزتہ   رضا رضا شے پہ بیا بیا بوجهک الکریم

خوار محمدؐ امین پہ شمار ستا دَ لوئے علم بیا بیا
تا تہ سپاری شکر و ثنا بوجهک الکریم

بسم اللہ الرحمن الرحیمؒ

ستا رضا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم   ستا لقا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
ستا دَ علم پہ لوئے شمار ډیر خپلہ ربہ   دا سودا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
دَ ازل نہ ئے طرفہ کښې بیا بیا   اَبدا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
چہ لہ ذاتِ مقدس ستا سرہ بنائی   زہ هم دا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
تُعِزُّ الْعِزَّةَ لِمَنْ تَشَاءُ اَنْتَ،   عزت ستا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
ستا لہ قهرہ ستا دَ رحم لور تہ تختم   بس پناہ ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
تا چہ څہ پہ ما غوښتلی دی یا غواړے   ستا وفا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
دا غوښتل او ورکول جملہ هم ستا دی   ستا عطا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
چہ لتا سرہ بنائیگی بس هم هغہ   زہ گدا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم
زہ ازل احقر مضطر ډیر نا قرار.   مینہ ستا ستا پہ ذاتِ مقدس غواړم

مدینه منوره کښې خپل محبوب نه — مرحبا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
دَ محبوب خُلق عظیم سره چه ښائی — کبریا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
ډیر محبوب ته شرمنده یم ترینه عفوه — په بیا بیا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
دَ محبوب حضور کښې ډیر ډیر ادبونه — او حیا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
ذوق وشوق دردوالم عشق ومحبت — او جرا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
په دُنیا کښې دِ جنت را کړو همدا سے — په عُقبیٰ ستا په ذاتِ مقدس غوارم
کل دوستانو لره جملګی خیرونه — ربنا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
چه دَ چا عِلم کښې نشته ستا کښې شته دے — زهٔ ئے لتا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
حمدوشکر سپارل تا ته ترابده — ذوالعلا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
له ظالم نفس وشیطان ځنې پناه تل — خپل مولا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
په جمله مُصیبتونو اِسْتِرْجَاعْ[له] — اُمّنَا ستا په ذاتِ مقدس غوارم
څوک چه لولی دا کتاب هغو لره دلته — زهٔ دُعا ستا په ذاتِ مقدس غوارم

ډیره عفوه زهٔ **محمد امین** خوار
بینوا ستا په ذاتِ مقدس غوارم

بسم الله الرحمن الرحیمۃ

څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
بیرون له حد شمار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
حمدوشکرونه ستا دَ فضل او احسان او کرم
لمحه لمحه کښې ستا دَ علم په شمار تا ته سپارم
غوارمه بار بار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
ستا دَ لوئے عِلم په لوئے شمار تا ته سوالونه کوم
تا ته په هر سوال بیا په دے مقدار شکرونه کوم
داجُملګی کار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه

له یعنی اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ۃ

چه دے په دے دار جنت را کړو په جنّت کښې یم تن
دَ اشرف الانبیا خپل محبوب قُربت کښې یم نن
دا ښکلے دلدار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
که م ذرے دَ کائنات زرونه کړے او ږوحونه
دومره په ما او کړے قادر کریمه احسانونه
ښائی په دربار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
زهٔ به دَ جُمله نعمتونو شکر تا ته سپارم
زهٔ به دَ جُمله احسانونو شکر تا ته سپارم
دا ښکلے کردار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
رضا لقا غوارمه ستا، ستا په ذاتِ مقدس
یاربنا یاربنا، ستا په ذاتِ مقدس
دا پاکیزه لار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
چرته روضه دَ جنت چرته **محمد امین** خوار
چه دِ په دے دُنیا احسان او کړو ډیر یم اُمیدوار
هم په هغه دار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه
څومره په ما خوار ستا کرم فضل واحسان خپل ربه

بسم الله الرحمن الرحیمۃ

دا مدینه منوره ده شه هیدای زړګیه — کوز کوز نظر کوه مضطرا وناقرار زړګیه
کوز کوز نظر کوه خجل او شرمنده ګرزېګه — کوسے ئې دا ستا دَ محبوب عالی وقار زړګیه
په دے کو سو کښې ستا محبوب پاک قدمونه ایخی — تره لے نهٔ کوے په سترګو پرے رفتار زړګیه
که وس دِ نهٔ وی چه دَ سترګو قدمونه جورکړے — رب ته بیا بیا جاړه په عجز انکسار زړګیه
محبوب ته ډیر ډیر ملامت شوے په مولام قسم — چوندے ګرزېږے نه ایرشوے نهٔ غبار زړګیه

تا نه چه عرش نه پوره بنکاری دَ محبوب درشله — خوا دَ هغه درشل کښې ناست تن بیمار زړګیه
جنت کښې ناست یې دَ محبوب خوا کښې فکر او کړه — شکر کوه دَ رب دَ لوئې علم په شمار زړګیه
تا نه به هیڅ یې ادا نشی دا حمد و شکر — خپل دَ رب ته سپاره او جړیګه په زاړ زاړ زړګیه
هر غنچه کښې یې چه هزار هزار فرده نښته دے — که ته تماشا دَ دلربا دَ دے ګلزار زړګیه
دَ رب دَ لوئې علم پشمار دِ مبارک وی درته — فضل وکرم دَ رب چه دے بیا بار بار زړګیه

دا پتا حق دے چه دَ اُوښو به ځائې وینے جارے

دَ **محمد امین** احقر ذلیل او خوار زړګیه

بسم الله الرحمن الرحیمؕ

ربنا رضا لقا را ته بوجهک الکریم — بنده ګی خپله رښتیا را ته بوجهک الکریم
ستا دَ علم په لوئې شمار سوال کوم ستا په دربا — حقیقی محبت ستا را ته بوجهک الکریم
چه لتا سره بنا ئیګی ستا رضا پرے حاصلیګی — هغه شوق ادب حیا را ته بوجهک الکریم
الله ستا رضا دَ پاره الله ستا لقا دَ پاره — دَ زخمی زړګی جړا را ته بوجهک الکریم
بنکلے پاک متابعت دَ سنت او شریعت — دَ محمدؐ مصطفیٰ را ته بوجهک الکریم
په دُنیا دِ جنت را کړو خوګ دِ دردِ عزا کړو — هم دغه شان په عقبیٰ را ته بوجهک الکریم
چه لتا سره خائیګی بل په هیڅ وک نه توانیګی — هغه شکر او ثنا را ته بوجهک الکریم
الله نوی دَ معرفت را الله نور دَ حقیقت را — ربه وصل او بقا را ته بوجهک الکریم
مدینه منوره دَ جنت بنکلے روضه دَ — دلته جمله مدعا را ته بوجهک الکریم
په ابرو دَ محبوب په ګل خو دے محبوب — دَ باطن بنکلے رڼا را ته بوجهک الکریم

محمد امین خوار جار م ستا رضا او لقا غوارم

دوا ره دیر خپله مولا را ته بوجهک الکریم

بسم الله الرحمن الرحیمؕ

مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته — نصیب کړے لقا پخپله خپل رب العزته
خپله رحیمه وکریمه او قدیمه مولا — غفار ستاره مستعانه او عظیمه مولا
کړے مونصیب عطا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
ته مونصیب کړے په عزت دَ خپل ذات معظم — ته مونصیب کړے په عظمت دَ خپل ذات مقدس
تر یماني ره پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته

لمحه لمحه کښې تر ابده دَ خپل علم په شمار — ثنا شکرونه ادبونه او حیا انکسار
ثنا ته اوسپاره دا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
دا م ایمان م اقرار ستا په قضا م رضا — ستا دَ لوئې علم په لوئې شمار ستا په قضا م رضا
ته و اخلے دا سودا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
تا نه م سوال دے په روضه کښې دَ جنت خاونده — ته مونصیب کړے معرفت او حقیقت خاونده
واصل کړے دا ګدا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
خما په زړه دی حجابونه دَ غفلت خاونده — نفس و شیطان ظالم کړم خوار ذلیل اے بیا خاونده
پوره ته کړے کل بلا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
ته م نصیب استقامت کړے په صالحو کښې ربه — ته زا ته او ښائې پخپل اصلی جمال کښې ربه
محمدؐ مصطفیٰ پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته
په وسیلے دَ اشرف الانبیا والمرسلین — منظور به درکړے محمد امین لاچار او حزین
دیر خوار او بینوا پخپله خپل رب العزته — مونږه نه شے رضا پخپله خپل رب العزته

بسم الله الرحمن الرحیمؕ

دا مدینه منوره ده ما قربان کړے ربه — له خپل احسانه او نصیب خپل احسان کړے ربه
ستا دَ کرم دریاب دیر پلن بهیګی نه کمیګی — نصیب خما دا خپل محبوب بنکلے جانان کړے ربه
ته هم هغه او کړے چه بنائی ستا له شانه سره — نصیب مې ستا کرم لائق هم ستا دَ شان کړے ربه
دَ احسانونو شکر به ستا ستا دَ علم پشمار — تا ته سپارم بیا بیا نصیب دا ګذران کړے ربه
ترش نه چه پوره ده په خوا کښې دَ هغې درشلے — رورو جړل نصیب دَ دې خما جزنه ران کړے ربه
جنت دِ را کړلو په دے دُنیا سبحان الله — نصیب عقبیٰ کښې مو با غو دَ رضوان کړے ربه
تا ته معلوم دی خما جملګی دوستان خاونده — جمله مقبول پخپل دربار عالیشان کړے ربه
هر خوک چه هر ځائې دا کتاب لولی رب العزته — دلته م سوال دے درته بخره یې عرفان کړے ربه
ستا دَ لوئې علم په لوئې شمار صلاة سلام په محبوب — لائق دَ شان خپل تر ابد بیا بیا باران کړے ربه

خوار **محمد امین** درشل پورے دَ خپل محبوب

تا ته جړیګی ته یې زیادت نور دَ ایمان کړے ربه

بسم الله الرحمن الرحیمؕ

ستا رضا لقا لتا نه هم بوجهک الکریم — غوارم خپل غنی سبحانه هم بوجهک الکریم

چه لتاسره بنائیگی ستا رضا پرے حاصلیگی   بس هغه غواړو لتانه هم بوجهک الکریم
که زۀ یم خوار او ذلیل تا لرم رب الجلیل   غواړم خیر ستا له احسانه هم بوجهک الکریم
مات کچکول په لاس ولاړ یم خوار ذلیل وران او ویجاړ یم   راکړه خیر غنی سبحانه هم بوجهک الکریم
په روضه کښے د جنت معرفت او حقیقت   دواړه غواړم زۀ ناتوانه هم بوجهک الکریم
که ذرے د کائنات م، کړے روخو په کرات م   زار نثار شه له خه شانه هم بوجهک الکریم
د خپل علم په لوئے شمار، ما قربان کړے په بار بار   د محمد مصطفی نه هم بوجهک الکریم
الله جملګی دوستان، تا نه غواړم زۀ ناتوان   د محبوب په مخ روښانه هم بوجهک الکریم

محمد امین ذلیل، ربنا رب الجلیل،
کړے آمان هرے بلانه هم بوجهک الکریم

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده ما ترزا رکړے ربه   نصیب مو دا ښکلے محبوب ښکلے دلدار کړے ربه
دواړه جهانه چه روښانه دے په مخ د محبوب   سوال کوم زۀ ځما پرے هم نور الانوار کړے ربه
هر خم د زلفو کښے چه صد هزار هزار فردوسه   لرے نصیب دغه دیر ښکلے رخسار کړے ربه
د مرسلانو د جرګے صدر العلے محترم   اشرف الانبیا نصیب مو دا مختار کړے ربه
چرته زۀ خوار ذلیل حقیر چرته دیار حبیب   دا ستا لوئے فضل دے نصیب د دے خوار کړے ربه
سره د جملګی دوستانو پخاطر د محبوب،   نصیب مو ستا رضا او ستا ښکلے دیدار کړے ربه
د خپل احسان شکرونه بیا بیا په ادب او حیا   ځان ته سپاره لی د خپل علم په لوئے شمار کړے ربه
صلاة سلام ستا د لوئے علم په لوئے شمار په ادب   په د محبوب پاک ترابد بیا بیا نثار کړے ربه
جنت کښے ناست یمه رضا او لقا غواړم در نه   سوالِ م قبول په دِ نزد د محبوب رونډار کړے ربه

خوار **محمد امین** لائق نۀ دے هرګز دلته کښے
دا جمله ستا دے احسانونه چه بار بار کړے ربه

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته   والله ایمان لرم دا دیر خپله رب العزته
دا م ایمان دا م اقرار ستا د لوئے علم پشار   لمحه لمحه کښے د ازل نه ترابده بار بار
ستا په احسان او عطا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته
نه چه کوے بس هم هغه بنده دی قسم دے پتا   دغه ایمان ستا په احسان ځما محکم دے پتا

ربنا یاره بنا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته
که م ذرے د کائنات تاج و تختونه کړے ته   بیا ئے په یو ساعت ایرے خاورے ګردونه کړے ته
ځما هم دغه منشا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته
که م ذرے د کات په هر نفس روحونه   کړے په احسان او بیا ئے اخلے تا له دیر حدونه
دغسے شکر و ثنا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته
ستا د لوئے علم پشمار تل تا نه رضا یو ربه   مونږ نه رضا شے مونږ هم ستا یو مونږ هم ستا یو ربه
غفار ستاره مولا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا م رضا دیر خپله رب العزته
ستا د رضا او د لقا په شرافت خاونده   تا ته مو سوال دے د دِ روضه کښے د جنت خاونده
ستا د رضا او د لقا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا مو رضا دیر خپله رب العزته
په شمار د علم ستا کوو ستا د رضا لقا سوال   په شرافت عزت حرمت فیض و جمال و کمال
د محمد مصطفی دیر خپله رب العزته   ستا په قضا مو رضا دیر خپله رب العزته
خوار محمد امین د خپل جرم و عصیان و خطا   نظر د کوزو ستر کو غواړی ان تر تحت الثری
رحیم کریم ذو العلا دیر خپله رب العزته   ستا په قضا مو رضا دیر خپله رب العزته

بسم الله الرحمن الرحیم

څۀ عجب ښکلے ګذران دے د مدینه منوره کښے   چه محبوب د پاک سبحان دے مدینه منوره کښے
صد هزار هزار عالمه ترلوګے کړم له هر دمه   والله هسے پیا ګران دے مدینه منوره کښے
چه د کل عالم خوبان، دی د در ئے خادمان   هم د غمشاهِ خوبان دے مدینه منوره کښے
صد هزار فردوسونه شته که د زلفانو په هر خم کښے   ځما هسے خوګ جانان دے مدینه منوره کښے
که خوګیګی د چا زړونه کړی له درده فریادونه   د زخمی زړونو درمان دے مدینه منوره کښے
د رضوان هسه باغونه چه لری یوه غنچه کښے   هسے ښکلے ګلستان دے مدینه منوره کښے
د جنت باغچه پکښے ده هم په دِ دنیا قسم دے   څۀ عجب د رب لوئے شان دے مدینه منوره کښے
د جرګے د مرسلانو مقتدا بالانشین   خلقه صاحبِ قرآن دے مدینه منوره کښے

محمد امین جرګی خپل دلبر نه قربانیګی
د بلبل هسے ګویان دے مدینه منوره کښے

اللهم ربنا الکریم العظیم لک الحمد و الشکر کما انت اهله
وکما تحب و ترضی انی کنت من الظلمین ۝

بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

دَرب دَلوئے علم یہ شمار تانہ قربان محبوبه ازل نه ترابد بار بار تانه قربان محبوبه

په هغه شان ادب تعظیم حیا شوق و محبت چه بنائی ستاله شان مختار تانه قربان محبوبه

دَ کائنات جُمله ذرے کرم روحونه کړی رب هره لمحه کوم اقرار تانه قربان محبوبه

هزار هزار فرد و ستهٔ دَ یه هرخم کښے والله ستا دَ زلفانو دَ هر تار تانه قربان محبوبه

دواړه جهانه کړه روخانه خپل رب العزة ستا په زیبا ښکلی رخسار تانه قربان محبوبه

ستا دَ وصال ادب حیا سپارلی خپل ربّهٗ بیا بیا دا بینوا ذلیل او خوار تانه قربان محبوبه

خاص په وجه الکریم دَلوئی رب العزة خاونه خپل دیر په ادب غوارم دیدار تانه قربان محبوبه

په مات کچکول کښے ستر کے ښکته ملامته خجل غوارمه خیر ستاله دربار تانه قربان محبوبه

دا ستا جنت رب نصیب کړه هم دا ستاله مخه دواړه جهانه کړم درزار تانه قربان محبوبه

دَرب دَلوئے علم په شمار ازل تر ابده

زهٔ محمدٌ امین لاچار تانه قربان محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

خپل خاونده مهربانه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا ستا رضا غوارو لتانه اللهم ربنا

ربنا رب العزة لوئے خاوند دَلوئے عظمته ډیره لویه اعلیٰ شانه اللهم ربنا

دَ رضا او لقا سوال کوو تانه په هر حال په ادب حیا بے شانه اللهم ربنا

ستا دَ علم په لوئے شمار تر ابده په بار بار رضا غوارو خپل سبحانه اللهم ربنا

شے رضا پخپل احسان، اے چه ډیرے مهربان لهٔ ما خوار او ناتوانه اللهم ربنا

چه لتا سره خائیگی، ستا رضا پرے حاصلیگی هغه او کړے مستعانه اللهم ربنا

په جنت کښے رضا غوارم په جنت کښے لقا غوارم خپل رحیم کریم رحمانه اللهم ربنا

په عزت خپل امان راکړے په عظمت خپل امان راکړے لهٔ زواله دَ ایمانه اللهم ربنا

دَ محمدٌ مصطفیٰ په وسیلے او شفاعت امان راکړے دَ نیرانه اللهم ربنا

دَ خپل علم په لوئے شمار دم په دم کړے ما ننګر لهٔ محبوب پاک مصطفیٰ نه اللهم ربنا

محمدٌ امین فقیر، خوار مضطر ذلیل حقیر

ستا رضا غواړی هم تانه اللهم ربنا



بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

دَرب دَلوئے علم یہ شمار تانه قربان محبوبه ازل نه ترابد بار بار تانه قربان محبوبه

په هغه شان ادب تعظیم حیا شوق و محبت چه بنائی ستاله شان مختار تانه قربان محبوبه

دَ کائنات جُمله ذرے کرم روحونه کړی رب هره لمحه کوم اقرار تانه قربان محبوبه

هزار هزار فرد و ستهٔ دَ یه هرخم کښے والله ستا دَ زلفانو دَ هر تار تانه قربان محبوبه

دواړه جهانه کړه روخانه خپل رب العزة ستا په زیبا ښکلی رخسار تانه قربان محبوبه

ستا دَ وصال ادب حیا سپارلی خپل ربّهٗ بیا بیا دا بینوا ذلیل او خوار تانه قربان محبوبه

خاص په وجه الکریم دَلوئی رب العزة خاونه خپل دیر په ادب غوارم دیدار تانه قربان محبوبه

په مات کچکول کښے ستر کے ښکته ملامته خجل غوارمه خیر ستاله دربار تانه قربان محبوبه

دا ستا جنت رب نصیب کړه هم دا ستاله مخه دواړه جهانه کړم درزار تانه قربان محبوبه

دَرب دَلوئے علم په شمار ازل تر ابده

زهٔ محمدٌ امین لاچار تانه قربان محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیمہ

خپل خاونده مهربانه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا ستا رضا غوارو لتانه اللهم ربنا

ربنا رب العزة لوئے خاوند دَلوئے عظمته ډیره لویه اعلیٰ شانه اللهم ربنا

دَ رضا او لقا سوال کوو تانه په هر حال په ادب حیا بے شانه اللهم ربنا

ستا دَ علم په لوئے شمار تر ابده په بار بار رضا غوارو خپل سبحانه اللهم ربنا

شے رضا پخپل احسان، اے چه ډیرے مهربان لهٔ ما خوار او ناتوانه اللهم ربنا

چه لتا سره خائیگی، ستا رضا پرے حاصلیگی هغه او کړے مستعانه اللهم ربنا

په جنت کښے رضا غوارم په جنت کښے لقا غوارم خپل رحیم کریم رحمانه اللهم ربنا

په عزت خپل امان راکړے په عظمت خپل امان راکړے لهٔ زواله دَ ایمانه اللهم ربنا

دَ محمدٌ مصطفیٰ په وسیلے او شفاعت امان راکړے دَ نیرانه اللهم ربنا

دَ خپل علم په لوئے شمار دم په دم کړے ما ننګر لهٔ محبوب پاک مصطفیٰ نه اللهم ربنا

محمدٌ امین فقیر، خوار مضطر ذلیل حقیر

ستا رضا غواړی هم تانه اللهم ربنا



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ؕ

دَرب دَلوئے علم پہ شمار تانہ قربان محبوبہ — ازل نہ ترابدہ بار بار تانہ قربان محبوبہ
پہ هغہ شان ادب تعظیم حیا شوق و محبت — چہ بنائی ستا لہ شان مختار تانہ قربان محبوبہ
دَ کائنات جُملہ ذرے کہ م روحونہ کړی رب — هره لمحہ کوم اقرار تانہ قربان محبوبہ
هزہ هزار فردوسونہ دے پہ هر خم کښے واللہ — ستا دَ زلفانو دَ هر تار تانہ قربان محبوبہ
دواړه جهانہ کړه روخانہ خپل رب العزة — ستا پہ زیبا ښکلی رخسار تانہ قربان محبوبہ
ستا دَ وصال ادب حیا سپارلی خپل ربہ بیا بیا — دا بینوا ذلیل او خوار تانہ قربان محبوبہ
خاص پہ وجہ الکریم دَلوئے رب العزة خاوند خپل — ډیر پہ ادب غواړم دیدار تانہ قربان محبوبہ
پہ مات کچکول کښے ستړے ښکنتہ ملامتہ خجل — غواړمہ خیر ستا لہ دربار تانہ قربان محبوبہ
دا ستا جنت م رب نصیب کړه هم دا ستا لہ مخہ — دواړه جهانہ کړم درزار تانہ قربان محبوبہ

دَرب دَلوئے علم پہ شمار ازل ترابده
زهٔ **محمد امین** لاچار تانہ قربان محبوبہ

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ؕ

خپل خاوندہ مهربانہ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا — ستا رضا غواړو لتانہ اللهم ربنا
ربنا رب العزة لوئے خاوند دَلوئے عظمتہ — ډیره لویہ اعلیٰ شانہ اللهم ربنا
دَ رضا او لقا سوال کوو تانہ پہ هر حال — پہ ادب حیا بے شانہ اللهم ربنا
ستا دَ علم پہ لوئے شمار ترابدہ پہ بار بار — رضا غواړو خپل سبحانہ اللهم ربنا
شے رضا پخپل احسان، اے چہ ډیرے مهربان — لہ ما خوار او ناتوانہ اللهم ربنا
چہ لتا سره خائیکی، ستا رضا پہ ما صلیکی — هغہ او کړے مُستعانہ اللهم ربنا
پہ جنت کښے رضا غواړم پہ جنت کښے لقا غواړم — خپل رحیم کریم رحمانہ اللهم ربنا
پہ عزت خپل امان راکړے پہ عظمت خپل امان راکړے — لہ زوالہ دَ ایمانہ اللهم ربنا
دَ محمد مُصطفیٰ پہ وسیلے او شفاعت — امان راکړے دَ نیرانہ اللهم ربنا
دَ خپل علم پہ لوئے شمار دم پہ دم کړے ما ښکار — لہ محبوب پاک مُصطفیٰ نہ اللهم ربنا

محمد امین فقیر، خوار مضطر ذلیل حقیر
ستا رضا غواړی هم نانہ اللهم ربنا



خپل کریم رب العزة خپل قدیم رب العزة — ستا دَ وصل پہ لذت ستا رضا او لقا غواړم
زهٔ **محمد امین** خوار، ستا دَ لوئے علم پہ شمار
پہ عزت ستا دَ وصلت ستا رضا او لقا غواړم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ؕ

دا مدینہ منوره ما ترِ زار کړے ربہ — نصیب م دا ښکلے محبوب ښکلے دلدار کړے ربہ
پہ دِکو سو کښے محبوب ډیر پاک قدمونہ ایخی — ما ترینہ زار ستا دَ لوئے علم پہ لوئے شمار کړے ربہ
افسوس لہ ستړگو قدمونہ موجود لے رو نہ شم — پہ ډیر احسان معاف ما خوار حقیر لاچار کړے ربہ
ادب حیا جر اسپارم ستا دَ لوئے علم پشمار — تا تہ منظور دَ غہ سپارل پخپل دربار کړے ربہ
رب العزة پہ عزت او شرافت دَ محبوب — نصیب حما دَ خپل محبوب دَ مخ انوار کړے ربہ
دواړه جهانہ چہ روښانہ دی پہ مخ دَ محبوب — باطن حما هم نورانی پہ دِ رخسار کړے ربہ
کل جنتونہ دَ رضوان چہ یو غنچہ کښے لری، — نصیب حما دَ خپل محبوب دغہ گلزار کړے ربہ
دَ کائنات ذرے م کړے پہ هر نفس روحونہ — بیا سپیلنی ئے دَ محبوب در کښے بار بار کړے ربہ
دا دَ جنت با غچہ کښے ناستے م متصل منبر تہ — پہ شمار دَ علم خپل ما خوار شکر گذار کړے ربہ

پہ شمار دَ علم خپل عاجز فقیر **محمد امین**
ذار او نثار دَ خپل محبوب تر پاک پا مُزار کړے ربہ

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ؕ

دا پہ جنت کښے کوم سوال ستا دَ رضا او لقا — دا سوال قبول کړے پہ جلال ستا دَ رضا او لقا
ستا دَ کرم دریاب خوبے حده ډیر پلن بهیږی — دَ عالمونو پہ عطا یو ذرہ لا نہ کمیږی
کړے مو نصیب آبِ ذلال ستا درضا او لقا — دا سوال قبول کړے پہ جلال ستا دَرضا او لقا
رب العزة پہ عزت ستا دَ ذاتِ مقدس — پہ شرافت او پہ عظمت ستا دَ ذاتِ مقدس
کړے مو نصیب عشق جلال ستا دَ رضا او لقا — دا سوال قبول کړے پہ جلال ستا دَ رضا او لقا
رب العزة کړے نصیب مو دَ رضا محبوب — حق الیقین بے کیفہ ډیر پاک دَ لقا محبوب
پہ نور دَ حُسن او جمال ستا درضا او لقا — دا سوال قبول کړے پہ جلال ستا دَ رضا او لقا
ستا دَ لوئے علم پہ لوئے شمار ازل نہ ترابده — لمحہ لمحہ طرفہ طرفہ کښے اَللّٰهُ الصَّمَدُ
سوال مو بیا بیا یا ذالجلال ستا دَ رضا او لقا — دا سوال قبول کړے پہ جلال ستا دَ رضا او لقا
اُو ر دَ هجران نہ مو امان کړے پخپل وجہ الکریم — نصیب مو ستا فضل و احسان کړے پخپل وجہ الکریم

تہ مونصیب کړې پاک وصال ستا د رضا او لقا   دا په جنت کښې کوم سوال ستا د رضا او لقا

هزار هزار هزار هزار رحل جنتونه همه   هم په دې لوئې مقدار پکښې کل نعمتونه همه

قسم پتا کم تر مثقال ستا د رضا او لقا   سوال مو قبول کړې په جلال ستا د رضا او لقا

د دې محبوب پاک محمد په وسیلې خاونده   مونږه لوړې تر په عقبیٰ او هم دلے خاونده

په عشق و شوق و ذوق خوشحال ستا د رضا او لقا   سوال مو قبول کړې په جلال ستا د رضا او لقا

زۀ کۀ هر خو مره خوار ذلیل ډیر بې کماله یمه   ډیر شرمنده لاچار ذلیل ډیر بې کماله یمه

سوال م قبول کړې په کمال ستا د رضا او لقا   دا په جنت کښې کوم سوال ستا د رضا او لقا

خوار محمد امین په پاک مخ د محبوب محمد   کوی سوالونه د ازل نه د به ان ترا ابد

لمحه لمحه یا بې زوال ستا د رضا او لقا   سوال مو قبول کړې په جلال ستا د رضا او لقا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

چه ئې په زړه وی محبت د محمد رسول الله   کړی به جوندون په شریعت د محمد رسول الله

چرې په رښتیا مینه لری د مدینې د پاک حضرت   هغه عمل کړی په سنت د محمد رسول الله

د محمد رسول الله ادب ادب دے د خپل رب   رب مو نصیب کړه پاک خصلت د محمد رسول الله

کیږ خوېلے نشے کول د محبت نه دې خلاف   لوئې غم دے دا مخالفت د محمد رسول الله

په دروغجن د محبت لعنت وریږی هر ساعت   رب دې آمان کړی کل اُمت د محمد رسول الله

څوک چه تابع نۀ وی د دې بنکلی محبوب د پاک سُنت   هغه کښې چرته دے اُلفت د محمد رسول الله

رب مو نصیب کړه اتباع د خپل محبوب لاثانی   په برکت او شرافت د محمد رسول الله

که مدینه منوره کښې مخالف د سُنت وی   ډیر بد وی خوخ دا بې هنت د محمد رسول الله

هر ځائے چه ئې خپل د قسمت د محبوب محبت   کوه رښتیا متابعت د محمد رسول الله

د محمد امین ډیر خوار ستا د علم په مقدار

الله رضا شې په عزت د محمد رسول الله

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مولا کوم سوالونه دربار کښې د محبوب   نصیب مو کړې خیرونه دربار کښې د محبوب

په مخ د خپل محبوب مو نصیب کړې خپل خاونده   خپل جلد احسانونه دربار کښې د محبوب

باطن مو ذوالجلاله روښان او نورانی کړې   وی پیرزی رحمتونه دربار کښې د محبوب

الله په وسیلې د محبوب مونږ نه رضا شې   ستا ډیر دی کرمونه دربار کښې د محبوب

په شمار د علم ستا تل ازل نه ترا ابده   سپارم تا ته شکرونه دربار کښې د محبوب

مجیب السائلینه سوالونه مو قبول کړې   تل تا لره حمدونه دربار کښې د محبوب

هزار هزار فردوس هزار رحل ترینه زار شه   شته دا سے نعمتونه دربار کښې د محبوب

بې شمار د رب د علم تر زار کرم دوارۀ کونه   لرم دا ارمانونه دربار کښې د محبوب

محمد امین خوار الله ستا په احسان،

لیکی بنکلی نعتونه دربار کښې د محبوب

بسم الله الرحمٰن الرحیم

رب العزته په ابرو د محمد مصطفیٰ   ستا رضا غوارو په کل خود محمد مصطفیٰ

ستا د رضا او د لقا سوال ستا د علم بې شمار   بیا بیا کوو په خوشبو د محمد مصطفیٰ

عجیبه بنکلی لاثانی دور د عزت ځلیږی   د عرش په لوړو منارو د محمد مصطفیٰ

رب العزته ډیر شکرونه ابدا چه دې کرم   دانا د عشق په مسئلو د محمد مصطفیٰ

کرم دې ډیر دے د محبوب د لاثانی گلزار نه   راکړے گلونه په جولو د محمد مصطفیٰ

په دوارو کونو له هغه نه معطر نشته دے   څوک چه خوشبو وی په خولو د محمد مصطفیٰ

غوښنے د زړۀ به کرم ور بتے د مهمانئے پروځے   د شوق و عشق په مثالو د محمد مصطفیٰ

د ځلکی مسلمانانو رضا شے مولا   په پاکیزه طاعت خوارو د محمد مصطفیٰ

سوال کوو خپل رب العزته وسیله کړے نصیب   ته د خپل علم په شمارو د محمد مصطفیٰ

رب العزته کړے نصیب د محمد امین خوار

خوارۀ نعتونه په روزو د محمد مصطفیٰ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ستا د لوئے علم په لوئے شمار رضا لقا دې غوارو   ازل نه ترا ابد بار بار رضا لقا دې غوارو

ستا په وجه الکریم رحیم عظیم قدیم خاونده   په ډیر ادب او انکسار رضا لقا دې غوارو

رب العزته بل مراد مطلب مقصود مو نشته   دے مو مقصد د زړۀ بیمار رضا لقا دې غوارو

ستو کرم بنکته ملامته مات کچکول پلاس کښې   یمه ولاړ ستا په دربار رضا لقا دې غوارو

په دې حرم ډیر محترم کښې د محبوب محمد   په ذوق د خوک زړۀ نا قرار رضا لقا دې غوارو

تا د محبوب خوا کښې جنت کښې کینه ولے یمه   د دې محبوب په پاک رخسار رضا لقا دې غوارو

تا نه بیا بیا په وسیلې او شرافت خاونده   د دې محبوب نور الانوار رضا لقا دې غوارو

خوار محمد امین روضه کښې مِنَ الرِّیَاضِ الْجَنَّة

په عاجزئ لیکی اشعار رضا لِقا دِ غواړو

بسم الله الرحمٰن الرحیم

هزار هزار عالمه ستا په در نثار محبوبه — لمحه لمحه د رب دَ لوئ علم په شمار محبوبه
ازل نه تر ابده دیر په عاجزئ او ادب — شوق او حیا او محبت تعظیم وقار محبوبه
دَ کائنات جُمله دَرمے کړم روحونه کړی رب — په هر نفس رب ته اسان په هزار وار محبوبه
دَ خپل رب العزة دَ لوئ علم په شمار قسم — کړم به ئے لوګے او سپیلنی ستا په دربار محبوبه
دغه ایمان او عقیده عشق وحیا او ادب — تا ابد غواړم رب ستا په پاک خسار محبوبه
ازل نه تر ابد هر دم دَ رب دَ علم په شمار — جُمله بیان دِ وی تکرار حمد دَ خوار محبوبه
شکر ثنا ادب حیا جرا تعظیم و تکریم — ازل نه تر ابد دِ وی په دِ مقدار محبوبه
هزار هزار فردوسه هر خم دَ زلفانو کښے ستا — رب مِ نصیب کړه دا ایمان باور اقرار محبوبه
او سه ثنا صلاة سلام دَ رب دَ علم پشمار — لمحه لمحه ان تر ابده خپل مختار محبوبه
دَ رب دَ علم په شمار سوال دَ وسیلے کړم تا له — لمحه لمحه کښې دَ ازل نه په بار بار محبوبه

لله ثنا شه په وجهُ الکریم دَ رب العزة

خوار محمد امین ته پاک نور الانوار محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

نصیب مو کړے ربه وصلت دَ محمد مصطفیٰ — دَ مبارک مخ په زینت دَ محمد مصطفیٰ
ازل نه تر ابد بیا بیا ستا دَ لوئ علم پشمار — غواړو لتا دیر محبت دَ محمد مصطفیٰ
ستا دَ کرم دریاب دیر لوئ دے هر ګز نه کمیږی — کړے مو قربان تر شریعت دَ محمد مصطفیٰ
ستا دَ رضا او دَ لقا سوال مو لتا ربنا — دے په تعظیم او شرافت دَ محمد مصطفیٰ
رَبُّ العزة ته خپله غواړو ستا په وجهُ الکریم — په دوارو کونو شفاعت دَ محمد مصطفیٰ
دا مدینه منوره ده په رضا شے ربه — فیض مو نصیب کړے د زیارت دَ محمد مصطفیٰ
ته مو نصیب کړے به عقبیٰ لکه په دِ دُنیا دِ — دلته راکړے دے جنت دَ محمد مصطفیٰ
صلاة سلام دِ ستا دَ علم په لوئ شمار و مدام — په دِ روښانه پاک زیارت دَ محمد مصطفیٰ
تا په قرآن کښې په طٰه او په یٰسٓ ستا ئلے — زار شه عالم هزار کرت دَ محمد مصطفیٰ
رب العزة کړے نصیب دَ محمد امین خوار — په دوارو کونو مداحت دَ محمد مصطفیٰ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

رب العزته په رُخسار دَ دے محبوب محمد — کړے مو نصیب ښکلے دیدار دَ دے محبوب محمد
چه پر روښانه دی دا دواړه جهانو نه مولا — ته مو نصیب کړے دا رخسار دَ دے محبوب محمد
جمله انوار دِ دَ دے فرش نه ان تر عرشه پورے — دَ نے هسے مخ نور الانوار دَ دے محبوب محمد
لوی هزار هزار فردوسه په هر خم کښې والله — دَ یا کو زلفو هر یو تار دَ دے محبوب محمد
اَته جنته دَ رضوان یوه غنچه کښې لری — مبارک هسے دے ګلزار دَ دے محبوب محمد
دَ دواړو کونو عزتونه به تر زار کړم والله — ګوان یما هسے دے پا تر زار دَ دے محبوب محمد
چه دِ په دِ دُنیا جنت راکړو کریم خاونده — راکړے په هغه دارجوار دَ دے محبوب محمد
ستا دَ رضا او لقا سوال ستا دَ لوئ علم پشمار — بیا بیا کوم په دَ دربار دَ دے محبوب محمد
رضا شے مونږ نه که هر څو ګنهګار یو ربه — په دیر زیبا ښکلے کردار دَ دے محبوب محمد
ستا حمد و شکر تا ته سپارو ستا دَ علم پشمار — په دیر عزت حرمت وقار دَ دے محبوب محمد

جمله دوستان دَ محمد امین واصل کړے الله

په شرافت دَ پاک مزار دَ دے محبوب محمد

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ رب قرآن کښې په طٰه او یٰسٓ یاد یکے ته — اشرف الانبیا محبوب دیر بهترین یاد یکے ته
دَ مدینے منورے اشرف واکرم وارحم — نور الهدیٰ محبوب دَ رب العالمین یاد یکے ته
دواړه جهانه شورو خا به تجلو ستا دَ رُخسا — په دواړو کونو لا ثانی محبوب حسین یاد یکے ته
دَ مرسلانو دَ سرتاج فخر عالم صدر العلیٰ — په مرسلانو کښې سُلطان مرسلین یاد یکے ته
چه په نفسی نفسی ګویا شو نبیان جمله په محشر — په دا ورځ باندِ شفیع المذنبین یاد یکے ته
دَ جملګی عالم رونړدار صدر العلیٰ نبی مختار — دیر ګران په رب العلمین حق الیقین یاد یکے ته
چه په هر خم کښې شته هزار هزار فردوسه قسم — محبوب هسے شان زلفانِ عنبرین یاد یکے ته
په صد هزار هزار کرت په صد هزار هزار عزت — شبِ اسریٰ پورے ته تر لوړ عرشِ برین یاد یکے ته
جنت کښې تا پورے نزدے کوم سوال ستا دَ دیدن — کریم په دواړو کونو کښې سردار دَ دین یاد یکے ته

لله ثناشه خپل محبوبه در قربان کړمه عالم،

دَ محمد امین عاجز فقیر مسکین یاد یکے ته



بسم اللہ الرحمن الرحیم

صد هزار عالمه به قربان ستا په دربار کړمه
دا اقرار زهٔ خوار دَ رب دَ لوئ علم په شمار کړمه

دغه م اقرار دغه ایمان رب م دِ کړي نصیب
خپل رب العزة که زهٔ به دِ توفیق مختار کړمه

که دَ کائنات جمله ذرے حُما ری وحوته شي
ستا دَ پاک پائزاي ګرد وغبار نه به ئے نثار کړمه

دَ جمله عالم دَ دوارو کونو جمله نعمت
ستا دَ دربار خاورو نه به خپل محبوبه زار کړمه

ستا وصال هم ستا به مخ له خپله ربه غوارمه
خپل رب نه اُمید ستا دَ دیدن ستا په رخسار کړمه

زاي دِ له حیانه صد هزار هزار عالمه شه
ستا دیرے حیا او ادب زهٔ خوار حیا دار کړمه

هر خم دَ زلفانو کښے هزار هزار فردوسه ستا
خپل رب العزت ګویا زهٔ خوار په دے اقرار کړمه

ګرانه پما دو مره مدینه منوره و اللہ،
زار به ترے ګلونه دَ رضوان دَ باغ زر وار کړمه

زهٔ خوار **محمد امین** هم ستا به مخ محبوبه تل
سوال ستا دَ وصال رب العزة ته په بار بار کړمه

بسم اللہ الرحمن الرحیم

دَ محبوب په مخ سبحانه جماعتِ ناجیه　　ښکلے غوارمه لتانه جماعتِ ناجیه
سرفرازه او ممتازه په دُنیا او آخرت　　ربه کړے له خپل احسانه جماعتِ ناجیه
مدینه منوره کښے مدینه مطهره کښے　　په دُعا لوے روښانه جماعتِ ناجیه
په جنت کښے ناست یم ربه او لتا په خواست یم　　قربانی کړے له قرانه جماعتِ ناجیه
دَ محبوب په شرافت دَ محبوب په دے قُربت　　دَ محبوب نه کړے قربانه جماعتِ ناجیه
یا اللہ په شرافت دَ دے پاک محبوب حضرت　　کړے عالی لدهره شانه جماعتِ ناجیه

چه لتا سره بنائیګي ستا رضا په حاصلیګي　　په هغے لوے روانه جماعتِ ناجیه
کړے محبوب دَ دوستانو دَ جمله مسلمانانو　　ته له صدق وله ایمانه جماعتِ ناجیه
دَ ایمان سره یاربه دَ احسان سره یاربه　　کړے رُخصت له دِ جهانه جماعتِ ناجیه
په دنیا دَ شریعت تل دِ وي ستا په رحمت　　کامیابي دَ هر میدانه جماعتِ ناجیه

محمد امین ذلیل، ستا په پاک وجه الجمیل
ښکلے غواري له بنه شانه جماعتِ ناجیه

بسم اللہ الرحمن الرحیم

په مدینه منوره کښے او سیدل مزه کوي　　لاړو کوسو دَ خپل محبوب کښے ګرزیدل مزه کوي
رب العزت ته په عزت او شرافت دَ دے محبوب　　مونږ خوارانو څخه ستا رضا کیدل مزه کوي
ستا دَ رضا او دَ لقا سوال ستا دَ لوئے علم پشمار　　په وسیلے دَ دے محبوب تکراریدل مزه کوي
په وسیلے او شرافت دَ دے محبوب پاک محمد　　کل مرادونه په دِ در حاصلیدل مزه کوي
واللہ قربان کړم ترِ هزار هزار فردوسه ستا　　دومره حضور دَ خپل محبوب کښے جړیدل مزه کوي
زار شم هزار وار ترِ دواړو جهانو خوشحالئے　　دلته کښے دومره دَ غمجن زړه خوږیدل مزه کوي
دَ دواړو کونو تر جمله وو نعمتونو په قسم　　تر محمد رسول اللہ قربانیدل مزه کوي
دَ عرش تر لوړو منارو دَ عاشقانو په مذهب　　دلته محبوب ته کوزے ستړګے او دریدل مزه کوي

دَ **محمد امین** نصیب شه دا جنت او دا قُربت
خومره دلے ښکلي نعتونه جوړیدل مزه کوي

بسم اللہ الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده زار سبحان اللہ　　ستا دَ پیر لوئے علم په لوئے مقدار سبحان اللہ
دا مدینه منوره ده دَ محبوب محترم　　پکښے او سیږي ما پشان خوار سبحان اللہ
پدے کوسو کښے محبوب ښکلي قدمونه ایښي　　دا کوسے څومره لري لوئے وقار سبحان اللہ
چه محمد رسول اللہ دے جلوه ګر دلته کښے　　څومره لري دا مدینه انوار سبحان اللہ
زهٔ دَ محبوب دَ دے حرم محترم څهٔ او وایم　　ویلے هیڅ نشم دَ دے ګلزار سبحان اللہ
ده هم په دے دُنیا پکښے دَ جنت ښکلے روضه　　دي فرمایلي دِ محبوب مختار سبحان اللہ
رب العزت ته ستا رضا او لقا غوارو مونږ　　دلته دَ دے محبوب په پاک رخسار سبحان اللہ
لمحه لمحه کښے بیا بیا ان ترا ابد الابده　　په عاجزئے حیا او انکسار سبحان اللہ

تہ هم پخپل وجه الکریم خو ونږ جُمله سوالونه قبول منظور کړے په دے پاک دربار سبحان الله
مُجیب خاوندہ ستا وعدہ دہ قبلومے سوالونه زارستا وفانه کرم عالم بار بار سبحان الله

جنت کښے ناست دے **محمد امین** پیوست پنجرے ته
جوړوی ښکلی عجیبه اشعار سبحان الله

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

دَ ذاتِ مقدّس په عظمت رضا شے دَ بے حده رحمت په سبقت رضا شے
خپل رب العزته ډیر خپله خاونده پخپل مرحمت او په شفقت رضا شے
له مونږه خوارانو له مونږ عاجزانو په بے حده ډیر لوئے خپل عزت رضا شے
دَعلم په شمار ستا کوم درته سوال پخپل ډیر بے حده عنایت رضا شے
ستا شکر و ثنا ستا دَعلم په شمار سپارو تا ته ډیر په محبت رضا شے
دَ جُمله نبیانو سردار او مختار دَ محبوب حبیب په شفاعت رضا شے
عُلوی او سِفلی کښے نے چه دور دَ عزت دے دَ دے پاک محبوب په شرافت رضا شے
چه دوارہ جهان دِ کړه پرے روښانه دَ محبوب محمدؐ په زینت رضا شے
لَهُمْ مَا یَشَاءُوْنَ احسان ستا جنت کښے په سوال نن دَ دے ښکلی جنت رضا شے
چه عرش نه ئے رُتبه ده بالا او بلنده دَ محبوب په دے پاک زیارت رضا شے

محمد امین خوار جنت کښے لیکل کړی
دَ محبوب په دے پاک مداحت رضا شے

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

هزار هزار علامه ستا په پاک دربار محبوبه دَ رب دَ لوئے علم پشمار کرم زار نثار محبوبه
زل نن تر ابده لمحه لمحه طرفه کښے دارم ایمان دارم باور دارم اقرار محبوبه
ستا د بونه او حیا جرا عشق و محبت خپل رب ته سپارم ستا په مخ نور الانوار محبوبه
هزار هزار فردوسه هر خم دَ زلفانو کښے ستا منم خُدا دغه ایمان باور یار بار محبوبه
که مِ ذرّه دَ کائنات روحو کړی خپل خاوند په هر نفس زار دِ ستا تر پاک پا نوار محبوبه
دا عقیدہ ایمان اقرار مِ نصیب کړی مولا ان تر ابدا ستا په ډیر ښکلی رخسار محبوبه
ستا په جنت کښے ناست نن دَ دے ستا په خپلو ډیرم رب ته بیا بیا سپارم شکر و نن زۀ لاچار محبوبه
رب دِ نصیب کړه وسیله پخپل جمال و کمال دغه مِ سوال نن دَ رب دَ علم په مقدار محبوبه

جمله دوستان دَ دے عاجز رب العزة کړے واصل ستا په دا ښکلی نورانی مخ او مختار محبوبه
ته خوئے اَوْرے دی قربان دَ رب دَ علم په شمار
دَ **محمد امین** دا ډیر ښکلی اشعار محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

مضطر او ناقرار احقر بنده خوار و ذلیل یم سائل په در دَ خپل رب العزة خاوند جلیل یم
ستا دَ لوئے علم پشمار خپل غنی کریم خاونده قائل مُقر په خپل ذلت نقصان په حق دلیل یم
ستا دَ احسان سائل محتاج ازل نه تر ابده په وسیلے دَ محمدؐ محبوب وجهُ الجمیل یم
دَ کوزو سترګو نظر غوارمه چه اُور سیزی تحت الثرٰی پورے له شرمه هسے ډیر خجیل یم
په شمار دَ علم ستا خاونده تر ابده پورے بیا بیا ګویا په حَسْبُنَا اللّٰهُ نِعْمَ الْوَکِیْل یم
بے تام نشته پناه بله هم پتام قسم پناه هم تا پورے له نفس او له شیطان رذیل یم
اِصْنَعْ بِنَا مَا اَنْتَ اَهْلُهٗ کریم خاونده ورنه لائق دا اُور دَ سُولو بلا قال و قیل یم
ستا دَ رضا او دَ لقا سوال ستا دَ علم په شمار کومه ناست خوا کښے دَ خپل طرف الکحیل یم
چه دِ په دے دُنیا جنت کښے کینه وُلے یمه عقبیٰ کښے هم ابد سیرابه له دِ سلسبیل یم
ستا په وجهُ الکریم سائل هم ستا دَ علم پشمار دَ محمدؐ محبوب دَ فیض له نورانی قندیل یم

زۀ **محمد امین** مضطر احقر عاجز ناتوان
غوارم شِفا رب العزته ډیر بے حد علیل یم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

په ادب نیاز حیا اَلشُّکْرُ لِلّٰه تر ابده په بیا بیا الشکر لله
په لوئے شمار دَ خپل خاوند غنی سبحان په ډیر ذوق و شوق جرا الشکر لله
چه رضا لِقا دَ رب پرے حاصلیږی په هغے ښکلے ادا الشکر لله
چه دَ خپل رب العزة شان سره ښائی په هغے شانِ اعلیٰ الشکر لله
دَ زړو دَ کائنات په ژبو زړونو په صد شوق چه وی ګویا الشکر لله
په روضه کښے دَ جنت خاوند کریمه په لوئے در ستا دَ عطا الشکر لله
متصل پنجرے سره دَ محبوب ناست یم کوزے سترګے وار خطا الشکر لله
چه ئے دواړه کونه شو دننه له نوره دَ هغے مخ په رڼا الشکر لله
چه رضا لِقا دَ رب پرے حاصلیږی په هغے خوږے صدا الشکر لله

دَ ذرو دَ کائنات په زرونو ژبو مکرر په صد حیا الشکر للہ
شفاعت چه دَ محبوب راله واجب شو په زیارت دَ دلربا الشکر للہ
دا زیارت زیارت په مثل دَ ژوندون دے په دے ډیر احسان اعلیٰ الشکر للہ
جوړوم بنکلی نعتونه په جنت کښے دَ محبوب پاک مصطفیٰ الشکر للہ
دا هم ته ئے خپله ربه ستا احسان دے اٰمَنّا وَصَدَّقْنَا الشکر للہ

شه مقبوله دَ **محمد امین** ډیر خوار
ایمانی خوږه وینا الشکر للہ

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

دا مدینه منوره ده په بار بار شکرونه لمحه لمحه دَ رب دَ لوئے علم بے شمار شکرونه
خپله رب العزت خوږه ډیر لوئے زیارت کړیم ئے تاله بیا بیا ستا دَ عظمت په لوئے مقدار شکرونه
په مات کچکول کښے مالہ تا خوږه خیرونه راکړه چه به ئے جمله عالم ادا نکړی یو وار شکرونه
چه لاثانی محبوب پرے ایخی قدمونه بنکلی زه په هغو لاروکو سو کښے کړم رفتار شکرونه
ننځه مونځونه کوم ربه دَ جنت باغچه کښے ځنک به ادا شی دَ دے لوئے احسان بسیار شکرونه
رب العزته په عزت عظمت رحمت دَ خپل ذات مونږ له هم ته ادا کړے بنکلی مزیدار شکرونه
لمحه لمحه کښے تر ابده ستا دَ علم بے شمار تاته سپارم بیا بیا په عجز انکسار شکرونه
دا دَ محبوب په خوا کښے ناست یم متصل پنجرے ته دلته نزدے دے دَ محبوب دا پاک مزار شکرونه
په شرافت ستا دَ رضا او دَ لقا دَ وصلت تاته سپارم دَ دے محبوب نور الانوار شکرونه

دَ **محمد امین** عاجز فقیر حقیر او ذلیل
دَ رب دَ علم بے شمار بیا بیا په تکرار شکرونه

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ چه پکښے ناست یم زه خوار وګدا سبحان اللہ
خوږه احسان لرے عالم ترینه قربان او سه تل خوږه فیضان لرے عالم ترینه قربان او سه تل
په ما عاجز ذلیل او بینوا سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
ستا دَ لوئے علم په مقدار تاته شکرونه سپارم ستا دَ لوئے علم په تکرار تاته حمدونه سپارم
ازل نه هر ساعت تر ابدا سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
یم دَ محبوب خپل محترم پنجرے سره متصل زار شمه ستا تر دے کرم پنجرے سره متصل

هره لمحه بے شماره دَ علم ستا سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
تشریف لری دلته نزدے خپل محترم محبوب مم اشرف الانبیا مختار دَ کل عالم محبوب مم
تاته سپارم ادب حیا جرا سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
چه دِ په دے دُنیا جنت کښے کینه ولے یمه هم دِ دَ خپل محبوب قربت کښے کینه ولے یمه
ستا دا احسان څه عجب شان دَے دا سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
ستا دَ لوئے علم په مقدار صلاة سلام په محبوب ډیر په ادب حیا وقار صلاة سلام په محبوب
وی تر ابده دِ بیا بیا لما سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ
له بینوا حقیر فقیر خوار محمد امینه رضا شے ډیر خپله خاونده رب العالمینه
په وسیلے دَ دے نور الهدیٰ سبحان اللہ دا دَ جنت روضه ده خپل مولا سبحان اللہ

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

روضے منورے کښے پخقه دَ جنت رضا او لقا غواړو دَ خپل رب العزت
ازل نه تر ابده لمحه لمحه کښے بیا بیا په شمار دَ رب دَ علم هزار هزار کرت
خاوند رب العزت قبول مو کړے سوالونه دَ دے بنکلی محبوب په حُسن او زینت
چه تا سره خائیږی هم تا نه صادریږی په هغو احسانونو او فیض او مرحمت
مجیب السائلینه محروم مو نږه مکړے دَ ذاتِ مقدس خپل په بے حده عظمت
ستا شکر او حمدونه چه کړے دا احسانونه سپاروهم تا ته بیا بیا په عجز او ذلت
نه هغه ئے چه ته ئے زه هغه یم چه زه یم نور هیڅ نشم ویلے ډیر زیات یم ملامت
په وجهُ الکریم ستا تر رضا او لقا غوارم هم تا نه تر ابده خاونده دَ رحمت
دَ علم په لوئے شمار ستا صلاة وسلام تل په ډیر ادب تعظیم په شوق او محبت
په دے بنکلی محبوب ازل نه تر ابده وی لمحه لمحه کښے بیا بیا په ذوق او په لذت

په شمار دَ رب دَ علم بیا بیا دِ مبارک شه
محمد امین خواره دَ رب دا عنایت

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

رَبَّنَا مولا په مدینه منوره کښے یم زار له احسان ستا په مدینه منوره کښے یم
ستا دَ لوئے بے حد علم بے شمار تا له شکرونه دی ستا دَ لوئے بے حد علم بے شمار تا له حمدونه دی
تر ابده بیا بیا په مدینه منوره کښے یم ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم

چرته زهٔ خوار او چرته دا دَ پاک محبوب روضه — چرته زهٔ لاچار او چرته دا دَ پاک محبوبؐ روضه
زهٔ عاجز گدا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم
دوارہ جهانونه چه روخان دی په رحمت دَ چا — مثلِ جبرائیل چه په ولاړ وُو په دربار دَ چا
دَ هغه آقا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم
اشرف و اکرم چه دَ جمله وُ مرسلانو دے — چه نور البصر دَ جملګیٔ وُ دلبرانو دے
دَ هغه زیبا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم
خپل رب العزت ترم کړے نصیب دا خپل احسان — په ډیر نورانی مبارک پاک مخ دَ دے خپل جانان
زهٔ خوار په دُعا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم
ستا رضا لقا ستا په وجه الکریم لتا غواړم — ستا رضا لقا ستا په شانِ عظیم لتا غواړم
زهٔ ستا په عطا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم
زهٔ خوار ملامته محمدؐ امین احقر ذلیل — ستا شکر وُ سپارم تا ته ستا په پاک وجه الجمیل
زهٔ خوار وار خطا په مدینه منوره کښے یم — ربنا مولا په مدینه منوره کښے یم

بسم الله الرحمٰن الرحیم ۝

نصیب مے رب لره کلونه له احسانه څخه — دَ مدینے منورے دَ ګلستانه څخه
دَ مدینے منورے کوسو کښے ګرزمه چه — خوشحاله ډیر یمه باغونو دَ رضوانه څخه
پدے کوسو کښے قدمونه دلربا ایښی دی — ولے به پورته پیمانهٔ وی له اسمانه څخه
الله په مخ دَ محبوب غواړمه وصال کښے پناه — دَ دے محبوب له هغے ورځے له هجرانه څخه
رب العزت ستا شکر ونه تا ته سپارمه تل — په شمار دَ علم ستا له صدق وله ایمانه څخه
چرته زهٔ خوار عاجز او چرته مدینه طیبه — هزار هزار عالمه زار ستا له فیضانه څخه
کهٔ رمز ذرے دَ کائنات په هر نفس روحونه — کہے هم پتا قسم کرم زار به ئے له جانانه څخه
چه صد هزار فردوسے مرضه دَ لفاظ کښے وی — مونږ بیلوو یا رب کړے له دِ بشکلی مخ رخانه څخه
صلاة سلام لحظه لحظه کښے ستا دَ علم پشمار — پدے محبوب تا ته سپارمه له خزانه څخه
رب العزت کړے نصیب رم وسیله دَ محبوب — ستا وعدے حقے دَ دلیل لرم قرانه څخه

خوار محمدؐ امین کړی سوال اَدب دَ علم پشماد
ادب حیا دَ محبوب غواړی خپل سبحانه څخه



بسم الله الرحمٰن الرحیم ۝

آخیر دغه ورځ به هم راشی یو وار — چه ژوندے به زم دَ وصل له ګلزار
دغه ژوند نه به هزار وارے مرګ بهتر وی — چه ژوندے یم قد مونږ دم په لار
په وصال کښے دَ هجران غمونه جار م — رب دِ خیر کړی چه به څهٔ راپیښ شی کار
بس دروغ رښتیا به ډیر ښکاره معلوم شی — صادقان به ژوندون چرته زی له یار
ډیر خجل به یم او عُذر به بهانه وی — که راپیښ شو دا مشکل په ما ډیر خو
دا مشکل به بس سپارمه خپل مولا ته — زهٔ رضا یم څه چه کړهٔ هغه اختیار
تسلّه چه دَ زخمی زړګی کوُم به — بس ګویا به په ترجیع ئے بار بار
پیا ګران دوستان دِ ډیره دُعا اوکړی — هجران ډیر زیات کړندے رازی په لار
دَ وصال شپے ډیرے تیرے شولے ری به — لرے پاتے دی هم ته شے مددګار
ته چه کړے هغه به اوشی خپله ری به — مونږ سپارلے تا ته جملګی دوزګار
که سیاهی قلم کښے نه وے نن به اوښو — و لیکلی دا خوابزه دَ غم اشعار

په جنت کښے دَ محبوب به خوا کښے ناست دے
محمدؐ امین حقیر غریب لاچار

بسم الله الرحمٰن الرحیم ۝

دَ خپل محبوب په خوا کښے ناست یم — نن په وصال کښے دَ هجران مصرعے لیکمه
آخیر به دا سے ورځ هم راشی — چه دَ جانان خوانه به څم مړ به نهٔ یمه
مرګ بهتر دَ دغه ژوند ډیر بهتر وی — چه دَ محبوب له خوانه څم ګډم قدمونه
وصال کښے غم دَ هجران جاری م — مولا دِ خیر کړی چه به څهٔ راپیښېږی شینه
رښتیا دروغ به څهٔ معلوم شی — صادقان چرته روغ ژوندی محبوب نه ځینه
کهٔ دا مشکل را ته راپیښ شو — بهانه به عُذر روی خجل به رښتیا یمه
دا مشکل سپارمه خپل رب ته — څهٔ چه کوی اختیار لری رضا یه یمه
ترجیع به ډیر ډیر محلس وایمه — بس په دغے به تسلّه دَ زړهٔ کومه
رب چه کوی هغه به اوشی — سپارلی رب ته خپل جمله مشکل کارونه

له إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ۝

کہ م سیاهی قلم کښې نه وې   نه نو اوښو به لیکلی وُو دا خطونه
دوستان د ډیره دعا اوکړی   وصال تیر به ی هجران نه اخلی لاسونه

بسم الله الرحمن الرحیم ○

ستا د لوئی علم پشمار تا ته به بیا بیا شکرونه   بسیار مه خپل خاوند کریما ابدا شکرونه
تا له چه بنائی هم په هغه شان ادب او حیا   وی د خاوند ته تا له بیا بیا په جړا شکرونه
تا چه لما خوار سړه اوکړه احسانونه ربه   جُمله عالم به د هغې نکړی ادا شکرونه
په وسیلې د محمد رسول الله محبوب   په شمار د علم ستا سپاری تا ته گدا شکرونه
ته په عزت او شرافت د خپل ذاتِ مقدس   مونږ له ادا کړے چه لتا بنائی مولا شکرونه
د یو لمحے جوندون د پاکے مدینے طیبے   حق لری ډیر زیات تا ته سپارو ربنا شکرونه
چه د په دنیا کښې راکړلو جنت خاونده   ادا به ئے نکړی کل عالم د دے دنیا شکرونه
غواړو رضا او لقا ستا په وجه الکریم   بیا هم پتا سپارو مولا د دے دعا شکرونه
جُمله هم ته ئے دا لیکلی ویل غو ختل جمله ستا   مونږ له ادا کړے هم په خپله خپل اعلیٰ شکرونه

خوار محمد امین سپاری تا ته ډیر خپل خاونده
په وسیلے د پاک محمد مصطفیٰ شکرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

عجب شان و عجب شوکت د مدینے منورے   عجب رونق عجب زینت د مدینے منورے
د جملګی جهان تاجونه او تختونه کړم قربانه   د خوږ جوندون دیو ساعت د مدینے منورے
د مدینے منورے د پاک محبوب په مخ روخان   شه مونصیب دا محبت د مدینے منورے
رضوانه رورو ګده قدم په د کوسو کښې د محبوب   چه د رنه فوت نشی حرمت د مدینے منورے
جُمله احسان فضل و کرم دے د خاوند رب العزة   ما خوار کښې چرته لیاقت د مدینے منورے
ارمان په ستر بر و ګرزیدے په د کوسو کښې د محبوب   په زړه م دومره منزلت د مدینے منورے
د رب د لوئے علم پشمار وی د از له ترابد   صلاة سلام په پاک حضور د مدینے منورے
رب العزة په عقبیٰ مو هم نصیب کړے خپل احسان   دلته د راکړلو جنت د مدینے منورے
ستا د رضا او لقا سوال په شمار د لوئے علم م ستا   کرم د محبوب په شفاعت د مدینے منورے

رب العزة ته ئے نصیب کړے مدینه منوره
چه وی طالب په صداقت د مدینے منورے

رب العزة کړے نصیب د محمد امین ناتوان
په شوق و ذوق تل مداحت د مدینے منورے

بسم الله الرحمن الرحیم ○

ربنا روښانه کړے تل د اجماعت ناجیه   ډیره عالیشانه کړے تل د اجماعت ناجیه
ربنا مولا ته پخاطر د دے محبوب حبیب   ډیره فیض رسانه کړے تل د اجماعت ناجیه
ته په پاک روښانه مخ د دے محمد مصطفیٰ   پوره تر یا سبحانه کړے تل د اجماعت ناجیه
ستا رضا او ستا لقا ئے کړے نصیب یاربنا   زار له خپل قرانه کړے تل د اجماعت ناجیه
وړاندِ هر میدان کښې د سیالئ په ننګ د دین ربه   صدق و له ایمانه کړے تل د اجماعت ناجیه
متصل پنجرے سره جنت کښې د ته سوال کوم   زار له دے جانانه کړے تل د اجماعت ناجیه
جملګی جوندون ئے مبارک په شریعت لرے   خلاصه له هر زیانه کړے تل د اجماعت ناجیه
خدایه په عزت قوت طاقت د دے محبوب حما   ډیره پهلوانه کړے تل د اجماعت ناجیه
جملګی عالم کښې په عزت او شرافت د دین   هر ځائے کښې عیانه کړے تل د اجماعت ناجیه

سوال کړی محمد امین الله په شمار د علم ستا
بښکلے له احسانه کړے تل د اجماعت ناجیه

بسم الله الرحمن الرحیم ○

عجب شان عجب شوکت دے مدینے منورے کښے   ډیره د رب لوئے عنایت دے مدینے منورے کښے
د کوسو خاورو نه ئے زار کړم د رضوان د باغ ګلونه   عجیبه زیب و زینت دے مدینے منورے کښے
چه د دوارو جهانونو محترم پکښې اوسیږی   دغه خوږه شرافت دے مدینے منورے کښے
چه د عرش نه پوره ته تلے د الله د راز د پاره   د دے پاک محبوب تربت دے مدینے منورے کښے
جبرائیل غوندے نامدار دے کوسو کښې ګرزیدلے   چه مرکز د نبوت دے مدینے منورے کښے
رب د راوله عاشقه د محبوب د عشق لایقه   هم په دے دنیا جنت دے مدینے منورے کښے
د جمله وو مرسلانو مقتدا اشرف و اکرم   ډیر اعلیٰ محبوب حضور دے مدینے منورے کښے

په لوئے شمار د رب د علم رب ته سپاری تل شکرونه
د ګدا چه سکونت دے مدینے منورے کښے
محمد امین ناتوان د ډیر خپل رب په احسان
شروع کړے مداحت دے مدینے منورے کښے

بسم الله الرحمن الرحيم

دَذات مقدس په عظمت رضا شے   دَ بے حده رحمت په سبقت رضا شے
خپل رب العزة ډیر خپله خاونده   په خپل مرحمت او په شفقت رضا شے
له مونږه خوارانو له مونږ عاجزانو   په بے حده ډیر لوئے خپل عزت رضا شے
دَعلم په شمار ستا کوم درنه سوال   په خپل ډیر بے حده عنایت رضا شے
ستا شکرو ثنا ستا دَعلم په شمار   سپارو تا ته ډیر په محبّت رضا شے
دَجمله نبیانو سردار او مختار   دَمحبوب شفیع په محبت رضا شے
علوی او سفلی کښے چه دور دَ عزت دے   دَ دے پاک محبوب په شفاعت رضا شے
چه دواړه جهانه دِ کړه پرے روخانه   دَمحبوب محمّدؐ په زینت رضا شے
لَهُمْ مَا يَشَاءُوْنَ احسان ستا جنت کښے   په سوال نن دَ دے بنکلی جنت رضا شے

محمّد امین دَمحبوب خپل محمد صلی الله علیه وسلم
په احسان کوی ستا مداحت رضا شے

بسم الله الرحمن الرحيم

دَ الله رضا دَ پاره جماعتِ ناجیه ده   ځکه دومره مزیداره جماعتِ ناجیه دهٔ
دَ الله رضا دَ پاره دَ الله لقا دَ پاره   هزاروارهٔ هزاروارهٔ جماعتِ ناجیه ده
دَحضرتؐ په احترام په اُصولو دَ اسلام   دَحضرت په پاکه لاره جماعتِ ناجیه ده
دَمحبوب په شریعت دَمحبوب په طریقت   دَمحبوب لره دِ گلزاره جماعتِ ناجیه ده
په روضه کښے دَجنت دَمحبوبؐ په پاک تربت   خیر غوښتونکے په بار باره جماعتِ ناجیه ده
په خاطر دَ دَحضرتؐ الله ورکړے لوئے عزت   که هر څو عاجزه خواره جماعتِ ناجیه ده
کړے سرله تی بیلیږی خو په دین به قربانیږی   تر المصدق له اقراره جماعت ناجیه ده
په خلاف دَ شریعت تر وطن او قومیت   په هزار ځله بیزاره جماعتِ ناجیه ده
دَ سنت او شریعت په خاطر او په عزت   ډیره ښکلے ایما نداره جماعتِ ناجیه ده

محمّد امین خوار جاړی بس رضا دَ الله غواړی
دے مقصد له خاص تیاره جماعت ناجیه ده

بسم الله الرحمن الرحيم

عجب شان دے مدینه منوره کښے   خوږ جانان دے مدینه منوره کښے

دَرب العزة لوئے فضل او احسان   په قرآن دے مدینه منوره کښے
محترم دَ مرسلانو او صاحب   دَ قرآن دے مدینه منوره کښے
دَعشاقو دَ زخمی او خوګو زړونو   بس درمان دے مدینه منوره کښے
چه دَرب العزة شان سره ښائیګی   ډیر احسان دے مدینه منوره کښے
دواړه کونه ئے چه روښانه دَ له حُسنه   دَ نُور کان دے مدینه منوره کښے
صد هزار هزاری عالمه تر قربان کرم   فیض رسان دے مدینه منوره کښے
دَمحشر په ورځ شفیع المذنبین   مهربان دے مدینه منوره کښے
په قسم تر صد هزاری هزار عالمه   پما ګران دے مدینه منوره کښے

محمّد امین حقیر فقیر لاچاری
نعت خوان دے مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمن الرحيم

ستا دَ علم په لوئے شمار ستا رضا او لقا غواړو
دَ محبوب په پاک رخسار ستا رضا او لقا غواړو
دَ ازل نه تر ابده، خپله اَللّٰهُ الصَّمَدْ ده
په لمحه لمحه بار بار ستا رضا او لقا غواړو
مدینه منوره کښے، مدینه مطهره کښے
په خاطر دَ دے مختار ستا رضا او لقا غواړو
دَ محبوب په پاک حرم کښے، په حرم ډیر محترم کښے
په آبرو دَ دے سردار ستا رضا او لقا غواړو
الله سوال کوم جنّت کښے، دَمحبوب په پاک قربت کښے
دَ محبوب په مخ رونړد ار ستا رضا او لقا غواړو
ستا دَ ذات په لوئے عزت، ستا دَ ذات په لوئے عظمت
ستا دَ علم په تکرار ستا رضا او لقا غواړو
ستا دَ ذات په لوئے جلال، ستا دَ ذات په پاک جمال
ستا دَ ذات په لوئے وقار ستا رضا او لقا غواړو
ستا حمد و نه او شکرونه، چه بیا بیا تا ته سپارونه

ستا په دے احسان بسیار ستا رضا او لقا غوارو
دا هم ته ئے خپله ربه، زارشو ستا تر کل اد به
چه دِ کهلو طلبګاری ستا رضا او لقا غوارو
ستا په جُمله صفتونو، ستا په جُمله خونومونو
عاجزان خواران لاچار ستا رضا او لقا غوارو
دَ محمدّ امین خوار، جملګی دوستان بار بار
په پاک مخ دَ خپل دلدار، ستا رضا او لقا غوارو

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا
ازل نه ترابد هر ان ستا په قضا م رضا

ترجه کوے حق هم هغه دے هم هغه م مطلوب   جُمله کارونه مبارک ستا په نسبت دی منسوب
جمله بنده ستا دی ستا احسان ستا په قضا م رضا   ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا
ازل نه ترابده خیر جُمله هم تا سره دے   ترچه کوے قسم پتا کار هم هغه غوره دے
دام اقرار باور ایمان ستا په قضا م رضا   ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا
تالہ ثنا تالہ شکرونه ستا دَ علم پشمار   لمحه لمحه ستا احسانونه ستا دَ علم پشمار
لا عاجز فقیر ناتوان ستا په قضا م رضا   ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا
چرته روضه دَ جنت چرته زه عاجز او لاچار   چرته زیارت دَ محبوب چرته زه عاجز ګنهګار
غوره احسان ستا بے پایان ستا په قضا م رضا   ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا
رضا لقا ستا لتا غوارو ستا دَ علم پشمار   دا دَ محمدّ امین سوال دے ترابده بار بار
دَ دے محبوب په مخ روښان ستا په قضا م رضا   ستا دَ لوئے علم په میزان ستا په قضا م رضا

بسم الله الرحمن الرحیم

دَ الله فضل و احسان دے مدینه منوره کښے   چه محبوب دَ پاک سبحان دے مدینه منوره کښے
مدینه منوره ده ځائے دَ جمله مرادونو   دَ رب فضل بے پایان دے مدینه منوره کښے
دَ جُمله عالم روحونه تر قربان کړم هزار واره   دَ جمله عالم سلطان دے مدینه منوره کښے
دَ رضوان جمله باغونه چه لری هرے غنچه کښے   هسے ښکلے ګلستان دے مدینه منوره کښے
چه هر خم کښے ئے دَ زلفانو نښته هزار هزار فرقونه   دغه ډیر ښکلے جانان دے مدینه منوره کښے

رب دِ دا ولیه عاشقه چه زړه له درده جاړے   دَ زخمی زړګی درمان دے مدینه منوره کښے
دَ جمله پیغمبرانو مقتدا ډیر محترم   وسیله ده او سامان دے مدینه منوره کښے
دَ جُمله پیغمبرانو مقتدا ډیر محترم   پاک سردارِ عالیشان دے مدینه منوره کښے
ملامت په خپو کړزیږی تللی په سترګو نه توانیږی   بینوا ګدا حیران دے مدینه منوره کښے

دَ جنت روضه کښے ناست دے محمدّ امین فقیر
عجب ښکلے نعت خوان دے مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمن الرحیم

دروازه کښے دَ محبوب خیر البشر   رضا غوارم دَ خپل الله اکبر
په لمحه لمحه دَ ابد الابد کښے   الله او لرے دا سوال م مکرر
دَ خپل لوئے علم په شمار خپله خاونده   په ابرو هم دَ دے پاک محبوب انور
ان په منځ دَ دروازے کښے متصل   دَ در شل سره یم ناست زه خوار کمتر
شکریه دَ دے به ربه ادا نشی   بے لتا دَ کل عالم په شوق هنر
بس هیڅ پاړلے هم پتا دا شکریه ده   په عزت دَ دے محبوب پاک نامور
ستا رضا او لقا غوارم خپله ربه   کینه وُلے یمه تا په دے پاک در
ماله دِ دره محروم خاونده مکړے   هم ګدا دے محبوب په پاک مخ منور
کل دوستان خپل پیدا دے در کښے درته غوارم   چه سُرخ روی ئے تر ورځے دَ محشر
په محشر کښے مو شفیع کړے دا محبوب   کړے نصیب خوښ دَ ده جام دَ کوثر
الله هر ځائے دا کتاب چه هر څوک لولی   کړے نصیب ئے دَ رضا لقا دفتر
لکه دلته چه ئے لوړی دو مره خیر   الله ورکړے پښا طور دَ دے دلبر
بابا جی صاحب[1] له لوئے درجات ورکړے   اولیاؤ کښے لرے روښانه نمر
خاندان ئے جملګی پرهیزګاران کړے   عزت مند ئے کړے الله دَ بحر و بر
تصاحب[2] دَ کړکوځے رب العزته   درجات کړے ډیر عالی او جلوه ګر
خاندان ئے جملګی کړے معزز   کړے په دواړو جهانونو ئے بهره ور

[1] مجاهد اعظم حضرت حاجی فضل واحد صاحب ترنګزی. متوفی ۱۰ ارشوال ۱۳۵۶ھ مطابق ۱۴ دسمبر ۱۹۳۷ء مزار شریف. غازی آباد. لکړے. مهمند ایجنسی. آزاد قبائل.

[2] حضرت مولانا محمدّ عمر شاه صاحب متوفی ۵ رجمادی الثانی ۱۳۴۹ھ مطابق ۲۷ اکتوبر ۱۹۳۰ء. مزار شریف کړبوځه. علاقه خټک. تحصیل هنګو. ضلع کوهاټ

دَ اُستاد صاحبؒ هم لوئے کړے درجات　　ماذونان دَ صاحبؒ تول دَ شکر هر
دَ اولاد او له دوستانو سره ړ به　　کړے په دواړو جهانونو بختوړ
جماعت ناجیه کړے سرفرازه،　　په خاطر دَ دے محبوب حضرت سرور
المجاهد آباد کړے رب العزته　　لوئے مرکز دَ دین دَ دے پاک پیغمبر
له هر قسمه ئے عزت نصیب کړے ړ به　　دَ محبوب په دے تُربت پاک معطّر
جُملګی اهل او جملګی دوستان ئے　　په شرعی ژوندون لرے تل برابر
الله کل سلیمانخیل خلیل مهمند　　او ساتے دَ دواړو کونو له ضرره
ترنکزی او عُمرزی کړے سرفراز　　اتمانزی سره دَ جمله هشتنکر
کل سرحد کړے معززه رب العزته　　جمله اهل دَ مردان او پیښوړ
یا الله اُمت دَ دے محبوب امان کړے　　په دارینو کښے له هر ضرره او شر
دروازے کښے دَ محبوب دِ خپله ړ به　　په ما او کړه دا سوالونه معتبر
معتبر په اعتبار دَ دے پاک دَرَ دی　　کړے منظورې ئے له دِ خوار ذلیل احقر
په آخر کښے ستا حمد ونه او شکرونه　　تا ته سپارم په ایمان او په باور
ستا دَ لوئے علم پشمار خاوند کریمه　　ترابده مکرر بیا مکرر

محمّد امین- فقیر خوار نه رضا شے
په آبرو دَ دے محبوب نور البصر

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دا روضه ده دَ جنت ———— ———— زه ای الله ستا ترمنت
ستا تر هر منته زار کړم　　دا ستا جُملګی خلقت
په لحه لحه کښے ړ به　　بېستا دَ علم په کثرت
ربه څومره لوئے کریم ئے　　څومره لوئے ستا عنایت

---

[1] دا استاد صاحبؒ نوم پاښندہ محمد صاحبؒ دے. دَ هغه صاحبؒ دَ وفات نه پس دے دَ هغه جانشین او خلیفه وو. متوفی مزار ئے دَ هغه صاحبؒ په خوا کښے قبلے طرف ته دے دَ وفات په موقعه حاجی صاحبؒ مرحوم دَ خلقته موجود وو. او دَ هغه خانے وره ته پخپله خوبئ کړے وه ۱۲ کاتب عفی عنه

[2] دا دیوبندی جماعت نوم دے. حاجی صاحب مرحوم په اپریل سنه ۱۹۴۶ء مطابق سنه ۱۳۶۵ھ کښے دَ صوبه سرحد لوئے لوئے علماء او صلحاء او عوام جمع کړی وو. په حاجی آباد کښے په یوه لویه جلسه کښے دَ دے انعقاد شوے وو ۱۲

[3] المجاهد آباد او حاجی آباد دا دواړه یو نوم دے. او س په حاجی آباد زیارات مشهور دے ۱۲

ما پښان په خوار بنده دِ　　ډیر خجل او ملامت
ستا رضا او لقا غواړم　　دَ محبوب په شرافت
دَ محبوب په وسیلے تل　　دَ محبوب په شفاعت
ستا دَ علم په لوئے شمار تل　　ستا دَ ذات په لوئے عظمت
ستا دَ ذاتِ مقدس پاک　　په عظمت او په عزت
کل سوالونه مو قبول کړے　　په هزار هزار کثرت
دَ محبوب نور الانوار　　په دے ډیر نورانیت
متصل پنجرے سره دِ　　دے دا کړے پاک قربت
مضامین دِ مرکدے قلم کښے　　په خپل فضل او رحمت
ستا شکرونه تا ته سپارم　　په ډیر عجز او ذلت
دَ ازل نه ترابده　　په ادب شوق محبت
په مقدار ستا دَ لوئے عِلم　　هر ساعت بیا هر ساعت
شریعت او طریقت　　معرفت او حقیقت
جملګی مو کړے نصیب　　په پاک محمد دَ دے حضرت
دَ دے پاک محبوب نصیب کړے　　وسیله پخپل زینت
ډیر درود او ډیر سلام　　په مذکور تول عبادت
ترابده دِ بیا بیا وی　　په محبوب دَ دے تربت
جملګی دوستان خاونده　　دَ دے خوار دَ هر نسبت
سرفراز کړے په دارینو　　ور کړے خیر او برکت
هر یو حرف دَ دے کتاب　　پخپل فضل او رحمت
دَ ذرو دَ کائنات　　په شمار زار ستا له قدرت
کتابونه کړے لوئے لوئے　　دَ رضا او مغفرت
نور څما زړه کښے چرشته دے　　ستا په فضل و هدایت
تر یه هغو یوئے توانائے　　ما ته ګران په مقالت
ته عالم ئے حقه ړ به　　په هغے بیل بیل حاجت
خپل مجیب السائلینه　　ئے خاوند دَ اجابت

دَ محمد امین دیر خوار ته ایمان کړے سلامت

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا رضا ستا دَ رضا په جمال غواړو　ستا لقا ستا دَ لقا په وصال غواړو

چه لتا سره خائیږی خپله ربه　ستا رضا لقا په هغه شان سوال غواړو

دَ ازل نه تر ابده په تکرار بیا بیا　ستا دَ لوئے علم په شمار ے هر حال غواړو

ستا دَ فضل او احسان له خوږ دریا به　دَ کرم په جام کښے آب زلال غواړو

ستا په وجه الکریم ستا وجه الکریم　ربنا ستا په عزت او جلال غواړم

دومره لوئے او دومره ډیر معتبر مراد　مونږ خواران ربه لتا بے زوال غواړو

دَ غنچې زړګی په وران میدان لتا نه　بس هم ستا رضا لقا پاک نهال غواړو

که ذرے دَ کائنات م کړے روحونه　هر نفس په درکښے ستا ئے پامال غواړو

دَ محبوب په درکښے ستا رضا دَ پاره　لوګے ډیر په تکرار مال وعیال غواړمه

ستا شکرونه او حمدونه سپاروتا ته　ستا دَ علم پشمار تل دا کمال غواړو

خپل محبوب پورے نزدے دَ جنت کښے تاسته یم　دَ محبوب په مخ شراب حلال غواړو

بشارت دَ خپل محبوب دَ وصل ربه　ډیر مشتاق یم په صدا دَ بلال غواړو

دَ جمله خپلو دوستانو سره ربه　ځان بندی دَ یار دَ زلفو په جال غواړو

محمد امین سره دَ کل دوستانو
مات کچکول په مینه ستا مالا مال غواړو

بسم الله الرحمن الرحیم

دَ مدینے منورے خوږ دلربا انوره　ما بینوا مکره رب ستا له مخه ستا له دره

دا هم خاطرے ستا دَ پاک مخ چه پاک رب العزة　ستا دَ درخاوړے ما ته بنے کړے له مشک عنبره

ناست په جنت کښے دَ رب نه غواړمه رضا او لقا　په وسیلے ستا مونصیب شه ناموس سروره

په شرافت دَ قدمونو ستا دا ستا درشله　خپل رب په ما کړله بالا له عرش ډیره بره

زه خوار په در ستا کښے چه جار م او تا غواړم رب نه　ترم نصیب شے په ما ډیر ګرانه ځما دلبره

که م ذرے دَ کائنات په هر نفس روحونه　رب العزة کړی والله زار ستا دَ ویخته له سره

ستا ادب تا نه حیا تا ته جریدل په رورو　دَ رب دَ علم پشمار سپارم رب ته نازپروره

تل دِ نصیب شه وسیله پشمار دَ علم دَ رب　په دیر احسان او کړه ما خوار ته یو دَ نازخبره

ستا د پاک مخ دَ عاشقے خوارزه خوار نعتونه　ختم به نشی که شی تیر هزار هزار محشره

خوار محمد امین له خیر دَ دیدن رب دَ پاره
ور کړه محبوبه او حق الیقین حق پیغمبره

بسم الله الرحمن الرحیم

عالمونه صد هزار هزار محبوبه　کړم لوګے ستا په دَ پاک دربار محبوبه

که په هر نفس ذرے دَ کائنات م　کړی روحونه خپل پروردګار محبوبه

پخپل پاک رب العزة خوړم قسمونه　ډیر اسان رب ته ځما دا کار محبوبه

په لوئے شمار دَ خپل رب العزة دَ علم　قسمونه بیا خوږم کړم اقرار محبوبه

ستا په درکښے به ئے لوګے او سپیلنی کړم　زه حقیر فقیر ذلیل او خوار محبوبه

هم دغه ایمان باور ان تر ابده　رب نه غواړم ستا په پاک رخسار محبوبه

هم په دے شان او مقدار ثنا شکرونه　ډیر ادب حیا جرا بار بار محبوبه

رب ته سپارمه په شمار دَ رب دَ علم　تر ابده په تعظیم وقار محبوبه

دَ رب العزة رضا او لقا غواړم　ستا په ډیر پاک مخ نور الانوار محبوبه

دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار تل　وی دا سوال دِ مکړی دَ خوار محبوبه

دَ جرګے دَ جملګی وو مرسلانو　سردار ته ئے په رب ګران رونډار محبوبه

ستا په مخ دِ رب منظور کړی په جنت کښے
دَ محمد امین خوار اشعار محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

قسم پتا بے لتا بل مراد مقصد نه لرم　خپله مولا بے لتا بل مراد مقصد نه لرم

ته ځما خپل مولائے او زه هم ستا خپل بنده یم　ربنا یا ربنا بل مراد مقصد نه لرم

نه چه کوے ځما هم هغه مدعا او مقصود　سوا لتا په دعا بل مراد مقصد نه لرم

ستا دَ لوئے علم په مقدار م دا اقرار او باور　ستا په قضا م رضا بل مراد مقصد نه لرم

که م په هر نفس ذرے دَ کائنات روحونه　کړے بس لتا نه فدا بل مراد مقصد نه لرم

لمحه لمحه کښے دَ ازل نه تر ابده بیا بیا　دا م له صدقه صدا بل مراد مقصد نه لرم

دَ دے محبوب ډیر محترم په وسیلے تا غواړم　بس هم بے تا زه ګدا بل مراد مقصد نه لرم

جمله دوستانوله هم ستا رضا لقا غواړمه — په دواړو کونو منشا بل مراد مقصد نه لرم
په شمار دَ علم ستا سپارم هره لمحه تر ابد — تا ته ثنا شکر و ثنا بل مراد مقصد نه لرم

جمله هم ته ئې **محمد امین** خوار و ذلیل
اقرار باور لري بل مراد مقصد نه لرم

بسم الله الرحمن الرحیم
یا فتاح

هیڅ مراد او مطلب نه لرم بې تا — ته مې رب ئې بل رب نه لرم بې تا
ستا دَ جمله احسانونو سبب ئې به — بس هم ته ئې سبب نه لرم بې تا
مرادم ته ئې دلته هلته زه بل کار — په عجم په عرب نه لرم بې تا
شپه مې تاله ورځ مې تا لره دَه خاونده — کار په روزو په شب نه لرم بې تا
ما ته تا خودلې عِشق ادب حیا دَه — معلّم دَ ادب نه لرم بې تا
ته لما نه هم نږدې ئې ما ته ئې به — ځوک لتا نه اقرب نه لرم بې تا
بس پتا پورې پناه یم پناه بله — ستا له قهرو غضب نه لرم بې تا
ستا دَ رحم لوري ته تختم ستا له قهره — زه بل جاه و منصب نه لرم بې تا
مور و پلار خپلوان یاران تا ته لوګي کړم — زه حسب او نسب نه لرم بې تا
خوشحالي غم او ښادي ځما هم ته ئې — زه بل ناز و طرب نه لرم بې تا

زه **محمد امین** خوار پتا قسم خورم
ستا طالب یم طلب نه لرم بې تا

بسم الله الرحمن الرحیم

عالمونه صد هزار هزار محبوبه — کړم نثار ستا تر دِ پاک رُخسار محبوبه
خورم قسم چه په ما ډیر بې حده ګران ئې — حقه دا چه ته مې دین ته مې ایمان
دغه دومره مې خوښ کړې خپل سبحان ئې — زار لتا شم زار لتا شم زار محبوب
که ذرې دَ کائنات مې شي روحونه — هر نفس تا ته لوګي تا نه ګردو
خورم په شمار دَ رب دَ علم قسمونه — دې مې دا ایمان باور اقرار محبوبه
ابروئي دَ دواړو کونو به زر وار — کړم لوګي او سپیلني ستا دَ پا نزار
شه نصیب مې دا ایمان او دا اقرار — ستا په ښکلي ښه نور الانوار محبوبه


صد هزار هزار فردوسه خورم قسم — ستا دَ زلفو دَ هر تار په هر یو خم
ما منلی ماویلی دم په دم — په صحیح او ایماني ګفتار محبوبه
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ پتا بار بار — دَ ازل نه تر ابده په تکرار
دَ رب العزة دَ لوئې علم په شمار — په ادب حیا تعظیم وقار محبوبه
ستا حضور کښې کوزې ستر ګې اُوده دل — یو لمحه ستا په حضور کښې جریدل
جملګي عالم ترې زار کړم هزار ځل — دومره یم پتا مین زه خوار محبوبه
وسیله دِ کړه نصیب رب ذوالجلال — کړم په شمار دَ رب دَ علم دغه سوال

زه **محمد امین** خوار او بې مجال
ډیره ګرانه محترم روښانه محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

هم لتا نه ستا رضا او لقا غواړو — خپل سبحانه ستا رضا او لقا غواړو
دَ ازل نه تر ابده په بار بار — ستا دَ لوئې او بې انداز علم په شمار
په حیا شوق و ادب تعظیم وقار — مستعانه ستا رضا او لقا غواړو
چه لتا سره ښائیګي هغه شان — چه پتا رضا کوي خپل بند یګان
په هغه سوز او حیا ادب ګریان — له هر انه ستا رضا او لقا غواړو
بس مراد مطلب موته ئې ته پوهیږې — رب موته ئې رب موته ئې ته پوهیږې
دَ طلب سبب موته ئې ته پوهیږې — مونږ نا توانه ستا رضا او لقا غواړو
که ذرې دَ کائنات موکړې روحونه — هر نفس او کړې ډیر دومره احسانونه
والله ستا په دربه ئې کړم لوګي ګردونه — ستا عطا نه ستا رضا او لقا غواړو
په عزت ستا دَ وجه الکریم خاونده — په عظمت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په حُرمت ستا دَ وجه الکریم خاونده — له بنه شانه ستا رضا او لقا غواړو
په عزت ستا دَ ذات پاک او مقدس — په عظمت ستا دَ ذات پاک او مقدس
په حُرمت ستا دَ ذات پاک او مقدس — مهربانه ستا رضا او لقا غواړو
په عزت ستا دَ رضا او دَ لقا — په عظمت ستا دَ رضا او دَ لقا
په حرمت ستا دَ رضا او دَ لقا — اعلیٰ شانه ستا رضا او لقا غواړو

په ابرو دَ دے محبوب پاک محمدؐ   په خوشبو دَ دے محبوب پاک محمدؐ
په کل خو دَ دے محبوب پاک محمدؐ   یو گویا نه ستا رضا او لقا غواړو
ستا دَ لوئے او مبارک علم په شمار   دَ محمد امین خوار باور اقرار
دَ ازل نه ترابده په بار بار   فضل ستا نه ستا رضا او لقا غواړو



دا دَ محبوب پاک محترم حرم دے زار شم ترینه   خو مره دَ خپل رب العزة کرم دے زار شم ترینه
رب العزته هیڅ ویلے نه شم نه توانیگم   چه دا رونق دَ حرم کوم رقم دے زار شم ترینه
ولے به نه وی دومره ښکلے لا ثانی منور   دلته چه فخر دَ جمله عالم دے زار شم ترینه
زار به ترے زه وارے باغونه دَ رضوان همه   دومره پما گران په مولا قسم دے زار شم ترینه
روضة من الرياض الجنة یکښے شته دے والله   بس هم په دِ دنیا باغ اِرم دے زار شم ترینه
دے جلوه گر یکښے هغه دَ دواړو کونو سردار   چه نے په مخ یا ند روښان عدم دے زار شم ترینه
دَ عرش نه پورته نے غښتلی دَ عزت دوړونه   دلته کښے دا سے محبوب محترم دے زار شم ترینه
نن خو جنت کښے خپل محبوب سره نزدے یمه زه   خدا کرم په وصل کښے دَ هجر غم دے زار شم ترینه
رب العزته ابدی وصال موته کړے نصیب   ستا دَ احسان سره خه شے کم دے زار شم ترینه

خوار محمد امین جریکی دَ هجران له غمه
په دِ نیمگړے دنیا وصل کم دے زار شم ترینه

بسم الله الرحمن الرحيم

ربنا پتا سپارلی ستا شکرونه   خپل مولا پتا سپارلی ستا شکرونه
دَ ازل نه ترابده حق خاونده   خپله الله الصمده حق خاونده
بے عدده او بے حده حق خاونده   ابدا پتا سپارلی ستا شکرونه
په هغه شان چه لتا سره ښائیگی   ستا رضا پرے خپله ربه حاصلیگی
عاجزان بندگان نا ته په رسیگی   په بیا بیا پتا سپارلی ستا شکرونه
ستا دَ علم په لوئے شمار لمحه لمحه   ستا دَ علم په مقدار طرفه طرفه
ستا دَ علم په تکرار لحظه لحظه   خوار گدا پتا سپارلی ستا شکرونه

ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عزت   ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عظمت
ستا دَ ذات مقدس په شرافت   کبریا پتا سپارلی ستا شکرونه
دَ رضا او دَ لقا ستا په عزت   دَ رضا او دَ لقا ستا په لذت
دَ رضا او دَ لقا ستا په وصلت   ذوالعلا پتا سپارلی ستا شکرونه
دَ محمدؐ مصطفیٰ په رسالت   دَ محمدؐ مصطفیٰ په نبوت،
دَ محمدؐ مصطفیٰ په شرافت   او ضیا پتا سپارلی ستا شکرونه
دَ اشرف الانبیا په دلدارئے   دَ محبوب شمس الضحیٰ په دلدارئے
دَ حضرت نور الهدیٰ په مختارئے   او وفا پتا سپارلی ستا شکرونه
په روضه کښے دَ جنت کوم سوالونه   دَ ذلیل حقیر معلوم تا ته حالونه
کرم دے خومره لری خومره کتا هو   وار خطا پتا سپارلی ستا شکرونه
دَ محبوب پنجرے سره متصل ناست یمه   ستا په فضل او توفیق تا ته په خواست یمه
خو دم پتا قسم خپل ربه په نیت راست یمه   کرم جوا پتا سپارلی ستا شکرونه
محمد امین سره دَ کل دوستانو   او بخښے سره دَ کل مسلمانانو
په ابرو عزت دَ کل پیغمبرانو   بینوا پتا سپارلی ستا شکرونه

بسم الله الرحمن الرحيم

الله هسے لوئے دریاب ستا دَ کرم دے   صد هزار هزار عالمه ترے یو نم دے
صد هزار هزار هزار هزار عالمه   که هر دم پیدا کوے خاوند اکرمه
نه به ستا خدائی په زیاته شی نه کمه   ستا دَ علم په لوئے شمار تل قسم دے
که په هره یو ذره دَ کائنات   دَ دے جملگی عالم کل انعامات
کړے بخشش هیڅ به دِ کم نشی او زیات   توان احسان دِ به دومره محترم دے
عالمونه صد هزار هزار هزار   که په هره یو ذره کښے په بار بار
تا ابد موجود وی په لوئے تکرار   شے کولے توان دِ هسے مسلم دے
په عزت ستا دَ پاک ذاتِ مقدس   په عظمت ستا دَ پاک ذاتِ مقدس
په حرمت ستا دَ پاک ذاتِ مقدس   ستا رضا لقا مو سوال تا نه هر دم دے
دَ محمد مصطفیٰ په پاک رخسار   دَ محبوب کبریا په پاک نے رخسار
دَ اشرف الانبیا په پاک رخسار   چه نے عرش عزت موندلے له قدم دے

ستا رضا او لقا غواړو په بار بار — ستا د لوئے او محترم علم په شمار
په تعظیم ادب حیا او انکسار — ستا رضا لقا بسے مې زړهٔ قلم دے
دا هم ته ئے دا هم ستا فضل احسان دے — چه مو ستا رضا لقا دین و ایمان دے
وسیله مو محمد ﷺ محبوب ذیشان دے — جنت غواړو خوف مو دے له جهنم دے
جنت راکړے له دوزخه مو امان کړے — پخپل امن مو زوال نه د ایمان کړے
ته نصیب مو خپل کرم فضل و احسان کړے — بے له فضله ستا مو حال درهم برهم دے
ستا د لوئے او محترم علم په شمار — حمد و شکر ستا پتا سپاری بار بار
محمد امین فقیر عاجز لاچار — ملامت او شرمنده خجل او کرم دے

بسم الله الرحمن الرحیم

جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده — ازل نه بیا بیا تر ابد بس هم دا ستا رضا ده
ستا د لوئے علم په لوئے شمار په عاجزئ او ادب — ان تر ابده په بار په عاجزئ او ادب
سوال مو بیا الله الصمد بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
ستا د رضا او د لقا په شرافت خاونده — ستا د رضا او د لقا په لوئے عزت خاونده
تا نه مو سوال بلا عدد بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
رب العزته په عظمت ستا د ذاتِ مقدس — تا نه مو سوال په شرافت ستا د ذاتِ مقدس
په مخ د دے پاک محمد ﷺ بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
هزار هزار هزار هزار هزار هزار جنته — اخیر محدود دی دیر بے حد خپله رب العزته
چه ئے عزت نه لری حد بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
تا نه مو بیا بیا ستا د علم په لوئے شمار سوالونه — ازل نه تر ابد په بے حده تکرار سوالونه
په وسیلے د پاک احمد بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
رب العزته په جنت کښے دا سوالونه کوم — د محمد ﷺ محمود قربت کښے دا سوالونه کوم
ستا د رضا خما سند بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده
د محمد امین قسم خپل کبریا خاونده — په دواړو کونو نے بل مراد نشته بے تا خاونده
د نور مشعل ئے تر لحد بس هم دا ستا رضا ده — جمله مراد مطلب مقصد بس هم دا ستا رضا ده

بسم الله الرحمن الرحیم

دا د محبوب پاک محترم حرم دے تل شکرونه — مولا ستا خوږ لوئے فضل و کرم دے تل شکرونه
دے جلوه گر دلته هغه نور الانوار محبوب — چه ئے روښانه په پاک مخ عدم دے تل شکرونه
رب العزته خپله زار دِ له احسانه شمه — دلته په دے دُنیا باغِ اِرم دے تل شکرونه
لمحه لمحه د رب د لوئے علم پر شمار تر ابد — دائم ایمان دائم ارمان هر دم دے تل شکرونه
د مدینے منورے او سیدل لوئے نعمت دے — چه تر لائق ما پشان خوار او کرم دے تل شکرونه
خوخ مې د خپل رب العزة د علم شما باندِ دی — په دیر بے حد ادب تعظیم د کبریا شکرونه
دا د جنت روضه ده خوږ لوئے احسان دے د رب — جمله نعمت د کل جهان ترکم دے شکرونه
دواړه جهان چه ئے روښانه دي له پاکه مخه — دلته والله هغه نور ظلم دے تل شکرونه

گردو غبار د خپل دلدار مختار محبوب د حرم
د محمد امین د زړه مرهم دے تل شکرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

تا نه قربان د مدینے منورے محبوبه — دیر پیا گران د مدینے منورے محبوبه
لِلّٰه په لعلو لبو او کړه یو پرسان له گدا — دیر مهربان د مدینے منورے محبوبه
ستا په روښانه مخ خوږ فضل کرم نصیب — د پاک سبحان د مدینے منورے محبوبه
د رب د لوئے علم بشمار په وسیلے ستا غواړم — د رب احسان د مدینے منورے محبوبه
ولاړ په در ستا غواړي خیر د دیدن ستا له ربه — بے نوایان د مدینے منورے محبوبه
ستا په ابرو مو رب نصیب کړه دیر خوشبو گلونه — له گلستان د مدینے منورے محبوبه
هزار هزار فردوس هر خم د زلفانو کښے ستا — شاهِ خوبان د مدینے منورے محبوبه
ستا په در شل پورے جرام ستا په مخ نصیب شه — دیر عالیشان د مدینے منورے محبوبه
رب العزة مو کړه نصیب ستا په عزت شرافت — دین و ایمان د مدینے منورے محبوبه

خوار محمد امین هم ستا په فرمان ستا په در کښے
شو نعت خوان د مدینے منورے محبوبه،

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده مولا دیره ښکلے — پکښے جلوه ده د محبوب دلربا دیره ښکلے

لارو کو سو کښې ئې چه گرزم عجب خوندرا کوی   پکښې مزه ده له فردوسه سوا ډيره ښکلې
چه د رضوان اته باغونه بو غنچه کښې لری   پکښې روضه ده د محبوب مصطفیٰ ډيره ښکلې
د دوا ړو کونو نعمتونه تر لوکے کرم والله   رب رام نصيب کړه خپل محبوب ته جرا ډيره ښکلې
رب العزة ئې بينوا مکړه دا ستا له دره   بخره نصيب شه ستا په دردگدا ډيره ښکلې
خاوند کريم مو کړه نصيب پخپل وجه الکريم   ستا په جنت کښې ستا د مينې سودا ډيره ښکلې
چه محترم محبوب رام ايخی قدمونه پکښې   ولے به نه وی دومره ډيره زيبا ډيره ښکلې
د رب د لوئے علم پشمار شکرونه سپارم رب ته   چه ئې پما اوکړله دومره عطا ډيره ښکلې
چرته زه خوار چرته دا پاکه ملاقه د محبوب   خومره عطا ده د خپل رب کبريا ډيره ښکلې
عاشقه راشه رب دِ دا وله دِ خپل محبوب له   شه دِ مقبوله د زخمی زړه دعا ډيره ښکلې
رضا لقا د رب مونږ شه نصيب په مخ د محبوب   په شمار د علم د رب دا مدعا ډيره ښکلې

ناست په جنت کښې شه مقبوله د محبوب په خوا کښې
د **محمد امين** فقير دا وينا ډيره ښکلې

بسم الله الرحمن الرحيم

رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے   په ډير بے حده شرافت ستا د رضا رضا شے
رب العزته ستا د شان سره چه بنائی کوم شان   رب العزته ستا احسان سره چه بنائی کوم شان
مونږ په هغه شان شوکت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
چه صد هزار هزار فردوس ئې ذائقه ده ادنیٰ   خپله عظيمه او کريمه ی بنا ربنا
مونږ نه په هغه پاک لذت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
رب العزته په جلال ستا د رضا او لقا   ډير خپله بے په فضال ستا د رضا او لقا
رب ذوالجلاله په حرمت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
رب العزته په تعظيم ستا د رضا او لقا   ډير خپل خاونده په تکريم ستا د رضا او لقا
خپل مهربانه په عظمت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
بے تا په دواړو کونو بل مراد مقصد مو نشته   مراد له ازل نه بے لتا ان ترابد مو نشته
مونږ نه مولا په شفاعت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
چه نعمتونه د کونينو بو ذره ده وی نه   کل دولتونه د کونينو بو ذره ده وی نه

الله په لوئے دولت نعمت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے
ستا د لوئے علم په لوئے شمار مودی سوالونه رب   ازل نه ترابد يار بار مودی سوالونه رب
ته مونصيب کړے محبت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے

ستا د لوئے علم په لوئے شمار خوار **محمد امين**
کوی سوالونه په بار بار خوار **محمد امين**

کريم خاونده په رفعت ستا د رضا رضا شے   رب العزته په عزت ستا د رضا رضا شے

بسم الله الرحمن الرحيم

که رام دواړه جهانونه شی دفتر   کرم لوئے او سپيلنی به ئې ستا په در
که هزاری هزاری کرته رام بيا بيا شی   زه به ئې بيا بيا زاره ومه مکری
که ذرے د کائنات رام شی روحونه   هره ساه با نِ محبوبه شه خبر
بس لتا به ئې زاره وم قسم په رب ئې   شه نصيب رام ستا له عشقه دا هنر
دا کار ستا د کمترينو گدايانو   رب نصيب لره ترو رځے د محشر
د جونگے د مرسلانو مختار ته ئې   د لولاک تاج حق خاوند کړو در په سر
ډير درود او ډير سلام دِ تل پتا وی   د مخلوق د اند ازے شمار نه بهر
وسيله دِ رب نصيب کړه خپل محبوبه   پخاطرهم د خپل پاک رخسار انوی
په وجه الکريم د رب العزة غواړم   مات کچکول ئې خير لتا زه خوار مضطر
ستا په مخ دِ محروم ستا له دره نه شم   شه نصيب خير کثير خما کمتر
دوستان جمله د بيعت او جماعت   ستا له مخه رب نه غواړم بهره وی
دا کتاب ستا په جنت کښې شی ليکلے   په توفيق احسان د الله اکبر
ندے شکرهم پخپل خاوند سپارلے   په آبرو ستا سو د پاک مخ معتبر

محمد امين حقير فقير ذليل
عفوه غواړی ستا په پاک مخ منوی

بسم الله الرحمن الرحيم

ستا رضا ثنا بو جهک الکريم   شکر ابدا بو جهک الکريم
ستا د لوئے علم په لوئے شمار تا ته سپارمه   خپله کبريا بو جهک الکريم
په هغه شان چه لتا سره بنائيږی   په ادب حيا بو جهک الکريم

په عزت او شرافت تعظیم تکریم — په نیاز وفا بوجهک الکریم
ستا ذات مقدس په لوئے عزت — کوم دا صدا بوجهک الکریم
ربنا رب العزة خپله رضا شے — لما بینوا بوجهک الکریم
بے لتا م بل مراد او مقصد نشته — خورم قسم پتا بوجهک الکریم
که ذرے د کائنات م کړے روحونه — ته په هره ساه بوجهک الکریم
ستا تر یو لمحے رضا به ئے قربان کړم — زه خوارو گدا بوجهک الکریم
ستا شکرونه او ثنا سپارمه تا ته — او جمله دُعا بوجهک الکریم
دَ محبوب محترم ښکلي جنت کښے — عجیبه زیبا بوجهک الکریم
په ابرو او وسیلے او شفاعت — دَ پاک مصطفیٰ بوجهک الکریم
بس رضا لقا دَ علم په مقدار ستا — دا کل مدعا بوجهک الکریم
ته دَ علم په لوئے شمار خپل امین او کړے — په دُعا ځما بوجهک الکریم

محمد امین سره دَ کل دوستانو
غواړی دا عطا بوجهک الکریم

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا رضا ستا دَ رضا په ابرو غواړو — ستا رضا ستا دَ رضا په خوشبو غواړو
ستا رضا ستا دَ رضا په عظمت ربه — ستا رضا ستا دَ رضا په عزت ربه
ستا رضا ستا دَ رضا په نعمت ربه — دَ زړهٔ خوږو په جولو رورو غواړو
چه ئے ستا رضا لقا غرض مطلب وی — چه ئے ستا رضا لقا جمله طلب وی
چه ئے ستا رضا مقصد په روز و شب وی — ستا رضا په هغو ورزو او شپو غواړو
ځان چه بناوروته بتر کړی ستا دَ پاره — چه هستی جمله ګی ورکړی ستا دَ پاره
دَ مخلوق نه ځان بهر کړی ستا دَ پاره — ستا رضا مونږ دَ هغو په خوارو غواړو
چه هم تا ته ئے زاری وی ستا دَ پاره — چه هم تا ته ئے لاچاری وی ستا دَ پاره
چه هم تا ته ئے خواری وی ستا دَ پاره — ستا رضا مونږ دَ هغو په خوارو غواړو
چه دَ عشق نعرے تیریږی له ناسوته — چه دَ عشق رازونه ئے زی تر ملکوته
چه دَ عشق اهونه ځی تر جبروته — ستا رضا په صداقت دَ هغو غواړو
چه په صدق و صداقت وائی لبیک — چه په شوق و محبت وائی لبیک

په اخلاص ذوق و لذت وائی لبیک — رضا ستائے په ځوښو عمرو غواړو
چه زیارت ته دَ محبوب په شوق ولاړ وی — پټ په پټ روی و دَ زړګی په و ینو ژاړی
دَ محبوب وصال په مخ دَ محبوب غواړی — ستا رضا ربه دَ دوئے په غوښتو غواړو
دَ محبوب ډیر محترم په محبت — دَ محبوب ډیر محترم په شرافت
دَ محبوب ډیر محترم په ډیر عزت — ستا رضا دَ خپل محبوب په کل خوغواړم
په روضه کښے دَ جنت دَ خپل دلدار — ستا دَ ډیر او محترم علم په شمار

زه **محمد امین** ډیر ذلیل او خوار
ستا رضا دَ عاجزئے په نعرو غواړو

بسم الله الرحمن الرحیم

ربه کړے خوشحال دوستان جماعت ناجیه کښے — دَ محبوب په مخ روښان جماعت ناجیه کښے
دَ محبوب په شرافت دَ محبوب په شفاعت — لرے تل امن و امان جماعت ناجیه کښے
دَ محبوب په پاک رخسار الله ورکړے خپل دیدار — چه داخل دی کوم ارکان جماعت ناجیه کښے
الله ستا رضا دَ پاره الله ستا لقا دَ پاره — کل ژوندون مو کړے قربان جماعت ناجیه کښے
قربانی په ننګ دَ دین شریفان مجاهدین — لرے تل سرفرازان جماعت ناجیه کښے
الله سوال کوم جنت کښے دَ محبوب په پاک قربت کښے — کړے نصیب مو دین ایمان جماعت ناجیه کښے
جمله گی عهده داران، اماماان او ناظمان — سرفراز لرے هر آن جماعت ناجیه کښے
چه خلاف دَ شریعت وی قومیت که بل آفت وی — مونږ تر خلاص کړے یا سبحان جماعت ناجیه کښے
چه آزاد کړی خپل قرآن خپل وطن کړی پر روښان — واچئے ربه دغه توان جماعت ناجیه کښے

هندوستان هیا دَ مسلم کړے ورک او سپک مشرک ظالم کړے
زنده باد شرعی ځوانان جماعت ناجیه کښے
لرے ربه خدمتګار، دَ محبوب په پاک رخسار
محمد امین ناتوان مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده ډیره ښکلے مولا — تا دَ احسان په صابون ډیره ده وینځلے مولا
ښکلے خو ځکه ده چه دے کښے محبوب جلوه گر — جلوه دَ مخ دَ محبوب عرش نه پورته تلے مولا

ذره ذره تې دَ محبوب دَ تجلوله نوره پـه ډیر عجب شان و شوکت ده ځلیدلې مولا
هغه ته بیا کله آرام بې مدینې طیبې حاصلیدی شي چه په صدق چالیدلې مولا
رب العزته بیا بیا وکړې خپل احسان او کرم بیا م نصیب کړې نظاره چه مالیدلې مولا
دَ خپل محبوب په خوا کښې ناست یم دَ جنت روکښې داشکر به م بس هم تا ته تل سپارلې مولا
ته په رضا شې مدینه منوره دَ محبوب ما به خپل وس ده په نعتونو کښې ستائلې مولا
هزار فردو به پرې وانخلم قسم دې پتا ځاچه او بنکې خپل محبوب ته بهیدلې مولا
ستا دَلوئې علم پشمار تا ته شکر یه سپارلې
خوار محمد امین دا مدحې چه لیکلې مولا

بسم الله الرحمن الرحیم

دا دَ محبوب خپل محترم حرم دې تل شکرونه الله ستا خومره لوئې احسان کرم دې تل شکرونه
دَ جلوه ګرد لته هغه نور الانوار محبوب چه روښان په ښکلې مخ عدم دې تل شکرونه
رب العزته خپله زار دِ له احسان شمه دلته به دې دُنیا باغِ اِرم دې تل شکرونه
لحه لحه دَ رب دَلوئې علم په شمار تر ابد دا م ایمان دا م ارمان هردم دې تل شکرونه
دَ مدینې منورې او سید ل لوئې نعمتونو چه لائق ما پشان خوار و کرم دې تل شکرونه
خوخ م دَ خپل رب العزة دَ علم شمار باندِ دی په ډیر ادب حیا تعظیم قسم دې تل شکرونه
دا دَ جنت روضه دَ خومره لوئې احسان دَ رب جمله نعمت دَ کل جهان تر کم دې تل شکرونه
دواړه جهانه چه روښانه دې له پاکه مخه دلته والله هغه نورِ ظلم دې تل شکرونه
ګرد و غبار دَ خپل دلدار مختار محبوب دَ حرم،
دَ محمد امین دَ زړه مرهم دې تل شکرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

دَرب دَ علم په لوئې میزان ، حسبنا الله حسبنا الله
ازل نه آن تر ابد هر آن ، حسبنا الله حسبنا الله

دَرب دَ علم په ډیر لوئې شمار، دَرب دَعلم په لوئې مقدار
له دې فقیر او ذلیل ناتوان، حسبنا الله حسبنا الله

چه ستا رضا په حاصلیدې شي، چه ستا لقا به حاصلیدې شي
په هغه ښکلې شان و عنوان ، حسبنا الله حسبنا الله

چه ستا شکرونه پرې ادا کیږي، چه ستا حمدونه پرې ادا کیږي
په هغې ښکلې شیرین بیان، حسبنا الله حسبنا الله

چه ستا له شانه سره خائیږي، چه ستا له احسانه سره خائیږي
په هغه ذوق و ادب بیان ، حسبنا الله حسبنا الله

ستا دَ رضا په عزت عظمت، ستا دَ لقا په لذت وصلت
څمونږ نصیب کړې یا مستعان، حسبنا الله حسبنا الله

په جمال ستا دَ ذات مقدس، په جلال ستا دَ ذات مقدس
څمونږ نصیب کړې ته یا سبحان، حسبنا الله حسبنا الله

دَ مخلوقاتو په ژبو زړونو، دَ کائناتو په ژبو زړونو
نصیب مو کړې په صدق و ایمان، حسبنا الله حسبنا الله

رب العزته رضا دِ غواړو. رب العزته لقا دِ غواړو
وسیله نیسو مونږه خواران، حسبنا الله حسبنا الله

دَ خوار محمد امین اشعار، قبول کړې رب په خپل دربار
جنت کښې سوال کړو ستا په احسان حسبنا الله حسبنا الله

بسم الله الرحمن الرحیم

ستا دَعلم په لوئې شمار ، حسبنا الله کړې نصیب څما دَ خوار، حسبنا الله
په ډیر قدې دَ ازل نه تر ابده په ډیر بې مقداره او بې حده عدده
ډیره خپله پاکه الله الصمده کړې نصیب م دا ګفتار حسبنا الله
چه لتا سره خائیږي په کوم شان ستا رضا چه حاصلیږي په کوم شان
ته نصیب کړې څمونږه دَ حق بیان په ادب حیا وقار حسبنا الله
دَ دې جمله مخلوقات په ګویایئ دَ دې جمله کائنات په ګویایئ
دَ ذی و دَ ممکنات په ګویایئ، کړې نصیب مو حق ګفتار حسبنا الله
په کوم شان چه ادا کیږي ستا شکرونه په کوم شان چه ادا کیږي ستا حمدونه
تا ته سپارو ربه هغه عملونه او جوړ په انکسار حسبنا الله
دَ محبوب پاک محمد په شرافت دَ محبوب پاک محمد په پاک خصلت

دَ محبوب پاک محمدؐ په سعادت   ابدا وایو بار بار حسبنا الله
ربنا مولا بوجهک الکریم   حسبنا مولا بوجهک الکریم
امنا مولا بوجهک الکریم   کړې نصیب مې کل روزګار بوجهک الکریم
په عزت ستا دَ وجه الکریم خاونده   په عظمت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په حُرمت ستا دَ وجه الکریم خاونده   غواړو ستا رضا دیدار حسبنا الله
په جنت کښې ستا په توان او هدایت   دَ جمله سوالونو غواړو اِجابت
ستا دَ علم په لوئې شمار او په عزت   او حُرمت او په تکرار حسبنا الله
دَ محمد امین خوار جُمله دوستان   دَ هر شر ضرر نه کړې دیره اَمان
په ابرو دَ دې نزدې محبوب جانان   حضرت سیدو مختار حسبنا الله

بسم الله الرحمن الرحیم

دواړه کونه کړم لتا قربان محبوبه   پاک محمدؐ مصطفیٰ قربان محبوبه
دواړه کونه ستا په شکلې مخ روښان کړو   خپل رب العزة مولا قربان محبوبه
کړم دواړه کونه زی وارې دفترونه   وی لتا دِ په بیا بیا قربان محبوبه
دَ جرګې دَ مرسلانو معتبره   پاک اشرف الانبیا قربان محبوبه
په هزار هزار عزت مولا بللې   په شپه ئې دَ اَسرٰی قربان محبوبه
مقدس کښې صف آرائې مرسلین شوې   دَ نبیانو مقتدا قربان محبوبه
دَ جبرئیل غوندې نامدار په مخ کښې تللو   دَ خدمت دَ پاره ستا قربان محبوبه
دروازې دَ آسمانونو وارې په وارې   خلاصیدې جُدا جُدا قربان محبوبه
جُملګی دَ ملکوت عالم ولاړو   په تعظیم ادب حیا قربان محبوبه
جملګی ستا دَ دیدن وو مشتاقان   وَو په مرحبا ګویا قربان محبوبه
جبرائیلؑ په مُنتهیٰ بانددِ رها شو   اسرافیلؑ خدمت کړو بیا قربان محبوبه
په قدم بانددِ دَ عرش دیر معزز شو   په رَف رَف نور پورته شوې بالا محبوبه
په زرګونو پردې قطعه شولې نورې   ستا مقام شو دیر اعلیٰ قربان محبوبه
رب دِ کړو نصیب مقام قاب وقوسین   هم شرف دَ او ادنیٰ قربان محبوبه
هزار حُل دِ مبارک په لامکان شه   پاک دیدار دَ کبریا قربان محبوبه
ستا دَ وصل او دَ نازوراز بیان   نشته علم کښې دَ جا قربان محبوبه

رب چه خوږ لوئې عزت دَ وصال دا کړو   پخپل فضل او عطا قربان محبوبه
جملګی دِ رب نصیب کړه هزار وارې   خپل محبوبه دَ ګدا قربان محبوبه
په جنت کښې م معراج دَ رب په فضل   کړو بیان رب شه رضا قربان محبوبه

محمد امین په شمار دَ رب دَ علم
ستا پا ټزاې نه شه فدا قربان محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

ربنا مولا وراء الورائے   کبریا مولا وراء الورائے
چه لتا سره خائیږی کوم شکرونه   چه لتا سره خائیږی کوم حمدونه
کل مخلوق به ئې ادا نکړی قسمونه   خوږم پیدا مولا وراء الوریٰ ائے
ته له مونږه نه هم مونږه ته نزدې ئې   بیا په دومره دیر قربت کښې په پردې ئې
داچه خوږ دِ خوګ ستائې زیاتیږی ئې   دیر اعلیٰ مولا وراء الورا ئې
که په هر یو ذره کښې کائنات کل   که په هره یو ذره کښې ممکنات کل
اندرون کړې صد هزار حُل مخلوقات کل   توانا مولا وراء الوریٰ ائے
صد هزار هزار هزار هزارې محشره   که په یو ذره درون کړې رب اکبره
اسان تا ته دَ کوشې ترنیم نظره   په بیا بیا مولا وراء الورا ئې
بس هم تا نه ستا رضا او لقا غواړو   خپل سبحانه ستا رضا او لقا غواړو
مستعانه ستا رضا او لقا غواړو   ابدا مولا وراء الورا ئې
ستا شکرونه او حمدونه په بار بار   ستا دَ لوئې او مبارک علم په شمار
سپاروو مونږه په دیر عجز انکسار   هم پتا مولا وراء الورا ئې
صد هزار هزار هزار دِ عالمه   که په هره لمحه بیا بیا له عدمه
راولې رحیم کریم خاوند اکرمه   امنا مولا وراء الوریٰ ائے
په توفیق او هدایت ستا په یقین   په جنت کښې دَ محبوب پاک بهترین

خوا کښې ناست دې محمد امین مسکین
خوار ګدا مولا وراء الوریٰ ائے

بسم الله الرحمن الرحیم

شه لتا م دل وجان قربان محبوبه   ترابده په هر آن قربان محبوبه

که ذرے د کائنات م شی روحونه — په هزار هزار کرات م شی روحونه
ستا په در کښے به ئے لوګے کړم هم ګردونه — هر ساعت او هر زمان قربان محبوبه
دواړه کونه ستا په مخ کړه رب روخانه — اے د جملګی عالم روڼدای سلطانه
ستا په مخ دِ شم امان ستا له هجرانه — شه پتا م زړه روښان قربان محبوبه
د جرګے د مرسلانو معتبره — د پاک مخ نور دِ له عرشه تلے بره
ئے واصل په لامکان له رب اکبره — په تعظیم عزت بے شان قربان محبوبه
شه نصیب دِ خپل عزت او شرافت — چه ئے لړے په در د خپل رب العزت
هیڅوک نۀ لری لتا نه زیات قربت — هیڅوک نۀ دی ستا پشان قربان محبوبه
ستا په مخ د رب رضا او لقا غواړو — ستا په جمله شرافت دا دعا غواړو
په لوئے شمار د رب د علم ئے بیا غواړو — ترابده مونږ عاجزان قربان محبوبه
د رب العزة د لوئے علم په شمار — دغه سوال مو دے د خپل رب په دربار
وسیله دِ رب نصیب کړه په بار بار — په ادب تعظیم بے شان قربان محبوبه
په لوئے شمار د رب د علم په تعظیم ډیر — وی پتا صلاة سلام دِ په تکریم ډیر
په ادب شوق و حیا او په تسلیم ډیر — لما خوار او ناتوان قربان محبوبه
محمد امین عاجز فقیر لاچاری — په جنت کښے کړی لیکل خواږه اشعار
په ارشادِ مبارک ستا عالم در زاری — اے محبوبه د سبحان قربان محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

دواړه جهانه کړم قربان ستا له پا تړار محبوبه — دا م ایمان دا م باور په هزار وار محبوبه
که م ذرے د کائنات جمله روحونه کړی رب — په هر نفس کړم به ئے لوګے ستا په دربار محبوبه
ازل نه ترابد دِ وی په ډیر تعظیم و ادب — صلاة سلام پتا بیرون له حد شمار محبوبه
هزار هزار فرد و ما قسم په رب منلی — په هر یو خم کښے ستا د زلفو د هر تار محبوبه
دواړه جهانه کړه روښانه پاک رب العزة — ستا له پاک مخه لاثانی نور الانوار محبوبه
رب دِ نصیب کړه وسیله پخپل وجه الکریم — دغه م سوال د رب د علم په تکرار محبوبه
د مرسلانو د جرګے صدر العلی محترم — نشته په در د رب لتا نه څوک مختار محبوبه
د خپل رب العزة په وجه الکریم غواړم رب — ستا د وصال دولت عزت شرف وقار محبوبه
د ملکوت او جبروت او د لاهوت نه وراندِ — شه دِ نصیب په لامکان د رب دیدار محبوبه

رضا لقا د رب ئے ستا په مخ نصیب کړه مولا — دغه مقصد لری محمد امین خوار محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

د کل عالم روښداره قربان خپله محبوبه — په در د رب مختاره قربان خپله محبوبه
اشرف المرسلینه نصیب دِ خپل عزت شه — په در د رب نامداره قربان خپله محبوبه
روحونه د عالم که ځما په هر نفس شی — جمله ستا له پا تړاره قربان خپله محبوبه
صدر العلی د جمله جرګے د مرسلانو — هم ته ئے هزار واره قربان خپله محبوبه
مونږ رب ذوالجلال مکرم کړه هم ستا په مبارک مخ — محروم ستا له درباره قربان خپله محبوبه
ازل نه ترابده بے حده بے عدده — تل تر ستا له رخساره قربان خپله محبوبه
دا دواړه جهانونه روښان دی ستا له مخه — حضرت نور الانواره قربان خپله محبوبه
پشمار د رب د علم صلاة سلام پتا تل — د دواړو کونو سرداره قربان خپله محبوبه

محمد امین خوار د ستا په پاک دربار
لوګے شه په بار باره قربان خپله محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

قربانی د محمد مصطفی یم — ارمانی د محمد مصطفی یم
دواړه کونه به هزار وار ترِ نثار کړم — زه له صدق وله ایمانه دا اقرار کړم
دا اقرار د رب د علم په لوئے شمار کړم — سپیلنی د محمد مصطفی یم
د ازل نه ترابده په بار بار — د رب العزة د لوئے علم په شمار
زۀ غلام د غلامانو یم په اقرار — ایمانی د محمد مصطفی یم
بل مراد مطلب م نشته په قسم — بس رضا د رب د پاره په هر دم
زۀ عاجز فقیر ذلیل ملامت کړم — خواهانی د محمد مصطفی یم
هم دغه م دے اقرار دغه بیان — هم دغه م عقیده دغه ایمان
بس په فضل او کرم او په احسان — سبحانی د محمد مصطفی یم
د ازل نه ترابده بل مراد — ما ته نۀ دے راخودلے پاک استاد
هم د خپل مرشد په ډیر ښکلی ارشاد — ګویانی د محمد مصطفی یم
د محبوب محترم د ګلشن ګل — بویه وُم کوم جنت کښے دا لیکل
زۀ محمد امین خوار فقیر بلبل — لاثانی د محمد مصطفی یم

بسم الله الرحمن الرحیم

ځه نثار دَ خپل محبوب او حبیب یم په بار بار دَ خپل محبوب او حبیب یم
دواړه کونه بدِ ترِ زار کړم په بار بار دَرب العزة دَ لوئے علم په شمار
حما دغه عقیده ایمان اقرار هسے زار دَ خپل محبوب او حبیب یم
دَ جمله جهان تر جمله نعمتونو دَ جمله جهان ترکل تاج او تختونو
په ایمان او صداقت او قسمونو خوښ بیمار دَ خپل محبوب او حبیب یم
که مِ دواړه کونه زر وارد قرشی صدقه دِ دَ محبوب په ښکلے در شی
زیات له دے هم زه گدا که دِ باور شی وفادار دَ خپل محبوب او حبیب یم
ابروئ دَ کل عالم کړم ترِ قربان حما دغه عقیده عشق و ایمان
زه گدا قسم دے دومره قدردان دَ پاټزار دَ خپل محبوب او حبیب یم
دَ رضوان جمله باغونه هزار گل په بار بار ترینه قربان کړمه تل تل
زه گدا شیدا خوخ دومره په یو گل دَ گلزار دَ خپل محبوب او حبیب یم
مدینه منوره کښے او سیدل ما ته ښکاری تر آسمان پاسر رسیدل
قدری دومره م په زړه دَ محبوب خپل په هر کار دَ خپل محبوب او حبیب یم
په ارشاد مبارک دَ محبوب خپل په روضه کښے دَ جنت کړم دا لیکل
پاک الله م دِ نصیب کړی داویل په روزگار دَ خپل محبوب او حبیب یم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَعِتْرَتِهٖ
بِعَدَدِ کُلِّ مَعْلُوْمٍ لَّکَ

بسم الله الرحمن الرحیم

تا له شکر او ثنا ربُّ العزته له ازل تر ابدا رب العزته
چه لتا سره خائیگی په کوم شان ستا رضا چه حاصلیگی په کوم شان
بے تا خوک په نه توانیگی په کوم شان په هغه شان او ادا رب العزته
په بے حد عزت دَ وجه الکریم ستا په اعلیٰ عظمت دَ شانِ قدیم ستا
په اعلیٰ رفعت دَ شانِ عظیم ستا غواړو ستا رضا لقا رب العزته
ته رضا شے په عزت دَ رضا خپلے ته رضا شے په عظمت دَ رضا خپلے

ته رضا شے په لذت دَ رضا خپلے دیره خپله خپل مولا رب العزته
ستا لقا ستا دَ لقا په لوئے عزت ستا لقا ستا دَ لقا په لوئے عظمت
ستا لقا ستا دَ لقا په شرافت کړے نصیب مو کبریا رب العزته
دَ ازل نه ترابده په بار بار ستا دَ لوئے او مبارک علم په شمار
کوم سوال ستا په دربار ستا دَ دیدار زهٔ حقیر ذلیل گدا رب العزته
په جلال ستا دَ ذاتِ مقدس ربه په جمال ستا دَ ذاتِ مقدس ربه
په کمال ستا دَ ذاتِ مقدس ربه کړے قبوله کل دُعا رب العزته
ستا دَ جمله صفتونو په تعظیم ستا دَ جمله صفتونو په تکریم
دَ قضا ستا مو نصیب لرے تسلیم اٰمَنَّا وصدقنا رب العزته
دَ محمد مصطفیٰ حبیب حضرت په قربت کښے ناست روضه کښے دَ جنت

محمد امین سائل دَ مغفرت
ستا په لوئے دربار اعلیٰ رب العزته

بسم الله الرحمن الرحیم

ربنا مولا رضا لقا دِ غواړو کبریا مولا رضا لقا دِ غواړو
دَ ازل نه ترابده په بار بار ستا دَ لوئے دیر مبارک علم پشمار
په ادب حیا تعظیم شوق انکسار ابدا مولا رضا لقا دِ غواړو
ستا دَ ذاتِ مقدس په جلال ربه ستا دَ ذاتِ مقدس په جمال ربه
ستا دَ ذاتِ مقدس په کمال ربه په بیا بیا مولا رضا لقا دِ غواړو
په عزت دِ دَ وجه الکریم خاونده په عظمت دِ دَ وجه الکریم خاونده
په حرمت دِ دَ وجه الکریم خاونده ذو العلا مولا رضا لقا دِ غواړو
په سپارلو تا ته تل ستا دَ حمدونو په سپارلو تا ته تل ستا دَ شکرونو
ستا دَ علم پشمار ستا په احسانونو په جړا مولا رضا لقا دِ غواړو
دَ محمد مصطفیٰ په لوئے عزت دَ محمد مصطفیٰ په شرافت
دَ محمد مصطفیٰ په پاک خصلت او حیا مولا رضا لقا دِ غواړو
دَ محمد مصطفیٰ په وسیلے دَ حضرت صدر العلیٰ په وسیلے
دَ محبوب کبریا په وسیلے او وفا مولا رضا لقا دِ غواړو

په روضه کښې دَ جنت فقیر مسکین   محمّد امین لاچار حقیر حزین
ستا په لوئے فضل یارب العلمین   وائی دا مولا رضا لقا دِ غواړو

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خاوند خپله په قضا ستا مو رضا ده   تل تر تله په قضا ستا مو رضا ده
ستا دَ علم په مقدار ان ترابده   له ازله په قضا ستا مو رضا ده
ستا دَ علم په لوئے شمار لمحه کښې   هزار ځله په قضا ستا مو رضا ده
ستا دَ علم په لوئے شمار تر لقسوش   مکمّله په قضا ستا مو رضا ده
ته چه څه کړے جمله بندي تر آخیره   له اوله په قضا ستا مو رضا ده
چه لتا وی جمله شه دی څما بربنه   دغه شوله په قضا ستا مو رضا ده
دَ ازل نه دغه مینه ستا په فضل   مونږ لرله په قضا ستا مو رضا ده
ته چه کړے څو مونږ هم دغه مراد مقصود   دے پخپله په قضا ستا مو رضا ده
ازلی اُستاد ازل کښې ما طالب ته   اُوخودله په قضا ستا مو رضا ده
دا اقرار م ستا دَ علم پشمار کړے   څو څو ځله په قضا ستا مو رضا ده

محمّد امین دا مدحه په جنت کښې
اولیکله په قضا ستا مو رضا ده

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دا مدینه ښکلے روښانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
ستا جنتونه به تر زار کړمه هزار کرته   دومره لوئے فضل دے په ما له خپل رب العزة
جلوه گر نور دلته رضوانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
ذره ذره نے آئینه ده دَ عرفان دَ الله   دے نازل شوے په محبوب لته قران دَ الله
دلته روضه ده عالیشانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
کړم ذرے دَ کائنات کړی خپل خاوند روښانه   په هر نفس نے به کړم دلته لوګے ګردونه
دومره آبرو ده په ما کړانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
دَ جملګی عالم آبرو به دَ محبوب تر قدم   لوګے لوګے کړمه خاونده هم پیتام قسم
مینه م دومره مونده تانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
هزار فردوس نے هر خم کښې دَ زلفانو وینم   هر شے اداکښې نے جمال دَ کل خوبانو وینم

په ایمانی نظر تابانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
رب العزة په آبرو عزت حرمت دَ محبوب   هم په بے مثله لیاقت او شرافت دَ محبوب
شه مو کفیل ادب حیانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
مونږ دَ محبوب ادب حیا قدر تعظیم و تکریم   تا ته سپارلے په بیا بیا دی ستا په وجه الکریم
مونږ له نے ادا کړے مستعانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی
خوار محمّد امین جنت کښې دَ محبوب نعتونه   بیا دَ محبوب په خاص قربت کښې دَ محبوب نعتونه
لیکی دَ عشق له دیوانه دَ محبوب انوی   کړے مونصیب خپله سبحانه دَ محبوب انوی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خپل محبوب به په بار بار زار و قربان
په بے حده ډیر تکرار زار و قربان

دَ ازل نه تر ابده په بار بار   دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار
په ادب حیا جړا تعظیم وقار   په ډیر عجز انکسار زار و قربان
چه تیاره نے په عدم کړه رب روښانه   چه نے رنړا د عرشه پورته ځی بے شانه
چه نے دومره عزت مونده لرسبحانه   ستا تر دغه پاک رخسار زار و قربان
چه هر کل کښې نے شته فردوس هزاران   چه نے خوشبوئی په خوشبو کون و مکان
چه ور کړے لوئے عزت خاوند سبحان   ستا تر دغه پاک ګلزار زار و قربان
چه له ډیرے حیا نه کوری په پورته   عاشقان دِ خوشحالیږی دِ عشق اُور ته
یو نظر او کړه دَ خوار بینوا لوی ته   کړی جړا دِ په دربار زار و قربان
په وجه الکریم دَ خپل رب العزت   په ذاتِ قدیم دَ خپل رب العزت
په شانِ عظیم دَ خپل رب العزت   غواړم رب نه ستا دیدار زار و قربان
دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار   دَ ازل نه ترابده په بار بار
تحیات صلاة سلام پتا نثار   دَ عاجز ذلیل او خوار زار و قربان
وسیله دِ کړه نصیب رب العزت   ستا دَ ښکلی مخ په حسن او زینت
ستا په جمله پاک سیرت او خوئے خصلت   اے چه نے نور الانوار زار و قربان
محمّد امین فقیر ذلیل ناتوان   په جنت کښې خپل رب العزة سبحان

ستا دَ حسن او جمال کړو نعت خوان　　په ایمان باوی اقرار زاری و قربان

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دا مدینه منوره ده دلدار دلته کښے دے　　عاشقه ستا دَ زړه مرهم او قرار دلته کښے دے
چه دَ عدم تیاره په کړه رب العزة روښانه　　دَ هغے ښکلی محبوب ښکلے دربار دلته کښے دے
چه په جرګے دَ مرسلانو کښے صدر العلیٰ دے　　هغه محبوب دَ دواړو کونو سردار دلته کښے دے
عاشقه راشه که سودا کړے دَ محبوب دَ مینے　　دَ عاشقانو دَ محبوب کرم بازار دلته کښے دے
په صد هزار فردوسه هرے یو غنچه کښے لری　　دَ محمد مصطفیٰ ښکلے ګلزار دلته کښے دے
چه نے رڼا دَ جمال عرش نه پورته ډیره تلے　　دغه محبوب دَ دا سے ښکلے رخسار دلته کښے دے
چه واجبیږی شفاعت په دَ عاشق دَ پاره　　هغه په نور منور ښکلے مزار دلته کښے دے
خاورو دَ خپو نه به کے دواړه کونه زار کړو الله　　دومره پما باندے دَ عشق حقدار دلته کښے دے
چه نے مسیح هم جوندے شوید پردم دَ شفا　　هغه طبیب دَ هر زخمی او بیمار دلته کښے دے

په **محمد امین** ځه لوئے فضل وکرم دے دَ رب
سره دَ ډیرے ملامتے دا خوار دلته کښے دے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مدینه روښانه ده سبحان الله　　زیبا عالیشانه ده سبحان الله
منبع دَ انوارو دا پاکه مدینه　　دَ مخ له جانانه ده سبحان الله
هزار ګل عاشق تر زیباله فردوسه　　دَ رب له احسانه ده سبحان الله
په خاطر دَ محبوب تر دواړو جهانو　　په ما ډیره ګرانه ده سبحان الله
مدینه رم خوره ښه تر کل جنتونو　　له صدق وله ایمانه ده سبحان الله
مقصد رم دلے کښے رضا دَ خاوند خپل　　په دواړه جهانه ده سبحان الله
الله ستا رضا دَ محبوب په ډیر پاک مخ　　ما غوختے له تانه ده سبحان الله
جنت کښے مقبوله دُعا په یقین　　له پاکه سبحانه ده سبحان الله

محمد امینه سینه دِ خوشبویه
له دِ ګلستانه ده سبحان الله

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مدینه ډیره زیبا سبحان الله　　ده په نوری دَ دلربا سبحان الله

مدینه منوره ده ډیره ښکلے　　ده په نوری ذره ذره نے ځلیدلے
هغه بوئے دَ چه نے په صدق ده لیدلے　　ور پسے کوی جړا سبحان الله
چه نے په مخ روښانه کړے رب عدم دے　　جلوه ګر پکښے مختار دَ کل عالم دے
اَنْ په عرش باندے پاس ایخے قدم دے　　دے اشرف الانبیا سبحان الله
دواړه کونه به قربان کړم او نثار　　دَ محبوب ډیر محترم تر پاک پیزار
ګران پما کړو خپل رب دومره خپل دلدار　　محترم شمس الضحیٰ سبحان الله
مدینه منوره کښے چه اوسیږم　　دَ دے لوئے نعمت په شکر نه توانیږم
رب ته سپارمه شکر و نه اوجریږم　　زه عاجز فقیر ګدا سبحان الله
ربّنا مولا بوجهک الکریم　　کبریا مولا بوجهک الکریم
ابدا مولا بوجهک الکریم　　کړے نصیب رم دا صدا سبحان الله
دَ عشاقو دَ زخمی زړونو مرهم　　دلته شته دے په مولا خورمه قسم
دَ خاوند رب العزة فضل وکرم　　مدینه کښے دے بیا بیا سبحان الله
عفوه غواړی خپل کریم رب العزة　　له ادب تعظیم حیا دَ پاک حضرته

محمد امین ذلیل خوار ملامته
بینوا او وار خطا سبحان الله

بسم الله الرحمٰن الرحیم

رب العزة کړو ستا په مخ عدم روښان محبوبه　　زه در قربان محبوبه
په در دَ رب العزة نے بے حده ګران محبوبه　　زه در قربان محبوبه
دواړه جهانه به قربان کړم ستا له خاکِ قدم　　په خپل مولا رم قسم
دومره رم خوښ نے په باوی او په ایمان محبوبه　　زه در قربان محبوبه
که رم ذرے دَ کائنات روحونه شی هر نَفَس　　دغه ایمان لرم بس
لمحه لمحه اَنْ ترابده په هر آن محبوبه　　زه در قربان محبوبه
که رم دا دواړه کونه زر واړے دفتر کړی مولا　　ګدا له نے ور کړی مولا
ګدا به نے کړی فدا هم تا نه خپل جانان محبوبه　　زه در قربان محبوبه
دَ خپل رب العزة دَ لوئے علم په شمار تر ابد　　شه در نثار تر ابد
دَ دواړو کونو نعمتونه عالیشان محبوبه　　زه در قربان محبوبه

بِلّٰه شیئًا له جماله دَ تُرخسار مبارک   له خپل دیدار مبارک
رب مو سیراب کړه ستا له بحرهٔ دَفیضان محبوبه   زه در قربان محبوبه
خوار محمدامین جنت کښے ستا نعتونه لیکی   مناجاتونه لیکی
رب دِ ئے نصیب کړی په عقبیٰ کښے هم دا شان محبوبه   زه در قربان محبوبه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

کل ژوندون ځما هم ستا رضا دَپاره   نه لوے مولا هم ستا رضا دَ پاره
په عزت او شرافت دَ ذاتِ پاک خپل   په بے حده لوئ عظمت دَ ذات پاک خپل
په بے حده لوئے رفعت دَ ذاتِ پاک خپل   کړے ځما وینا هم ستا رضا دَ پاره
که هر څومره زه نااهله خوار ذلیل یم   درمانده او شکسته لاچار ذلیل یم
دیره خپله ربه په بار بار ذلیل یم   خو کوم دُعا هم ستا رضا دَ پاره
په عظمت باندے دَ ذاتِ مقدس ستا   په عزت باندے دَ ذاتِ مقدس ستا
شرافت باندِ دَ ذاتِ مقدس ستا   غوارم ستا عطا هم ستا رضا دَپاره
ستا دَ علم په لوئے شمار تا ته سپارمه   ستا دَ علم په تکرار تا ته سپارمه
دَ ازل نه په بار بار تا ته سپارمه   ستا شکر و ثنا هم ستا رضا دَ پاره
دَ محمدؐ مصطفیٰ په وسیلے   دَ حضرت نور الهدیٰ په وسیلے
دَ اشرف الانبیا په وسیلے   کړے ځما ژړا هم ستا رضا دَ پاره
دَ جنت باغچه کښے تا یم کینه ولے   زار شم ستا تر احسان څومره دیر دے ښکلے
شکر یه ستا هرگز څوک نشی ویلے   هم تل سپارویتا هم ستا رضا دَپاره
ربنا رب العزته دیره خپله،   خپل احسان لرے په مونږه تل تر تله
تر ابده په هزاران هزار حمله   کوو سوال لتا هم ستا رضا دَپاره
په جنت کښے دَ محبوب نور الانوار   کړی سوالونه ستا دَ لوئ علم بشمار
محمدامین حقیر ذلیل لاچار   په ادب حیا هم ستا رضا دَ پاره

بسم الله الرحمٰن الرحیمؒ

ربنا تاله ثنا شکرونه تل تل   خپل مولا تاله ثنا شکرونه تل تل
چه لتا سره بنائیگی په کوم شان   ستا رضا په حاصلیگی په کوم شان

بے تا څوک په نهٔ توانیگی په کوم شان   کبریا تاله ثنا شکرونه تل تل
ستا دَ شکر او ثنا په برکت   ستا دَ شکر او ثنا په شرافت
ستا دَ شکر او ثنا په دیر عزت   ابدا تاله ثنا شکرونه تل تل
په عزت ستا دَ وجه الکریم خاونده   په حُرمت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په زینت ستا دَ وجه الکریم خاونده   له گدا تاله ثنا شکرونه تل تل
ستا دَ ذاتِ مقدس په جلال ربه   ستا دَ ذاتِ مقدس په جمال ربه
ستا دَ ذاتِ مقدس په کمال ربه   په بیا بیا تاله ثنا شکرونه تل تل
ستا دَ جمله احسانونو په آبرو   ستا دَ جمله صفتونو په ابرو
ستا دَ جمله خونومونو په ابرو   له فدا تاله ثنا شکرونه تل تل
په ابرو باندِ دَ وجه الکریم ستا   تجلّو باندِ دَ وجه الکریم ستا
په خوشبو باندِ دَ وجه الکریم ستا   ذو العلا تاله ثنا شکرونه تل تل
ستا دَ علم په لوئے شمار په ادبونو   ستا دَ علم په مقدار په تعظیمونو
ستا دَ علم په تکرار په تکریمونو   او حیا تاله ثنا شکرونه تل تل
په ابرو دَ پاک محمدؐ مصطفیٰ   په کل خو دَ پاک محمدؐ مصطفیٰ
په خوشبو دَ پاک محمدؐ مصطفیٰ   او وفا تاله ثنا شکرونه تل تل
دَ قرآن عظیم الشان په شرافت   دَ قرآن دَ حق بیان په فصاحت
دَ قرآن دَ هر احسان په شرافت   او ضیا تاله ثنا شکرونه تل تل
دَ محبوب دَ دے جنت په شرافت   دَ محبوب دَ دے قربت په شرافت
دَ محبوب دَ پاک زیارت په شرافت   آمنّا تاله ثنا شکرونه تل تل

محمدامین ذلیل حقیر او خوار،
ستا دَ علم په عزت حرمت او شمار

دَ ازل نه تر ابده په بار بار   وائی دا تاله ثنا شکرونه تل تل

بسم الله الرحمٰن الرحیمؒ

اے دلربا للّٰه شیئًا از جمالِ پاک تو   روحی فدا للّٰه شیئًا از جمالِ پاک تو
اے دلربا شمس الضحیٰ محبوب حق بدر الدجیٰ   نور الهدیٰ للّٰه شیئًا از جمالِ پاک تو
بر عزّتِ ذاتِ خدا بر عظمتِ ذاتِ خدا   بنما بما للّٰه شیئًا از جمالِ پاک تو

اے سیدِ ہر دو جہان اے مقتدائے مرسلان — خیر الورٰی للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
اے رحمۃ للعلمین اے اشرفِ کل مرسلین — اے مصطفٰی للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
اے اشرف و اکرم نبی اے اشفق ارحم نبی — اے مجتبٰی للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
اے جانِ من جانانِ من اے روح من ریحانِ من — شمس الضحٰی للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
اے بحرِ علم من لدن اے مظہر اسرار کُن ، — صدر العلٰی للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
با صلاۃ و ہم سلام بیحد عدد بر تو دوام — با صد حیا للہ شیئًا از جمالِ پاک تو
اے روئے تو بدرِ منیر اے بوئے تو مشکِ عبیر — جملہ وفا للہ شیئًا از جمالِ پاک تو

محبوبِ **محمد امین** حق الیقین حق الیقین ،
نورِ خُدا للہ شیئًا از جمال پاک تو

O

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

په مدینه منوره کښې چه ګدا اوسیګی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره ذَرب بنائیږی
که دَ عُلوی سُفلی عالم مبارکی ورکوی
دے خوار ګدا له دم په دم مبارکی ورکوی
ډیر مناسب دی دَرب فضل دے بیا بیا چه کیږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
رضوانه راشه ځما کور او ګوره ښومره ښکلے
دے چه په خوا کښې دَ محبوب م ډیر نږدے موندلے
دَ جملګی جهان قیمت م دَ کور نه ارزیګی
بیا بیا شکرو نه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
زهٔ چه کوسو کښې دَ محبوب خپل محترم ګرزمه
دا سے ګنړم جوړ په آسمان ګرمه قدم ګرزمه
خجل په دے یم چه په سترګوم تله نۀ توانیږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
قسم پخپل رب العزۃ که تلے په سترګو شولے

ښومره به ښه وو هغه ساعت که تلے په سترګو شولے
ګدا مضطر ذلیل حیران دے وس ئے نۀ رسیږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
ستا جنتونو نه قربان شم ډیر کرت رضوانه
خو دَ عشاقو په مذهب او په ملت رضوانه
ستا دَ جنت زینت ځما مسکن نه ډیر کمیږی
بیا بیا شکرو نه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
خوا ګه دوستان ماله بار بار مبارکی ډِ داکړی
دَرب دَ علم په لوئے شمار مبارکی ډِ راکړی
زړهٔ روح او سترګے م محبوب ته چه ورو جریږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
عاشقه راشه که سودا کړے دَ جانان دَ مینے
سر په جړا شه که سودا کړے دَ جانان دَ مینے
دَ ګرمو اوښو په قیمت باندِ ویړیا خرڅیږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی
خوار **محمد امین** جریږی په حضور دَ محبوب
که دوی دَ عشق شوق غرزیږی په حضور دَ محبوب
رب العزت خپل په رضا شه دا سودا چه کیږی
بیا بیا شکرونه چه لوئے شان سره دَرب بنائیږی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دا مدینه منوره موکړے نصیب خاونده — په پاک روښانه مخ دَ خپل محبوب حبیب خاونده
دَ ګناهونو مرضونه رانه لرے کړے کل — په شرافت دَ محمد محبوب طبیب خاونده
په دِ کوسو کښې محبوب ښکلی قدمونه ایخی — عاشق له ورکړے پکښې ذوق شارِ مجیبا خاونده
خاوندکریما تا په دِ دُنیا جنت راکړلو — ډیر دِ پخپل احسان محبوب ته کړم قریب خاونده
ته په عقبیٰ موهم جنت او هم قربت کړِ نصیب — مجیب السائلین مولا کریم مجیب خاونده

ستا حمد و شکر چه لتا سره بنائیگی مولا — ادا به ئې نکړی د عالم هیڅ یو ادیب خاونده
بس تا ته سپارو ستا د علم په لوئې شمار ترابد — په مناسب ستا د ادا او د ترتیب خاونده
رب العزته په جنت کښې چه نعتونه لیکم — سوزرم نصیب کړې د فردوس د عندلیب خاونده

رضا لقا خپله نصیب کړې د محبوب په خاطر
د **محمد امین** ذلیل عاجز غریب خاونده

بسم الله الرحمن الرحیم

ربنا رب العزته — خپل مولا رب العزته
تا له شکر ثنا تل تل — په بیا بیا رب العزته
د ازل نه تر ابده — کبریا رب العزته
ستا د علم په لوئې شمار — ابدا رب العزته
چه لتا سره بنائیږی — په رښتیا رب العزته
په هغې شان و تعظیم — او حیا رب العزته
په ادب عشق و محبت — په جرا رب العزته
په خاطر د دې محبوب — مصطفیٰ رب العزته
کړې قبول جمله سوالونه — او دعا رب العزته
ته مجیب السائلین ئې — په حقًا رب العزته
خصوصًا بیا په جنت کښې — امنًا رب العزته
ورکوې څوک چه څه غواړی — ذو العلا رب العزته
مونږ جنت کښې تا نه غواړو — رضا ستا رب العزته
ستا د علم په لوئې شمار — هم لتا رب العزته،
په عزت ستا د ذات پاک — او وفا رب العزته،
ستا د ذاتِ مقدس په — شان اعلیٰ رب العزته
ستا د جمله صفتونو — په ضیا رب العزته
بس رضا شې له مونږ خوارو — خپل اعلیٰ رب العزته
مکرر دِ دغه سوال وی — تل څما رب العزته
ستا د علم په لوئې شمار تل — د ګدا رب العزته

څونږ جمله مرادونه — مُدعا رب العزته
بس ته ئې قسم پتا دے — صدقنا رب العزته
ستا د علم په لوئې شمار — بې پروا رب العزته
په ډیر عجز او ادب ده، — دا وینا رب العزته
ته سره د کل دوستانو — د عقبیٰ رب العزته
محمد امین فقیر نه — شې رضا رب العزته

○

بسم الله الرحمن الرحیم

د یوولسم شعبان په شپه د ماښام د ماښام نه پس حضرت محترم مولانا صاحب پخپله څونږ کور مبارک ته تشریف راوړو۔ او د ډیر عزت او شرافت په انداز خپل ئې مونږ ته دعوت راکړو چه تاسو به صباله ما سره "وادی عقیق" ته ځئ۔ او محبوب انور صلی الله علیه وسلم دې ډیر غټ ځائې ته تشریف وړلو۔ خصوصًا چه به سیل یعنې سیلاب راغې به دغه خوړ کښې۔ صباله د هغوئ د کور مبارک نه په موټر کښې لس کسان سواره شو درے کسه مونږ وو۔ ما سره خپل یو ملګرے حاجی صاحب "ظاهرالله" وو۔ او بل یو پاکیزه او مقتدا دوست د رب العزة جل جلاله خلیفه صاحب "عبد الغفور" د قندهار چه د ډیرو ورزونه څونږ خوراک او نورے ډیرے پاکے معاملے شریکے دی۔ او نور ملګری د حضرت مولانا صاحب وو۔ سره د سامانِ لنګر نه کچه غرمه وادی مبارک ته اورسیدو۔ د خوړ مبارک په یو جود ځائې کښې چه تخمینًا لس جریبه حد کښې به او به ولاړې۔ د هغې په کناره په پستو شګو کښې مو سامان خور کړو۔ او لنګر د حضرت مولانا صاحب هم باندې شو۔ نور چه کومه نظاره د محبوبِ انور صلی الله علیه وسلم په تعلق دغه ځائې وه۔ هغه بیان کښې نه راځي۔ رب العزة جل جلاله دِ پورے رضا شی۔

دا بیتونه دِ عاجز د هغه خوړ د او بو په کناره جوړ کړه۔ د ما سپخین مانځه امامت حضرت مولانا صاحب اوکړو۔ اګرچه ما ترے ډیر

اوفرمائیل، لیکن ما دَادب له وجې نه معافی اوغوښته. او دَ ماز یګر مونځ بیا دې عاجز ورانږ امامت اوکړو- او دَ ماښام مونځ مو حرم شریف ته بیاپه موټر کښې ښه په وخت را اورسولو. ما شاء الله لاحول و لا قوة الا بالله العلی العظیم۞

بسم الله الرحمٰن الرحیم۞



دا مدینه منوره ده دَ محبوبِ شفیق،
لږ شان باهر نمر پریواته ته دے وادی دَ عقیق

دَ مدینې منورے نه راوتلی یو نن
وادی عقیق ته مولانا سره راغلی یو نن
په پیرَوۍ دَ خپل محبوب او حبیب ښکلی یو نن
هغوئ تشریف دلته راوړو په تفکّرِ عمیق

دلته محبوب پاک نظاره به دَ قدرت کوله
معامله به ئې والله دَ محبّت کوله
پیشه به ئې دلته دَ شهود دَ عبادت کوله
هغوئ به وو دلته په مینه کښې دَاعلیٰ رفیق

دلته کښې خوږ دے دَ اوبو ښکنې اوبه دَ سیلاب
ښکلے ولاړے دی په مثل دَکوثر دَ تالاب
رب العزة مو په اوبو دَ معرفت کړه سیراب
په شرافت دَ دے اوبو دَ دے تالابِ انیق

نمر پریواته ته دَ وادی عجیبه ښکلے غرونه
ولاړه ولاړه په کانړو بوټو کښې ئې دَنور موجونه
دی آئینې دَ معرفت له عجیبه مضمونه
هر مسلمان شه پرے دَ اور دَ جهنّم نه عتیق

دلته چه دے کوم حقیقت څوک ئې ویلے نه شی
په کل جهان کښې ئې مثال چرته موندلے نه شی
دا سے به بل وادی په کل عالم کښې ښکلے نه شی
رب مو هادی شه دَ صراط المستقیم دَ طریق

دَ مدینې منورے ماحول جمله انوار دی
چه په قُربت کښې دَ محبوب حبیب حضرتؐ مختار دی
رب دِ نصیب کړی دَ هر چا په زړهٔ چه دا اسرار دی
وی مبارک دِ دا انوار دَ هر صادق او صدیق

رب العزته په آبرو دَ خپل ذاتِ قدیم
په شرافت عزت حرمت دَ خپل وجه الکریم
په دِوا دی کښې مو نصیب کړے ستا دَ فیضِ شمیم
سره دَ ښکلی جام مختوم دَ شرابِ رحیق

شکر ثنا رب العزته ستا دَ علم په شمار
تا ته سپارو اَنۡ دَ ازل نه تر ابده بار بار
چه دِ لائق کړو مونږ دے ښکلے محبوب دَ دِیار
هره ذره ئې نورانی ده په نظر دَ تحقیق

حضرت مولانا مقتدی محترم عبد الغفور
دَ لنګری سامان سره په ډیر اخلاص او سرور
کړو مشرف ئې مونږ دَ دے وادی روښانه په نور
شه ئې نصیب دا خپل کرم او هم دا خُلق خلیق

هزار هزار وارے مشرب دَ عاشقئ نه زار شم
په دے مذهب زار دے وادی نه تر ابد بار بار شم
زار تر دَ علم مبارک دَ پاک الله په شمار شم
زهٔ **محمد امین** ډیر یم په ګناهونو غریق

بسم الله الرحمٰن الرحیم۞

غواړو تا نه جماعتِ ناجیه رب العزته تل روښانه جماعتِ ناجیه رب العزته

وی دِ ستارضا دَپاره وي دِ ستا لقا دَپاره   عالیشانه جماعتِ ناجیه رب العزته

پاک خدمت دَدین دَپاره لرے تل ربه تیاره   فیض رسانه جماعتِ ناجیه رب العزته

تانه غواړو په جنت کښے دیره بنکلے به عزت کښے   جاودانه جماعتِ ناجیه رب العزته

دَشرعی ژوندون جمال کښے لرے حُسن او کمال کښے   خپل سبحانه جماعت ناجیه رب العزته

چه خلافِ وی له قرآن کړے به امن پُر امان   دے بلانه جماعتِ ناجیه رب العزته

بس دینی خدمت دَپاره لرے هر وخت تیاره   پهلوانه جماعتِ ناجیه رب العزته

همیشه لرے قربان پخپل فضل او احسان   له قرانه جماعتِ ناجیه رب العزته

محمدامین دیر خوار غواړی ستا په پاک دربار

هم لتانه جماعتِ ناجیه رب العزته

بسم الله الرحمٰن الرحیم

داستارضا سبحانه بوجهک الکریم   تل غواړو مونږ لتانه بوجهک الکریم

لمحه لمحه باربار، دَعلم ستا په شمار   رضا ستا او دیدار مونږ غواړو په تکرار

خاونده مستغانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

رضا لقا ستا ربه په دیر ادب تعظیم   تل غواړمه یاربه په ذوق و شوق تکریم

رحیمه او رحمانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

ستا حمد او شکرونه چه بنائی ستاله شانه   هم تابانِ سپارونه هم ستاله فیض احسانه

کریمه مهربانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

ذرے دَکائنات که په هر نفس روحونه   څماکړے خپله ربه پتامِ قسمونه

لوئے ستاله رضانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

داجمله ستا کرم دے داجمله ستا احسان دے   چه دغه مِ اقرار دے چه دغه مِ ایمان دے

مولا عظیم الشانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

روضے کښے دَجنت دَپاک حبیب حضرت   کوم درته سوالونه په عجز او ذلت

زهٔ خوار عاجز ناتوانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

زهٔ دیر فقیر او خوار ذلیل عاجز لاچار   رضا لقا دِ غواړم دَعلم ستا په شمار

له سوز و عشق حیانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

روضے کښے دَجنت **محمدامین** جاړی   په مخ دَخپل محبوب رضا او لقا غواړی

خاونده عالیشانه بوجهک الکریم   داستارضا سبحانه بوجهک الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دام ایمان دام باور محمدی یمه زهٔ   دام په روح او په جگر محمدی یمه زه

دومره مین زه العزة پخپل جانان کرم والله   چه عزتونه به دَدوی کونو قربان کرم والله

دَخپل محبوب په بنکلی در محمدی یمه زهٔ   دام ایمان دام باور محمدی یمه زهٔ

هم دَمحبوب په وسیلے هم دَمحبوب په شرف   په څنکدن کښے مِ نصیب شه دَمحبوب په طرف

دَاُمید ولو دَک نظر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

دام دعوه دام اقرار دام ایمان دے ربه   دام ارزو دا تمنا دام ارمان دے ربه

له صد قه وایم دا خبر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

هزار هزار فردوسه هر خم دَزلفانو کښے ئے   منم اول زه په جرگے دَفدایانو کښے ئے

هسے شیدا په مخ انور محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

ابرو دَجملکی عالم به دَمحبوب پا نزار نه   کرم قربانی دَعاشقئے او صداقت روزه رنه

هسے شیدا فدا مضطر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زِه

صلاة سلام دَرب دَلوئے علم په شمار با ندِ تل   ازل نه تر ابد حیا ادب وقار باندے تل

وایم په شوق شام و سحر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

هزار هزار فردوسه زار کړم دَمحبوب تر جنت   هزار هزار فردوسه زار کړم دَمحبوب تر قربت

هسے له عشقه با خبر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

روزِ ازل نه دَرب العزة په فضل و کرم   دومره اول نه در رب العزة په فضل و کرم

مکتوب دَعشق په دفتر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

زهٔ محمدامین که هر څومره ذلیل او خوار یم   دَخپل رب العزة له فضله خوخ په دے گردایم

دیر وارے تیر له مال و سر محمدی یمه زه   دام ایمان دام باور محمدی یمه زه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دامدینه منوره ده دلبر دلته کښے دے   مرهم عاشقه ستا دَزړهٔ دَپرهر دلته کښے دے

چه ئے په مخ باندِ روښان دواړه جهانه کړه رب   هغه نور الانوار او نور البصر دلته کښے دے

چه عرش ته پورته ئے په لامکان وصال شو نصیب   دغه واصل دَرب محبوبِ اکبر دلته کښے دے

اعاشقه راشه رب درا وله دَعشق په رنړا   دَعاشقئے دَفلک شمس و قمر دلته کښے دے

خاورو د دربنے و الله دوارے جهانه زالا کرم   دو مرکے بیا کړاخ الخپلے وح اوځکرد لته کښې دے
په دکوسو کښے محبوب بشکلی قد مو اېښې   د جبرائیل غوند په فخر نو کرد لته کښې دے
رضا لقا چه حاصلیږی په درب العزة   هغه صاحب د شریعت نامور د لته کښې دے
چه واجبیږی په شید اله شفاعت د محبوب   هغه زیارت پاک د محبوب انور د لته کښې دے
که دی په دے دنیا جنت کښے اوسیدل پکاروی   هغه جنت په مینځ د بیت او ممبر د لته کښې دے

د رب د علم بشمار تل دی مبارک وی در ته
خوار **محمد امین** ذلیل او مضطر د لته کښې دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

ستا له حمد و شکره خپل مولا زه درماندہ یمه   ډیر عاجز بنده یمه
کوزے ستر ګے تا ته خوار ذلیل او شرمنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
خپل رب العزته شم قربان ستا له عزت څخه   او ستا له عظمت څخه
ډیر تا ته خجل حقیر ذلیل لمن لنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
بس ته هم هغه ئے چه ته ئے خپل اعلیٰ شان ربه   ستا په توان احسان ربه
زه د پلار له شانه ستا په پاک امر زنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
اِرحم و اکرم خاونده لوئے دی کرمونه دی   لوئے دی احسانونه دی
نور تا ته معلوم دی چه زه خوار خوم ګنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
حال ویلے نه شم د مخلوق نه دی شرمیګمه   بس تا ته جړیګمه
ستا پردے نه زار شم ستا مخلوق ته تا بنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ رَبَّنَا اَنْتَ خَیْرُ الرَّاحِمِیْنَ   اَنْتَ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ
ستا د علم شمار باندی خاونده خوانده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
چرته مدینه منوره چرته جنت ربه   د محبوب قربت ربه
ستا فضل و احسان دے ستا په فضل یا بنده یمه   ډیر عاجز بنده یمه
زه خوار **محمد امین** ذلیل خجل احقر یمه   نا قرار مضطر یمه
ستا رضا لقا بس په توفیق ستا جوینده یمه   ډیر عاجز بنده یمه

بسم الله الرحمن الرحیم

ډیر بے شانه خپل کریم رب العزته   مهربانه خپل کریم رب العزته

ستا د لوئے مبارک علم بشمار   ستا رضا او لقا ستا په پاکه دربار
د ازل نه تر ابده په بار بار   غواړو تا نه خپل کریم رب العزته
ته رضا شے په جمال د رضا خپلے   په جلال کمال وصال د رضا خپلے
کړے قبول مو د سوال د رضا خپلے   مستعانه خپل کریم رب العزته
په عزت ستا د پاک ذاتِ مقدس   په عظمت ستا د پاک ذاتِ مقدس
په رفعت ستا د پاک ذاتِ مقدس   اعلیٰ شانه خپل کریم رب العزته
په لذت ستا د رضا او د لقا   په عزت ستا د رضا او د لقا
په وصلت ستا د رضا او د لقا   له بنه شانه خپل کریم رب العزته
ستا رضا او لقا غواړو په باربار   ستا د لوئے او بے انداز علم بشمار
په ادب عجز حیا او انکسار   له ایمانه خپل کریم رب العزته
په ابرو د محمد محبوب رضا شے   په خوشبو د محمد محبوب رضا شے
په کل خو د محمد محبوب رضا شے   پاک سبحانه خپل کریم رب العزته
د هغه محبوب په پاک مخ کو سوال   چه ئے په لامکان نصیب دے ستا وصال
هم دا دواړه جهانونه ئے په جمال   شو تا بانه خپل کریم رب العزته
په عزت د دے جنت چه پکښے ناست یم   ستا رضا او ستا لقا تا نه په خواست یم
هم پته خورمه قسم چه په نیت راست یم   زه نا توانه خپل کریم رب العزته
ته مجیب السائلین ئے خپل خاونده   ته مجیب المضطرین ئے خپل خاونده
ته اَرحم الراحمین ئے خپل خاونده   له احسانه خپل کریم رب العزته
بل به ما پشان څوک نه وی خوار خجل   ملامت او شرمنده بار بار خجل
کوزے ستر ګے ډیر ذلیل لاچار خجل   پریشانه خپل کریم رب العزته
ربه ته مو کړے په دین دنیا خوشحاله   د محبوب ډیر محترم خپل له جماله
د زړه کور مو د محبوب خپل له وصاله   کړے روښانه خپل کریم رب العزته
محمد امین فقیر عاجز ناتوان   بخپل فضل او کرم احسان فیضان
له زواله د ایمان   کړے په امان
فیض رسانه خپل کریم رب العزته

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اللہ کہرے سرفرازان دوستان حُما — کرے خوشحالہ پہ ایمان دوستان حُما
درضا او د لقا پہ جام سیراب کرے — پخپل فضل او احسان دوستان حُما
د شرعی جوندون عزت ئے کرے نصیب — تہ لرے ربہ نیکان دوستان حُما
مال و سر د لری ستا پہ نوان توفیق — پہ اسلام باندِ قربان دوستان حُما
پہ جنت کبنے ورلہ تا نہ دُعا غواہرم — لہ ھر زیان کرے پہ امان دوستان حُما
پہ ابرو د دے محبوب دیر محترم — تل تل اوسہ شریفان دوستان حُما
لہ ھر فسقہ لہ فجورہ ئے پہ امان کرے — تل پہ حق اوسہ روان دوستان حُما
ما خوار ھم کرے پہ دُعا د دوئے سیراب — اوسہ تل مھربانان دوستان حُما
توان توفیق ورلرہ تہ ورکرے خاوندہ — چہ ازاد کاندِ قرآن دوستان حُما
د اکتاب م کرے تحفہ د معرفت — پہ سیراب کرے تشنگان دوستان حُما
خاص و عام د دُنیا ھر نسبت کبنے شتہ دے — دی جملہ مسلمانان دوستان حُما

د محمد امین سوال قبول کرے ربہ
خان سرہ کرے واصلان دوستان حُما

بسم اللہ الرحمن الرحیم

د مدینے منورے لارو کوسو نہ قربان،
لارو کوسو کبنے ئے د تلو او د راتلو نہ قربان
پہ دے کوسو کبنے محبوب بنکلی قدمونہ ایخی
ھزار ھزار حُلہ ما کرے د دے خوشبو نہ قربان
د دواڑو کونو نعمتونہ د عاشق پر مذھب
د خپل محبوب حضور کبنے رو رو جریدونہ قربان
صبا بیگاہ چہ لاھوتی انوار رازی لہ پورتہ
خاوندہ ما کرے د انوارو وریدو نہ قربان
پہ صداقت چہ قربانیری عاشقان تر محبوب
ھزار ھزار حُلہ شم د دے قربانیدو نہ قربان
پہ مدینہ منورہ کبنے اوسیدل خاوندہ

خدٔ لوئے نعمت دے ما کرے د غو اوسیدو نہ قربان
د کل جھان سلطنتونہ د عُمرونو پہ ژوند
د دے ژوندون د دیرولبرو ورزو شپو نہ قربان
لیکم روضہ کبنے د جنت د خپل محبوب نعتونہ
د خپل قلم د دا سے بنکلی چلیدونہ قربان
ھر ځائے چہ دا نعتونہ څوک وائی پہ شوق د محبوب
شم لہ ھغو خوږو ویلو اوریدونہ قربان
خوار محمد امین پہ شمار د خپل مولا د علم
د خپل محبوب حرم کبنے خپلو کیناستو نہ قربان

بسم اللہ الرحمن الرحیم

د مدینے منورے درو دیوار نہ قربان — لارو کوسو کبنے ئے د عشق لہ رفتار نہ قربان
دواڑہ جھانہ چہ روبنا کڑہ مولا ور باندِ — د خپل محبوب د دا سے مخ نور الانوار نہ قربان
د مرسلانو د جرگے صدر العلےٰ محترم — شمس الضحیٰ بدر الدجیٰ محبوب رونددار نہ قربان
چہ جبرائیل غندے ئے کرے د خدمت پہ فخر — جملہ عالم کرم د دغہ بنکلی دربار نہ قربان
کرم ذرے د کائناتی ھر نفس روحونہ — قسم پہ رب د خپل محبوب د پاک خسانہ قربان
د مدینے منورے جوندون خہ لوئے نعمت دے — د دے جوندون د ھر سکون او د قرار نہ قربان
عاشقہ راشہ کرہ سو د کوے د یار د مینے — جملہ عالم د عاشقئے کرم بازار نہ قربان
قسم پخپل رب العزۃ جملہ جھان بہ زر ځل — کرم پخاطر د خپل محبوب د دہ پاڼر ارنہ قربان
جنت کبنے ناست بہ لیکمہ د محبوب نعتونہ — د عاشقئے د دے لیکلو کردار نہ قربان

خوار محمد امین د خپل مولا د علم پہ شمار
شم د حرم د خپل محبوب گرد و غبار نہ قربان
اللّٰھم صل علیٰ محمد و آلہ و عترتہ بعدد کل معلوم لک

بسم اللہ الرحمن الرحیم

سبحان اللہ تا تہ سپارلے خپل مولا خاوندہ — یو ځلے خہ ھزار ھزار ځلے بیا بیا خاوندہ

ته چه کوې خوندونه هم هغه کوي پتام قسم — تاله شکرونه او حمدونه او ثنا خاونده
ستا دَلوئے علم په لوئے شمار لمحه لمحه تر ابد — په ډیر تعظیم ادب رضا ستا په قضا خاونده
فیضان الله کړے بهریاب له خپل فیضانه ئے — په وسیلے دَ خپل محبوب پاک مصطفیٰ خاونده
عرفان الله نه معرفت ورکړے په رخ دَ محبوب — کړے په مسند دَ معرفت ئے مقتدا خاونده
حمد الله دَ خپل حمد او ثنا دَ پاره — په دواړو کونو سربالا کړے کبریا خاونده
مدح الله کړے دَ خپلے مداحۍ په شرف — دَلوئے عزت خاوند په دین ئے کړے فدا خاونده
حسبنا الله له ته کافي شے په خدمت دَ اسلام — ته کلمه دَ حق کړے ده باندِ اعلیٰ خاونده
دَ المجاهد ابا د جمله اهلِ بیت فدا کړے — په دین دَ خپل محبوب حضرت نور الهدیٰ خاونده
ساکنان جمله که درون او که بیرون او سیکي — کړے ئے نصیب خپله رضا خپله لقا خاونده

جمله دوستان بلکه مسلمان خپل رونړه
دَ **محمد امین** منظور شه په درستا خاونده

بسم الله الرحمن الرحیم

اے خما خپله جانانه، وسیله دِ رب نصیب کړه
ډیر په درد دَ الله گرانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
اے خما خپله محبوبه ۔ اے خما خپله مطلوبه
اے صدر العلیٰ سلطانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
بحر دَ انوار الله ئے ۔ معدن دَ اسرار الله ئے
خپل محبوبه عالیشانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
په لوئے شمار دَ رب دَ علم ۔ په تکرار دَ رب دَ علم
په ادب حیا بے شانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
په جنت کښے کړم سوالونه ۔ ستا قربت کښے کړم سوالونه
زهٔ عاجز خوار ناتوانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
په عزت دَ رب دَ پاک ذات ۔ په عظمت دَ رب دَ پاک ذات
خپل محبوبه مهربانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
چه لتا سره خائیږی ۔ پاک الله پرے راضي کیږی


له هغے عظیم احسانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
په وجه الکریم دَ خپل رب ۔ په عزت قدیم دَ خپل رب
اے خما روحه ریحانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
ستا دَ وصل په غوښتلو ۔ دَ عشاقو په ژړلو
له ادب عشق و حیانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه
مدینه منوره کښے ، دَ جنت بنګلے روضه کښے
محمد امین گویانه ۔ وسیله دِ رب نصیب کړه

بسم الله الرحمن الرحیم

خپل دلداره شه نصیب دِ وسیله — په بار باره شه نصیب دِ وسیله
دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار — په ادب جړا تعظیم حیا وقار
رب نه سوال کړم زهٔ عاجز ذلیل لاچار — اے مختاره شه نصیب دِ وسیله
دَ ازل نه تر ابده بار بار بیا بیا — دَ رب العزة دَ علم په شمار بیا بیا
په جنت کښے کوم سوال زهٔ لاچار بیا بیا — خپل رونړداره شه نصیب دِ وسیله
په عزت دَ رب دَ ذاتِ مقدس — په عظمت دَ رب دَ ذاتِ مقدس
په حرمت دَ رب دَ ذاتِ مقدس — په بار باره شه نصیب دِ وسیله
په عزت دَ خپل رب العزة محبوبه — په عظمت دَ خپل رب العزة محبوبه
په رفعت دَ خپل رب العزة محبوبه — زیات له شماره شه نصیب دِ وسیله
دَ نبیانو دَ محفل شمعه دَ نور ئے — په نبیانو کښے افضل شمعه دَ نور ئے
هم آخر او هم اول شمعه دَ نور ئے — پاک رخساره شه نصیب دِ وسیله
دَ حیانه روغے سترگے کړه راپورته — یو ځل او گوره دَ خوار خپل گدا لورته
دَ وصال او به کړه توئے دَ هجران اورته — رب دَ پاره شه نصیب دِ وسیله

مات کچکول کښے **محمد امین** گدا
غواړی خیر په عاجزئ بهرِ خدا
رب خوئے مکړه ستاله دره بے نوا،
خوار لاچاره شه نصیب دِ وسیله

سُبحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُونَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝



الحمد للّٰه تعالیٰ کماهو اهلهٗ ویحب ویرضیٰ.

نن په ورځ د جُمعې ۱۴، شعبان المعظم ۱۳۷۶ھ پس له ماښځه دَجُمعې نه دا حصه اوله دَکتاب په روضة الجنة کښې متصل پنجرے مبارکے پورے په میان دَ "اُسطوانة سریر" او "اُسطوانة عرس" کښې ختمه شوه.

ماشاءَ الله لاحول و لا قوة الا بالله العلی العظیم ط فی کل لمحةٍ ونَفَسٍ و طرفةٍ ولحظةٍ و حین عدد ما فی علم الله تعالیٰ وبقدر عظمة و عزة و شرافة ذات الله الحق المقدس و جمیع صفاته واسمائه الحسنیٰ کماهواهله ویحب ویرضیٰ وهو ذوالجلال و الاکرام ط

محمّد امین عفی عنه
بقلم خود

هُوَالرَّحمٰن

دویم حصه د کتاب



روضة الحبیب
صلی الله علیه وسلم

تصنیف

خادم الاسلام حاجی محمّد امین (مرحوم) عفی عنه المجاهد اباد (حاجی اباد)
ڈاکخانه عُمرزئی تحصیل چارسده ضلع پشاور (صوبه سرحد) پاکستان



نورانی کتب خانه قصه خوانی بازار
پشاور شهر



خپله الله الصمد ده. مونږ خوارانو نه رضا شے
مهربان په مونږ بے حده. مونږ خوارانو نه رضا شے

ډیر بے حده ګنهګار یم. ملامت او شرمسار یم
بس هم تا ته مو آسره ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

ستا دَ علم په لوئے شمار، دَ ازل نه په بار بار
ستا په دربار دا نعره ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

دَ محمدؐ مُصطفیٰ پاک، دَ حضرتؐ نور الهدیٰ پاک
مونږ نیولے وسیله ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

په عزت ستا دَ ذات پاک، په عظمت ستا دَ ذاتؐ پاک،
کبریا خاوند احد ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

په جلال ستا دَ ذات پاک. په جمال ستا دَ ذات پاک
چه بیرون دے له هر حده. مونږ خوارانو نه رضا شے

په لوئے شان دَ ذاتِ پاک خپل. په احسان دَ ذاتِ پاک خپل
چه عالم ورته ذره ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

په عزت دَ رضا خپلے. په لذت دَ رضا خپلے
مدعا مو چه دغه ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

ته په نوی دَ رضا خپلے. ته په نوی دَ لقا خپلے
چه بے حده ئے جلوه ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

ته په نوی دَ خپل جلال. ته په نور دَ خپل جمال،
چه ئے اعلیٰ ډیره پایه ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

دَ محبوب په شفاعت. دے روضه کښے دَ جنت
چه نزدے محبوب سره ده. مونږ خوارانو نه رضا شے

محمدؐ امین ډیر خوار. ستا دَ لوئے علم پشمار
تا ته سوال کړی تر آبده. مونږ خوارانو نه رضا شے

بسم الله الرحمن الرحیم

غواړو تا نه ستا رضا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم
عرض کوو جُمله دُعا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

ستا رضا او لقا غواړو. ستا په لوئے دربار کښے جاړو
که هر څو یو بینوا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

ستا رضا او لقا ی به. ستا احسان او عطا ربه
تا نه غواړو ابدا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

ستا رضا لقا خپل ربه. په جرا حیا خپل ی به
تا نه غواړو په بیا بیا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

چه لتا سره خائیږی. ستا رضا په حاصلیږی
غواړو دغه مدعا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

ربنا رب العزته، کبریا رب العزته
ستا رضا غواړو مولا مونږ، ستا په پاک وجه الکریم

دَ محبوب په شفاعت. دَ محبوب په شرافت
ستا رضا غواړو لتا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

ستا دَ علم په لوئے شمار. سپاروتا ته په بار بار
ستا شکرونه او ثنا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

اَرحَمُ الرَّاحِمِین ربه. مُجیبُ السَّائلین ی به
کوو جمکی دُعا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم

محمدؐ امین ډیر خوار. ستا رضا او ستا دیدار
وائی غواړو کبریا مونږ. ستا په پاک وجه الکریم



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

تا ته سپارو ستا شکرونه . په وجه الکریم ستا ربه
ستا ثنا ادب حمدونه . په وجه الکریم ستا ربه

د ازل نه په بار بار . ستا د لوئے علم په شمار
غواړو تل ستا احسانونه . په وجه الکریم ستا ربه

په لذت ستا د رضا تل . په عزت ستا د لقا تل
تا ته سپارو ادبونه . په وجه الکریم ستا ربه

په جلال ستا د ذات پاک . په جمال ستا د ذات پاک
شته مو ټول کل ارمانونه . په وجه الکریم ستا ربه

ستا کرم ډیر دے بے حده . خپله اَللّٰهُ الصَّمَد ه
شه په مونږ ستا کرمونه . په وجه الکریم ستا ربه

صد هزار هزار عالمه . ستا د بحر له کرمه
یو قطره ده قسمونه . په وجه الکریم ستا ربه

تا ته سپارو په بار بار . ستا د لوئے علم په شمار
ستا په مونږ ده رحمتونه . په وجه الکریم ستا ربه

په ابرو د خپل محبوب . په کل خو د خپل محبوب
شه نصیب مو کل خیرونه . په وجه الکریم ستا ربه

د محبوب په شرافت . د محبوب په سعادت
شه قبول مو کل سوالونه . په وجه الکریم ستا ربه

محمد امین ناتوان دے . ډیر بے وس او بے سامان دے
شه جوړ کل سامانونه . په وجه الکریم ستا ربه

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

په عزت د رضا خپلے ربنا مولا رضا شے   په لذت د لقا خپلے ربنا مولا رضا شے
د رضا په لوئے حرمت ستا د رضا په محبت ستا   په لوئے شان د عطا خپلے ربنا مولا رضا شے
په جلال د رضا خپلے په جمال د رضا خپلے   په قبول د دعا خپلے ربنا مولا رضا شے

په احسان د رضا خپلے په فیضان د رضا خپلے   په شرف د ثنا خپلے ربنا مولا رضا شے،
په لذت د خپل دیدار په عظمت د خپل دیدار   ته بے شانه حُما خپلے ربنا مولا رضا شے
بے لتا نلرم څوک بل بل مولا نلرم څوک بل   په قسم د گدا خپلے ربنا مولا رضا شے
په وجه الکریم خپل ربه په شان عظیم خپل ربه   د احسان په سودا خپلے ربنا مولا رضا شے
خپل عظیم کریم خاونده خپل قدیم کریم خاونده   په کرم او سخا خپلے ربنا مولا رضا شے
د محبوب په شرافت د محبوب په سعادت   د محبوب په حیا خپلے ربنا مولا رضا شے
د محبوب په ابروئی د محبوب په خوشبوئی   د محبوب په ضیا خپلے ربنا مولا رضا شے

محمد امین ناتوان . غواړی فضل او احسان
د احسان په منشا خپلے ربنا مولا رضا شے

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

خپل محبوب حبیب دلدار م محمد رسول اللہ دے
د زخمی زړګی قرار م محمد رسول اللہ دے

خپل محبوب حبیب جانان م عقیده دین و ایمان م
په باور او په اقرار م محمد رسول اللہ دے

چه ئے ننرا دواړه جهانه شوله ښکلی مخ تابانه
بس دغه نور الانوار م محمد رسول اللہ دے

مدینه منوره کښے مدینه مطهره کښے
جلوه گر په ډیر وقار م محمد رسول اللہ دے

چه مراد المشتاقین دے . رحمة للعالمین دے
دغه محترم مختار م محمد رسول اللہ دے

چه اشرف المرسلین دے مهبط جبریل امین دے
د جمله عالم سردار م محمد رسول اللہ دے

چه ذکر ئے رب قران دے . مونږ راوړے په ایمان دے
د جمله عالم رونړار م محمد رسول اللہ دے

د جرګے د مرسلانو مقتدا دے مؤمنانو

سنه د زړه بیمار م محمدؐ رسول الله دے
په جنت کښے دَ محبوب. په قربت کښے دَ محبوب
تن دَ عشق په کردار م محمدؐ رسول الله دے
محمد امین ناتوان. کړی له شوقه دا بیان
ګران دَ رب په لوئے دربار م محمدؐ رسول الله دے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا ظَلَمْتُ نَفْسِیْ — خپل خاونده کبریا ظلمت نفسی
اللهم ربنا رب العزته — خپل خاونده کبریا رب العزته
خائی تاله کل ثنا رب العزته — ستا په درکرم دا صدا ظلمتُ نفسِی
ستا دَ لوئے علم په شماران ترابده — په ډیر عجز انکسار ان ترابده
زهٔ عاجز ستا په دربار ان ترابده — ستر ګے ښکته یم ګویا ظلمت نفسی
دَ خپل ذاتِ مقدس په شرافت — دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عزت
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عظمت — ډیر احسان اوکړے پما ظلمتُ نفسی
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے جلال — دَ خپل ذاتِ مقدس په پاک جمال
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے کمال — ګناه اوبخے خما ظلمتُ نفسِی
دَ رضا او دَ لقا خپلے په نور — دَ احسان او دَ وفا خپلے په نور
دَ وفا او دَ حیا خپلے په نور — کړے نصیب م ستا رضا ظلمتُ نفسِی
په لوئے شان ستا دَ وجه الکریم خپل رب — په احسان ستا دَ وجه الکریم خپل رب
په فیضان ستا دَ وجه الکریم خپل رب — ما ته اوبخے خطا ظلمت نفسی
چه لتا سره خائیګی هغه اوکړے — چه لتا نه صادریګی هغه اوکړے
ستا رضا چه حاصلیګی هغه اوکړے — له ما خوار او بینوا ظلمت نفسی
دَ محبوب پاک مصطفٰی په وسیلے — دَ حضرت نورالهدٰی په وسیلے
دَ حضرت صدرالعلٰی په وسیلے — ډیر احسان اوکړے بیا بیا ظلمت نفسی
په روضه کښے دَ جنت دَ خپل محبوب — په ډیر ښکلی قربت دَ خپل محبوب
په احسان او شفاعت دَ خپل محبوب — عفوه غواړم تل لتا ظلمتُ نفسِی

محمد امین سره دَ کل دوستانو — عفوه غواړی په ابرو دَ کل نبیانو
خپله ربه دَ مجیب دَ سائلانو — خپله ربه اِرْحَمْنَا ظلمتُ نفسِی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دا اوریدل ویل غوښتل ربنا جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
بے تا څوک نشته خکته پورته جمله ظل دَ ربه — حقیقت ستا دے هر یو لور ته جمله ظل دَ ربه
دَ ائینے دَ مظهر اتو حقًا جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
پټیله وائے او هم اورے او پټیله غواړے — خپل ځان پټیله له ازله تل تر تله غواړے
دا خکته پورته په زمین او سما جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
کثرت هم ته وحدت هم ته شهود هم ته ئے ربه — عُلوی سفلی ته ئے عابد معبود هم ته ئے ربه
جلوه او جلوه ګر او جلوه نما جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
دِل او دلبر او دلربا تا ته ویل مزه که — تا هم لتا نه ستا په توان توفیق غوښتل مزه که
داعی دَ حُسن خپل مُعطی او دُعا جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
مونږ ته له مونږه هم نزدے ئے هم وراء الوراء — دا ما چه اووے زیات تر دے ئے هم وراء الوراء
دَ کائنات ذره ذره ده ګویا جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے
دا په جنت کښے محمد امین محبوب خپل سره — ناست په وصلت کښے محمد امین محبوب خپل سره
قسم پتا رب العزة کبریا جمله ته ئے — بے تا څوک نشته بس هم ته ئے مولا جمله ته ئے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم — په منزلت او شرافت دَ خپل محبوبِ کریم
په ابروئی او په حیا ادب وقار او کرم — په خوشبوئی او په وفا ادب وقار او کرم
په شان عظیم قدر و حرمت دَ خپل محبوب کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم
رب العزته دَ اشرف الانبیا په جمال — رب العزته دَ حضرت شمس الضحٰی په جمال
په مبارک ښکلی خصلت دَ خپل محبوبِ کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوب کریم
رب العزته ته دَ خپل محبوب انور په ضیا — دَ دواړو کونو دَ سردارِ نامور په ضیا
په ښکلی قدر و منزلت دَ خپل محبوبِ کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم

ستا رضا او ستا لقا دواړه مونصیب کړے ربه — ستا شکر او ستا ثنا دواړه مونصیب کړے ربه

په جملګی نعت وصفت دَ خپل محبوب کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم

رب العزته په عزت دَ خپل ذاتِ مقدس — رب العزته په عظمت دَ خپل ذاتِ مقدّس

په وسیلے او محبّت دَ خپل محبوبِ کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم

رب العزته په جلال دَ خپل ذاتِ مقدس — رب العزته په جمال دَ خپل ذاتِ مقدس

په لیاقت او سعادت دَ خپل محبوبِ کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم

رب العزته په لوئے شان دَ خپل ذاتِ مقدس — رب العزته په احسان دَ خپل ذاتِ مقدس

دَ لامکان په پاک وصلت دَ خپل محبوب کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوب کریم

رب العزته **محمّد امین** عاجز او لاچار — سره دَ جملګی دوستانو ستا رضا او دیدار

غواړی لتا په شفاعت دَ خپل محبوب کریم — رب العزته په عزت دَ خپل محبوبِ کریم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ مدینے منورے ډیره زیبا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

په شمار دَ علم دَ خپل پاک خاوند اعلیٰ محبوبه — زارشم لتا محبوبه

ستا مدینه منوره په ما بیشانه ګرانه — خپله زیبا جانانه

زه به وانخلمه پرے جنت السّوا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

زارشم لتانه دَ رب العزة دَ علم په شمار — دائم ایمان او اقرار

لمحه لمحه ازل نه ان تر ابدا محبوبه — زار شم لتا محبوبه

ستا دَ زلفانو په هرخم کښے صد هزار فردوسه — ښکلی نامدار فردوسه

ما ته ښکاریږی دَ خپل صدق په رنړا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

لله په لعلولبو یو ځلے خو بیا محبوبه — ډیر دَ ځنیا محبوبه

او کړه پُرسان له خپل فقیر عاجز ګدا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

رب دِ نصیب کړه وسیله دَ وسیلے حقدار ه — دَ رب له پاک دربار ه

دغه مِ سوال دے له ازل تر ابدا محبوبه — زار شم لتا محبوبه

دوا به مجهانه که هزار واره دفتر شی ځما — دغه باور شی ځما

ستا په ځنار به ځے لوګے کړمه بیا بیا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

کړم په هر نفس روحونه شی ذرے دَ عالم — په خپل مولام قسم

ستا په دربار به ځے بیا بیا کړمه فِدا محبوبهٔ — زارشم لتا محبوبه

ستا په دا ښکلی مخ مو سوال دے په دربارِ دَ خاوند — رضا دیدار دَ خاوند

شه مو نصیب خپل محترم نورالهدیٰ محبوبه — زارشم لتا محبوبه

خوار **محمّد امین** جنت کښے ستا نعتونه لیکی — مُناجاتونه لیکی

په مبارک ډیر مبارک ارشاد هم ستا محبوبه — زارشم لتا محبوبه

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَ الْمَلٰٓئِکَةُ وَ اُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ؕ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

شم لتا فِدا نصیب دِ وسیله شه — محبوبِ خُدا نصیب دِ وسیله شه

دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار — دَ ازل نه تر ابده په بار بار

دی سوالونه په ادب حیا تکرار — دَ خوار ګدا نصیب دِ وسیله شه

په عزت دَ رب دَ ذاتِ مقدس — په عظمت دَ رب دَ ذاتِ مقدس

په حرمت دَ رب دَ ذاتِ مقدس — کوم دا صدا نصیب دِ وسیله شه

په جلال دَ رب دَ ذاتِ کبریا — په جمال دَ رب دَ ذاتِ کبریا

په وصال دَ رب دَ ذاتِ کبریا — پاک مصطفیٰ نصیب دِ وسیله شه

په وجه الکریم دَ خپل رب العزة — په شانِ عظیم دَ خپل رب العزة

په ذاتِ قدیم دَ خپل رب العزة — اے له نُور پیدا نصیب دِ وسیله شه

چه دَ شان سره دَ رب العزة خائی — چه فیضان سره دَ رب العزة خائی

چه احسان سره دَ رب العزة خائی — په هغے اَدا نصیب دِ وسیله شه

ستا دَ پاره چه خوشبیږی دَ خاوند خپل — چه کرم سره خائیږی دَ خاوند خپل

چه رضا پرے حاصلیږی دَ خاوند خپل — په هغے سودا نصیب دِ وسیله شه

چه کریم خاوند په مونږ نه رضا کیږی — چه رحیم خاوند په مونږ نه رضا کیږی

چه عظیم خاوند په مونږ نه رضا کیږی — وایو تل تل دا نصیب دِ وسیله شه

دَ ذرو دَ کائناتو چه ژبو زړونو — دَ ذرو دَ ممکنات په ژبو زړونو

دَ ذرو دَ مخلوقات په ژبو زرونو   اوسه دا ښدا نصیب دِ وسیله شه
دَ رضا لقا دَ خپل رب په عزت   دَ رضا لقا دَ خپل رب په عظمت
دَ رضا لقا دَ خپل رب په لذت   اے نورُ الهدیٰ نصیب دِ وسیله شه
دَ رضا لقا دَ خپل رب په جلال   دَ رضا لقا دَ خپل رب په جمال
دَ رضا لقا دَ خپل رب په وصال   حفه مقتدا نصیب دِ وسیله شه
چه شکرونه په دَ پاک رب ادا کیږی   چه حمدونه په دَ پاک رب ادا کیږی
په هغے شان چه پرے خپل رب خوشحالیږی   ان ترابدا نصیب دِ وسیله شه
متصل پنجرے سره ستا په جنت کښے   خپل محبوبه تا ته ډیر نزدے قربت کښے
ستا دَ وصل مبارک نورانیت کښے   وایم سیّدا نصیب دِ وسیله شه
دَ رب العزة دَ لوئے علم پشمار   دَ **محمّد امین** خوار ایمان اقرار
دَ ازل نه ترابده په بار بار   یم پتا شیدا نصیب دِ وسیله شه

بسم الله الرحمٰن الرحیمہٖ

ستا له ډیر پاک مخ نور الانوار محبوبه   زار شم زار شم زار شم زار شم زار محبوبه
دوازه کونه خپل خاوند رب العزت   کړو پیدا او منور ستا په زینت
ښته ستا پشان دَ بل چا شرافت   دَ رب العزت په لوئے دربار محبوبه
چه له نوره ئے پیدا دی کل انوار   تجلّٰی ئے عرش ډیر پورته کړی رفتار
دغه ډیر مبارک ښکلے با وقار   دے هم ستا ډیر محترم رُخسار محبوبه
ملکوت کښے ستا دَ حُسن دورغگیږی   جبروت کښے ستا دَ حُسن دورغگیږی
په لاهوت کښے ستا دَ حُسن دورغگیږی   آفرین ستا په جمال بار بار محبوبه
بے نوا م مکره رب زِ کوے تو   لله شیئاً از جمال روئے تو
شه دماغ م معطّر ز بوئے تو   په شرف ستا دَ جمال رونډ ار محبوبه
ما ته دومره ئے محبوبه محترم   چه په دواړه کونه کرم لوئے قسم
ستا په در کښے تر ازله دم په دم   که په لاس کښے مِ شی اختیار محبوبه
حُما دِل او دلربا او جانان ته ئے   رب گواه دے چه م دین او ایمان تر ئے
تسلّم هم په ایمان و یه ان ت ر ئے   شه نصیب م دا بار اقرار محبوبه

وسیله دِ کړه نصیب رب العزت   دَ خپل پاک مخ په جمال او په زینت
هم په خپل عزت، حُرمت، او شرافت   اے دَ جملګی عالم سردار محبوبه
دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار   اَلصَّلوٰةُ وَالسَّلام پتا بار بار
په تعظیم ادب حیا او په وقار   اے دَ جملګی عالم مختار محبوبه
چه عطا په دَ رب العزة مونده شی   چه رضا په دَ رب العزة مونده شی
چه لقا په دَ رب العزة مونده شی   شم په هغه شان لتا نثار محبوبه
محمّد امین روضه کښے دَ جنّت   دَ خاوند کریم په فضل و عنایت
جوړوی نعتونه ستا په محبّت   شه قبول ئے ستا په مخ گفتار محبوبه

بِسۡــــــــمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

مدینے منورے نه قربان ربه   دَ جنّت پاکے روضے نه قربان ربه
گوزید لے پکښے حضرت محترم دے   هرے لار هرے کوسے نه قربان ربه
مدینه منوره په نور معمور ده   دَ محبوب دَ نورجلوے نه قربان ربه
آئینه ئے دَ عرفان هره ذره ده   ما ئے کړے هرے ذرے نه قربان ربه
ما ته لوړ دا دَ محبوب ښکلے گنبد   اَن دَ عرش دَ منارے نه قربان ربه
جنتونو نه م خوښه مدینه ده   دَ دے خپلے عقیدے نه قربان ربه
دَ محبوبِ محترم حرم ډیر ښکلے   شم بیا بیا ئے نظارے نه قربان ربه
دَ زیارت دَ شان بیان به څوک او نکړی   دا سے لوئے مرتبے نه قربان ربه
شفاعت په واجبیږی اُمتی له   دَ اُمت دِ نصیبے نه قربان ربه
دَ ممبر او بیت په منځ کښے چه جنت دے   زه ئے دِ ښکلے رُتبے نه قربان ربه
نن جنت کښے متصل پنجرے سره یم   دَ محبوب دَ دے پنجرے نه قربان ربه
دَ ازل نه دِ چه برسنه حُما دا کړه   زه دَ دے خپلے حصے نه قربان ربه
اهل بیت او اصحاب پکښے بے شانه   دَ جنت البقیع نه قربان ربه
دَ خالی په ورز قبا ته تله ډیر خوندکا   دَ ثوابه دَ عُمرے نه قربان ربه
دَ سیّد الشهدا حمزه صاحب رضی الله عنه   دَ زیارت دَ پلوشے نه قربان ربه
دَ اُحد دَ غره هم ښکلے واقعه ده   دَ جهاد دَ واقعے نه قربان ربه

قبلتين ته او هم خمسه مساجد ته — دَ حضور دَ ارادې نه قربان ربه
دا ليکل چه په ارشاد دَ خپل محبوب دی — دَ خپل خط هرې نُقطې نه قربان ربه
ستا دَ علم په لوئې شمار تا ته سپارلے — ستا دَ لوئې شکرې نه قربان ربه
چه رضا او لقا ستا په حاصليږي — دَ هغې هرې لحظې نه قربان ربه
ستا رضا او ستا لقا چه په غوښتې شي — دَ هغې هرې جُملې نه قربان ربه
ستا رضا او ستا لقا چه په مونده شي — دَ هغې هرې پيښې نه قربان ربه

محمّد امين په شمار دَ رب دَ علم،
ستا دَ هرې کرشمې نه قربان ربه

بسم الله الرحمٰن الرحيم

ربنا رب العزته شے رضا — کبريا رب العزته شے رضا
دَ خپل شانِ کبريا په لوئې عظمت — دَ خپل شان کبريا په جلالت
دَ خپل شانِ کبريا په لوئې عزت — ديرا اعلىٰ رب العزته شے رضا
دَ خپل ذاتِ کبريا په احسانونو — دَ خپل ذاتِ بے پروا په احسانونو
دَ خپل ذات بے حد اعلىٰ په احسانونو — او وفا رب العزته شے رضا
دَ رضا او لقا خپلے په جلال، — دَ رضا او لقا خپلے په جمال
دَ رضا او لقا خپلے په وصال — او ضيا رب العزته شے رضا
په عزت شرف دَ خپل وجه الکريم — په عظمت شرف دَ خپل وجه الکريم
په رفعت شرف دَ خپل وجه الکريم — خپل مولا رب العزته شے رضا
دَ خپل جُمله صفتونو په تعظيم — دَ جمله خپلو نومونو په تعظيم
دَ خپل جمله ادبونو په تعظيم — او حيا رب العزته شے رضا
دَ محمّدؐ مصطفىٰ په وسيلے — دَ محمّدؐ مجتبىٰ په وسيلے
دَ محمّدؐ مرتضىٰ په وسيلے — او عطا رب العزته شے رضا
دَ محمّدؐ مصطفىٰ په ابروئي — دَ محمّدؐ مصطفىٰ په نيکوئي
دَ محمّدؐ مُصطفىٰ په خوشبوئي — او سخا رب العزته شے رضا
دَ محمّدؐ مُصطفىٰ په شرافت — دَ محمّدؐ مصطفىٰ په پاک خصلت

دَ محمّدؐ مصطفىٰ په زيب زينت — او رنړا رب العزته شے رضا
دَ کرم درياب دِ ربه پلن بهيږي — يو ذره په ورکولو نه کميږي
چه له شان کبريا ستا سره خائيږي — له ګدا رب العزته شے رضا
که هزار هزار هزار هزار عالمه — بيا بيا نوي پيدا کوې له هره دمه
بس يو نَم دے ستا له بحره دکرمه — جمله دا رب العزته شے رضا
ته هم دومره ډير بے حده لرے کرم — ستا په ذاتِ مقدس خوړمه قسم
له ازله تر ابده دم په دم — په بيا بيا رب العزته شے رضا
په روضه کښې دَ جنت رب العزته — دَ محبوب په شفاعت رب العزته
ستا دَ علم په کرت رب العزته — کرم صدا رب العزته شے رضا
محمّد امين سره دَ خپل ذلت — ستا په توان او په توفيق او هدايت
ستا دَ علم په لوئې شمار په هر ساعت — دے ګويا رب العزته شے رضا

بسم الله الرحمٰن الرحيم

رب العزته خپله تا نه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
رحيم کريم قديم سبحانه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
رب العزته خپله تا نه ستا په وجه الکريم — ستا په لوئې شان عظيم
خپله خاونده مستعانه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
په هغه شان ادب حيا تعظيم چه بنائي تا له — خاونده ذا الجلاله
زه بينوا عاجز ناتوانه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
ته به هغه کوې چه تا سره خائيږي ربه — اُميد رم کيږي ربه
محرومه نه يم ستا عطا نه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
په شرافت عزت عظمت ستا دَ ذاتِ مقدس — دغه ايمان لرم بس
چه په ما خوارې مهربانه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
ستا دَ رضا او دَ لقا په لوئې عزت خاونده — دَ لوئې عظمت خاونده
رب العزته اعلىٰ شانه دَ جنت روضه کښې — رضا لقا دِ غوارم
دَ محمّدؐ محبوب په نور نور دَ ايمان غوارمه — نور دَ عرفان غوارمه

ظاهر باطن مې شه روښانه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم
دَ محمدؐ رسول الله محبوب په حُسن جمال　　ستا په دربار کوم سوال
قبول دا سوال کړې لږ کړه ما نه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم
په وسیلې او شرافت دَ دې محبوبِ کریم　　دَ دې رءوف الرحیم
په عاجزۍ یمه ګویانه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم
که صد هزار هزار عالمه مې دفتر کړې قسم　　زهٔ به ئې لتا زاره وُم
دارم اقرار دے له ایمانه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم
که مې ذرې دَ کائنات کړې هر نفس روحونه　　قادره بېچګونه
نثاره وُم به ئې منّانه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم
خوار محمد امین هم ستا په توان توفیق خاونده　　په ډېر تحقیق خاونده
قربانه وی ځان له جانانه دَجنت روضه کښې　　رضا لقا دِ غواړم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

نثارشم لتانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
اشرف او افضل دَ جمله مرسلانو　　اکرم او اکمل دَ جمله مرسلانو
محبوب دَ سبحانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
ته شمس الضحیٰ ئې ته بدر الدجیٰ ئې　　ته صدر العلیٰ ئې ته نور الهدیٰ ئې
دَ رب له احسانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
ثانی ستا په دواړو کونو نشته قسم　　خپل رب العزة کړه تیاره دَ عدم
په مخ ستا روښانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
په وجه الکریم دَ خاوند خپل کریم　　په شانِ عظیم دَ خاوند خپل رحیم
پرسان کړه ګدا نه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
الله خو مې مکړه محروم ستا له دره　　سرداره روندار ه محبوبه انوره
کریم عالیشانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
دَ رب العزة دَ لوئې عِلم په شمار　　کرم ستا له پاتزاره فِدا او نثار
دا دواړه جهانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه

یم ډېر اُمیدوار له خاوند خپل عظیمه　　چه ډېر خیر به راکړی محبوب کریمه
حضرت فیض رسانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
نصیب دِ وسیله کړه رب العزة خپل　　په حرمت دَ شانِ عظیم شرافت خپل
دَ عالم سلطانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه
محمد امین ستا په مخ کوی سوال　　رضا لقا غواړی دَ رب ذو الجلال،
دے ډېر پریشانه رءوف الرحیمه　　ځما خپل جانانه رءوف الرحیمه

بِسْمِ اللّٰهِ　الرَّحْمٰنِ　الرَّحِیْمِؕ

په روضه کښې دَ جنت، سوال کوم ربه رضا شې
دَ محبوب په شفاعت، سوال کوم ربه رضا شې

دَ ازل نه په بار بار، ستا دَ علم په لوئې شمار
په هزار عجز و ذلت، سوال کوم ربه رضا شې

چه لتا سره خائیګی، ستا رضا پرې حاصلیګی
په هغې شان دَ عزت، سوال کوم ربه رضا شې

ته مجیب السائلین ئې، ته مجیب المضطرین ئې
ستا دَ علم په کرت، سوال کوم ربه رضا شې

په وجه الکریم ستا ربه، په شانِ عظیم ستا ربه
ستا په بے حده عظمت، سوال کوم ربه رضا شې

ستا په بے حده احسان، ستا په بے حده فیضان
ستا په فضل و عنایت، سوال کوم ربه رضا شې

په ابرو دَ محمدؐ پاک، په خوشبو دَ محمدؐ پاک
دَ محبوب په خوئې عادت، سوال کوم ربه رضا شې

دَ محبوب حبیب روندار، دَ زیبا ښکلی رخسار
په جمال حُسن و زینت، سوال کوم ربه رضا شې

ستا دَ جُمله صفتونو، ستا دَ جمله خو نومونو
په عزت او شرافت، سوال کوم ربه رضا شې

دَ رضا ستا په جمال، دَ رضا ستا په جلال
دَ رضا ستا په وصلت، سوال کوم ربه رضا شے
دَ فقیر له کل دوستانو، هم له کل مسلمانانو
په خپل فضل و مرحمت، سوال کوم ربه رضا شے
زهٔ **محمّد امین** خوار، بینوا عاجز لاچار
ستا په توان او هدایت، سوال کوم ربه رضا شے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ستا په وجه الکریم رضا او لقا ستا غوارمه — ستا په ذاتِ قدیم رضا او لقا ستا غوارمه
ستا دَ لوئے علم په لوئے شمار ازل نه تر ابده — ستا په شانِ عظیم رضا او لقا ستا غوارمه
چه ستا له شانه سره بنائی هغه شان خاونده — صراط المستقیم رضا او لقا ستا غوارمه
په دوارو کونو هر مراد مطلب مقصد مې نشته — ستا په احسان عمیم رضا او لقا ستا غوارمه
په لوئے عزت او شرافت ستا دَ ذاتِ مقدس — په ازلی تقسیم رضا او لقا ستا غوارمه
ستا دَ رضا او دَ لقا سوالونه تا تر سپارم — نے رءوف الرحیم رضا او لقا ستا غوارمه
دَ خپل محبوب حبیب دَ پاکو مبارکو زلفو — په جنتی نسیم رضا او لقا ستا غوارمه
دَ دوارو کونو نعمتونه ترے قربان شه بیا بیا — بس حقیقی نعیم رضا او لقا ستا غوارمه
ستا په لوئے ذات پورې پناه نیسم پناه راکړه — له شیطانِ رجیم رضا او لقا ستا غوارمه

زهٔ **محمّد امین** په مخ دَ اشرف الانبیا
محبوب دُرِّ یتیم رضا او لقا ستا غوارمه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مونږ مدینه منوره کښے یو بیا بیا شکرونه — خپله مولا شکرونه
ستا دَ لوئے علم په لوئے شمار تر ابدا شکرونه — خپله مولا شکرونه
ستا دَ لوئے علم بِشمار خپله الله الصمد ده — ازل نه تر ابده
په ډیر ادب تعظیم حیا تا له ثنا شکرونه — خپله مولا شکرونه
خومره احسان لرے احسانونه دِ خاونده قربان — جمله عالم په هر آن
جمله عالم به دِ هرګز نکړی ادا شکرونه — خپله مولا شکرونه

په شرافت عزت دَ ذاتِ کبریا ستا ربه — غوارم حقا یا ربه
رضا لقا ستا خپله جمله مدعا شکرونه — خپله مولا شکرونه
دَ کائنات جمله ذرے که کړے روحونه ځما — ستړګے او زړونه ځما
په شمار دَ علم ستا به نے کړم تا نه فِدا شکرونه — خپله مولا شکرونه
ګرانه پیماده مدینه منوره ربنا — لائق دَ جمله ثنا
قسم پتا زیاته له جنت المئوا شکرونه — خپله مولا شکرونه
چه دِ په دے دُنیا داخل کړم دَ جنت روضه کښے — دَ ډیر عزت روضه کښے
داسے به او کړی احسانونه په عقبیٰ شکرونه — خپله مولا شکرونه
خوار **محمّد امین** ازل نه تر ابده بار بار — ستا دَ لوئے علم بِشمار
تا ته سپاری ستا په توفیق او په هدیٰ شکرونه — خپله مولا شکرونه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

تا نه قربان تا نه قربان رءوف رحیم محبوبه
دَ رب دَ علم په میزان رءوف رحیم محبوبه
دَ رب دَ لوئے علم په شمار آن تر ابده پورے
فِدا فِدا شمه بار بار آن تر ابده پورے
ډیر پیماګرانه عالیشان رءوف رحیم محبوبه
تا نه قربان تا نه قربان رءوف رحیم محبوبه
اشرف الانبیا مختار دَ دوارو کونو سته یے
محبوب کبریا سردار دَ دوارو کونو ته یے
ډیر په دربار دَ رب یے ګران رءوف رحیم محبوبه
تا نه قربان تا نه قربان رءوف رحیم محبوبه
هزار هزار عالمه ستا په در نثار کړم والله
دَ خپل رب العزة په فضل دا اقرار کړم والله
دا مې اقرار باور ایمان رءوف رحیم محبوبه
تا نه قربان تا نه قربان رءوف رحیم محبوبه

خوار **محمد امین** شکرونه خپل مولاته سپاري
ثنا جرا او ادبونه خپل مولاته سپاري
ازل نه تر ابد همراه، رؤوف رحيم محبوبه
تا نه قربان تا نه قربان رؤوف رحيم محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

سلام اَلسَّلام اَلسَّلام خپل محبوبه   نصيب دِ شه محمود مقام خپل محبوبه
اے صدر العلیٰ سید بهترین   زهٔ ستا دَ غلامانو یم کمترین
غلام غلام غلام خپل محبوبه   سلام اَلسَّلام السلام خپل محبوبه
دَرب العزة دَلوئے علم پیشمار   صلاة و سلام دِ پیتاوی باربار
مدام مدام مدام خپل محبوبه   سلام اَلسَّلام السلام خپل محبوبه
صلوٰة او سلام چه پاک رب سره بنائی   هغه دِ پیتا دَ ازل نه بیا بیائی
تمام تمام تمام خپل محبوبه   سلام السلام السلام خپل محبوبه
هم ستا په ابرو او هم ستا په شرافت   الله موسیراب کره دَ عشق و محبت
په جام په جام په جام خپل محبوبه   سلام السلام السلام خپل محبوبه
نصیب دِ شه کل درجات دَ شهود   هم رب العزة دِ نصیب کره محمود
مقام مقام مقام خپل محبوبه   سلام السلام السلام خپل محبوبه
آزاد شو تر هر یو آفت او ذلت   چه څوک شو بندی ستا دَ عشق محبت
په دام په دام په دام خپل محبوبه   سلام السلام السلام خپل محبوبه
په خاطر دَ وجه الکریم دَ سختن خپل
محمد امین ته کره خیر دَ دین ن خپل
انعام انعام انعام خپل محبوبه   سلام السلام السلام خپل محبوبه

بسم الله الرحمن الرحیم

قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه   دَ عالم رونداره رؤوف الرحیمه
په درد رب العزة ډیر زیات منظور ئے   محفل دَ نبیانو کښے شمعه دَ نور ئے

اے نور الانواره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
په هر یو نفس م ذرے دَ عالم   که رب کړی روحونه په رب م قسم
زار ستا له پا ئزاره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
دَ علم پیشمار دَ خپل رب العزت   ازل نه ابد پورے په هر ساعت
زار تا نه مختاره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
لرم دَ زره کور کښے تیاره دَ هجران   کړه رب العزة ئے په مخ ستا روښان
دَ عالم سرداره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
دَ عشق په سبق اشرف المرسلینه   ته مختار حق، اشرف المرسلینه
ما پوئے کړه بار باره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
درب العزة دَ لوئے علم په شمار   صلاة و سلام دِ پیتاوی باربار
له خوار او لاچاره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
دَ جمله نبیانو مختار معتبر ئے   له عرشه ختلے ډیر زیات پورته برئے
دَ عشق په لاره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
دَ قاب و قوسین او ادنیٰ په خلوت   نصیب دِ وصال شو دَ رب العزت
اے نور الابصاره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه
جنت کښے **محمد امین** ستا نعتونه   لیکی خومره ډیر دی دَ رب احسانونه
دا ستا له رخساره رؤوف الرحیمه   قربان شم دلداره رؤوف الرحیمه

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده مولا خومره ښه ئے
ستا دَ کرم خومره بهره ده مولا خومره ښه ئے
دا مدینه منوره ده دَ جانان وطن دے
دَ اشرف الانبیا صاحب قرآن وطن دے
خومره ئے ښکلے نظاره ده مولا خومره ښه ئے
دا مدینه منوره ده مولا خومره ښه ئے
صدر العلیٰ دَ مرسلانو دَ محفل محترم،

نوی الهدیٰ په مرسلانو کښې افضل محترم
دا مُتصله ئې پنجره ده مولا خومره ښه ئې
دا مدینه منوره ده مولا خومره ښه ئې

نورالانوار دلربا دلته جلوه گر دے ربه
عجب مختار دلربا دلته جلوه گر دے ربه
ښکلے ئې په نور هره ذره ده مولا خومره ښه ئې
دامدینه منوره ده مولا خومره ښه ئې

زار دِ احسان ځئې شم خومره دِ احسان دے ربه
زار دِ فیضان ځئې شم خومره دِ فیضان دے ربه
دَ خوار گدا دلته ډیره ده مولا خومره ښه ئې
دامدینه منوره ده مولا خومره ښه ئې

کرم ذرے دَ کائنات کړی هر نفس روحونه
والله په درد دَ دلربا ئې کرم لوئے کړدونه
ځما دَ خوګ ذرهٔ دا نعره ده مولا خومره ښه ئې
دامدینه منوره ده مولا خومره ښه ئې

خوار **محمد امین** پتا سپاری ادب او حیا
ډیر ملامته دے بیا بیا سپاری ادب او حیا
داهم دَ فضل ستا دوره ده مولا خومره ښه ئې
دامدینه منوره ده مولا خومره ښه ئې

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دایم په در خپل رب الجلیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
په وسیلے دَ خپل محبوب جمیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
په وسیلے دَ محبوبِ روښدار — دَ دوارو کونو فخرو سردار
مخ والضحیٰ ئې خدّ الاسیل — حسبنا الله و نعم الوکیل

په وسیلے دَ محبوب محمدؐ — فخر دَ جمله مطلوب محمدؐ
سترګے ئې مازاغ طرف الکحیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
دوارو جهانو ئې نورنه پیدا دی — دوارو جهانو ئې په مخ شیدا دی
صاحب دَ کوثر او سلسبیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
رب العزته تا نه یا ربار — غوارم رضا ستا او هم دیدار
سوال م قبول کړے ته په تعجیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
خپله مولا په وجه الکریم خپل — خپله مولا په شانِ عظیم خپل
ته موحافظ شے ته مو کفیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
ته په حُرمت دَ ذاتِ مقدس — ته په عزت دَ ذاتِ مقدس
ته په عظمت دَ قرآن تنزیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
مونږ ته رضا شے راکړے دیدار — ته دَ خپل ذات په لوئے وقار
ستا لوئے احسان م تا ته دلیل — حسبنا الله و نعم الوکیل
دا دَ **محمد امین** وییل — مولا قبول کړے په احسان خپل
ډیر زیات خجل دے خوار و ذلیل — حسبنا الله و نعم الوکیل

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مبارک عالم دے دلته چه اُوسیږی — پوے دَ رب کرم دے دلته چه اُوسیږی
مدینه منوره کښې دَ رب نور دے — دَ هغو څه غم دے دلته چه اُوسیږی
بس په دوارو جهانو نو له ښه شانه — کار دَ هغو سم دے دلته چه اُوسیږی
په معنیٰ کښې دَ اسمان دَ پاسه پورته — دَ هغو قدم دے دلته چه اُوسیږی
هم په دِ دُنیا ئې جنت شولو نصیب — بس نازو نعم دے دلته چه اُوسیږی
شفاعت ورله واجب دے دَ محبوب — په زیارت قسم دے دلته چه اوسیږی
له ازله بختور او مبارک — په لوح و قلم دے دلته چه اوسیږی
خو حیا ادب تعظیم دِ ئې رب نصیب کړے — بس دَ دغے غم دے دلته چه اوسیږی
او که دلته بے حیا او بے ادب شو — بیا افسوس هر دم دے دلته چه اوسیږی
الله فضل او کرم په تولو او کړے — ستا کرم اتم دے دلته چه اوسیږی

په **محمد امین** خوار دَرب احسان ډیر
بیا بیا دم په دم دے دلته چه اوسیږی

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

ربنا رب العزته شهود راکړے   دَ خپل ذات له شرافته شهود راکړے
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے جلال   دَ خپل ذاتِ مقدس په پاک جمال
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے کمال   دَ خپل ذات له لوئے عظمته شهود راکړے
چه دَ وجه الکریم ستاسره خائیږی   چه دَ شانِ عظیم ستاسره خائیږی
چه دَ ذاتِ قدیم ستاسره خائیږی   بس له هغے مرحمته شهود راکړے
دَ رضا او لقا ستا په آبروئی   دَ رضا او لقا ستا په خوبروئی
دَ رضا او لقا ستا په خوشبوئی   له خپل فضل و عنایته شهود راکړے
ستا دَ جمله صفتونو په آبرو   ستا دَ جمله خو نومونو په آبرو
ستا دَ جمله احسانونو په آبرو   خپل خاوندہ دَ قدرته شهود راکړے
دَ ازل نه تر ابده په ویلو   ستا دَ علم په لوئے شمار بیا بیا شیرلو
ستا دَ شکر ثنا تا ته په سپارلو   له اخلاص اوله بنه نیته شهود راکړے
ستا رضا او لقا خوک چه لټا غواړی   کوزکوز ګوری ملامت خجل و لاړی
له ادب او له حیا نه رورو جاړی   دَ هغوله دِ خصلته شهود راکړے
چه تیاره ئے دَ عدم په مخ دننه شوه   چه جلوه ئے دَ جمال په عرش بالا شوه
چه ئے په لامکان حاصله مدعا شوه   دَ محبوب له دِ وصلته شهود راکړے
دَ اشرف الانبیا محبوب په مخ   دَ حضرت نور الهدیٰ محبوب په مخ
دَ محبوبِ کبریا محبوب په مخ   دَ محبوب له شفاعته شهود راکړے
دا هم ته ئے چه خپل ځان پخپله غواړے   خپل دربار ته عاشقان پخپله غواړے
خپل مقتل ته کشتګان پخپله غواړے   له دِ حقه حقیقته شهود راکړے

ته همه او بے همه او با همه ئے
ته چه ئے هغسے ئے بس هم هغه ئے

ته هم درد او هم دوا هم تسلا ئے   له دِ شان دَ معرفته شهود راکړے

دَ محبوبِ محترم په دِ جنت کښے   دَ محبوبِ محترم په دِ قربت کښے
دَ محبوبِ محترم دِ خاص وصلت کښے   دَ محبوب له ډیر زینته شهود راکړے
محمد امین که ډیر خجل او ګرم دے   دا اقرار ئے ستا په فضل و په کرم دے
جمله ته ئے جمله ترپتا قسم دے   له دے بنکلی شهادته شهود راکړے

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

مدینه منوره دَ یار دے دلته   اے عاشقه ستا دَ زړه قرار دے دلته
دَ هر ګل نه ئے دنیا و عقبیٰ زار شه   ډیر خوشبو محمدی ګلزار دے دلته
جبرائیل غوندِ نامدار ئے چه دربان وو   هغه دومره لوئے عالی دربار دے دلته
چه په نور ئے دَ عدم تیاره رنړا شوه   دَ محبوب هغه زیبا رخسار دے دلته
چه ئے عرشِ عظیم نور له نورمونده لے   هغه محترم نور الانوار دے دلته
دَ جرګے دَ جمله ګی وو مرسلانو   محترم صدر العلیٰ روښان دے دلته
صد هزار فردوسه هر خم کښے دَ زلفو   چه لری هغه اعلیٰ نګار دے دلته
چه رضا لقا دَ رب پرے حاصلیږی   په رب ګران هغه دَ رب مختار دے دلته
اے عاشقه رب دِ دا وله دا پاسه   دَ جانان دَ عاشقئ روزګار دے دلته
که سودا کوے دَ یار دَ محبت   شه خبر دَ عاشقئ بازار دے دلته
چه شیدا له شفاعت په واجبیږی   دَ محبوب هغه اعلیٰ مزار دے دلته
دَ جنت باغچه که غواړے دِ دنیا کښے   دا دَ رب فضل احسان بسیار دے دلته
په خپو کرزی تله په سترګو نه توانیږی   شرمنده ګدا بے وس لاچار دے دلته

محمد امین په کوزو سترګو جاړی
دَ محبوب در کښے ذلیل او خوار دے دلته

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

ربنا تا نه مو دغه امید کیږی   چه دَ وجه الکریم ستاسره خائیږی
ربنا رب العزته خپله رب یه   بے زوال قائمه تل ترتله رب یه
ستا په توان غواړو ان له ازله ربه   بس هغه چه ستا رضا په حاصلیږی

ډیره خپله مولا ډیر درنه رضا یو　　خپل خاوندا علی ډیر درنه رضا یو
خپل کریم کبریا ډیر درنه رضا یو　　بارانونه دَ احسان دِ تل وریږی
که هزار هزار هزار هزار عالمه　　هسته وے یا نیسته وے له هره دمه
دا یو نم دے ستا دَ بحر له کرمه　　دَ کرم دریاب دِ هسے پلن بهیږی
صد هزار هزار هزار هزار عالمه　　کړے درون په یو ذره به رب اکرمه
ستا دَ علم په لوئے شمار بیا بیا قسمه　　توان قدرت ستا په بیان کښے نه ځائیږی
له نُطفے نه جوړ وے بشکلے انسان　　له دِ توان احسان قدرت نه دِ قربان
ستا دَ علم مبارک په لوئے میزان　　قربانئے ستا ته م ډیره مینه کیږی
ما قربان کړے خپله ربه په بار بار　　دَ خپل لوئے او مبارک علم په شمار
په خپل درکښے په ډیر عجز انکسار　　چه ځما له عاجزئ سره جوړیږی
که ذرے دَ کائنات م کړے روحونه　　هرے ساه باندِ خپل ربه بیچگونه
ستا دَ علم په لوئے شمار م قسمونه　　چه ئے لوګے کړم ستا په دره زره م بنه کیږی
زره م غواړی قربانی په هغه شان　　چه ماخوار له ئے هرګز نه راځی بیان
بس هم ته راسره اوکړے دا احسان　　اے چه توان احسان دِ هرګز نه کیږی
که په هره یو ذره دَ کائنات　　اوکړے هسے احسانات او عنایات
لکه کړی دِ په جمله موجودات　　ستا جمله کول په یو کُن صادریږی
محمد امین فقیر عاجز لاچار　　په آبرو او وسیلے دَ خپل دلدار
تا نه غواړی خپل جمله دارومدار　　بس هغه چه ستا رضا په نصیب کیږی

بسم الله الرحمن الرحیم

دَ خپل ذات په شرافت خپله رضا را　　دَ خپل ذات په لوئے عزت خپله رضا را
ستا دَ ذاتِ مقدس په ډیر لوئے شان　　ستا دَ ذاتِ مقدس په ډیر لوئے توان
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے احسان　　ستا دَ ذات په لوئے عظمت خپله رضا را
ستا دَ ذاتِ مقدس په شان عظیم　　ستا دَ ذات مقدس په شان کریم
ستا دَ ذاتِ مقدس په شان قدیم　　ستا دَ پاک ذات په رحمت خپله رضا را
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے جلال　　ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے جمال

ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے کمال　　او رحمت او منزلت خپله رضا را
په آبرو دَ خپل وجه الکریم ستا ربه　　په کل خو دَ خپل وجه الکریم خپل ربه
په خوشبو ستا دَ وجه الکریم خپل ربه　　تا نه غواړو هر ساعت خپله رضا را
په احسان دَ خپل وجه الکریم خپل ربه　　په فیضان دَ خپل وجه الکریم خپل ربه
په لوئے توان دَ خپل وجه الکریم خپل ربه　　په عزت ستا دَ وصلت خپله رضا را
چه رضا او لقا ستا په حاصلیږی　　چه رضا او لقا ستا په واجبیږی
چه رضا او لقا ستا لره خاتیږی　　په هغه شان او خصلت خپله رضا را
دَ اشرف الانبیا محبوب په مخ　　دَ حضرت نور الهدیٰ محبوب په مخ
دَ مختار او مقتدا محبوب په مخ　　او په حُسن او زینت خپله رضا را
دَ محبوب خیر البشر په وسیلے　　دَ حضرت ډیر معتبر په وسیلے
دَ کونینو دَ سرور په وسیلے　　او احسان او شفاعت خپله رضا را
په جنت کښے درنه غواړم رضا خپله　　په جنت کښے درنه غواړم لقا خپله
په جنت کښے درنه غواړم عطا خپله　　په حرمت دَ دے جنت خپله رضا را
دَ محبوب ډیر محترم په دے قربت　　دَ محبوب ډیر مکرم په دے قربت
دَ محبوب نور الظلم په دے قربت　　او په عشق و محبت خپله رضا را
محمد امین سائل عاجز او خوار　　دَ ازل نه ترابده په بار بار
ستا دَ لوئے او بے انداز علم بیشمار　　دَ خپل عشق په شوق لذت خپله رضا را

بسم الله الرحمن الرحیم

ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما
ربنا یا ربنا ډیر زیات خپله مولا ځما
ته ځما خپل رب ئے ستا دَ علم په لوئے شمار م قسم
دَ ازل نه تر ابد بار بار په ډیر تکرار قسم
دا م ایمانی صدا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما
زه هم ستا بنده یمه، ډیر تا نه شرمنده یمه

ډیر ذلیل خجل عاجز ناتوان لمن لنده یمه
عفوه غوارم کبریا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما

خپل رب العزته په عزت دَ خپل وجه الکریم
خپل رب العزته په عظمت دَ خپل وجه الکریم
کړے نصیب م ستا عطا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما

ډیر خپله خاونده په ابرو دَ خپل ذاتِ قدیم
ډیر خپله خاونده په ابرو دَ خپل شانِ عظیم
کړے نصیب مو ستا لقا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما

دومره ډیر م خپل ئے چه لمانه نزدے ستا ته ئے
ډیر خپله خاونده پاک سبحانه نزدے ما ته ئے
تا لره حمد و ثنا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما

ما باندے ستا خومره احسانونه دی سبحانَ الله
ما سره ستا خومره کرمونه دی سبحانَ الله
زه خومره عاجز ادنیٰ ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے رضا ډیر زیات خپله مولا ځما

ډیره زیاته خپله ربه په وسیلے دَ محبوب
ستا رضا لقا مو کړے نصیب څو بزه دا مطلوب
ته خوئے عالم حقًا ډیر زیات خپله مولا ځما
ما عاجز نه شے ډیر زیات خپله مولا ځما

خپل رب العزته په جنت کښے **محمد امین**
دے تا کینوُلے ثنا تا له ده حق الیقین
تا سره بنائیږی دا ډیر زیات خپله مولا ځما   ما عاجز نه شے ډیر زیات خپله مولا ځما

بسم الله الرحمٰن الرحیم

زار شمه لتا نه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ
جُمله عالم ستا په فخ پیدا کړو خپل رب العزة   رب دِ کړه نصیب دا خپل جمال کمال زیب و زینت
اے شهِ خوبانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ
ته دَ مرسلانو دَ محفل شمعه دَ نوی ئے   بے حده په در دَ خپل رب العزة منظور ئے
ډیر په الله گرانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ
عبد هزار عالمه به لوگے ستا په دربار کړمه   زهٔ دَ خپل رب العزة په فضل دا اقرار کړمه
صدق و لد ایمانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ
صد هزار فردوسه دَ زلفانو په هر خم کښے ستا   شته دَ عاشقانو په مذهب ډیر محترم کښے ستا
ډیره عالیشانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ
رب خو دِ نصیب کړه خپل جمال څه عجب ښکلے ئے   خپل رب لامکان ته خپل دیدار لره بللے ئے
دلبرِ ذیشانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ

شوی محمد امین خیر تا نه مات کچکول کښے خپل
بے نوا عاجز فقیر ناتوان مات کچکول کښے خپل

شاهِ مهربانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ   اے ځما جانانه خپل محبوب محمدؐ مصطفیٰ

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ اَمَرْتَ بِالدُّعَآءِ وَ قَضَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ
بِالْاِجَابَةِ وَاِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادُ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

عفوه او کړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم
ډیر ذلیل خوار و کدا ته ته په خپل وجه الکریم
خپل رب العزته حق لایق دَ کل حمد و ثنا
زار دِ له عظمته حق لایق دَ کل حمد و ثنا
ورانده مو کړه ستا عطا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه او کړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم
بے لتا قسم بیا بل مرادو مقصد نهٔ لرم،

ربنا یا ربنا بل مرادو مقصد نهٔ لرم
مرادو مقصد راکړه ما ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه اوکړې بینوا ته ته په خپل وجه الکریم

په جلال دَ ذاتِ مقدس خپل اے خاونده ته
په جمال دَ ذاتِ مقدس خپل ے خاونده ته
کړے رسا مونږ ستا رضا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه او کړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم

ستا کرم ډیرخوند کوی لما غونډے لاچاړ سره
تا سره چه بنائی هغه اوکړے له دِ خوار سره
اے کریم عالی صفا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه اوکړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم

ستا دَ لوئے بے حد علم پشمار ثنا شکرونه ستا
له ازل نه تر اَبد بار بار ثنا شکرونه ستا
کړے حواله شان علا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه اوکړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم

صد هزار فردوسه کرم لوګے ستا تر لیحے لقا
دالرم باور ایمان اقرار قسم پتا حقا
کړے رسا مونږ ستا لقا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه اوکړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم

دادَ محمدامین صدا ده په جنت کښې نن
دَ محمدؐ مصطفیٰ محبوب حبیب قربت کښې نن،
ورکړے عزت دِ صدا ته، ته په خپل وجه الکریم
عفوه اوکړے بینوا ته، ته په خپل وجه الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم   تا نه غواړو ربنا هم ستا په پاک وجه الکریم
رحیم واکرم خاونده ئے مجیب السائلین   خورم پتا قسم خاونده ئے ارحم الراحمین

سه قبول دا دعا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم
خپله الله الصمده اے غنی او بے نیاز   تا نه غواړو تر اَبده دے غنی او بے نیاز
ستا کرم جود وعطا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم
هغه غواړو تا نه مونږ چه تا سره بنا ئیږی تل   بے لتا بل هیڅوک پرے په هیڅ شان نهٔ توانیږی تل
ستا په درمو دا صدا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم
ستا دَ ذاتِ پاک مقدس په عظیم الشان وقار   په نیاز او په ادب هم تا ته سپارو بار بار
ستا شکر او ستا ثنا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم
به وسیلے او په آبرو دَ محمدؐ مصطفیٰ   په جمال او هم په خوشبو دَ محمدؐ مصطفیٰ
کړے نصیب مو ستا وفا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم
له دَ کائنات ذرے جمله ځما روحونه کړے   په نَفَس نَفَس دَ جوندون دوم احسانونه کړے
بس وی به تر تا فِدا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم

دا دَ محمدامین ګفتار چه په جنت کښې دے
خومره دِ احسان ربه حضور دَ پاک حضرت کښې دے
شه نصیب دَ بینوا هم ستا په پاک وجه الکریم   ستا رضا او ستا لقا هم ستا په پاک وجه الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؕ

ابرو دَ دواړو کونو په خاوره دَ در ستا ده   ذره دَ جمال زیاته په شمس و قمر ستا ده
دا دواړه جهانونه هم ستا په مخ پیدا دی   رڼړا دَ دواړو کونو له مخ منور ستا ده
دَ دواړو جهانونو مرهم نه ئے تو بے دی   سینه دَ کوم عاشق چه له عشقه پرهر ستا ده
هزار هزار عالمه په دز کښې دِ لوګے کرم   صدا دَ صداقت م په در کښې دلبر ستا ده
لله دره محبوبه بس خیر دَ دیدن غواړمه   منشا دَ کل جوندون م دَ مخ جلوه ګر ستا ده
کوم شان دَ عاشقئے چه لتا سره خا ئیږی   هغه خاصه محبوبه الله اکبر ستا ده
له جنت الفردوس م خوښه هزار ځل ده   روضه چه په ما بین دَ بیت و منبر ستا ده
په شمار دَ رب دَ علم چه خپل رب ته مو سوال وي   نصیب دِ وسیله شه حقا چه دَ فتر ستا ده

محمدامین جاړی رضا دَ الله غواړی
نیولے وسیله ئے دَ پاک مخ انور ستا ده

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ستا دَ علم په میزان ستا رضا غواړو   دَ ازل نه هر هران ستا رضا غواړو
دَ رضا او دَ لقا ستا په عزت   دَ رضا او دَ لقا ستا په لذت
دَ رضا او دَ لقا ستا په وصلت   په توفیق او په احسان ستا رضا غواړو
چه دَ وجه الکریم ستا سره بنا ئیږی   چه دَ شانِ عظیم ستا سره بنا ئیږی
چه دَ ذاتِ قدیم ستا سره بنا ئیږی   په هغه شان او عنوان ستا رضا غواړو
چه پچیله په خاونده رضا کیږے   تل تر تله په خاونده رضا کیږے
له ازله په خاونده رضا کیږے   په هغے ادب او شان ستا رضا غواړو
ستا دَ جمله صفتونو په ابرو   ستا دَ جمله خو نومونو په ابرو
ستا دَ جمله احسانونو په ابرو   ستا په ډیر پاک نوم سبحان ستا رضا غواړو
دَ محمد مصطفیٰ په ابروئی   دَ محمد مصطفیٰ په خوبروئی
دَ محمد مصطفیٰ په خوشبوئی   او په ډیر پاک مخ روښان ستا رضا غواړو
دَ محمد مصطفیٰ په خوخویونو   دَ محمد مصطفیٰ په خو کارونو
دَ محمد مصطفیٰ په احسانونو   او کرم لطف و فیضان ستا رضا غواړو
دَ محمد مصطفیٰ په شرافت   دَ محمد مصطفیٰ په لیاقت
دَ محمد مصطفیٰ په ډیر عزت   او په عشق او عرفان ستا رضا غواړو
دَ درمندو زړونو تا ته په جړلو   دَ بے کسو خوارو تا نه په غوختلو
دَ ذلیلو خوارو کوز کوز په کتلو   او حیا ادب فغان ستا رضا غواړو
په توفیق ستا په جنت کنبے دا مضمون   شی لیکلے دَ ډیر عجز په قانون
ته جنت کنبے ورکوے ما یشاؤن   په حق صدق دَ قران ستا رضا غواړو

محمد امین سره دَ کل دوستانو
په ابرو دَ جملګی پیغمبرانو
و په عجز دَ جمله وو بندګانو   مولا بے وسه عاجزان ستا رضا غواړو

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

عجب شان دے مدینه منوره کنبے   پاک جانان دے مدینه منوره کنبے

که ړم دواړه کونه شی هزار کرته   خورم قسم پتا خاوند رب العزته
کرم لوګے به ئے دَ محبوب له هر نسبته   پیما ګران دے مدینه منوره کنبے
په جمله وو مرسلانو کنبے بهتر   دَ لولاک مبارک تاج ورته پسر
عرش نه ډیر پاس لامکان ته تلے بر   په بنه شان دے مدینه منوره کنبے
ډیره بنکلے مدینه منوره ده   نازولے مدینه منوره ده
حُسلید لے مدینه منوره ده   دَ نور کان دے مدینه منوره کنبے
دَ جرګے دَ مرسلانو معتبر   دَ جرګے دَ مرسلانو پاک سرور
دَ جرګے دَ مرسلانو نامور   او سلطان دے مدینه منوره کنبے
چه ئے له مخه دی پیدا دواړه جهانه   چه ئے له مخه دی رنړا دواړه جهانه
چه ئے له مخه دی فدا دواړه جهانه   دا سے ځوان دے مدینه منوره کنبے
چه روښانه په تیاره شوه دَ عدم   دغه ډیر بنکلے محبوب نور الظلم
محترم ډیر محترم ډیر محترم   مه تابان دے مدینه منوره کنبے
رب دِ راوله عاشقه یار دلے دے   دَ زخمی زړګی مرهم قرار دلے دے
دَ جمله و معشوقو سردار دلے دے   ستا درمان دے مدینه منوره کنبے
که په دِ دُنیا جنت غواړے نوراشه   که دَ خپل محبوب قربت غواړے نوراشه
که دَ خپل محبوب وصلت غواړے نوراشه   دا احسان دے مدینه منوره کنبے
بینوا ګدا په سترګو نه توانیږی   چه کو خو کنبے دَ محبوب په او ګوزیږی
کوز کونه کوری ملامته خوار جریږی   ډیر حیران دے مدینه منوره کنبے
مګر لوئے فضل دے دَ رب العٰلمین   چه **محمد امین** خوار ذلیل مسکین
په ارشاد دَ خپل محبوب پاک بهترین   نعت خوان دے مدینه منوره کنبے

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

نور وریږی مدینه منوره کنبے   دور غګیږی مدینه منوره کنبے
ملائک دَ اسمانونو هزارونه   راکوزیږی مدینه منوره کنبے
عاشقان دَ عشق له درده عجب خوند کا   چه جړیږی مدینه منوره کنبے
چه عدم ئے پرے روښانه کړو هغه نور   نن ځلیږی مدینه منوره کنبے

چه کونین ږي پرې روښان هغه مشعل — نن بلیږي مدینه منوره کښې
عرش نه پورته چه په لامکان واصل دے — نن او سیږي مدینه منوره کښې،
دَ عشاقو زړونه سترګے او مخونه — خاورے کیږي مدینه منوره کښې
شفاعت دَ محبوب دلته په زیارت پاک — واجبیږي مدینه منوره کښې
دَ جمله دوعاشقانو مرادونه — حاصلیږي مدینه منوره کښې

محمّد امین په لوئے احسان دَ خپل رب
قربانیږي مدینه منوره کښې

بسم الله الرحمٰن الرحیم

غواړو ستا رضا بوجهک الکریم — هم لتا مولا بوجهک الکریم
ستا دَ جمله صفتونو په شرف — ستا دَ جمله احسانونو په شرف
ستا دَجمله خونومونو په شرف — غواړو تا لتا بوجهک الکریم
ستا دَ ذاتِ کبریا په شرافت — ستا دَ ذاتِ کبریا په لوئے عظمت
ستا دَ ذاتِ کبریا په لوئے عزت — غواړو ستا لقا بوجهک الکریم
په جلال ستا دَ رضا او دَ لقا — په جمال ستا دَ رضا او دَ لقا
په وصال ستا دَ رضا او دَ لقا — مونږ له دواړه را بوجهک الکریم
ستا په در کښې چه بنده سرخا ئیږي — ستا رضا او ستا لقا په حاصلیږي
هغه توان توفیق هم تا نه صادریږي — حقه ربنا بوجهک الکریم
هغه توان توفیق لتا غواړو خاونده — ترا ابده ئے بیا بیا غواړو خاونده
مستجابه په درستا غواړو خاونده — تل دغه دعا بوجهک الکریم
دَ محمّدؐ مصطفیٰ په شرافت — دَ محمّدؐ مصطفیٰ په لیاقت
دَ محمّدؐ مصطفیٰ په نبوّت — مولا ذوالعلا بوجهک الکریم
دَ محمّدؐ مصطفیٰ په پاک جمال — دَ محمّدؐ مصطفیٰ په خوږ وصال،
ستا په بے نیاز دربار موهر یو سوال — شه قبول بیا بیا بوجهک الکریم
تر محمّدؐ مصطفیٰ قربانیدل — په ادب شوق او حیا قربانیدل
په لوئے شمار دَ علم ستا قربانیدل — غواړو رب اعلیٰ بوجهک الکریم

کړے روحونم ذرے دَ کائنات، — هر نفس بانډِ یا قاضی الحاجات
چه ئے لوګے کړم خپل محبوبه او خیرات — ان تر ابدا بوجهک الکریم
ستا دَ علم په لوئے شمار صلاۃ سلام — ستا دَ علم په تکرار صلاۃ سلام
دَ ازل نه په بار بار صلاۃ سلام — په محبوب زیبا بوجهک الکریم
ستا شکرونه او ثنا تا ته سپارل — په لوئے شمار دَ علم ستا تا ته سپارل
په ادب شوق او حیا تا ته سپارل — کړی خوار و ګدا بوجهک الکریم
په روضه کښے دَ جنت کوم سوالونه — دَ محبوب په شفاعت کوم سوالونه
دَ محبوب په شرافت کوم سوالونه — په ادب حیا بوجهک الکریم
جملګی افعال اقوال اول آخر — دَ محمّدؐ مصطفیٰ په لوئے خاطر
خپله ربه کړے قبول باطن ظاهر — دَ دے بینوا بوجهک الکریم

محمّد امین ذلیل عاجز ډیر خوار
په آبرو دَ دے نزدے محبوب روئدار
ستا دَ لوئے او محترم علم پشمار — کړی اِرحَم صدا بوجهک الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ رب دَ لوئے علم په شمار زړه درقربان رسول الله
ازل نه تر ابد بیا بیا په هر یو آن رسول الله
ازل نه ترابد بیا بیا هره لمحه هره لحظه
نصیب م رب کړه دا اقرار و دا ایمان رسول الله
تاج دَ لولاک دِ مبارک شه اے محبوبِ سبحانی
دَ جملګی عالم مختاره او سلطان رسول الله
شفیع المذنبین ئے بالیقین په ورز کښې دَ محشر
چه مرسلان شي په نفسی نفسی ګویان رسول الله
کړم ذرے دَ کائنات په هر نفس روحونه شي
نثار به ئے کړم لتا محبوبه دَ سبحان رسول الله
دَ مدینے منورے فخر ادب رب ته سپارم

په وسيلې ستا د پاک مخ او د قرآن رسول الله
ستا په ابرو موشه نصيب رضا لقا د خپل خاوند
نشته لتا بل څوک په در د الله ګران رسول الله
د خپل رب العزة د پاک وجه الکريم په ابروئی
په ما عاجز کړه ادېر زيات شې مهربان رسول الله
صلاة سلام دې وي باربار د رب د لوئي علم پشمار
له محمد امين عاجز ذليل ناتوان رسول الله

بسم الله الرحمن الرحيم

صد هزار هزار هزار هزار محشره — يو ذره کښې به درون کړې رب اکبره
کل ذرې د کائنات که پېدا شان کړې — ظاهر دومره لوئي قدرت عظمت احسان کړې
د خپل لوئي علم پشمار در قربان کړې — انسان تا ته د يوه ويخته لر سره
وي محشر هغه محشر کبريائي — بس چه تا ته ئې معلومه ده لوئي
والله تا سره له دې نه زياته بنائي — څما ډېر خپله خاوند ه توانګره
او ذره وي د آخر جز د تقسيم — ته په هر څه توانا قادر عليم
هم پتا قسم چه ستا قدرت قديم — کړي دا کل سودا په يو کن برابره
بيا دې مذکور عالم ثنا شکرونه — بنده ګي او عاجزي طاعت ذکرونه
ستا د لوئي علم پشمار م قسمونه — کم دي ستا له شانه ډېره معتبره
تا ته سپارو ستا هغه ثنا شکرونه — چه ئې ته خپل ځان له وائې بې چګونه
تا ته سپارو د هغې کل تعظيمونه — اې د جمله په ظاهر باطن خبره
د مذکور عالم جمله کل نعمتونه — ستا په پاک ذات بې پروا م قسمونه
شي لوګې به ستا په در له بنه مضمونه — ستا په توان او هدايت له د کمتره
تر يوې لمحې رضا او لقا ستا — تر يوې لحظې رضا او لقا ستا
تر يوې طرفې رضا او لقا ستا — کبريا او بې پروا حق دلبره
جمله ته ئې دا جمله بيان دې ستا — دا بې حده بې پايان احسان دې ستا
دا ګدا چه هر ساعت قربان دې ستا — له د ښکلي پاک محبوب حق پيغمبره

په جنت کښې د محبوب تا کينه ولې — د محبوب پنجړه ته ئې ارخ دې لګيدلې
ثنا شکر ئې تل تا ته درسپارلې — چرته دا خوار چرته دا شان دومره بره
ستا د علم په لوئي شمار رب العزته — ستا د علم په مقدار رب العزته
د ازل نه په باربار رب العزته — ستا په فضل د محبوب له مخ انوره
محمد امين سره د ګرد دوستانو — په خاطر د جملګي پيغمبرانو
په خاطر ستا د جمله خو بندګانو — ستا رضا او لقا غواړو مکرره

بسم الله الرحمن الرحيم

کړې مولا نصيب دا نازولې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
عرش نه پورته لامکان ته تلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
په هزار هزار عزت تېر شوې ملکوت څخې — هم له جبروت څخې
دې د او ادنی په تخت ختلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
خپل رب العزت ورسره او کړو زيات له حد احسان — چه ئې کړو د لامکان
بې مثله خلوت کښې کتلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
زار د مدينې منورې کوڅو او لاروته — ډېر و مزيد اروته
دې په دې کوڅو کښې ګرځيدلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
سوال کوم الله په لوئي عزت ستا د وجه الکريم — او ستا د شان عظيم
جلوه ګړو په خپل جمال کښې شولې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
خپل رب العزة چه روښان ډېر عدم کړلو — څو مره د کرم کړلو
دا جمال او حسن دې لرلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما
کوزې سترګې کړ ذي محمد امين حيران دې ډېر — خوار او پريشان دې ډېر
کاش چه ئې په سترګو تله کيدلې دلربا څما — ښکلې دلربا څما

بسم الله الرحمن الرحيم

تاله ثنا شکر چه ښائي تا له تا نه مولا — څما د ډېر خوار ډيره خپله اعلی شانه مولا
تاله ثنا شکر چه ښائي ستا له شان ربنا — ازل نه تر ابد لمحه لمحه هر آن ربنا

ستا د لوئے علم په لوئے شمار قدر میزان ربنا — ډک له ادب او عاجزئ او له حیا نه مولا
تا له ثنا شکر چه خاص تا له خائیږی ربه — رضا لقا ستا به بنده ته حاصلیږی ربه
د ما سوا علم او توان کښے نه ځائیږی ربه — ستا د لوئے علم پشمار تل تا له سبحانه مولا
د کائنات جمله ذرے که کړے روحونه ځما — دومره نصیب کړے خپل کرم او احسانونه ځما
ستا د لوئے علم پشمار تل تل قسمونه ځما — کرم به نے لوئے محبوب اشرف الانبیا نه مولا
په هر نفس ان ترابد که کومے دا احسان — ما سره بیا بیا په خپل لوئے توان او بے مثله احسان
ستا په توفیق او هدایت به نے بیا بیا زه ناتوان — قسم پتا قربانه ووم له خپل جانانه مولا
تا نه د خپل محبوب وصال ستا په وجه الکریم — غوارم زه خوار ذلیل یا مالکه ستا په وجه الکریم
ترم قبول کړے دغه سوال ستا په وجه الکریم — ډیر مهربان جانان بیا بیا کړے مهربانه مولا
محبوب له غوارم وسیله ستا د لوئے علم پشمار — په ډیر ادب حیا تعظیم شوق محبت انکسار
ازل نه ترابده بیا بیا په تکرار او تکرار — خونړ بے حده ډیره خپله مستعانه مولا
صلاة سلام تل ستا د علم په لوئے شمار په تعظیم — وی ترابده د محبوب بانډ نثار په تعظیم

له محمد امین ذلیل حقیر ډیر خوار په تعظیم
له کل دوستانو سره خپل رحیم رحمانه مولا

بسم الله الرحمن الرحیم

صد هزار هزار عالمه ستا دربار کښے — صد هزار هزار ځل کم دی ستا نثار کښے
ته چه څومره حق لرے په عاشقانو — ته چه څومره حق لرے په صادقانو
ته چه څومره حق لرے په لایقانو — بے له ربه هغه نشته د چا شمار کښے
که ذرے د کائنات ټ شی روحونه — په هر یو نفس د کل جهان عمرونه
په رب العزت خاوند ټ قسمونه — شکرانه به نے کړم زر ځل ستا په دیدار کښے
ستا له حسنه شه قربان دواړه جهانه — خپل محبوبه لاثانی شاه خوبانه
د عدم تیاره پرے رب کړله روښانه — جمال هسے ایښے رب ستا په رخسار کښے
تر خوشبو زلفو د زارشم خپل دلبره — د جمله وو دلبرانو د زړه سره
صد هزار فردوسه شته نور البصره — ستا د زلفو د هر خم په هر یو تار کښے
په ابرو ستا د وجه الجمیل رخسار — په کل خو ستا د وجه الجمیل رخسار

په خوشبو ستا د وجه الکریم رخسار — بورخه غوارم ستا د وصل په ګلزار کښے
ستا په درجه فدایان شمیر لے کیږی — ستا په درجه کډ ایان شمیر لے کیږی
ستا په درجه شهیدان شمیر لے کیږی — ستا په مخ ټ رب حساب کړه دغه شمار کښے
په احسان توفیق د خپل رب العزة — متصل ستا د پنجرے سره نے وصلت

محمد امین روضه کښے د جنت ،،
ناست دے ستا د مداحئ ښکلی روزګار کښے

بسم الله الرحمن الرحیم

په حضور ستا کښے تر روړ جړیدلو — زارشه حسن د عالم د جمله ښکلو
د او چتو منارو د عرش نه زارشم — زه ډیر خوښ یم تا ته کوز کوز په کتلو
مدینه منوره کښے چه ګرځیږم — کوم فخر د اسمان په ګرځیدلو
د صلاة او سلام دوړ چه غګیږی — ستا حضور کښے د عشاقو د ویلو
په بیان کښے به د هیڅ انسان راتشی — تعلق لری په خپلو اوریدلو
رب دے راوله عاشقه د محبوب — کرم نه دے د الله د کمیدلو
مدینه منوره کښے پاک مزار دے — د محبوب د شفاعت واجبیدلو
که په دے دنیا جنت غوارے نور اشه — چه نے او وینه په غیر کو سترګو خپلو
په سنتو د محبوب ځان خائسته کړه — بد رنګ نه شه د شیطان په غلولو
د محبوب مخ کښے خلاف له شریعته — او دریدل دی لوئے باعث د شرمیدلو
ربه توان مو د محبوب په مخ نصیب کړے — له محبوب تر حقانی قربانیدلو

په ارشاد ډیر مبارک د خپل محبوب
محمد امین مامور دے په لیکلو

بسم الله الرحمن الرحیم

اوکړے ربنا ما انت اهله — له ما خوار ګدا ما انت اهله
چه لتا سره خائیږی خپله ربه — ستا رضا پرے حاصلیږی خپله ربه
چه لتا نه صادریږی خپله ربه — په احسان وفا ما انت اهله

هم هغه لتا نه غواړو په یاریاری   ستا د لوئے او مبارک علم پښماری
په حیا او په ادب او انکساری   او جړا بیا بیا ما انت اهله
په عزت ستا د ذات مقدس ربه   په عظمت ستا د ذات مقدس ربه
په حرمت ستا د ذات مقدس ربه   غواړی بینوا ما انت اهله
په جلال ستا د ذات مقدس ربه   په کمال ستا د ذات مقدس ربه
په جمال ستا د ذات مقدس ربه   کړے نصیب ځما ما انت اهله
په لوئے شان ستا د ذات کبریا ربه   په احسان ستا د ذات کبریا ربه
په فیضان ستا د ذات کبریا ربه   غواړم زه ګدا ما انت اهله
د رضا او د لقا ستا په عزت   د رضا او د لقا ستا په عظمت
د رضا او د لقا ستا په وصلت   غواړم خپل مولا ما انت اهله
د رضا او د لقا ستا په ابرو   د رضا او د لقا ستا په خوشبو
د رضا او د لقا ستا په کل خو   غواړو تل لتا ما انت اهله
د رضا او د لقا ستا په جلال   د رضا او د لقا ستا په جمال
د رضا او د لقا ستا په وصال   غواړم زه ادنیٰ ما انت اهله
د محمد مصطفیٰ په وسیلے   د اشرف الانبیا په وسیلے
د محبوب نور الهدے په وسیلے   غواړو ستا رضا ما انت اهله
د محبوب دیر محترم په وسیلے   د محبوب نور الظلم په وسیلے
د محبوب نیکو شیم په وسیلے   غواړو ستا لقا ما انت اهله
د محبوب دیر ناموړی په وسیلے   د محبوب دیر منوړی په وسیلے
د محبوب دیر جلوه ګر په وسیلے   شے جلوه نما ما انت اهله
خپل ارحم الراحمین رب العزة   خپل مجیب المضطرین رب العزة
خپل مجیب السائلین رب العزة   غواړو مونږ دعا ما انت اهله
محمد امین روضه کښے د جنت   د محبوب حبیب حضرت په شفاعت
ستا د علم په لوئے شار په دیر ذلت   غواړی ابدا ما انت اهله

بسم الله الرحمن الرحیم

په پاک مخ کښے د انوارو د سبحان دیر   عالمونه د له مخه کرم قربان دیر

خپل رب العزة روښانه کړو عدم   په جمال ستا د دے پاک مخ محترم
په پاک ذات د خپل رب العزت قسم   چه بے حده دے په مانا توانه ګران دیر
صد هزار هزار عالمه به کرم زاری   خپل محبوبه ستا د ګرد نه د پا ترای
له دِ خپلے عقیدے نه شم نثاری   چه د ځوړه په د خپل مولا احسان دیر
اے د جملګی خاصانو مقتدا   د جرګے د مرسلانو مقتدا
اے د جملګی پاکانو مقتدا   شه نصیب دِ د عزت اعلیٰ نشان دیر
که ذرے د کائنات م شی روحونه   هر نفس باندے رب اوکړی احسانونه
هم په خپل رب العزة م قسمونه   ستا په دربه ئے کړم لوګے دام ایمان دیر
ماله تا غونډِ دلدای په قسم نشته   ماله تا غونډِ بادار په قسم نشته
ماله تا غونډِ روښدار به قسم نشته   ناله ما غونډِ کوورونه فدایان دیر
په وجه الکریم د خپل رب العزة   تا نه خیر د دین غواړم هر ساعت
زه خونه لرم د دے سوال لیاقت   خو د رب فضل و احسان په مانا توان دیر
خپل محبوبه په وجه الکریم د خپل رب   خپل محبوبه په شانِ عظیم د خپل رب
خپل محبوبه په ذاتِ قدیم د خپل رب   ته یما خوار بینوا شه مهربان دیر
د رب العزة د لوئے علم پښماری   د ازل نه تر ابده په بار باری
سوال کوم د وسیلے زه عاجز خوای   د خپل رب نه ستا د پاره په هران دیر
په عظمت د خپل رب العزة د ذات پاک   په عزت د خپل رب العزة د ذات پاک
په حرمت د خپل رب العزة د ذات پاک   شه نصیب م وصل ستا د مخ روښان دیر
متصل پنجرے سره جنت کښے ناست یم   د رضا او د لقا د رب په خواست یم
په عمل کښے یم کمزورے په نیت راست یم   ستا په مخ م شه نصیب د رب فیضان دیر
د رب العزة د لوئے علم په شماری   اَلصَّلاَۃُ وَالسَّلاَمُ یتا بار باری
په تعظیم ادب حیا او انکساری   عرض کوم زه وارخطا او پریشان دیر
مدینه منوره کښے چه ګرزیږی   دیر افسوس دے تله به ستړګو نه توانیږی
کوز کوز ګوری ملامته خوار شرمیږی
محمد امین ذلیل حقیر حیران دیر

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ثناتاله ایمانًا احتسابًا
ذا الجلاله ایمانًا احتسابًا

ستا دَ لوئے علم په شمار رب العزة
دَ ازل نه په بار بار رب العزة

وی حُمادِ هر کردار رب العزة
بے زواله ایمانًا احتسابًا

ستا دَ علم په لوئے شمار شکرونه بیا بیا
ستا دَ علم په مقدار شکرونه بیا بیا

ځان ته او سپارے خپل بیچکو بیا بیا
ماکدا له ایمانًا احتسابًا

ستا دَ علم په لوئے شمار حمد و ثنا ستا
ستا دَ علم په تکرار حمد و ثنا ستا

ځان ته او سپارے په لوئے فضل اعلیٰ ستا
بینوا له ایمانًا احتسابًا

صد هزار هزار هزار هزار جنته
کرم قربان به خپل خاوند رب العزة

ستا دَ یو جلوے دَ حُسن و لذ زینته
له جماله ایمانًا احتسابًا

صد هزار هزار هزار هزار عالمه
کرم لوګے به ستا په ذات بیا بیا قسمه

دَ رضا او دَ لقا ستا له یو دمه
له وصاله ایمانًا احتسابًا

دَ جمله عالم جمله بنکلے کردار
دَ خپل پاک او محترم علم پشمار

ربه ته کړے په خپل بے نیاز دَ بار
سعا رضاله ایمانًا احتسابًا

ربه ته مو پخپل فضل او احسان
دَ خپل پاک علم په شمار او په میزان

کل جوندون کړے تر ابد بیا بیا قربان
ستا لقاله ایمانًا احتسابًا

جملګی ورے ذرے دَ کائنات
هر نفس رم کړے روحونه په کرات

چه ئے کړم ستا دَ رضا په نوم خیرات
رضا ستاله ایمانًا احتسابًا

دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عظمت
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عزت

دَ خپل ذاتِ مقدس په شرافت
ماکړے تاله ایمانًا احتسابًا

په ابرو دَ خپل زیبا محبوب حضرت
محترم صدر العلیٰ محبوب حضرت

ما عاجزته او کړے خپل حق هدایت
ستا لقاله ایمانًا احتسابًا

په ابرو دَ محمد محبوب حضرت
په خوشبو دَ محمد محبوب حضرت

محمد امین عاجز به خپل وصلت
کړے خوشحاله ایمانًا احتسابًا

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

په اوسیدو دَ مدینے منورے زړګیه
ډیر ملامت شوے چه جوندے کړځے نه مرے زړګیه

په اوښو کړمو خو جانان پسے تا هر ځائے ژړل
دلته بکاردی ګرے وینے که لرے زړګیه

دا مدینه منوره ده دَ جانان مسکن دے
په خپلو وینو دِ جامے نه کړلے سرے زړګیه

په خپو چه ګرزے دَ جانان کوسو کښے کوز کوزه
چه نه شوے دِ کوسو کښے خاورے او ایرے زړګیه

دَ عاشقانو په مذهب دَ محبوب بنکلے ګنبد،
لوړ دے دَ عرشِ مُعلیٰ له منارے زړګیه

رب دِ روحونه کړه دَ یار دَ قربانئے دَ یار،
په هر نفس دَ کائنات جمله ذرے زړګیه،

چه صد هزار فردوسه ئے شته دَ هر یو تار په هر خم
دلته هغه زلفے دَ یار په مخ خورے زړګیه

که دَ پتنګ غوندِ خاموش ستی وے ډیر به ښه وَو
مثلِ بلبل دِ نه وے دا بنکاره نعرے زړګیه

با نجمه کښے نا ستے ئے دَ جنت ډیر زیات نزدے محبوبه
دا شکریه خو به تل خپل رب ته سپارے زړګیه

چرته ګلزار دَ وصل چرته محمد امین خوار
ازلی برخے دی دا بنکلے نظارے زړګیه

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

زار شم لتانه خپل محبوبه محمد مصطفیٰ
ډیر عالیشانه خپل محبوبه محمد مصطفیٰ

رب العزة کړه ستا په بنکلی مبارک مخ روښنا
دواړه جهانه خپل محبوبه محمد مصطفیٰ

هزار هزار عالمه زار کړم ستا دَ په خاورو
خپله جانانه خپل محبوبه محمد مصطفیٰ

ستا په روښانه مبارک مخ شه رضا رب کریم   د بېنوانه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ
د خپل رب العزة په وجه الکریم سوال کوه   ډېر مهربانه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ
رب العزة خپل ارم نصیب کړه ستا دیدن مبارک   ډېر له ښه شانه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ
الله حضرت محبوبه بیا او کړه پرسان ستا په احسان   د ے خوار گدا نه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ
د رب د لوئے علم پشمار وسیله غواړم ستا نه   له خپل سبحانه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ
د رب د لوئے علم پشمار صلام سلام شه ستا   له هره آنه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ

ناست په جنت کښے محمد امین نعتونه لیکی
ستاله فرمانه خپل محبوبه محمدؐ مصطفیٰ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ربنا تاله ثنا شکرونه تل تل   خپل مولا تاله ثنا شکرونه تل تل
چه له ذات پاک کبریا ستا سره خائی   ابدا تاله ثنا شکرونه تل تل
چه له ذات پاک ذوالجلال ستا سره خائی   چه د ذات پاک بے زوال ستا سره خائی
چه له ذات پاک بے مثال ستا سره خائی   په بیا بیا تاله ثنا شکرونه تل تل
چه د ذات پاک محترم ستا سره خائی   چه د ذات پاک مکرم ستا سره خائی
چه له ذات پاک معظم ستا سره خائی   کبریا تاله ثنا شکرونه تل تل
د رضا او د لقا ستا په جلال   د رضا او د لقا ستا په وصال
د رضا او د لقا ستا په جمال،   بے پروا تاله ثنا شکرونه تل تل
د رضا او د لقا ستا په ابرو   د رضا او د لقا ستا په خوشبو
د رضا او د لقا ستا په کل خو   او ضیا تاله ثنا شکرونه تل تل
د رضا او د لقا ستا په عزت   د رضا او د لقا ستا په عظمت
د رضا او د لقا ستا په وصلت   له کدا تاله ثنا شکرونه تل تل
ستا د لوئے ډېر محترم علم پشمار   د ازل نه تر ابده په بار بار
په ادب حیا تعظیم تکریم وقار   سرمدا تاله ثنا شکرونه تل تل
د ذرو د کائنات په ډېر زرونو   د ذرو د ممکنات په ډېر زرونو
د ذرو د مخلوقات په ډېر زرونو   په صدا تاله ثنا شکرونه تل تل

له ذرو د کائنات په ډېر تعظیم   له ذرو د کائنات په ډېر تکریم
له ذرو د کائنات په ډېر تسلیم   او وینا تاله ثنا شکرونه تل تل
کبریا مولا سبحانک اللهم   ذوالعلا مولا سبحانک اللهم
بے پروا مولا سبحانک اللهم   ډېر حقا تاله ثنا شکرونه تل تل
د محمد امین خوار او ناتوان   په ابرو او وسیلے د خپل جانان
ستا د علم په لوئے شار په هر یو آن   دے گویا تاله ثنا شکرونه تل تل

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ستا دیدار ستا په ذات مقدسؐ غواړم   زهٔ لاچار ستا په ذات مقدس غواړم
ستا رضا او ستا لقا ان تر ابده   بے پروا خاونده الله الصمده
ذوالجلال کبریا خپل خاوند احده   زهٔ ډېر خوار ستا په ذات مقدسؐ غواړم
بندګان خواران چه تا ته پر رسیږی   چه ستا شکر او ثنا سره خائیږی
چه رضا او لقا ستا پرے حاصلیږی   دا روزګار ستا په ذات مقدسؐ غواړم
چه له صدق وله ایمان او له باور وی   د ویلو سره ئے زړه پرهر پرهر وی
ایمانا احتسابا ئے هر خبر وی   دا ګفتار ستا په ذات مقدس غواړم
چه ئے قاف تر قافه نور د احسان خورشی   چه په کل جهان ئے نور د فیضان خورشی
چه ئے ښکته پورته نور د عرفان خورشی   دا انوار ستا په ذات مقدس غواړم
چه تیاره ئے د عدم کړله روښانه   شو پیدا ئے په خاطر دواړه جهانه
نور ئے او رسیدو آن تر لامکانه   دا رخسار ستا په ذات مقدس غواړم
بس چه ستا رضا لقا پرے حاصلیږی   بس چه ستا رضا لقا سره خائیږی
چه هم ستا رضا لقا ته ئے نسبت کیږی   دا کردار ستا په ذات مقدس غواړم
خپله ډېره ستا د لوئے علم پشمار   د ازل نه تر ابده په بار بار
په حیا ادب تعظیم او په وقار   خپل دلدار ستا په ذات مقدسؐ غواړم
چه لری هزار فردوسه هر یو ګل کښے   اور د عشق لګه وی زړه د بلبل کښے
په آسانه نه رازی د چا منګل کښے   دا ګلزار ستا په ذات مقدس غواړم
چه د عشق و شوق سودا پرے حاصلیږی   چه رضا او لقا ستا پرے حاصلیږی

بس دَ زړه او روح منشا پرے حاصلیږی   دا اقرار ستا په ذاتِ مقدس غواړم
زۀ محمدؐ امین خوار ذلیل لاچار   ستا دَ علم مبارک په لوئے مقدار
دَرضا او لقا ستا بنکلے دلدار   په بار بار ستا په ذاتِ مقدس غواړم

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

ستا احسان ستا په ذاتِ کبریا غواړم   ستا فیضان ستا په ذاتِ کبریا غواړم
چه لتا سره خائیږی خپله ربه   بل په هیڅوک نۀ توانیږی خپله زۀ
ستا رضا په حاصلیږی خپله ربه،   هغه شان ستا په ذات کبریا غواړم
چه خائیږی ستاله شانه خپله ربه   ډیره زیاته اعلیٰ شانه خپله ربه
ډیره زیاته مهربانه خپله ربه   هغه توان ستا په ذاتِ کبریا غواړم
دَ رضا او دَ لقا ستا په عزت   دَ رضا او دَ لقا ستا په عظمت
دَ رضا او دَ لقا ستا په وصلت   ستا رضوان ستا په ذات کبریا غواړم
ډیر زیات خپله ربه ډیر پاک شریعت ستا   ډیر زیات خپله ربه ډیر پاک طریقت ستا
ډیر زیات خپله ربه ډیر پاک معرفت ستا   په عرفان ستا دَ ذات کبریا غواړم
ستا دَ علم په لوئے شماران ترابده   ستا دَ علم په مقداران ترابده
ستا دَ علم په تکراران ترابده   خوږ ایمان ستا په ذات کبریا غواړم
په عزت ستا دَ وجه الکریم خاونده   په عظمت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په وصلت ستا دَ وجه الکریم خاونده   ځان قربان ستا په ذات کبریا غواړم
ستا په وجه الکریم ستا رضا دیدار   ستا په شان عظیم ستا رضا دیدار
ستا په ذات قدیم ستا رضا دیدار   په هر آن ستا په ذات کبریا غواړم
ځما دل او دلربا رضا لقا ستا   ځما بنکلے محبوبا رضا لقا ستا
دَ جمله جوندون منشا رضا لقا ستا   دا جانان ستا په ذات کبریا غواړم
ستا په ډیر اعلیٰ دربار ثنا شکرونه   تا ته سپارم په بار بار ثنا شکرونه
ستا دَ علم په لوئے شمار ثنا شکرونه   یا سبحان ستا په ذات کبریا غواړم
په روضه کښے دَ جنت دَ خپل محبوب   په عزت او شرافت دَ خپل محبوب
په ډیر زیات بنکلی قربت تعبیر محبوب   کل دوستان ستا په ذات کبریا غواړم

ستا وعده ده ئے مجیب السائلین   ځما دغه دے ایمان باور یقین
دا ایمان باوریقین تا یوم الدین   زۀ نالان ستا په ذاتِ کبریا غواړم
زۀ محمد امین ډیر عاجز او خوار   ستا په ډیر زیات اعلیٰ شان بنکلی دربار
بنکلے وصل دَ محبوب حبیب رونډار   هر زمان ستا په ذات کبریا غواړم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؐ

خپل دلبره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام   دَ زړه سره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
دَرب العزۃ دَ لوئے علم بیشمار   دَ ازل نه ترابده په دربار
په ادب تعظیم حیا شوق وقار   ډیر بهتره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
دَ مخ نور دِ کړو روښانه ملکوت   عرش نورپور تر شوے رسا په جبروت
په خلوت دَ اَوادنے کښے دَ لاهوت   جلوه ګره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
دغه دومره لوئے عزت دِ مبارک شه   دغه دومره شرافت دِ مبارک شه
دغه دومره پاک وصلت دِ مبارک شه   پیغمبره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
نورانی محبوب اشرف الانبیائے   په حق الیقین محبوب کبریائے
بس جملة ادب تعظیم تکریم حیائے   پاک سروره اَلصَّلٰوۃ والسلام
چه دَرب العزۃ شان سره خائیږی   دَرب العزۃ رضا پرے حاصلیږی
توان توفیق دَ کل عالم کښے نۀ ځائیږی   مخه وره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
په وجه الکریم دَ خپل رب العزۃ   دَرب العزۃ دَ علم په کثرت
رب نه غواړم لائق ستا دَ شان وصلت   ناز پروره اَلصَّلٰوۃ والسلام
دَ جمله وو مرسلانو مُقتدا   صد هزار عالمه کرم ستا نه فِدا
ستا په مخ مه شه محرومه داګدا   ستاله دره اَلصَّلٰوۃ والسلام
که ذرے دَ کائناتِ مِ شی روحونه   هر نفس با ندِ رب اوکړی احسانونه
ستا په دریه ئے لوګے کړم او کړ دونه   معتبره اَلصَّلٰوۃ وَالسَّلام
دَ جمال کمال عزت دوردِ غکیږی   دَ عظمت او شرافت دوردِ غکیږی
دَ ډیر شوق او محبت دوردِ غکیږی   عرش نه بره اَلصَّلٰوۃ والسلام
محمد امین حقیر ذلیل لاچار   دَرب العزۃ دَ لوئے علم بیشمار

رب نه غواړی وسیله تاله بارباری تر محشره اَلصَّلاۃ وَالسَّلام

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دَ عالم خالق دَ ثنا لائق یو مولا دے جل جلالهٗ
څه چه کړی هغه دے کولے شی توانا دے جل جلالهٗ

دَ عدم نه ئے په یو کُن باندِ دا جمله عالم راپیدا کړلو
بے شریکه بے مددګاره ئے هم په ده قسم راپیدا کړلو
دا سے صد هزاری تل کولے شی کبریا دے جل جلالهٗ
که روحوندرم هر نفس باندِ کړی دَ کل عالم لری توان قسم
زیات له دے نه هم په ذرے ذرے دے کولے شو جمله احسان قسم
بس لائق دَ ډیرو شکرونو تل او ثنا دے جل جلالهٗ
دَ وجه الکریم په جلال دَ ده دَ وجه الکریم په جمال دَ ده
دَ وجه الکریم په وصال دَ ده دَ وجه الکریم په کمال دَ ده
سوال دَ ده په دربس له ده څخه دَ رضا دے جل جلالهٗ
هم دَ ده دَ لوئے علم شمار باندِ سپارو ده ته شکرو ثنا دَ ده
په ادب عجز انکسار باندِ سپارو ده ته شکرو ثنا دَ ده
قبلونکے دَ عاجزانو دَ هر دُعا دے جل جلالهٗ
په ابرو دَ اشرف الانبیا په خوشبو دَ اشرف الانبیا
په کل خو دَ اشرف الانبیا په خوږو دَ اشرف الانبیا
دَ رضا لقا تل غوښتونکے تړے دا کدا دے جل جلالهٗ
تل دَ ذات پاک مقدس دَ ده په عزت ترینه په ادب غواړو
تل دَ ذات پاک مقدس دَ ده په عظمت ترینه روز و شب غواړو
تل رضا دَ ده تل لقا دَ ده دیر اعلیٰ دے جل جلالهٗ
په جنت کښے دَ محمدؐ محبوب محمد امین دا سوالونه کړی
رب کریم دے زیات به له دینه هم تل په موږ که دے احسانونه کړی
له بحرِ کرم نه ئے کل عالم نم اُدنے دے جل جلالهٗ

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ربنا مولا ستا دیر عاجز بنده یمه کبریا مولا ستا دیر عاجز بنده یمه
په عطا ستا دَ وجه الکریم خپل ربه په وفا ستا دَ وجه الکریم خپل ربه
په لقا ستا دَ وجه الکریم خپل ربه مانه شے رضا ستا دیر عاجز بنده یمه
په جلال ستا دَ وجه الکریم خاونده په جمال ستا دَ وجه الکریم خاونده
په وصال ستا دَ وجه الکریم خاونده غواړم ستا لقا ستا دیر عاجز بنده یمه
په عزت ستا دَ وجه الکریم مولایه په عظمت ستا دَ وجه الکریم مولایه
په زینت ستا دَ وجه الکریم مولایه غواړم ستا عطا ستا دیر عاجز بنده یمه
دَ رضا او لقا ستا په شرافت دَ رضا او لقا ستا په لوئے عظمت
دَ رضا او لقا ستا په پاک وصلت ماله دواړه را ستا دیر عاجز بنده یمه
دَ ذاتِ مقدس خپل په عظمت ربه دَ ذاتِ مقدس خپل په عزت ربه
دَ ذاتِ مقدس خپل رفعت ربه شے رضا لما ستا دیر عاجز بنده یمه
ستا په ذاتِ مقدس ستا احسان غواړم ستا په ذاتِ مقدس ستا فیضان غواړم
ستا په ذاتِ مقدس ستا عرفان غواړم زهٔ خوار و گدا ستا دیر عاجز بنده یمه
حق مولا کبریا اَللّٰہُ الصَّمَد ه ربنا کبریا اَللّٰہُ الصَّمَد ه
شے رضا کبریا اَللّٰہُ الصَّمَد ه زهٔ خوار بینوا ستا دیر عاجز بنده یمه
صد هزار هزار هزاری هزار عالمه که کړے هره یو ذره کښے رب اکرمه
نه به ستا خدائی په زیاته شی نه کمه خورم قسم پنا ستا دیر عاجز بنده یمه
ته په هره یو ذره دَ کائنات شے کولے هغه جمله احسانات
چه دِ کړی دی په جمله مخلوقات ربنا الاعلیٰ ستا دیر عاجز بنده یمه
که ذرے دَ کائنات م کړی روحونه هرے ساه باندِ په تام قسمونه
دَ محبوب در کښے به ئے کړم لوګے کردونه زهٔ خوار بینوا ستا دیر عاجز بنده یمه
دواړه کونه ستاله بحره دَ کرم ادنیٰ نم دے ستا په پاک ذات م قسم
ستاله فضله دا ایمان باور لرم خپل رب العلیٰ ستا دیر عاجز بنده یمه
دَ محبوب دَ نورانی مخ په جمال دَ محبوب دَ نورانی مخ په وصال
کړے نصیب م ستا په در کښے دَ غه سوال دا ایمان رنړا ستا دیر عاجز بنده یمه

ستا ثنا شکر سپارم تا ته بار بار   ستا د لوئے او محترم علم پشمار
بخاطر د هغه ډیر زیبا ئ خسار   د خپل دلربا ستا ډیر عاجز بنده یمه
په جنت کښے په ارشاد د محبوب خپل   زهٔ محمد امین خوار کوم لیکل
د محبوب په مخ ئے غوارم قبلیدل   بس لتا بیا بیا ستا ډیر عاجز بندهٔ یمه

بسم الله الرحمٰن الرحیمهٔ

مات کچکول په لاس د لدارهٔ کوز کوز گورم   راکړهٔ خیر د رب د پارهٔ کوز کوز گورم
پورته نشمه کتے له ډیره شرمه   وایم شکته پرے وتے له ډیره شرمه
چرے بیانهٔ راختے له ډیره شرمه   دومرهٔ ډیر یمه بے کارهٔ کوز کوز گورم
ما هیڅ حق د محبت ستا ادا نکړو   ما هیڅ حق د شفقت ستا ادا نکړو
ما هیڅ د عنایت ستا ادا نکړو   اے پیما ډیره حقدارهٔ کوز کوز گورم
ملامته یم خجل او شرمندهٔ یمه   بے همته یم خجل او شرمنده یمه
ډیر کرته یم خجل او شرمندهٔ یمه   معزّز خپله رڼدارهٔ کوز کوز گورم
په وجه الکریم د خپل رب العزة   په ذاتِ قدیم د خپل رب العزة
زهٔ لتا نه غوارم خیر ستا د وصلت   اے د کل عالم مختارهٔ کوز کوز گورم
د رب العزة د لوئے علم پشمار   سوال کوم د وسیلے تا له بار بار
د خپل ډیر غنی کریم رب په دربار   ستا حیا نه زهٔ لاچارهٔ کوز کوز گورم
بینوا حقیر محمد امین خوار   د رب العزة د لوئے علم پشمار
ستا د گردنه د پا ئزار کړه رب نثار   زار له دِ بشکلی گفتارهٔ کوز کوز گورم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

کوز کوز گورم کرم جړا لکه یتیم   اَیُّهَا النَّبِیُّ السیّد الکریم
خیر د وصل راله خپل حُسنِ سلیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
مات کچکول په لاس ولاړ یم ستر گے ښکته   کتے نشم پاس ولاړ یم ستر گے ښکته
شه نُما پخپل کرم فیضان عمیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
مات کچکول کښے ماله خیر د دیدن راکړه   نورانی مخ له حجابه را نُما کړه

در قربان ته خو لرے خُلقِ عظیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
صد هزار فردوسه هر خم د هر تار کښے   چه پراته دی په ماحول ستا د رخسار کښے
رب نه غوارم د د غو زلفو نسیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
ستا جمال غوارم په حق ستا د جمال   ستا وصال غوارم په حق ستا د وصال
د ډیر خپل خاوند په پاک ذات قدیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
اَته واړه جنتونه د رضوان   تا ته یو حُل جوړیدو نه کړم قربان
شه نصیب م په وصال ستا کښے نعیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
یمه خوښ تر دولتونو د کونینو   یمه خوښ تر نعمتونو د کونینو
چه په خاورو د دربار ستا یم مقیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
ستا د عشق له برکته رب د پاره   ستا د عشق له شرافته رب د پاره
یم روان ستا په صراط المستقیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
دے نصیب م دولت ستا د عاشقئ   دے نصیب م نعمت ستا د عاشقئ
د ازل په هغه ډیر ښکلی تقسیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
ستا د ډیر پاک نورانی مخ په انوارو   ستا د ډیر پاک لاثانی مخ په انوارو
اَمان غوارمه د هجر له جحیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم
د رب العزة د لوئے علم پشمار   کړی سوالونه محمد امین ډیر خوار
په دربار د خپل خاوند رحمٰن رحیم   د رب العزة په پاک وجه الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیمهٔ

سوال کوم ستا په دربار ستا د رضا   ستا د علم په لوئے شمار ستا د رضا
ستا د علم په لوئے شمار لمحه لمحه کښے   ستا د علم په مقدار طرفه طرفه کښے
ستا د علم په تکرار لحظه لحظه کښے   تا نه غوارم خپل دلدار ستا د رضا
ستا د علم په لوئے شماران تر ابدهٔ   ستا د علم په مقداران تر ابده
ستا د علم په تکرار ان تر ابده   سوال کومه په بار بار ستا د رضا
ستا د علم په لوئے شمار په ډیر تعظیم   ستا د علم په مقدار په ډیر تعظیم
ستا د علم په تکرار په ډیر تعظیم   شه نصیب م ښکلے یار ستا د رضا

ستا دَ ذاتِ مقدس په شرافت — ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئې عزت
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئې عظمت — سوال کوم زهٔ عاجز خوار ستا دَ رضا
په جمال ستا دَ وجه الکریم خپل رب په — په وصال ستا دَ وجه الکریم خپل رب په
په جلال ستا دَ وجه الکریم خپل رب په — کړې نصیب مې پاک رخسار ستا دَ رضا
په احسان ستا دَ وجه الکریم خاوندهٔ — په فیضان ستا دَ وجه الکریم خاوندهٔ
په لوئې شان ستا دَ وجه الکریم خاوندهٔ — کړې نصیب مې کل انوار ستا دَ رضا
په ابرو ستا دَ وجه الکریم مولایه — په خوشبو ستا دَ وجه الکریم مولایه
په کل خو ستا دَ وجه الکریم مولایه — سوال کومه زهٔ لاچار ستا دَ رضا
ستا دَ جمله صفتونو په ابرو — ستا دَ جمله احسانونو په خوه بوو
ستا دَ جمله نعمتونو په خوشبو — تل په مونږ لرې بهار ستا دَ رضا
دَ محمدٌ مُصطفیٰ په شرافت — دَ محمدٌ مُصطفیٰ په شفاعت
دَ محمدٌ مُصطفیٰ په سعادت — مونږ درون کړې په گلزار ستا دَ رضا
دَ رضا او لقا ستا په لوئې عزت — دَ رضا او لقا ستا په لوئې عظمت
دَ رضا او لقا ستا په برکت — کړې نصیب مو خپل نکار ستا دَ رضا
ستا دَ شکر او ثنا په شرافت — ستا دَ شکر او ثنا په خوږ لذت
ستا دَ شکر او ثنا په لوئې نعمت — کړې نصیب مو حق دیدار ستا دَ رضا
په جنّت کښې دَ محمدٌ امین خوار — ستا دَ لوئې او محترم علم پشمار
دا باور او عقیده ایمان اقرار — بس مراد مې هر یو کار ستا دَ رضا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

غواړم تا نه ستا په وجه الکریم تل تل — خپل سبحانه ستا په وجه الکریم تل تل
ستا رضا او ستا لقا ان تر ابده — په لوئې شمار دَ علم ستا ان تر ابده
په ادب نیاز حیا ان تر ابده — زهٔ ناتوانه ستا په وجه الکریم تل تل
چه دَ ذات دیر لوئې اعلیٰ ستا سرهٔ بنائی — چه دَ ذات کبریا ستا سره ښائی
چه دَ ذات بې پروا ستا سره بنائی — مستعانه ستا په وجه الکریم تل تل
بس لتا نه مو سوالونه دی بار بار — ستا دَ لوئې او محترم علم پشمار

په ادب او عاجزئې او انکسار — اعلیٰ شانه ستا په وجه الکریم تل تل
ستا رضا او ستا لقا مو بس مطلب دے — ستا رضا او ستا لقا مو بس مشرب دے
تل مو تا نه دا مطلب په روز و شب دے — لوئې شانه ستا په وجه الکریم تل تل
په جلال ستا دَ رضا او دَ لقا — په جمال ستا دَ رضا او دَ لقا
کوم سوال ستا دَ رضا او دَ لقا — مهربانه ستا په وجه الکریم تل تل
ستا دَ لوئې او محترم علم پشمار — زهٔ عاجز فقیر ذلیل حقیر او خوار
قربانی غواړمه ستا په لوئې دربار — ترجانانه ستا په وجه الکریم تل تل
رضا او سے خپل حکیم علیم خاوندهٔ — رضا او سے خپل رحیم کریم خاوندهٔ
رضا او سے خپل عظیم قدیم خاوندهٔ — خوار گدانه ستا په وجه الکریم تل تل
چه دَ مخ جلوه ئې رسا تر لامکان دهٔ — وسیله مې ستا په دردَ خپل جانان دهٔ
دا پها باندِ تیاره چهٔ هجران دهٔ — شه رو ښانه ستا په وجه الکریم تل تل
دَ ازل نه تر ابده په بار بار — شم قربان ستا دَ لوئې علم په لوئې شمار
په ادب شوق محبت او انکسار — ستا رضا نه ستا په وجه الکریم تل تل
دَ محمدٌ امین دیر خوار ناتوان — شه نصیب ستا دَ رضا لقا جانان
دغه سوال ئې دے لتا په هر یو آن — له ایمانه ستا په وجه الکریم تل تل

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ښکلے محبوب مې محترم اشرف الانبیا دے
مختار دَ جملگی عالم اشرف الانبیا دے
دواړه جهانه ئې په ښکلی مخ روښانه کړه رب
گران په مولا نور الظلم اشرف الانبیا دے
ما له به بیا بیا راکوی دَ خپل وصال خیرونه
محبوب کریم بحر کریم اشرف الانبیا دے
دَ مدینے منورے لاړ وکوځو نه زار شم
جلوه گر دلته مکرّم اشرف الانبیا دے
ځما بیمار زړهٔ به رب روغ کړی پخپل فضل و کرم

دلته څما دَ زړهٔ مرهم اشرف الانبیا دے،
دوی دَ عزت ئے پاس دَ عرش په منارو غکیږی
عرش باندِ پاس ایخے قدم اشرف الانبیا دے
دَ لامکان په نهایت ډیر محترم خلوت کښے،
واصل دَ خپل مولا اکرم اشرف الانبیا دے
چه صد هزار فردوسه ښکلی اوخوشبو په لری
دَ خپلو زلفو په هر خم اشرف الانبیا دے
خوار **محمدامین** نعتونه په جنت کښے لیکی
دا ارشاد ښکلے دَ مکل فم اشرف الانبیا دے

بسم الله الرحمٰن الرحیمۃ

دا دَ هغے محترم محبوب حرم دے چه ئے ایخے پاس په عرش باندِ قدم دے
مدینه منوره ده ډیره ښکلے دَ جمله عالم مختار جانان دے دلے
چه دَ کل عالم تیرے په رڼا شولے دلته هغه کران په رب نور الظلم دے
دَ محبوب دَ پاک حرم چه کوم یوشان دے په تعریف باندِ ئے هر انسان حیران دے
دَرب العزة دَ نُور پکښے باران دے جلوه گر دلته سردار دَ کل عالم دے
که په دِ دُنیا جنت غواړے نو راشه که دَ خپل محبوب قربت غواړے نو راشه
که دَ خپل محبوب وصلت غواړے نو راشه جلوه گر دلته ډیر پاک محبوب قسم دے
رب دِ را ولی عاشقه په تلوار شه نصیب دِ دَ محبوب دَ مخ انوار
چه دَ عرش نه پورته ډیر کوی رفتار دَ هغے نور باران دلته دم په دم دے
دَ فلک له گردشونو چه جریږے دَ هجران له ما تمونو چه جریږے
دَ زخمی زړه له دردونو چه جریږے دِ حرم کښے دَ زخمی زړونو مرهم دے
چه لکونه عاشقان ترِ قربانیږی دَ رب العزة رضا په حاصلیږی
شفاعت چه دَ محبوب په واجبیږی دلته هغه پاک مزار ډیر مکرّم دے
په وجه الکریم دَ خپل رب العزة په ذاتِ قدیم دَ خپل رب العزة
محمدامین چه غواړی ئے وصلت جلوه گر دلته جانان بحرِ کرم دے

بسم الله الرحمٰن الرحیمۃ

مدینه منوره ده یار دلے دے دَ محبوب دَ عاشقئے رُوزگار دلے دے
که سودا کوے دَ عشق په بازار دَ جانان دَ عاشقئے بازار دلے دے
چه پرے دواړه جهانونه رب روښان کړه هغه ښکلی نورانی رُخسار دلے دے
چه هزار فردوسونه شته هرے غنچے کښے دَ محمد مُصطفیٰ گلزار دلے دے
چه له عرشه ئے انوار ډیر پورته تلی هغه ښکلے یار نور الانوار دلے دے
دَ جوړگے دَ معتبرو مرسلانو معتبر او محترم سردار دلے دے
رب دِ راولی عاشقه راپاسیگه ستا دَ ډیر زخمی زړگی قرار دلے دے
صد هزار فردوسه هر خم کښے دَ زلفو چه لری هغه ډیر پاک دلدار دلے دے
چه په عرش ئے قدمونه پورته ایخی کړے هغو پاکو خپو رفتار دلے دے
په مذهب دَ فدایانو عاشقانو عرش نه لوړ گنبد په خوشبو وار دلے دے
چه رضا لقا دَرب پرے حاصلیږی پاک محمد مُصطفیٰ مختار دلے دے
چه عاشق له شفاعت پرے واجبیږی دَ محبوب هغه ډیر پاک مزار دلے دے
تول دوستان مبارکی په جمعه ورکړئ
محمدامین ذلیل او خوار دلے دے

بسم الله الرحمٰن الرحیمۃ

ډیر ښکلے جانان په مدینه منوره کښے دے نُور دَ پاک سبحان په مدینه منوره کښے دے
دواړه جهانونه ئے چه روښانه په رُخسا کړه رب پورته ئے له عرشِ معلےٰ نه چه انوار کړه رب
داسے عالیشان په مدینه منوره کښے دے ډیر ښکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
اشرف و افضل چه دَ جمله وو مرسلانو دے اکرم و اکمل چه دَ جمله وو مرسلانو دے
ډیر په الله گران په مدینه منوره کښے دے ډیر ښکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
زړونه ئے چه په نور دَ معرفت باندِ روښانه کړه زړونه ئے چه په نور دَ حقیقت باندِ روښانه کړه
دا بحرِ فیضان په مدینه منوره کښے دے ډیر ښکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
ښکلے ئے چه نقشه دَ عاشقئے ده په لوح وقلم پاک رب العزة چه ئے په مخ کړلو روښان عدم
دا شاهِ خوبان په مدینه منوره کښے دے ډیر ښکلے جانان په مدینه منوره کښے دے

پاک رب خودِ راوله عاشقه دردیار لره
دِ دعاشقئے اوصاد قئے بنکلی دربار لره
ستا دَ زړهٔ ارمان په مدینه منوره کښے دے
دیر بنکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
صدهزار فردوسونه چه په هر گلدسته کښے شته
دومره جمال چرته دَ عالم په خاسته کښے شته
بنکلے گلستان په مدینه منوره کښے دے
دیر بنکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
سر په سجدهٔ محبوبؐ په غم کښے دَ اُمت جارې
آن په لامکان کښے هم دَ خپل ربؐ اُمت غواړی
داسے مهربان په مدینه منوره کښے دے
دیر بنکلے جانان په مدینه منوره کښے دے
صدهزار فردوسونه چه هر خم کښے دَ زلفانو شته
صدهزار محشرونه یو غمزه کښے دَ چشمانو شته
دادَ عشق سلطان په مدینه منورهٔ کښے دے
دیر بنکلے جانان په مدینه منوره کښے دے

دا دَ **محمد امین** اشعار ځه عجب بنکلی دی
چه دَ خپل محبوب په پاک ارشاد باندِ لیکلی دی
دیر دَ رب احسان په مدینه منورهٔ کښے دے
دیر بنکلے جانان په مدینه منوره کښے دے

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
خلقه دَ جمله ژوند دَ زړونو ارمان دلته دے
دواړه جهانونه چه ځان په مخ روښانه دی
پوره تے دَ مخ انوار له عرشِ معلٰی نه دی
هغه نورانی مخ دیر زیبا او روښان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
صدهزار فردوسونه چه هر خم کښے دَ زلفانو شته
دا مسئله حقه په مذهب دَ عاشقانو شته
دومره محترم په رب گران شاهِ خوبان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
بنکلی قدمونه چه محبوب دَ عرش په با اینخی
دِ لاړو کوسو کښے ئے دیر برکت صبا ما بنا اینخی
دِ لاړو کوسونه زار شم داسے لوئے شان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
که په هر ساهٔ مِ شی روحونه دَ جمله عالم
زار نثار فدا به ئے پا ئزار نه کړم دیار قسم
بنکلے دلربا دومره پیا باندِ گران دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
خپل رب العزته دَ خپل لوئے علم پشمار مُدام
ما دَ خپل محبوب در کښے لرے فدا نثار مُدام
دام عقیدهٔ ده او هم دامِ ایمان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے
پاک رب خودِ راوله عاشقه په تلوار دلے
رب دِ پاتے مکره پخاطر دَ دے دلدار دلے
روح دَ عاشقانو او محبوبؐ سبحان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے

تاسته دے په جنت کښے او نعتونه دَ جانان لیکی
شکر په ارشاد دَ خپل محبوبؐ ئے په بنه شان لیکو
دیر په **محمد امین** دَ خپل رب احسان دلته دے
بنکلے مدینه منوره ده جانان دلته دے

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

ربنا رضا لقا غوارم جنت کښے
خپل مولا رضا لقا غوارم جنت کښے
چه له عرشه ئے پوره ته دیر نصیب وصلت دے
دا ارشاد فرمان دَ دے محبوب حضرت دے
دَ ممبر او بیت په مینځ کښے دا جنت دے
کبریا رضا لقا غوارم جنت کښے
ته جنت کښے ورکوے مَا یَشَاءُوْنَ
ستا وعده ده وَهُمْ فِیْهَا خَالِدُوْنَ
وَلَدَیْنَا مَزِیْد ستا احسان افزون
زهٔ بیا بیا رضا لقا غوارم جنت کښے
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے جلال
ستا دَ ذاتِ مقدس په پاک جمال
ستا دَ ذاتِ مقدس په خودِ وصال
اوصیا رضا لقا غوارم جنت کښے
ستا دَ ذاتِ کبریا په شرافت
ستا دَ ذاتِ کبریا په لوئے عزت
ستا دَ ذاتِ کبریا په لوئے عظمت
او عطا رضا لقا غوارم جنت کښے
چه دَ وجه الکریم ستا سرهٔ خا ئیږی
چه دَ ذاتِ قدیم ستا سره خا ئیږی
چه دَ شانِ عظیم ستا سره خا ئیږی
زهٔ گدا رضا لقا غوارم جنت کښے
بس هم ستا دَ محترم وجه الکریم
بس هم ستا دَ محتشم وجه الکریم
بس هم ستا دَ مکرم وجه الکریم
په وفا رضا لقا غوارم جنت کښے
دَ ازل نه په با ربار رب العزته
سوال کوم ستا په دربار رب العزته
ستا دَ علم په لوئے شمار رب العزته
هم لتا رضا لقا غوارم جنت کښے
ستا دَ علم په لوئے شمار تاله شکرونه
ستا دَ علم په تکرار تاله شکرونه
ستا دَ علم په مقدار تاله شکرونه
او ثنا رضا لقا غوارم جنت کښے

زهٔ **محمد امین** خوار ستا په توفیق
په ادب او انکسار ستا په توفیق
ستا دَ علم په لوئے شمار ستا په توفیق
ابدا رضا لقا غوارم جنت کښے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

تانه قربان تانه قربان پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

دواړه کونه ستا په مخ محبوبه چه روښانه دی
جملګی خوبان له صدقه شوق قربان تانه دی
ډیر مبارک شاهِ خوبان پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

ته دَ مرسلانو دَ محفل مشعل دَ نور ئے
ته په دواړو کونو کښے افضل مشعل دَ نور ئے
محترم محبوب سبحان پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

رب خو دِ نصیب کړه خپل جمال کمال ډیر ئے ښکلے
پورته تر عرشِ برین تر لامکانه ئے تلے
بے حده خپل رب ته ئے ګران پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

سوال مې دے لتانه په وجه الکریم دَ خپل مولا
شه رضا لمانه په وجه الکریم دَ خپل مولا
اُوم کړه دَ خوګ زړه پرسان پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

دواړه کونه زی کرت که شی ځما دفتر قسم
کړم به ئے قربان په در کښے ستا په رب اکبر قسم
دارم اقرار دارم ایمان پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

رب دِ وسیله کړه په تکرار دَ علم خپل نصیب
رب دِ وسیله کړه په لوئے شمار دَ علم خپل نصیب
په عزت هم ستا دَ خپل شان پاک محمدؐ مصطفیٰ

بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

که دَ **محمدؐ امین** په هرے ساه روحونه شی
کل دَ کائنات ذرے پرے دومره احسانونه شی
تانه به ئے قربان کړی هر آن پاک محمدؐ مصطفیٰ
بهرِ مولا شه نمایان پاک محمدؐ مصطفیٰ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مدینه منوره ډیره زیبا جانان دے دلته
دَ هر یو عاشق دَ خوګ زړهٔ اوزولن درمان دے دلته
چه له عرشه پورته تلے، خپل مولا ئے دے لیدلے
دومره ډیر محترم ښکلے، په باور ایمان دے دلته
تاج پسر دَ مرسلانو، معتبر دَ مرسلانو
تسله دَ عاشقانو، نور دَ پاک سبحان دے دلته
چه ئے روښان کړو ملکوت، شو بالا تر جبروت
محترم شو په لاهوت، دا سے مخ روښان دے دلته
تله په ستړکو نه توانیږی، تا علاج په خپو کړزیږی
بینوا ګدا اجړیږی، خوار و زار حیران دے دلته
طاقت نشته دَ ویلو، معلومیږی په لیدلو
دَ عشاقو دَ جړلو، عجیبه ګذران دے دلته
راشه راشه اے عاشقه، دَ محبوب دَ در لایقه
اے په عِشق کښے صادقه، لوئے دَ رب احسان دے دلته
په جنت کښے دَ محبوب خپل، په قربت کښے دَ محبوب خپل
په وصلت کښے دَ محبوب خپل، خوار ګدا ګویان دے دلته
محمدؐ امین ډیر خواره، دَ رضا دَ رب دَ پاره
وا اخله خیر له دِ دربارہ، دَ خیر و نو کان دے دلته

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ستا رضا هم ستا په وجه الکریم غواړم   ستا لقا هم ستا په وجه الکریم غواړم
په عزت ستا دَ ذات مقدس ربه   په عظمت ستا دَ ذات مقدس ربه
په رفعت ستا دَ ذات مقدس ربه   ستا عطا هم ستا په وجه الکریم غواړم
چه لتا سره خائیږی ستا ثنا   چه استا نه صادریږی ستا ثنا
په هغې شوق و ادب تعظیم حیا   هم لتا نه ستا په وجه الکریم غواړم
ستا وعده ده ته مجیب السائلین ئې   ستا وعده ده ته مجیب المضطرین ئې
ته په حقه با نډِ رب العٰلمین ئې   ستا دُعا هم ستا په وجه الکریم غواړم
په جلال ستا دَ پاک ذاتِ کبریا   په جمال ستا دَ پاک ذاتِ کبریا
په خیسته مخ دَ اشرف الانبیا   ستا وفا هم ستا په وجه الکریم غواړم
دَ ازل نه تر آبده په بار بار   دَ رضا او لقا ستا یم طلبګار
ستا دَ لوئې او محترم علم پشمار   دا سودا هم ستا په وجه الکریم غواړم
په ادا ستا دَ ثنا شکر ناتوان یم   ناتوان خو چه پریشان او سرګردان یم
کوز ګوزګورم شرمنده بنده حیران یم   دا ادا هم ستا په وجه الکریم غواړم
هرے او خکے نه م خپل رب توانګره   چه ګړے جوړ هزار هزاره سمندره
دومره بخره مبارکه بختوره   دَ جرا هم ستا په وجه الکریم غواړم
چه نظر م شی تر تحت الثریٰ خکته   له خپل دیره نهایته خجالته
کوز کوزی ګورم شرمنده او ملامته   دا حیا هم ستا په وجه الکریم غواړم
په جنت کښے زه محمد امین خوار   په توفیق ستا دَ ازله په بار بار
ستا رضا لقا دَ علم ستا په شمار   په ربښتیا هم ستا په وجه الکریم غواړم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

له حیا نه دِ حضور کښے د یرش میږم   کوز کوزی ګورم په ادب روی و جړیږم
لیرته ته او چرته زهٔ سبحان اللہ   په بیان دَ رب دَ فضل نهٔ توانیږم
دا په ویخه که په خوب یمه محبوبه   مدینه منوره کښے چه ګرزیږم
که هر څو مره ملامت او شرمنده یم   خو په خُلقِ عظیم ستا یا نډِ نازیږم

په وجه الکریم دَ خپل رب العزت   سوال کوم خپله محبوبه قربانیږم
مخ سرګند کړه دَ اللہ په در مختاره   دَ هجران په کټارو دِ حلالیږم
په وجه الکریم دَ رب مِ چه سوال او کړو   په قسم چه بینوا به نهٔ ستنیږم
مات کچکول کښے مالِ خیر دَ دیدن راکړه   دَ هجران وبا وهلے یم غُوزیږم
چه ئے صد هزار فردوس نه هر خم کښے   ستا دَ دے زلفو خوشبو ته خوشحالیږم
په جرګے دَ عاشقانو کښے زهٔ یم خوار   ستا دَ زلفو په تعریف سره وییږم
که مِ دوازه کونه زر وارے دفتر شی   خوړم په رب قسم محبوبه درزاریږم
یو ذره به رانه کم نکړی ارمان ستا   ستا شیدا یم بس پتا تسله کیږم
په جنت کښے متصل پنجرے سره ستا   ناست یم دِ خپل سعادت ته حیرانیږم
دَ رب العزة دَ لوئے علم پشمار   رب ته سپارم شکر زهٔ خوارنه توانیږم
بس رضا او لقا غواړم دَ خپل پاک رب   ستا په مخ به دِ مطلب ته اُورسیږم

زهٔ **محمد امین** شکری ب تر سپارم
مدینه منوره کښے چه اُوسیږم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ربنا بنور وجهک الکریم   حق مولا بنوری وجهک الکریم
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے جلال   ستا دَ ذاتِ مقدس په پاک جمال
ستا دَ ذاتِ مقدس په خوږ وصال   کبریا بنور وجهک الکریم
ستا رضا او لقا غواړم بس هم تا نه   حُما دیر خپله کریم خاوند سبحانه
حُما دیر خپله رحیمه او رحمانه   ابدا بنوری وجهک الکریم
ستا دَ علم په لوئے شمار آن ترابده   ستا دَ علم په مقدار آن ترابده
ستا رضا غواړم خپل اَللّٰهُ الصَّمَدَه   زهٔ ګدا بنوری وجهک الکریم
چه لتا سره خائیږی خپله ربه   ستا رضا په حاصلیږی خپل خاونده
تا نه دغه اُمید کیږی خپل خاونده   په عقبیٰ بنوری وجهک الکریم
رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ دَ علم په لوئے شمار ستا   رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ دَ علم په مقدار ستا
رب اغفر وارحم دَ علم په تکرار ستا   کرم صدا بنوری وجهک الکریم

تا ته سپارو ستا دَ علم په لوئے شمار   په تعظیم ادب حیا او انکسار
ستا شکرونه دَ ازل نه په بار بار   او ثنا بنوی وجهک الکریم
ستا رضا غواړو په ډیرو ادبونو   ستا لقا غواړو په ډیرو ادبونو
ستا عطا غواړو په ډیرو ادبونو   کرم دُعا بنوی وجهک الکریم
خپله لویه کبریا رب العزته   ذوالجلال او توانا رب العزته
دَ هجران تیارہ مولا رب العزته   کړے رنړا بنوی وجهک الکریم
جُمله ته ئے په توفیق او هدایت ستا   په فیضان او په عرفان او مرحمت ستا
په کرم او جود او رحم او شفقت ستا   یم ګویا بنوی وجهک الکریم
محمد امین روضه کښے دَ جنّت   دَ اشرف الانبیا په شرافت
دَ جمله سوالونو غواړی اِجابت   په بیا بیا بنوی وجهک الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دا مدینه منوره ده دَ جانان وطن دے
عجیبه بنګلے مبارک او عالیشان وطن دے
دا مدینه منوره ده ما ترے زاړ کړے ربه
دَ نورانی محبوب په نور باندِ روښان وطن دے
لارے کوسے ئے ماته ګرانے له جنت څخه دی
بس دَ رضا لقا دَ پاک رب دَ سامان وطن دے
رضوانه ستا تر جنتونو پکښے ډیر خوشحال یم
دارم دَ بنګلی دلرُبا شهِ خوبان وطن دے
زړګیه ستړکے لګوه په قدمونو مړه زه
دا دَ محمد مُصطفیٰ ډیر قدردان وطن دے
که زه په سترګو او په سر اوزړهٔ کولے شوے تلل
والله خوشحال به ومه دومره په ګران وطن دے
دواړه جهانه صد هزار وارے قربان شه ترینه
دومره ډیر حق لری قسم په رب داشان وطن دے

دَ عاشقئے په وړ رونو په هوا شه راشه
عاشقه دا دَ عاشقانو دَ سلطان وطن دے
جنت کښے ناست دے **محمد امین** نعتونه لیکی
دائے دَ ډیر خوبږ دلرُبا او دلبرجان وطن دے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خپله ډیره مهربانه ربّنا   په ما ډیر عاجزنا توانه ربّنا
ستا رضا او ستا لقا ان ترابده   ستا دَ علم په شمار اَللّٰهُ الصَّمد
په ادب حیا نیاز او شوق بے حده   مونږ خواران غواړو لتانه ربّنا
دَ رضا او دَ لقا ستا لوئے دفتر   دَ رضا او دَ لقا ستا خوبږ دلبر
دواړو کونو کښے بے مثله معتبر   تا نه غواړو خپل سبحانه ربّنا
په عزت ستا دَ وجه الکریم خاونده   په عظمت ستا دَ وجه الکریم خاونده
په وصلت ستا دَ وجه الکریم خاونده   کړے مونږ ازی خپلے رضا نه ربّنا
په جلال ستا دَ پاک ذاتِ مقدس   په جمال ستا دَ پاک ذات مقدس
په وصال ستا دَ پاک ذاتِ مقدس   غواړو تا ستا له احسانه ربّنا
هغه او کړے چه لتا سره خائیږی   ستا رضا او ستا لقا پرے حاصلیږی
دَ کرم دریاب دِ پلن بے حد بهیږی   کے نکړی له هیڅ شانه ربّنا
که ذرے دَ کائنات زه کړے روځونه   هغه زے ساه باندِ ډیر او کړے احسانونه
ستا دَ علم په لوئے شمار زه قسمونه   کرم لوږے به ئے ترجانا نه ربّنا
که هزار هزار هزار هزار عالمه   اَبدا پیدا اکوے له هره دمه
نهٔ به ستا خدائی پرِ زیاته شی نو کمه   جُمله زاړ کرم ستا له توانه ربّنا
ستا ثنا او ستا شکرونه په بار بار   ستا ثنا او تعظیمونه په بار بار
ستا دَ لوئے او محترم علم په شمار،   تا ته سپارو له هرا نه ربّنا
دَ محمد مُصطفیٰ په وسیلے   دَ اشرف الانبیا په وسیلے
دَ محبوب نور الهدیٰ په وسیلے   کړے نصیب مو خیر بے شانه ربّنا
که په هره یوه ذره دَ کائنات   او کړے هسے عنایات او احسانات

لکه کړې دې په جمله ممکنات، دا خاځیږي ستاله شانه ربنا
محمدامین ذلیل عاجز او خوار، ستا په ډیر لوئې نهایت اعلی دربار
ستا د رضا او لقا غواړي په بار بار، خپل کریم رحیم رحمانه ربنا

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ډیر بهتر وطن دے — څه د خپل ښکلي محبوب خیر البشر وطن دے
دوه جهانه چه پیدا کړه رب د جمال محمد — دا د هغې صدر العلی حق پیغمبر وطن دے
هزار هزار فردوس زار شه تر هزار کرته — د عاشقانو په مذهب ډیر معتبر وطن دے
عرش نه قربان شه نصیب سا لکانو دي — عاشق زاله د یاره دا د عرش بر وطن دے
رضوانه او کړه تماشاه م د جانان د وطن — ستا تر اتو جنتو خوږه معطر وطن دے
عاشقه راشه رب دِ راوله د عشق پر پرواز — د عاشقئ مرکز دے ډیر زیات جلوګر وطن دے
افسوس ستر ګو قد مونه جوړ ولے نه شم — په خپو چه ګرزمه شرمیږم د دلبر وطن دے
دواړه جهانه به هزار وار قربان کړم تریه — ګران ښاد و مره دا د حبیب انور وطن دے
رب العزة مونږ رضا لقا نصیب کړه خپله — دا چه د ډیر ښکلي محبوب د پاک اکبر وطن دے
خوار محمدامین ډیر ډیر مبارک شه در ته
دا ستا د ډیر ښکلي جانان نور البصر وطن دے

بسم الله الرحمن الرحیم

دلربا نور الانوار دے مدینه منوره کښے،
د عاشق د زړه قرار دے مدینه منوره کښے
چه اشرف الانبیا دے، چه محبوب کبریا دے
د جمله عالم سردار دے، مدینه منوره کښے
چه ئے شو دواړه جهانه، په جمال د مخ روښانه
دغه ډیر ښکلے دلدار دے، مدینه منوره کښے
دومره ډیر زیات محترم دے، چه ئے په عرش ایښے قدم دے
د جمله عالم مختار دے، مدینه منوره کښے

صد هزار هزار عالمه، تر مے لوګے کرم له هر دمه
ګران ښاد ومره روښانه دے، مدینه منوره کښے
چه د کل عالم خوبان، دی د در ئے ګدایان
د خوبانو شهریار دے، مدینه منوره کښے
که سودا د عاشقئ کړے، که روزګار د صادقئ کړے
دلته ډیر ګرم بازار دے، مدینه منوره کښے
که رضا لقا د رب، په رښتیا لرے مطلب
نو راځه دغه روزګار دے، مدینه منوره کښے
چه ئے هزار هزار جنته، شته هر ګل کښے له زینته
د جانان دغه ګلزار دے، مدینه منوره کښے
چه الله پر ے راضي کیږي، شفاعت پرے واجبیږي
دغه ډیر عالي مزار دے، مدینه منوره کښے
محمدامین جریږي، خپل دلبر نه قربانیږي
وای خطا ذلیل او خوار دے، مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمن الرحیم

اشرف الانبیا محبوبه عالیشانه څما — رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه څما
رب دِ نصیب کړه وسیله هم د خپل علم بشمار — دغه مو سوال دے د رب العزة په ښکلي دربار
د مدینے منورے محبوبه ګرانه څما — رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه څما
د مرسلانو د جرګے صدر العلی محترم — دواړو جهانو باندِ ته ئے په مولا م قسم
نور الانواره محترمه مهربانه څما — رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه څما
د رب د لوئے علم بشمار صلاة سلام شپیتا — ازل نه تر ابد بار بار صلاة سلام شه بیتا
دغه دعا ده له اخلاص او له ایمانه څما — رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه څما
هزار هزار عالمه ستا په در نثار کرم والله — دا م ایمان دا عقیده دغه اقرار کرم والله
رب دِ رضا شي د صدق له بیانه څما — رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه څما
په مدینه منوره کښے چه ګرزیګمه زه — فخر اسمان باندِ کومه خوشړیګمه زه

چه قد موښه شو دا دواړه چشمانه ځما　　رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه ځما
تا ته خجل او ملامت او شرمنده یمه ډیر　　ستړے کړم خکته کوز کوښ کوړم خوار بنده یمه ډیر
نصیب رضا شه دَرب ستا له مخ روښانه ځما　　رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه ځما
دَ محمد امین محبوبه اشرف الانبیا　　هزار هزار عالمه زاړه شه ستا تر دیرے حیا
بے تا پکار ندی والله دواړه جهانه ځما　　رب دِ نصیب کړه وسیله خپله جانانه ځما

بسم الله الرحمٰن الرحیم

په شمار ډیر لوئے علم ستا رضا لقا غواړمه　　یا ربنا یا ربنا رضا لقا غواړمه
ازل نه تر ابده تل تل ستا دَ علم پشمار　　خپل الله الصمده تل تل ستا دَ علم پشمار
په عاجزئے بے حده تر تل ستا دَ علم پشمار　　زهٔ خوار گدا او بینوا رضا لقا غواړمه
په جلالت او په وصلت ستا دَ وجه الکریم　　په شرافت او په عزت ستا دَ وجه الکریم
په برکت او په عظمت ستا دَ وجه الکریم　　خپله خاونده کبریا رضا لقا غواړمه
په ډیر بے حده لوئے جلال ستا دَ وجه الکریم　　په ډیر بے حده پاک جمال ستا دَ وجه الکریم
په ډیر بے حده لوئے کمال ستا دَ وجه الکریم　　ستا په دربار باندِ لتا رضا لقا غواړمه
په ډیر بے حده ابروئي ستا دَ وجه الکریم　　په ډیر بے حده خوبروئي ستا دَ وجه الکریم
په ډیر بے حده خوشبوئي ستا دَ وجه الکریم　　تا نه بار بار زهٔ په جړا رضا لقا غواړمه
په هغه بے حده عزت چه ستا له شانه بنائی　　په هغه بے حده عظمت چه ستا له شانه بنائی
په هغه بنکلی اجابت چه ستا له شانه بنائی　　ازل نه ان تر ابدا رضا لقا غواړمه
ستا دَ رضا او دَ لقا په شرافت خاونده　　ستا دَ رضا او دَ لقا په لوئے عزت خاونده
ستا دَ رضا او دَ لقا په پاک وصلت خاونده　　ډیر په ادب او په حیا رضا لقا غواړمه
هغه ادب هغه حیا چه ستا له شانه خائی　　هغه زاری هغه جړا چه ستا له شانه خائی
هغه خواری هغه دُعا چه ستا له شانه خائی　　تا نه پرے زهٔ خوار و گدا رضا لقا غواړمه
په وسیلے دَ دے محبوب ډیر محترم خاونده　　په وسیلے دَ دے محبوب ډیر محتشم خاونده
په وسیلے دَ دے محبوب نور الظلم خاونده　　ستا په پاک دری ربّ العلا رضا لقا غواړمه
په وسیلے دَ دے اشرف الانبیا محبوب　　په وسیلے دَ دے حضرتؐ نور الهدیٰ محبوب
په وسیلے دَ دے محمدؐ مصطفیٰ محبوب　　خپله مولا خپله مولا رضا لقا غواړمه

په مبارک ارشاد دَ خپل محبوب لیکل کومه　　جنت کښے ناست یمه مولا تا نه غوختل کومه
ډیر شرمنده یمه له شرمه دا لیکل کومه،
خوار محمد امین بیا بیا رضا لقا غواړمه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

چه بنائیږی ستا له شانه ربّنا　　مونږ هغه غواړو لتا نه ربّنا
ته هم هغهٔ چه ترے خپله ربه　　بے زواله قائم تل ترتله ربه
کل مراد ځونږ رضا ستا شوله ربه　　ستا له فضل وله احسانه ربّنا
دَ هزار هزار هزار هزار اربونو　　دَ هزار هزار هزار هزار کربونو
دَ دارینو ترکلونو نعمتونو　　ستا رضا بنه ده سبحانه ربّنا
ستا رضا بنه ده اگرچه یو لحظه وی　　ستا لقا بنه ده اگرچه یو طرفه وی
ستا عطا بنه ده اگرچه یو لمحه وی　　دا اقرار کړم له ایمانه ربّنا
اِیْمَانًا اِحْتِسَابًا م دا اقرار　　دَ ازل نه تر ابده په بار بار
ستا دَ لوئے او محترم علم پشمار　　ستا له فضل وله احسانه ربّنا
دَ خپل ذاتِ مقدس په اعلیٰ شان　　کړے نصیب ځما دا خپل فضل احسان
زهٔ عاجز فقیر ذلیل بنده ناتوان　　ستا رضا غواړم لتا نه ربّنا
په عزت دَ رضا خپلے خپل خاونده　　په لذت دَ رضا خپلے خپل خاونده
په وصلت دَ رضا خپلے خپل خاونده　　شے رضا له مونږ رحمانه ربّنا
په جلال دَ رضا خپلے خپله ربه　　په جمال دَ رضا خپلے خپله ربه
په وصال دَ رضا خپلے خپله ربه　　امان راکړے دَ هجرانه ربّنا
په ابرو دَ رضا خپلے خپل سخښته　　په خوشبو دَ لقا خپلے خپل سخښته
په کل خو دَ عطا خپلے خپل سخښته　　تل تل اوسه مهربانه ربّنا
محمد امین جنت کښے رضا غواړی　　محمد امین جنت کښے لقا غواړی
محمد امین جنت کښے عطا غواړی
دَ محبوب په مخ روښانه ربّنا



بسم الله الرحمن الرحیم

صد هزار هزار هزار عالمه   تا نه زار کرم خپل محبوبه محترمه
ته چه غوره محترم په دردار رب ئې   ته چه غوره مکرم په دردرب ئې
ته چه غوره معظم په درد رب ئې   هغه جمله دِ نصیب شه له هر دمه
ستا دَ ښکلي نوراني مخ په ابرو   ستا دَ ښکلي لاثاني مخ په ابرو
ستا دَ ښکلي حقاني مخ په ابرو   دا جمله عالم را غلې له عدمه
دَ جمله وو مرسلانو معتبره   جمکې ابرو ده ستا له خاک دره
دَ عزت دوره دِ غکیږي عرش نه بره   عرش موندلې احترام ستا له قدمه
مات کچکول پلاس ولاړیم سترګې ښکته   کوز کوږ کورمه له شرمه خجالته
دَ وجه الکریم دَ پاک رب له عزته   ماله خیر دَ دیدن را بحرِ کرمه
دا هم جمله ستا دَ ښکلي مخ خاطر دې   چه حُضور کښې ستا دا دومره خوار حاضر دې
دَ کرم نور دِ په کل عالم ظاهر دې   محمدؐ رسول الله نور الظلمه
که ذرې دَ کائنات م شي روحونه   هرې ساه باندې رب او کړي احسانونه
رب کولې شي په رب م قسمونه   زهُ به ئې کرم لوګې په در ستا محتشمه
دَرب العزة دَ لوئې علم پشمار   رب ته سپارم ستا ادب حیا وقار
دَ ازل نه ترابده په بار بار   اې په در دَ رب پخښه محترمه
وسیله دِ کړه نصیب خاوند سُبحان   په خپل فضل او کرم او په احسان
مبارک دِ شه وصال دَ لامکان   اې په تخت دَ اوادنې دیر معظمه

محمدؐ امین په کوزو سترګو جاړي
کوز کوږ کوري ملامته خوار ولاړي

مات کچکول کښې د نه خیر دَ دیدن غواړي   خپل محبوبه دَ زخمي زړونو مرهمه

بسم الله الرحمن الرحیم

صد هزار هزار عالمه په هر آن   په دربار ستا کښې لوګې کرمه قربان
هم دغه م عقیده دغه باور دې   هم دغه م دې اقرار دغه ایمان
دا هم ستا دَ مبارک مخ ابروئي ده   ستا له مخه خپل رب کړې دا احسان

نیت م دیر ښه دې محبوبه رب ګواه دې   چه ئې نهُ لرم زه خوار توان دَ بیان
که ذرې دَ کائنات م کړي روحونه   خپل رب العزة پخپل قدر او توان
هرې ساه باندې دَ جمکې عمرونو   دَ یوې ذرې پشان رب ته آسان
رب م دومره لوئې قادر او توانا دې   رب م دومره دیر بې حده اعلیٰ شان
دَرب العزة دَ لوئې علم پشمار   قسمونه دِ ختما وې هرې مان
دا جمله به دَ محبوب در کښې لوګې کرم   په توفیق او هدایت دَ پاک سبحان
دا جمله دَ خپل رب العزة کرم دې   چه ئې دومره پیا ګران کړو خپل جانان
دَرب العزة دَ لوئې علم په شمار   دَ ازل نه تر ابده په ښه شان
دا شکرونه رب ته سپارمه بیا بیا   هم دَ خپل محبوب په ښکلي مخ روښان
دَ محبوب په خوا کښې ناست دې په جنت کښې   کړي لیکل دَ خپل محبوب په خوږ فرمان

خوار محمدؐ امین غوره بختور شو
ورد دِ کړي مبارکي جُملهٔ دوستان

بسم الله الرحمن الرحیم

دیرې ښایسته ښکلې دلدار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې
محترم نور الانوار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې
مقتدا دَ مرسلانو، پیشوا دَ مرسلانو
ګران دَ رب په لوئې دربار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې
رحمةٌ للعالمین دې، راحة للعاشقین دې
دَ زخمي زړګي قرار م پاک محمدؐ مصطفیٰ دې
بې جهت او بې طرف، لامکان کښې مشرف
دَ الله په پاک دیدار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې
مدینه منوره ده، څه عجیبه نظاره ده
چه پکښې دَ رب روڼدار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې
ربه تا نه رضا غواړم، ربه تا نه لقا غواړم
وسیله تا ته یار بار م پاک محمدؐ مُصطفیٰ دې

خپل رهبر حقّ الیقین، پیغمبر حق الیقین
په ایمان او په اقرار م پاک محمّدؐ مُصطفیٰ دے

شه نصیب دَ عاشقانو، شه نصیب دَ فدایانو
نورانی ښکلے رُخسار م پاک محمّدؐ مُصطفیٰ دے

شته جنت په دے دُنیا کښے، دَ محبوب حبیب په خوا کښے
دومره صاحبِ وقار م، پاک محمّد مُصطفیٰ دے

محمّد امین ذلیل، په احسان دَ رب جلیل
دے گویا پخقه یار م پاک محمّدؐ مُصطفیٰ دے

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

دَ رب دَ لوئے علم په شمار صلاۃ سلام شه پتا
ازل نه تر ابد بار بار صلاۃ سلام شه پتا

دَ رب دَ لوئے علم پشمار محبوبه ډیر په ادب
تعظیم حیا او انکسار صلاۃ سلام شه پتا

دوارِه جهانه کړه روښانه پاک رب العزۃ خپل
ستا په دے پاک ښکلی رخسار صلاۃ سلام شه پتا

ستا فدایان چه کومه ورځ شمیرلے کیږی تا ته
رب مو حساب کړه په دا شمار صلاۃ سلام شه پتا

دَ مدینے منورے ډیر پها گران محبوبه
رب مو نصیب کړه ستا دیدار صلاۃ سلام شه پتا

که م ذرے دَ کائنات شی هر نفس روحونه
قسم لتا به ئے کړمه زار صلاۃ سلام شه پتا

دَ عرش نه ډیره بره تلے تجله دَ جمال
ستا دَ پاک مخ نور الانوار صلاۃ سلام شه پتا

جنت کښے نا ست یمه لیکم ستا په ارشاد مبارک
ستا دَ صفت ښکلی اشعار صلاۃ سلام شه پتا

هزار هزار فردوسه هر خم دَ زلفانو کښے ستا
دَ محمّد امین اقرار صلاۃ سلام شه پتا

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

طمینان دَ زړه م ستا رضا لقا ده
بس ارمان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

صد هزار هزار هزار عالمه
که پید اکړے ماله ئے راکړے رب اکرمه

په قسم به ئے تا نه جمله قربان کړمه
بس درمان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

که ذرے دَ کائنات کړے نعمتونه
که ذرے دَ کائنات کړے دولتونه

که ذرے دَ کائنات کړے جنتونه
گلستان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

که ذرے دَ کائنات شی خوبان ښکلی
که ذرے دَ ممکنات شی خوبان ښکلی

دا جمله م په توفیق ستا پریخودلی
بس جانان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

دَ رضا او دَ لقا ستا په عزّت
دَ رضا او دَ لقا ستا په لذّت

دَ رضا او دَ لقا ستا په وصلت
روح روان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

دَ رضا او دَ لقا ستا په جلال
دَ رضا او دَ لقا ستا په جمال،

ماله راکړے دَ رضا لقا وصال
لوئے فیضان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

که ذرے دَ کائنات شی مرهمونه
پرے جوړیږی دَ جمله عالم زخمونه

ځا خوخ دی په زړګی دا ستا دردونه
دل خواهان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

زه دِ پیژنم چه بے مثله مولائے
ډیر اعلیٰ ئے ډیر اعلیٰ ئے ډیر اعلیٰ ئے

خپل ځائے خپل ځائے خپل ځائے
حق عرفان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

په جنت کښے دَ محبوب سره خاونده
ځائے راکړے ثنا تا لره خاونده

ډیر بے حده خپله اکبره خاونده
خوبد بیان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

محمّد امین په کوز وستر کو جاری
شرمنده دَ خپل محبوب مخ کښے ولاړی

دَ محبوب په مخ رضا او لقا غواړی
کل سامان دَ زړه م ستا رضا لقا ده

بسم اللہ الرحمٰن الرحیمؕ

دا مدینه منوره کښے دَ جانان حرم دے
قسم په رب تر جنتونو پها گران حرم دے

ہیځ په تعبیر ئے نهٔ پوهیږم ربه تا ته سپارم
دا د عُشاقو د زخمی زړونو درمان حرم دے

خوک به ئے څنګه د صفت او تعبیر توان اولري
داچه د جمله مرسلانو د سُلطان حرم دے

رَوْضَةٌ مِّنَ الرِّيَاضِ الْجَنَّةِ د هم دِ حرم کښے،
په حقیقی نور د محبوب باندے روښان حرم دے

هیځ په صِفت ئے نهٔ توانیږم خورښاشے ربه
داچه د ډیر محترم صاحبِ قرآن حرم دے

د خپل وجه الکریم په فیض موبهره یاب کړے ربه
داچه د محترم محبوب بحرِ فیضان حرم دے

هرخم د زلفو کښے چه صد هزار فردوسه لري
دا د محمدؐ مُصطفیٰ شاهِ خوبان حرم دے

غواړم رضا لقا په شمار د رب د عِلم پکښے
هم د دے پاک محبوب په فخ چه ئے داشان حرم دے

خوار **محمد امین** شکرونه سپاري خپل مولا ته
شکر مسکن ئے د محبوب ډیر عالیشان وطن دے

بسم الله الرحمن الرحیم

خُدا جُمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جُمله مقصودونه بس هم ستا رضا لقا ده

که په هره یوذره کښے د جُمله ذرو پشمار
جنتونه نور پیدا کړے قسم تا ته اسا کار

خو خُدا خوخ احسانونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جُمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

په عزت او شرافت د وجه الکریم ستا ربه
په عظمت او په وصلت د وجه الکریم ستا ربه

ستا په درِم تل سوالونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جُمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

ستا د ذاتِ مقدسؐ په بے حده لوئے جلال،
ستا د ذات مقدسؐ په پاک جمال او په کمال

خُدا جمله نعمتونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

خُدا ډیر ښکلے جانان خُدا دین خُدا ایمان
خُدا جملګی ارمان خُدا روح او خُدا جان

هم پتا م قسمونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

د محمدؐ مصطفیٰ په شرافت او شفاعت
د محمدؐ مصطفیٰ په لوئے عزت او شرافت

خُدا جُمله دولتونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جُمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

د محمدؐ مُصطفیٰ په معتبر خُلقِ عظیم
د محمدؐ مُصطفیٰ په مبارک وجه الکریم

ستا په درِم تل عرضونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

د محمدؐ مصطفیٰ په نورانی ښکلی رُخسا
د محمدؐ مصطفیٰ په جملګی ښکلی کردار

ستا په درِم فریادونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

د قرآن په شرافت د قرآن په برکت
د قرآن په فصاحت د قرآن په حقیقت

خُدا جمله مطلبونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جُمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

محمد امین لاچار بینوا ذلیل او خوار
ستا د علم په مقدار ستا په در کړی دا اقرار

مراد خُدا له هر مضمونه بس هم ستا رضا لقا ده
خُدا جمله مرادونه بس هم ستا رضا لقا ده

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مدینه منوره ده بهترین وطن دے
چه د زیبا جانان اشرف المرسلین وطن دے

پکښے وریګی رحمتونه بے حسابه د رب
چه د محبوب پاک رحمة للعالمین وطن دے

عاشقه راشه رب دِ راوله د عشق په پرواز
دا د محمدؐ مصطفیٰ ښکلے شیرین وطن دے

هرخم د زلفو کښے ئے چه شته دے صد هزار فردوسه
دا د هغه دلبر بے حده نازنین وطن دے

چه شفاعت ئے واجبیګی په زیارت مبارک
دا د هغه حضرتؐ شفیع المذنبین وطن دے


زهٔ به ئے بنا ورد کوسو په کل جهان ورنکړم
خُدا د خپل محبوب مختار پیشوا د دین وطن دے

مشتاقه راشه چه رب العزة دِ سرکړی مُراد
دا د زیبا محبوب مراد المشتاقین وطن دے

هزار سپوږمۍ هزار خورشید د عرفان دی دلته
دا د نور الهدیٰ او شمس العارفین وطن دے

سالکه راشه که منزل کوے د عشق په لاره
دلته د محترم سراج السالکین وطن دے

مبارکی دِ دوستان ورکړی **محمد امین** له
دا دومره ښکلے نن د دے عاجز مسکین وطن دے



بسم الله الرحمن الرحیم

غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو لقا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

تاله ثنا شکرونه ډیره خپله بیا کړه ربه
تاله ثنا شکرونه تل ترتله بیا کړې ربه
خپله مولا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

رب العزته په عزت ستا دَ ذاتِ مقدّس
رب العزته په عظمت ستا دَ ذاتِ مقدس
غواړو عطا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

تل دِ منظوره وی څمونږ دَ عاجزانو خواری
تل دِ پُر نوره وی څمونږ دَ عاجزانو خواری
جمله دُعا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

ستا دَ رضا او لقا سوال ستا دَ لوئے علم پشمار
ازل نه تر ابد په ډیر تعظیم حیا انکسار
دے ابدا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

ته هغه اوکړې چه لہ شانِ کبریا ستا ښائی
ته هغه اوکړې چه دَ ذات حق اعلیٰ ستا ښائی
دامو صدا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

رب العزته په جلال ستا دَ ذات کبریا
رب العزته په جمال ستا دَ ذات کبریا
غواړو هم تا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

لمحه لمحه ستا دَ لوئے علم په شمار سپارو تاته
په ډیر ادب حیا تعظیم انکسار سپارو تاته
شکرو ثنا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

په مات کچکول کښے ربنا راکړے خیرونه ماله
لحنے خشکے سترګے کړے سمندرونه ماله
څما جړا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

اِصْنَعْ بِنَا مَا اَنْتَ اَهْلُهٗ مَوْلَا کریمه
ته مو نصیب کړے ربنا رحمٰن رحیم قدیمه
حقه سودا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابر
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابر

ستا دَ رضا او دَ لقا دولت بیا بیا خاونده
ازل نه تر ابد په شمار دَ علم ستا خاونده
غواړی ګدا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

ستا دَ رضا او دَ لقا احسان تل تل خاونده
ستا دَ لوئے علم په شمار هره لمحه څل خاونده
غواړی فِدا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو

رب العزته محمّد امین ډیر خوارو ذلیل
بس هم رضا او لقا ستا غواړی لاچارو ذلیل
مقصد ئے دا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم په ابرو



بسم الله الرحمن الرحيم

غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو لقا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

تاله ثنا شکرونه ډيره خپله ماکه ربه
تاله ثنا شکرونه تل ترتله پا کمه ربه
خپله مولا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

رب العزته په عزت ستا دَ ذاتِ مقدس
رب العزته په عظمت ستا دَ ذاتِ مقدس
غواړو عطا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

تل دِ منظوره وي څومره دَ عاجزانو خواري
تل دِ پرنوره وي څومره دَ عاجزانو خواري
جمله دُعا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

ستا دَ رضا او لقا سوال ستا دَ لوئي علم پشمار
ازل نه ترابد په ډير تعظيم حيا انکسار
دے ابدا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

ته هغه اوکړے چه لړ شانِ کبريا ستا بنائي
ته هغه اوکړے چه دَ ذات حق اعلیٰ ستا بنائي
دامو صدا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

رب العزته په جلال ستا دَ ذات کبريا
رب العزته په جمال ستا دَ ذات کبريا
غواړو هم تا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

لمحه لمحه ستا دَ لوئي علم په شمار سپارو تاته
په ډير ادب حيا تعظيم انکسار سپارو تاته
شکرو ثنا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

په مات کچکول کښې ربنا راکړے خيرونه ماله
لکه خشکے سترگے کړے سمندرونه ماله
څما جرا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

اِصْنَعْ بِنَا مَا اَنْتَ اَهْلُهٗ مَوْلَا کريمه
ته مو نصيب کړے ربنا رحمٰن رحيم قديمه
حقه سودا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابر
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابر

ستا دَ رضا او دَ لقا دولت بيا بيا خاوندہ
ازل نه ترابد په شمار دَ علم ستا خاوندہ
غواړي گدا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

ستا دَ رضا او دَ لقا احسان تل تل خاوندہ
ستا دَ لوئي علم په شمار هره لمحه خپل خاوندہ
غواړي فِدا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو

رب العزته محمد امين ډير خوارو ذليل
بس هم رضا او لقا ستا غواړي لاچارو ذليل
مقصد ئے دا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکريم په ابرو



بسم الله الرحمن الرحیم

غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا   خپله سبحانه دلربا ستا دَرضا اولقا
غوارو لتانه دَرضا لقا جانان خاونده   ستا په لوئے فضل اوکرم او په احسان خاونده
ډیر مهربانه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا او لقا
ستا دَرضا او دَ لقا په شرافت خاونده   ستا دَرضا او دَ لقا په برکت خاونده
حق مستعانه دلربا ستا دَرضا او لقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا
تهٔ مونصیب کړے په جلال دَ خپل وجه الکریم   تهٔ مونصیب کړے په جمال دَ خپل وجه الکریم
بنګلے روښانه دلربا ستا دَرضا او لقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا
تهٔ مونصیب کړے په عزت ستا دَ وجه الکریم   تهٔ مونصیب کړے په عظمت دَ ستا دَ وجه الکریم
بنګلے بے شانه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا
په لوئے عزت ستا دَ پاک ذات هرګز جدا دِ نهٔ وي   په لوئے عظمت ستا دَ پاک ذات هرګز جدا دِ نهٔ وي
چرے لمانه دلربا ستا دَرضا او لقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا
جُدا دِ نهٔ وي په جلال ستا دَ ذاتِ مقدس   جُدا دِ نهٔ وي په جمال ستا دَ ذاتِ مقدس
ما بینوانه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا اولقا
رب العزته په عزت دَ خپل ذاتِ مقدس   لوړے خوشحاله په عظمت دَ خپل ذاتِ مقدس
ما خوار ګدانه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا او لقا
یوه لحظه مکړے خفه خاوندکریمه خپله   یوه طرفه مکړے خفه رحمان رحیمه خپله
له ما ناتوانه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا او لقا

خوار **محمد امین** ازل نه تر ابده بار بار
ستا په وجه الکریم کوي سوال ستا دَعلم بشمار

له هره انه دلربا ستا دَرضا اولقا   غوارو لتانه دلربا ستا دَرضا او لقا

بسم الله الرحمن الرحیم

سلام اَلسَّلَامُ اَلسَّلَامُ خپل جانانه   نصیب دِ شه خپل احترام خپل جانانه
دعالم روښداره رءوف الرحیمه   قربان شم دلداره رءوف الرحیمه

نصیب دِ شه محمود مقام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ اَلسَّلَامُ خپل جانانه
په هر یو نفَس م ذرے دَ عالم   که رب کړي روحونه په رب م قسم
نثار به ئے لتا کړم تمام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ اَلسَّلَامُ خپل جانانه
زار ستا دَ پا نزاره دادواړه جهانه   والله ستا په مخ کړم زهٔ خوار او ناتوانه
په ما ګرانه نور الظلام خپل جانانه   سلام السلام السلام خپل جانانه
دَعلم بشمار دَ خپل رب العزة   ازل نه ابد پورے په هر ساعت
په شوق دِ پیتاوي مدام خپل جانانه   سلام السلام السلام خپل جانانه
دَ دواړو جهانو ابرو ستا په دَ ده   زیړا ستاله نوره دَ شمس و قمر دَه
اے بے مثله بدي تمام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ اَلسَّلَامُ خپل جانانه
دَجمله نبیانو مختار معتبر ئے   دَجمله خاصا روښدار معتبر ئے
نصیب دِ شه جمله اکرام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ اَلسَّلَامُ خپل جانانه
ازل نه ابد پورے تل تل بار بار   دَرب العزة خپل دَ علم بشمار
پیتا دِ وي هر صبح وشام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ السلام خپل جانانه

محمد امین کړي دعا په جنت کښے
الله دِ اسلام کړي په فتح و نصرت کښے،

شه پورته نښان دَ اسلام خپل جانانه   سلام اَلسَّلَامُ السلام خپل جانانه

بسم الله الرحمن الرحیم

ته هم هغه ئے چه نه ئے اے رحیم کریم سبحانه
زهٔ هم هغه یم چه زهٔ یم تا راویستے دَ پلار شانه
دَ کرم دریاب دِ لوئے دے ډیر بے حده پس بهیږي
دَ جنت روضه دِ راکړه هغه غیګے دَ پهلا نه
دا هم تا سره ښائیږي بس هم ته لائق دَ دے ئے
ډیره خپله خپله خپله اعلیٰ شانه
چه خما په تصور کښے کوم اسرار اوکوم انوار دي
دا ډیر کم دي خپله ربه ستاله ډیره لویه شانه

ته وراء الوراء رب يې بيا وراء الوراء رب يې
هم پټ ارم د قسم وي يې وراء له هر بيانه
صد هزار هزار عالمه که ذرې د کائنات کړې
د يوې ذرې پشان به داجمله وي ستا له توانه
چه لټا سره ځائيږي بس هم ته نه صادريږي
ماسوا به نړه توانيږي له هيڅ شان وله ادانه
زه د ډير عاجز بنده يم ډير لټانه شرمنده يم
بل به نړه وي ما پشان وار خطا او پريشانه
خپل نظر د کوزو سترګو اُو تر تحت الثرى غوارم
دومره ډير زيات شرمنده يم ډيره خپله ربه تانه
بس په لوئې درې دِ غښيکم ستا د لوئې علم پشمار
زيات له دينه نه پوهيږم شرمنده او هم حيرانه
شرمنده يم ډير ګنده يم ربنا لمن لنده يم
بس هم تا پورې پناه يم امان راکړې له نيرانه
ستا له قهره ستا د رحم لورته تښتم په توفيق ستا
ستا رضا هم تا نه غوارم په توفيق ستا مستعانه
د اشرف المرسلين محمدﷺ محبوب په پاک مخ
د خپل علم په لوئې شمارم کړې نثار خپلې رضانه
محمد امين جنت کښې ستا رضا هم تا نه غواړي
په توفيق او هدايت ستا خپل رحيم کريم رحمانه

بسم الله الرحمن الرحيم

ستا رضا هم ستا په وجه الکريم غوارم | ستا لقا هم ستا په وجه الکريم غوارم
د ازل نه ترابده په بار بار | ستا د لوئ او محترم علم پشمار
د رضا لقا محبوب حبيب دلدار | ابدا هم ستا په وجه الکريم غوارم
په بې حده لوئې عزت ستا د ذات پاک | په بې حده لوئې عظمت ستا د ذات پاک

په بې حده شرافت ستا د ذات پاک | ستا عطا هم ستا په وجه الکريم غوارم
چه د ذات کبريا ستا سره بنائي | چه د ذاتِ ذوالعلى ستا سره بنائي
چه د ذات بې پروا ستا سره بنائي | ستا وفا هم ستا په وجه الکريم غوارم
د رضا او د لقا ستا لوئې احسان | د رضا او د لقا ستا خپل جانان،
د ازل نه تر ابده په هر آن | ربنا هم ستا په وجه الکريم غوارم
ستا د ذاتِ مقدس په لوئې جلال | ستا د ذاتِ مقدس په پاک جمال
د رضا او د لقا ستا خوږ وصال | کبريا هم ستا په وجه الکريم غوارم
تا ته سپارم ستا ثنا او ستا شکرونه | ستا د علم په لوئې شمار له بنه مضمونه
ډيره زياته خپله ربه بې چګونه | دا ادا هم ستا په وجه الکريم غوارم
د محبوب نور الهدى په وسيلې | د اشرف الانبيا په وسيلې
د محمدﷺ مصطفى په وسيلې | زه هم تا هم ستا په وجه الکريم غوارم
په عزت د خپل وجه الکريم رضا شې | په عظمت د خپل وجه الکريم رضا شې
په احسان د خپل ذاتِ قديم رضا شې | دا سودا هم ستا په وجه الکريم غوارم
محمد امين ازل نه تر ابده | ستا د علم پشمار الله الصمده
کوي سوال تا ته له صدقه دا نعره ده | مينه ستا هم ستا په وجه الکريم غوارم

بسم الله الرحمن الرحيم

خپل محبوبه رب د پاره خير د ديدن غوارمه
اې په در د رب مختاره خير د ديدن غوارمه
دواړه کون نه ستا د مخ په نور چه رب روښانه کړه
پورته يې انوار د مخ ستا عرشِ معلى نه کړه
دلربا نور الانواره خير د ديدن غوارمه
خپل محبوبه رب د پاره خير د ديدن غوارمه
که په هرې ساه م د جمال عالم روحونه شي
ستا په دې د زر کرت لوګې او هم ګردونه شي
دا صدا م بار باره خير د ديدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

تانه په ابرو دَ خپل مولا دَ پاک وجه الکریم

تانه په خوشبو دَ خپل مولا دَ پاک وجه الکریم

زهٔ عاجز ناتوان لاچاره خیردَ دیدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

صد هزار فردوسه په هرخم ستا دَ زلفانو کښے

ما ویلي ستا نصیب شه جُملګی خوبانو کښے

اے خپل زیبا دلداره خیردَ دیدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

اے چه په جمال دِ منوّی دواړه کونین دی

اے چه په مازاغ دِ ملحا دواړه عینین دی

اے ځما دَ زړهٔ ترا ی ه خیردَ دیدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

اشرف واکمل دَ جملګی وو مرسلانو ئے

ا... ف وافضل دَ جملګی وو مرسلانو ئے

اے دَ کل عالم سرداره خیردَ دیدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

زهٔ خوار محمد امین چه ستا جنت کښے ناست یمه

... په مخ دَ خپل رب العزة نه تا نه په خواست یمه

اے په درد دَ رب روښداره خیردَ دیدن غوارمه

خپل محبوبه رب دَ پاره خیردَ دیدن غوارمه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خاوند ه ځما په خپل وجه الکریم ... شے لما په خپل وجه الکریم

هم دام لتا نه طلب روز و شب دے ... ستا م جمله مطلب دے

رضا شے لما په خپل وجه الکریم ... شے مولا په خپل وجه الکریم

خاوندہ محبوب دَ رضا او لقام ... نصیب کړے هم دادہ جمله مُدعام

مولا کبریا په خپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

ازل نه ابد پورے باربار خاوندہ ... رضا شے په بے حده لوئے شمار خاوندہ

له ما بینوا په خپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

رضا شے دَ خپلے رضا په عزت، ... رضا شے دَ خپلے رضا په عظمت

له ما خوار ګدا په خپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

دَ ذات حق ستا په عزت او جلال ... په شمار دَ خپل علم قبول م کړے سوال

او جمله دُعا په خپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

قبول م هر سوال کړے خاوندهٔ کریمه ... نصیب م وصال کړے خاوندهٔ کریمه

دَ خپل دلربا په خپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

روضے دَ جنت کښے دَ محبوب کریم ... په دیر زیارات قربت کښے دَ محبوب کریم

ته راکړے دنړا پخپل وجه الکریم ... رضا شے لما پخپل وجه الکریم

الله کړے نصیب م په شانِ عظیم خپل ... الله کړے نصیب م په ذاتِ قدیم خپل

ته خپله عطا پخپل وجه الکریم ... رضا شے لما په خپل وجه الکریم

الله دَ محمد امین خوار ذلیل

نصیب کړے حضوری کښے دَ محبوب جمیل

دَ خوک زړه جرا پخپل وجه الکریم ... رضا شے لما پخپل وجه الکریم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

صد هزار عالمه در قربان محمد مصطفیٰ ... اے ځما محبوب ځما جانان محمد مصطفیٰ

صد هزار عالمه لوګے ستا په ذکار کړمه ... دالرم ایمان قسم په رب دَ غنه اقرار کړمه

دو مره پمانے قسم دے کړان محمد مصطفیٰ ... اے ځما محبوب ځما جانان محمد مصطفیٰ

اشرف و اکمل دَ مرسلانو دَ جرګے ته ئے ... انور و افضل دَ مرسلانو دَ جرګے ته ئے

اے په حق محبوبٔ دَ سبحان محمد مصطفیٰ ... اے ځما محبوب ځما جانان محمد مصطفیٰ

که دَ کائنات جمله ذرے م رب روحونه کړی ... په هر یو ساه دومره پما رب احسانونه کړی

تا نه به ئے کړم زار دام ایمان محمد مصطفیٰ ... اے ځما محبوب ځما جانان محمد مصطفیٰ

صد هزار فردوس په هر خم ستا دَ زلفانو کښې | رب پما ویلی دی جرګې دَ عاشقانو کښې
خوږ دَ خپل رب پما احسان محمّدؐ مصطفیٰ | اے خُما محبوب خُما جانان محمّد مُصطفیٰ
دِ خودِ نصیب کړه خپل جمال ځکه عجب ښکلې ئې | دیر پورې ته لړ عرشه دَ مولا دیدار له تلے ئې
ئې رب واصل په لامکان محمّدؐ مُصطفیٰ | اے خُما محبوب خُما جانان محمّدؐ مُصطفیٰ
دواړه جهانونه که هزار واړې دَ فترم شی | صد هزار تاجونه دَ عزت جُمله پر سرم شی
ستا په دربه ئې کړم لوګې هر ان محمّدؐ مصطفیٰ | اے خُما محبوب خُما جانان محمّد مُصطفیٰ
ستا په ارشادِ مبارک ستا جنت کښې کړم لیکل | خوږه احسانونه دې پما دَ لوئې خاوند خپل
جُمله خاطر ستا دَ مخ روخان محمّدؐ مُصطفیٰ | اے خُما محبوب خُما جانان محمّد مُصطفیٰ

دا دَ محمّد امین ذلیل حقیر ناتوان ویل
دی دَ صداقت او دَ باور او دَ ایمان ویل

ستا په فخر ئې شه نصیب دا شان محمّد مُصطفیٰ | اے خُما محبوب خُما جانان محمّدؐ مُصطفیٰ

اللّٰهم ربنا آمین، ثم آمین، ثم آمین

بسم الله الرحمٰن الرحیمؐ

موجود کبریائی

اللهم ربنا الکریم العظیم الرءوف الرحیم لک الحمد والشکر فی کل لمحة وَنفَسٍ و لحظةٍ وطرفةٍ وحین عدد ما فی علمک و بقدر عظمة وعزّة وشرافة ذاتک الحق المقدّس الکبیر الاکبر العظیم الاعظم وجمیع صفاتک واسمائک الحسنیٰ کما انت اهله وتحبّ وترضیٰ۔ وکما ینبغی لجلال وجهک الکریم و ذاتک القدیم العزیز الاعزّ۔ وکذالک الصلوٰة والسلام علیٰ علیٰ هذا الحبیب المنبیّ الکریم الرءوف الرحیم محمّد وعلیٰ آله واصحابه وازواجه وامهاة المؤمنین واهل بیته وذریاته۔

خپله او بیا بیا ډیره خپله رب العزته که دَ دے جمله موجود په هره ذره کښې په شمار دَ کل ذرو دَ دے موجود متعدّد موجودونه په مثل دَ اول موجود پیدا کړے۔ نو دا دویم موجود شو۔

بیا دریم دا سے موجود پیدا کړے چه جمله دویم موجود په مقابل دَ هغه دریم کښې دا سے سپک وی. لکه یو ذره چه دِ موجودِ اول ته سپکه ده۔ بیا دَ دریم موجود دَ کل ذرو په شمار په هره ذره دَ دریم موجود کښې متعدد موجودونه په مکمل مثل دَ دریم موجود پیدا کړے " نو دا څلورم موجود شو"

بیا پنځم موجود دومره لوئې په جمله نسبتونو خپلو پیدا کړے. چه څلورم موجود ورته په مثل دَ یو ذرے سپک وی. بیا دَ پنځم موجود په هره ذره کښې دَ جمله ذرو دَ پنځم موجود په شمار مکمل موجودونه په مثل دَ پنځم موجود پیدا کړے. نو دا شپږم موجود شو۔

بیا اُوم دا سے موجود پیدا کړے. چه شپږم موجود ورته په مثل دَ یو ذرے سپک وی. علیٰ هذا القیاس۔ نو په دے شان عروج دَ یو موجود څخه بل موجود پورے روزانه لس لاکه کرته. دا شان دَ تخلیق چه عروج کوی تا قیام قیامت۔ او شروع ئې دَ اول پیدائش دَ اول دَ دے موجودونه شوی وی۔ نو اخیر موجود بیا موسوم په موجود کبریائی باندے کړے۔ مَا شَآءَ اللّٰهُ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ ۝

نو خپله او بیا بیا ستا دَ علم په شمار خپله کرېمه رب العزته لمحه لمحه دَ ابد الابد کښې دَ ستا دَ ذلیل او احقر پریشان بنده ستا دَ علم په شمار قسمونه دی. چه دا معامله نهایت عظیم الشانه ته هزار هزار کرت په هر ان کښې دا سے اسانه کولے شے. لکه په تُند باد کښې یوه ذره دَ یوه اړخ نه بل اړخ باندے اړ وے۔ وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ ۝ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَیْئًا اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ۝ فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِیَدِهٖ مَلَکُوْتُ کُلِّ شَیْءٍ وَّاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ۝ وَسَلٰمٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝

نو بیا بیا ډیره خپله رب العزته دَ اخیر موجود کبریائی دَ جمله ذرو په شمار چه دَ دے عاجز احقر ذلیل او نهایت محتاج خپل بنده کوټه په دِے یو حقیر جسم کښې لطائف پیدا کړے۔ او په هره لطیفه باندے خپل حقیقی ذکر او فکر او شکر او حمد و ثنا حقیقتاً تا ابد الابد، ابد جاری او لرے

بسم الله الرحمن الرحیم

غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو لقا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
تاله ثنا شکرونه دیره خپله پاکه ربه
تاله ثنا شکرونه تل ترتله پاکه ربه
خپله مولا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
رب العزته پهٔ عزت ستا دَ ذاتِ مقدّس
رب العزته پهٔ عظمت ستا دَ ذاتِ مقدس
غواړو عطا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
تل دِ منظوره وی څوښې دَ عاجزانو خوارو
تل دِ پُر نوره وی څوښې دَ عاجزانو خوارو
جمله دُعا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
ستا دَ رضا او لقا سوال ستا دَ لوئے علم پشمار
ازل نه تر ابد پهٔ دیر تعظیم حیا انکسار
دے ابدا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
ته هغه اوکړے چه لهٔ شانِ کبریا ستا بشائی
ته هغه اوکړے چه دَ ذات حق اعلیٰ ستا بشائی
دامو صدا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
غواړو رضا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو
رب العزته پهٔ جلال ستا دَ ذات کبریا
رب العزته پهٔ جمال ستا دَ ذات کبریا
غواړو هم تا ستا دَ محبوب وجه الکریم پهٔ ابرو

ستا دَ لوئے علم پهٔ لوئے شمار خپل اَللّٰهُ الصَّمدہ
ازل نه تر ابد بار بار خپل اَللّٰهُ الصَّمدہ
سوال ابدا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
پهٔ لوئے عزت او لوئے جلال ستا دَ وجه الکریم
پهٔ شرافت او پهٔ جمال ستا دَ وجه الکریم
سوال پهٔ بیا بیا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
خپله مولا ستا دَ لوئے علم پهٔ لوئے شمار تر ابد
قسم پتا ستا دَ لوئے علم پهٔ لوئے شمار تر ابد
حق دلربا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
پهٔ ابروئی ستا دَ وجه الکریم تل ستا پهٔ دربار
پهٔ خوشبوئی ستا دَ وجه الکریم تل ستا پهٔ دربار
جمله دُعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
قسم پتا ستا دَ لوئے علم پهٔ لوئے شمار پهٔ ادب
نشته پهٔ دواړو جهانونو بل مراد او مطلب
حقه منشا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
بس مدعا مطلب ازل نه تر ابده بار بار
پهٔ دیر ادب تعظیم تکریم ستا دَ لوئے علم پشمار
پهٔ در کښے ستا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا م خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
ته م نصیب کړے پهٔ عزّت دَ محمدؐ مُصطفیٰ
پهٔ شرافت او برکت دَ محمدؐ مُصطفیٰ.

دَ زړه رنځ رامِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا مِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا

کړې دِ مقبوله په جمال دَ محمد ﷺ مُصطفیٰ
کړې دِ مقبوله په وصال دَ محمد ﷺ مُصطفیٰ
روږو جرامِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعامِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا

قسم پتا بې لتا بل مراد مقصد نهٔ لرم
بله دُعا بله منشا په روزو شب نهٔ لرم
سوال هم لتا مِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا مِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا

دَ محمد امین باور ایمان اقرار په هردم
به ډیر ادب ازل نه ترابد بار بار په هردم
دلبر حقا مِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا
کل مدعا مِ خپل جانان ستا دَ رضا او لقا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

شانِ جلال وجمال دَ ربُّ العزة جل جلاله

ډیره خپله رب العزة لک الحمد والشکر کما انت اهله بالسنة ولطائفِ ذراتِ الموجودِ الکبریائی اِنِی کُنتُ مِنَ الظّٰلِمِین ٥
که دَ خپل جلال مبارک سره اخر موجود کبریائی یوه لمحه مخامخ کړې. او ته ورته توفیق دَ بقا او استحکام ور نکړې. په خپل زور او قوت ئې حواله کړې. نو بس یو تلے خاورے ایرے به شی. بلکه یوه ذره. بلکه بالکل فنا به شی. ستا دَ جلال دَ شان او هیبت او جذبے ځنے.
لک الحمد والشکر کما انت اهله انی کنت من الظلمین ٥ ماشاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم ٥

او که دَ جمال دَ ذاتِ مقدس سره ئے مخامخ کړے. نو بس یو قطره او به به شی. بلکه یوه ذره. بلکه فنا به شی. ستا دَ جمال دَ شرم او ادب او حیا ځنے. فلک الحمد والشکر فی کلّ لمحةٍ وطرفةٍ ولحظةٍ ونفسٍ وحینٍ عددما فی علمک وبقدر عظمة وعزّة وشرافة ذاتک الحق المقدس الکبیر الاکبر العظیم الاعظم کما انت اهله وتحب وترضیٰ بالسنة ولطائف ذراة الوجود الکبریائی. انی کنت من الظلمین ٥ ماشاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم ٥

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ ٥

ته لائق دَ خپل جلال ئې ستا جلال بنا ئیږی ستاله
ته لائق دَ خپل جمال ئې ستا جمال بنا ئیږی تاله

نهٔ هم هغه ئې چه ته ئې ډیره خپله خپله ربه
په عزت او په عظمت خپل قائم تل ترتله ربه
ستا خپل جمله صفتونه بې زوال بنا ئیږی تاله
ته لائق دَ خپل جلال ئې ستا جلال بنا ئیږی تاله

ته کولے شې خاونده څهٔ چه غواړے هغه کیږی
دَ کولو په حکمت ئې بې لتا څوک نهٔ پوهیږی
ستا ثنا شکر خاونده په هرحال بنا ئیږی ستاله
ته لائق دَ خپل جمال ئې ستا جمال بنا ئیږی تاله

تماشا ستا دَ جمال بس هم تا سره ښائیږی
په بیان او تصور کښې بل دَ هیچا نهٔ ځائیږی
بس هم تهٔ لائق دَ ځان ئې ستا وصال بنا ئیږی تاله
ته لائق دَ خپل جلال ئې ستا جلال بنا ئیږی تاله

صد هزار هزار عالمه که پیدا کړے بیا فنا کړے
دَ ازل نه تر ابده په لمحه لمحه کښې دا کړے
دَ خپل علم په لوئې شمار دا کمال بنا ئیږی تاله

تہ لائق دَ خپل جمال ئې ستا جمال بنا ئیږی تاله
تہ واحد او بے مثال ئې پاک لہ هرعیب وزوال ئې
تہ یحقہ ذوالجلال ئې پاک لہ هرعیب و زوال ئې
نۂ دِ مثل نہ مانند شته نۂ مثال بنائیږی تاله
ته لائق دَ خپل جلال ئې ستا جلال بنائیږی تاله
دَ رضا او لقا سوال ستا دَ ذاتِ مقدس
په خاطر کوو هرحال ستا دَ ذاتِ مقدس
قبله ول دَ عاجزانو دَ هر سوال بنائیږی تاله
تہ لائق دَ خپل جمال ئې ستا جمال بنائیږی تاله
تہ همه او بے همه او با همه ئې خپله ربه
صد هزار عالمه زار کړم ستا دَ لوئې شان له ادبه
چه یم حال باندے بدل کړے ځما قال بنائیږی تاله
تہ لائق دَ خپل جلال ئې ستا جلال بنائیږی تاله
محمد امین ذلیل خوار خجل حقیر لاچار
ډیر مضطر او پریشان او حیران او ناقرار
ته لہ دے عاجز رضا شے او خوشحال بنائیږی تاله
تہ لائق دَ خپل جمال ئې ستا جمال بنائیږی تاله

بسم الله الرحمٰن الرحیم ؕ

شانِ قدرت دَ غِنا

اللهم ربنا الکریمُ العظیمُ الرؤفُ الرحیمُ لک الحمد والشکر کما انت اهله بالسنة و لطائف ذرات الوجود الکبریائیة ـ

کہ دَ موجود کبریائی پشان موجودونہ هزار هزار هزار هزار هزار کروړونہ او هزار هزار هزار هزار هزار اربونہ او کربونہ پر لمحہ لمحہ دَ ابد الابد کښے پیدا کوی ۔ او بیا ئې فنا کوی ۔ پس لہ خپل شان دَ

مناسب ژوندون خپل ځئ ۔ او بیا ورته دَ عقبیٰ جزا او سزا په خپل شان مناسب ورکوے ۔ ـــــ نو ستا په ذاتِ مقدس م ستا دَ علم مبارک په معلوماتو لمحہ لمحہ دَ ابد الابد کښے قسمونہ وی . چه په هغه یو کُن به فیکون کیږی لکه چه په تُند باد کښے یوه ذره له یوه اړخ نه په بل اړخ اوړی ۔ وما ذالک علی الله بعزیز ؕ وهو علیٰ کل شیٔ قدیر ہ ماشاء الله ، لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم ؕ

نو خپله او ستا دَ علم مبارک په پوره معلوماتو بیا بیا خپله ترابدہ ستا دَ علم پشمار م دِ قسمونہ وی . چه که دا پیدا کول او فنا کول له قوت نه فعل ته را اوباسے ۔ چه نۀ دِ په ځه زیات شی دَ توان او قدرت خپل ۔ او نۀ دِ پرے څه کم شی ۔

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ہ وَاَنَا اَشْهَدُ بِمَا شَهِدَ اللّٰهُ بِهٖ فِیْ كُلِّ لَمْحَةٍ وَّ نَفَسٍ وَ طَرْفَةٍ وَ لَحْظَةٍ وَحِیْنٍ عَدَدَ عِلْمِهٖ كَمَا هُوَ اَهْلُهٗ وَ یُحِبُّ وَیَرْضٰی ۔ بِالْسِنَةِ وَلَطَائِفِ ذَرَّاتِ الْوُجُوْدِ الْكِبْرِیَائِیَّةِ ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم ؕ سبحان ربک رب العزة عما یصفون ہ وسلام علی المرسلین ہ والحمد لله رب العٰلمین ہ

بسم الله الرحمٰن الرحیم ؕ

خاوندہ کریما غنی بے پروائې
وراء الوریٰ ائې وراء الوریٰ ائې
دَ جمله عالم له بیانه اعلیٰ ئې
وراء الوریٰ ئې وراء الوریٰ ئې
خاوندہ کریمه عظیمه قدیمه
عالم در لوګے کړم رءوف الرحیمه
زۀ ستا خوار بنده یم ته لوئې رب ځما ئې
وراء الوریٰ ئې وراء الوریٰ ئې
ته هر څه کولے په کُنْ فَیَکُوْن شے
نو ډیر مهربانه په ما خوار زبون شے
ځما په ذلت حقارت ته بینا ئې
وراء الوریٰ ئې وراء الوریٰ ئې
همه بے همه با همه ته ئې ربه
دَ هر یو مضطر زړه دمه ته ئې ربه
چه ئې هغه ئې له بیانه سوا ئې
وراء الوریٰ ئې وراء الوریٰ ئې

هزاران هزاران اربونه کربونه ... که نورنوی پیدا کړے لوئے لوئے عالمونه
په شان دَ ذرے په جمله توانا ئے ... وراء الوریٰ ئے وراء الوریٰ ئے
ازل نه ابد پورے بیا بیا بار بار ... ستا شکر ثنا ستا دَ علم په شمار
سپاروتاته تل تل ته حق ربنا ئے ... وراء الوریٰ ئے وراء الوریٰ ئے
الله په وسیلے دَ دیر خپل محبوب ... رضا او لقا ستا موتا نه مطلوب
بس ته مو مراد او مقصد تمنا ئے ... وراء الوریٰ ئے وراء الوریٰ ئے

محمد امین په روضه دَ جنت کښے
دے تاکینه ولے دَ محبوب قربت کښے
هم داسے محسن په قسم ابدائے ... وراء الوریٰ ئے وراء الوریٰ ئے

بسم الله الرحمن الرحیم ہ

جلوه ئے ایمانی

ډیره زیاته او بے حده خپله رب العزته پاکه جل جلالک وعم نوالک که دَ موجود کبریائی جمله ذرے دَ شان مناسب خپل سره بنی آدم کړے. او دَ هغو دَ مسلمانه ولو دَ پاره - او بیا دَ عابدانو، متقیانو زاهدانو، سالکانو، عارفانو کیدلو دَ پاره جهاد، امر بالمعروف، نهی عن المنکر دَ دے ذلیل او احقر بنده په لاس کړے. (نو سُبحَانَ اللهِ وَبِحَمدِہٖ) ستا دَ علم بیشمار قسمونه چه ته اهل دَ دے ئے - او داسے دَ توفیق او توان را کول آسان دی. لکه چه یوه ذره دَ یو اړخ نه په بل اړخ اړه وے - دَ سُبحَانَ المَلِکِ الخَلَّاقِ دَ مَاشَآءَ اللهُ لَاحَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ العَلِیِّ العَظِیمِ ہ وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللهِ بِعَزِیزٍ ہ اِنَّمَا اَمرُہٗ اِذَا اَرَادَ شَیئًا اَن یَّقُولَ لَہٗ کُن فَیَکُونُ ہ فَسُبحَانَ الَّذِی بِیَدِہٖ مَلَکُوتُ کُلِّ شَیءٍ وَّاِلَیهِ تُرجَعُونَ ہ

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا الکَرِیمَ خپله نو دَ دے احسان کولو اجر او ثواب دا ذلیل بنده تا نه په عزت او شرافت دَ خپل ذاتِ مقدس او وَجهُ

الکریم خپل. او په وسیلے دَ محبوبِ کریم خپل لمحه لمحه دَ ابد الابد کښے هم ستا دَ رضا او لقا دَ پاره ستا دَ علم په شمار غواړی. په هغو ادبونو او عاجزو، او حیا چه ستا دَ شانِ پاک سره ښائیږی. هم ستا په توفیق او هدایت، سره دَ جمله مشائخ کرامو، او دَ جمله حقدارانو او دوستانو، بلکه دَ پاره دَ جمله مسلمانانو روزنو.

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا الکَرِیمُ العَظِیمُ الرَّءُوفُ الرَّحِیمُ اِنَّکَ اَمَرتَ بِالدُّعَآءِ وَقَضَیتَ عَلٰی نَفسِکَ بِالاِجَابَةِ وَاِنَّکَ لَا تُخلِفُ المِیعَادَ ہ

نو بیا عرض دے ډیره زیاته خپله رب العزته چه کوم اجر او ثواب دِ بنده ته ورکړے. نو هغه جمله دِ ستا په توفیق او هدایت ستا دَ یو لږے دَ رضا او لقا نه ستا دَ علم په شمار ذاری او قربان او نثاری وی. بلکه لوګے دِ وی دَ سپیلنو پشان. مَاشَآءَ اللهُ لَاحَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ العَلِیِّ العَظِیمِ ہ

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ ہ

زهٔ غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا ... مولا کبریا دلربا دَ رضا ستا
دَ ذاتِ مقدس په ډیر لوئے عزت ستا ... دَ ذاتِ مقدس په لوئے شرافت ستا
نصیب شه ځما دلربا دَ رضا ستا ... زهٔ غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا
دَ ذاتِ مقدس په بے حد جلال، ... په شمار ستا دَ علم کوم تا ته سوال
مولا ربنا دلربا دَ رضا ستا ... زهٔ غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا
په حُسن وادب دَ خپل وجهُ الکریم ... په حُسن وادب دَ خپل ذاتِ قدیم
لما کړے رضا دلربا دَ رضا ستا ... زهٔ غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا
دَ وجه الکریم په جلال او حیا ستا ... دَ وجه الکریم په جمال او ضیا ستا
ځما کل دُعا دلربا دَ رضا ستا ... زهٔ غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا
مولا ربنا ستا دَ علم بیشمار ... ځما دا ایمان او باور او اقرار
مطلب مې حقا دلربا دَ رضا ستا ... زه غواړم لتا دلربا دَ رضا ستا
دَ علم بیشمار ستا په در کښے تا غواړم ... ازل نه بار بار ستا په در کښے تا غواړم

ته راکړے مولا دلربا دَرضا ستا   زهٔ غوارم لتا دلربا دَرضا ستا
چه ستا دَ ذات مقدس سرهٔ بنائی   په هغو سوالونو حُما دِ صدا وی
زهٔ غوارم بیا بیا دلربا دَرضا ستا   زهٔ غوارم لتا دلربا دَرضا ستا
محمدامین غواړی ستا په دربار   پشمار ستا دَعلم لتا نه بارِ بار
خاوند کبریا دلربا دَرضا ستا   زهٔ غوارم لتا دلربا دَرضا ستا

بسم الله الرحمن الرحیمٗ

رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا   خاونده سبحانه په وجهک الکریم ستا
رضا او لقا هم لتا نه تل غوارم   دا بشکلے عطا هم لتا نه تل غوارم
زهٔ خوار او ناتوانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
رضا او لقا ستا کوم تا نه سوال   په شمار ستا دَعلم ته ئے ذوالجلال
خاوند اعلیٰ شانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
په حسن وحیا ستا دَ ذات مقدس   په نور او ضیا ستا دَ ذات مقدس
مولا مهربانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
په حُسن وجمال ستا دَ ذات مقدس   په شان دَ جلال ستا دَ ذات مقدس
خاوند مستعانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
رضا شے خاونده رحیمه کریمه   رضا شے خاونده عظیمه قدیمه
له ما خوار گدا نه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
وصال دَ محبوب م نصیب کړے خاونده   جمال دَ محبوب م نصیب کړے خاونده
دَپاک مخ روښانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
قربان م کړه خپله مولا کبریا   دَ خپل دلربا اشرف الانبیا
ترهرے ادا نه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
ما کړے بهره یاب په دربار دَ محبوبؐ   ما کړے بهره یاب په بازار دَ محبوبؐ
دَ عشق له سودا نه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا
الله ما لرے تل فدا او نثار   دَ خپل دلربا تر مبارک پائزار
په دوارهٔ جها نه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا

روضے دَ جنت کښے **محمد امین**   کړی سوال دَ وصال دَ محبوب بهترین
دَپاک مخ روښانه په وجه الکریم ستا   رضا غوارم تا نه په وجه الکریم ستا

بسم الله   الرحمٰن   الرحیمٗ

خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه
ستا په دی کښے دا صدا دَ صدق وله ایمان کړمه
صد هزار عالمه صد هزار ځل که دفتر م شی
صد هزار تاجونه دَ عزت جمله په سر م شی
ستا په دربه ئے کړم لوگے له صدقه دا اعلان کړمه
خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه
صد هزار فردوسه به ئے قربان تر برگِ گل کړمه
دا خبر په لوئے فضل احسان دَ خاوند خپل کړمه
دومره خاطر ستا له مخه ستا دَ گلستان کړمه
خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه
که دَ کائنات ذرے روحونه م کړی رب همه
تا ته به ئے لوگے کړمه په شوق وعشق ادب همه
ستا په خاطر خپل مولا دانا په هسے شان کړمه
خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه
صد هزار فردوسه په هر خم ستا دَ زلفانو کښے
رب پما ویلی دی محفل دَ صادقانو کښے
ستا په ابرو خپل مولا ستا دومره قدردان کړمه
خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه
ستا په مدینه منوره کښے چه گرزیدمه
فخر په آسمان کوم کوز کوز گورمه شرمیږمه
تلل په ستر گو کړے نهٔ شم بس دِ عُذر حیران کړمه
خپل محبوبه صد هزار عالمه در قربان کړمه

ستا جنت م دومره خوښ خاوند رب العزة کړلو

ستا قربت م دومره خوښ خاوند رب العزة کړلو

زاړ به هزاړ حُل ترے جنتونه دَ رضوان کړمه

خپل محبوبه صد هزاړ عالمه درقربان کړمه

چرته محمدامین عاجز چرته دا ستا حرم،

جُمله دَ مولا فضل و کرم دے په مولا قسم

ستا په مدينه منوره کښے ئے ستا مهمان کړمه

خپل محبوبه صد هزاړ عالمه درقربان کړمه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مناجات بدرگاهِ قاضی الحاجات

هزاړ هزاړ هزار هزاړ هزار کرته بيا بيا خپله او خپله او ډيره خپله رب العزته جمله لَکَ الْحَمْدُ وَالشُّکْرُ کَمَا اَنْتَ اَهْلُهٗ بِاَلْسِنَتِهٖ وَلَطَائِفِ ذَرَّاتِ الْکَائِنَاتِ الْمَوْجُوْدِ الْکِبْرِیَائِیَّتِهٖ. که دَ موجود کبريائي جمله ذرے بلکل داناياݩ عالماݩ شريفاݩ خاصاݩ بنی آدم کړے. مثلاً او دا جمله عالم دَدے ذليل حقير بنده خپل په جمله خو نسبتونو دَ صفت او آفرين اوشکر گوياݩ شی. چه فلانے مثلاً دَ دوارو جهانو په نسبتونو ډير ښهٔ سرے دے. جمله دَ عزت او شرافت نسبتونه ورله ثابت کړی. او په کروړونو اربونو کلونو دا دَ شهرت او عزت دوی ئے په دغه عالم کښے غلبيږی. نو چونکه دَ يو مسلمان بنده گمان هم دَ يو مسلمان دَ پاره مبارک دے. ليکن چه ستا دَ رضا او لقا سره ئے مقابله شی. نو ستا دَ علم په لوئے شمار دِ دَدے ذليل وحقير خوار بنده قسمونه وی. چه ستا يوه لحه رضا او لقا دَ دے جمله مخلوق دَ جمله خو گنړلونه ښه ده. مبارکه ده. ته موسره دَ جُمله دَ ستا نو هميشه خپله رضا او لقا نصيب کړے. او دا ذليل خوار محتاج بنده

به دغه جُمله ناموس دَ دغه عالم قسم ستا په ذات مقدس چه ستا دَ رضا لقا دَ جانان په در کښے لوگے او سپيلنی کړی. او دا جمله نسبتونه به دا عاجز په ترک دَ يو سنت دَ محبوب کريم صلی الله عليه وسلم کښے وا نغلی. مَاشَآءَ اللهُ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ ؕ

نو په مذکور بيان خپله ربه په تصور دَ دے خپل عاجز بنده کښے چه تاکوم ذوق، او شوق، او ايثار، او محبت آچولے دے. دَ هغے په بيان عاجز هرگز نهٔ توانيږی. خو الحمد لله چه ته خو عالم ئے. نو دَ خپل وجه کريم په آبرو او شرافت دَ محبوب کريم صلی الله عليه وسلم په وسيلے او شفاعت هغه هم په اظهار شمار کړے. بلکه زياتی احسان اوکړے چه تا سره خائی. نه چه ما سره خائي.

رب العزته خپله دَ جنت به روضه کښے دَ محبوب مبارک په قُرب خاص کښے دا کتاب جمله دا سے مقبول کړے. چه دَ بل چا په علم کښے نهٔ راځی او ستا دَ ذات مقدس دَ شرافت سره ښائی. او څوک چه دا کتاب په اخلاص لولی. او ختم ئے کړی. دا سے اجر ورکړے. لکه دلته چه ئے ختم کړے وی او دَ دے محبوب کريم عليه افضل الصلاة والتسليم محبت ئے نصيب کړے. آمين. ما شاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظيم ؕ سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ

بسم الله الرحمٰن الرحيم

په عزت دِ دَ رضا ربه رضا شے — په عظمت دِ دَ لقا ربه رضا شے

دَ خپل ذات مقدس لوئے خاطر — ډيره خپله ربنا ربه رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس په شرافت — لما خوار عاجز گدا ربه رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس په ډير لوئے شان — لما خوار او بينوا ربه رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے جلال — کړے قبوله کل دعا ربه رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس په پاک جمال، — درته جا ړم په جرا ربه رضا شے

دَخپلِ ذات مقدس په لوئے عظمت، لہ ما ډیر ذلیل ادنیٰ ربه رضا شے
دَخپلِ ذات مقدس په لوئے عزت کبریا او بے پروا ربه رضا شے
دَوجه الکریم په حُسن او جمال دِ اے لایقه دَ ثنا ربه رضا شے
دَوجه الکریم په حُسن او جلال دِ ډیره خپله کبریا ربه رضا شے
دَوجه الکریم په حُسن او کرم دِ له دِ ډیر خوار و ار خطا ربه رضا شے
دَوجه الکریم په لُطف او احسان دِ خُما ډیر خپله مولا ربه رضا شے
دَوجه الکریم په لطف او فیضان دِ خپل بے مثله ذوالعلا ربه رضا شے
دَجمله وو صفتونو په ابرو دِ او په حُسن او ضیا ربه رضا شے
دَجمله وو صفتونو په کل خو دِ او په رحم او وفا ربه رضا شے
دَجمله وو صفتونو په فیضان دِ او په جود او په سخا ربه رضا شے
چه لتا سره خائیږی په هغو خو له بدکار او پُر خطا ربه رضا شے
دَ محمدؐ مُصطفیٰ په وسیلے او په احسان او په حیا ربه رضا شے
دَ محمدؐ مُصطفیٰ په پاک رُخسار نورانی او ډیر زیبا ربه رضا شے
دَ محمدؐ مصطفیٰ په شرافت او احسان او په عطا ربه رضا شے
ستا دَ علم په انداز آن له ازله تر آبده په وینا ربه رضا شے
دَ ذرو دَ کائنات په ژبو زرونو له هر قسمه په ادا ربه رضا شے
دَ محبوب په مدینه منوره کښے سوال کومه په بیا بیا ربه رضا شے
دَ محبوب په مبارک ښکلی حرم کښے مهربانه شے پما ربه رضا شے
په روضه کښے دَ جنت رب العزته چه جنت دے پر رښتیا ربه رضا شے
مشائخ دَ طریقت خپلوان دوستان له جمله وو نه حقا ربه رضا شے

محمدؐ امین عاجزنه پخاطر پاک
دَ محمدؐ مُصطفیٰ ربه رضا شے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ربنا رب العزته | خپل مولا رب العزته
دَ ازل نه تر آبده | په بیا بیا رب العزته

ستا دَ علم په لوئے شمار، کبریا رب العزته
په ادب او په تعظیم او حیا رب العزته
ستا په پاک وجه الکریم ابدا رب العزته
ستا رضا او لقا غواړم هم لتا رب العزته
ستا رضا او لقا غواړم زهٔ گدا رب العزته
ستا رضا او لقا غواړم خپل اعلیٰ رب العزته
ستا رضا او لقا غواړم اے خُما رب العزته
ستا رضا او لقا غواړم ذوالعلا رب العزته
په عزت دِ دَ ذات پاک دا سودا رب العزته
په عظمت دِ دَ ذات پاک دا دُعا رب العزته
په حُرمت دِ دَ ذات پاک دا منشا رب العزته
کړے نصیب دَ دے حقیراو بے نوا رب العزته
کړے نصیب دَ دے ذلیل او وار خطا رب العزته
کړے نصیب دَ دے حقیر او ډیر ادنیٰ رب العزته
په ابرو دَ محمدؐ پاک مصطفیٰ رب العزته
په ابرو دَ محمدؐ پاک مجتبیٰ رب العزته
په ابرو دَ محمدؐ پاک مرتضیٰ رب العزته
تا ته سپا رو ستا شکرونه او ثنا رب العزته
چه لتا سره خائیږی ستا وفا رب العزته
چه لتا سره خائیږی ستا عطا رب العزته
چه لتا سره خائیږی ستا سخا رب العزته
هم هغه موکړے نصیب خپله یا رب العزته
په روضه کښے دَ جنت په رښتیا رب العزته
په قربت کښے دَ محبوب دلربا رب العزته
په قربت کښے دَ محبوب ډیر زیبا رب العزته
په قربت کښے دَ محبوب ډیر صفا رب العزته

ستا په توان او په توفیق او هدیٰ رب العزته
محمد امین دیرخوار دے مګویا رب العزته
ته مجیب السائلین ئے الامنا رب العزته

بسم الله الرحمن الرحیم

شکرپه ایمان

دَ خپل لوئے علم په شمار هزار هزار هزار هزار هزار کرته بیا بیا خپله او ډیره خپله رب العزته لک الحمدُ والشکرُ فی کلِّ لمحةٍ ونفسٍ وطرفةٍ ولحظةٍ وحینٍ عددَ ما فی علمک وبقدرِ عظمةِ وعزةِ وشرافةِ ذاتِک الحقِّ المقدسِ الکبیرِ الاکبرِ العظیمِ الاعظمِ وجمیعِ صفاتِک واسمائِک الحسنیٰ کما انت اهلهٗ وتحبُّ وترضیٰ بالسنةِ ولطائفِ ذرّاتِ الوجودِ الکبریائیةِ.

که په شمار دَ جمله ذرو دَ موجود کبریائی دَ سپیلنو دانے پیدا کړے چه هره دانه دَ موجود کبریائی په پوره مثل او قدر لویه او دره نه وی۔ او دا جمله دانے دَ دے ډیر خپل عاجز او ذلیل او ناتوان ملامت بنده زړونه او روحونه او سترګے او دَ سترګو تورے او سرونه کړے۔ وما ذالک علی الله بعزیز ۞

بیا دَ محبوب انور اشرف الانبیا والمرسلین صلی الله علیه وسلم دَ مدینے منورے دَ اول سرحد په یوے ورځ کنده مبارکه کښے دا جمله دَ سپیلنو دانے په اُور دَ محبت او عشق ادب او حیا ذوق وشوق ناز او نیاز په لمحه لمحه دَ ابد الابد کښے لوګے کوے۔ چه تهار دَ دانو دَ سولو دَ عرشِ عظیم نه پورته جبروت او لاهوت ته رسی۔ لیکن بے لتا ئے بل څوک نهٔ اُوری۔ او لوګے ئے هم سره دَ پیدا کید و داسے زر فنا کوے۔ لکه چه پیدا هم نهٔ وی۔ چه بے لتا په بل څوک خبر نهٔ شی. لهٔ وجے دَ ادب او حیا او شرمنده ګئ دَ دے عاجز څخه۔ او دا جمله معامله

مبارکه په شکرئی دَ یو لمحے دَ شرمی ذوندون کښے وی۔ ستا دَ رضا او لقا دَ پاره۔ وما ذالک علی الله بعزیز ۞

نو دَ خپل علم په شمار هزار هزار هزار هزار هزار کرته بیا بیا خپله او ډیره خپله رب العزته دا مذکوره معامله تا ته ستا دَ علم په شمار په لمحه لمحه دَ ابد الابد کښے سوالونه دی، دُعا ګانے دی، زارئے دی۔ ته ئے دَ خپل ذاتِ مقدس جل جلاله په عزت، او عظمت، او جلال۔ او جمال او فیضان، او احسان، او په وسیلے دَ محبوب انور صلے الله علیه وسلم قبول کړے۔ امین۔ فی کلِّ لمحةٍ وطرفةٍ وحینٍ عددَ علمک یا ربَّ العٰلمین ۞ سبحان ربک ربِّ العزةِ عما یصفون ۞ وسلامٌ علی المرسلین ۞ والحمد لله ربِّ العٰلمین ۞

بسم الله الرحمن الرحیم

غواړو ستا رضا په وجه الکریم ستا — غواړو ستا لقا په وجه الکریم ستا
دَ ازل نه تر ابده په بار بار — په ادب حیا تعظیم او انکسار
ستا دَ لوئے او محترم علم په شمار — کوو دا دعا په وجه الکریم ستا
ستا رضا او ستا لقا بس هم لتا نه — ډیره خپله خپله خپله خپل سبحانه
خپل رحیمه خپل کریمه خپل رحمانه — غواړی خوار ګدا په وجه الکریم ستا
ستا رضا او ستا لقا هره لمحه — په لوئے شمار دَ علم ستا هره لمحه
په ادب تعظیم حیا هره لمحه — غواړی بینوا په وجه الکریم ستا
دَ رضا او دَ لقا ستا خپل جانان — ستا دَ ذاتِ مقدس په اعلیٰ شان
تا نه غواړی خپل بنده ذلیل ناتوان — ان تر ابدا په وجهک الکریم ستا
ستا په توان توفیق یا الله اکبر — دَ رضا او لقا ستا بشکلے دلبر
تا نه غواړی خپل ذلیل بنده مضطر — خپله ربنا په وجه الکریم ستا
ستا ثنا او ستا شکرونه سپارو تا ته — ستا کرم او احسانونه سپارو تا ته
ستا عطا او نعمتونه سپارو تا ته — خپله کبریا په وجه الکریم ستا
په روضه کښے دَ جنت غواړو لتا — دَ محبوب په شرافت غواړو لتا

دَ محبوب په شفاعت غواړو لتا   ستا احسان عطا په وجه الکریم ستا
محمّد امین ذلیل عاجز ناتوان
په ابرو او وسیلے دَ خپل جانان
تا نه غواړی خپل جمله خوار دوستان   په توفیق هم ستا په وجه الکریم ستا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ذلیل یم ذلت خپل عزت ستا ته سپارم   گناه خپله جمله رحمت ستا ته سپارم
خجل شکسته درماندهٔ ډیر محتاج یم   دا جمله پناه دَ عظمت ستا ته سپارم
جمله عاجزئے چه لما سره خائی   لوئے شان دَ لویئی او قدرت ستا ته سپارم
دَ ذاتِ مقدس په عظمت رضا ستا   لما نه هم لوئے مرحمت ستا ته سپارم
دَ ذات مقدس په عزت لقا ستا   خاونده هم لوئے عنایت ستا ته سپارم
تل ستا په دربار دَ رضا او لقا سوال   دَ ذاتِ کریم شرافت ستا ته سپارم
ستا شکر ثنا ستا دَ علم پشمار   جمله ښکلی استعانت ستا ته سپارم
دَ شر او ضرر دَ مخلوق نه امان   مولا ښکلی پاک عافیت ستا ته سپارم
زهٔ ډیر خوار **محمّد امین** خپل دوستان
دَدے پاک محبوب شفاعت ستا ته سپارم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

عجب ذوق او عجب شان دے مدینه منوره کښے،
دلربا ښکلے جانان دے مدینه منوره کښے
مُقتدی دَ مرسلانو، معتبر دَ مرسلانو
محترم او قدر دان دے مدینه منوره کښے
چه ئے دواړه جهانونه. په جمال روښانه شونه
دغه سرورِ خوبان دے مدینه منوره کښے
چه هر گل کښے ئے هزاران، جنتونه شته شان شان
هسے ښکلے گلستان دے، مدینه منوره کښے

که ښتیا مین په یار ئے، نور ازه ولے حصار ئے
دغه ستا دَ زړهٔ ارمان دے مدینه منوره کښے
خدائے دِ راوله عاشقه، دَ وصال دَ یار لایقه
پاک محبوب دَ پاک سبحان دے مدینه منوره کښے
که دَ زړهٔ له درده جاړے، او وصال دَ جانان غواړے
دغه ستا دَ زړهٔ درمان دے، مدینه منوره کښے
خپل خاوند رب العزته، حق خاوند دَ لوئے عظمته
سوال مو ستا ته په هر ان دے مدینه منوره کښے
ستا دَ علم په لوئے شمار، دَ رضا او دَ دیدار
بس هم دغه مو ایمان دے مدینه منوره کښے
محمّد امین فقیر، دَ محبوب خپل بے نظیر
دَ در خاوروته قربان دے مدینه منوره کښے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خپل محبوب ته زهٔ لوگے ستا په دربار شم   یو ځل نه دَ رب دَ کل معلوم په شمار شم
په لمحه لمحه دَ ابد الابد کښے   په ادب شوق او حیا او انکسار شم
په کوسو دَ مدینے منورے کښے   دَ ادب ستا نه ایرے گرد و غبار شم
چه تیاره پرے دَ عدم کړه رب ذوالشانه   زړه روښانه ستا په دَ پاک رخسار شم
دَ رب العزة په پاک وجه الکریم   معززه دِ ستا په ډیر ښکلی دیدار شم
که ذرے دَ کل عالم مرشی روحونه   خورم قسم چه په جمله ورباندے زار شم
ترهزار هزار فردوسه به قسم دے   خوخ محبوبه ستا دَ زلفو په یو تار شم
ستا دَ ښکلی مخ په ډیر لوئے شرافت   تو انگر دِ ستا دَ مینے په بازار شم
ستا ذکر دنه دَ پاتزار خپله محبوبه   زهٔ قربان دَ رب دَ علم په مقدار شم
خدائے دِ نهٔ که چرے ستا له اجازته   زهٔ داخل ستا دَ سگانو په قطار شم
دَ رب العزة دَ لوئے علم په شمار تل
درنثار زهٔ **محمّد امین** ډیر خوار شم

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

نورانیت او صداقتِ ایمانی

دَ خپل لوئے علم پشمار هزار هزار هزار هزار کرت بیا بیا ډیره زیاته خپله ربه خاونده مولا لَکَ الْحَمْدُ وَالشُّکْرُ فِی کُلِّ لَمْحَةٍ وَ نَفَسٍ وَ طَرْفَةٍ وَ لَحْظَةٍ وَ حِیْنٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِكَ وَبِقَدْرِ عَظْمَةِ وَعِزَّةِ وَ شَرَافَةِ ذَاتِکَ الْحَقِّ الْمُقَدَّسِ الْکَبِیْرِ الْاَکْبَرِ الْعَظِیْمِ الْاَعْظَمِ وَجَمِیْعِ صِفَاتِکَ وَاَسْمَآئِکَ الْحُسْنٰی کَمَا اَنْتَ اَهْلُهٗ وَ تُحِبُّ وَ تَرْضٰی بِالسِّنَةِ وَلَطَائِفِ ذَرَّاتِ الْمَوْجُوْدِ الْکِبْرِیَائِیَّةِ۔

که دَ موجود کبریائی جمله ذرے دَ ذے اَتو جنتونو دَ رضوان علیه السلام پشان بنکلی او لوئے لوئے جنتونه کړے۔ وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللّٰهِ بِعَزِیْزٍط اِنَّمَا اَمْرُهٗ اِذَا اَرَادَ شَیْئًا اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنَ ○

او بیا دا جمله جنتونه دِ عاجز ذلیل محتاج شکسته بندهٔ ته په مقابله دَ ترک دَ یو سُنت دَ محبوب کریم صلی الله علیه وسلم کښے ورکیدے شی. یعنی یو سُنت قصدًا اختیارًا پریدی بر عوض دَ دے جنتونو کښے نوستا په توفیق او هدایت دِ ستا دَ علم پشمار په لمحه لمحه دَ ابدالابد کښے قسمونه وی. چه دا جمله نعمتونه به پریږدی. او سنت دَ محبوب کریم صلی الله علیه وسلم به پرے نهٔ دی. ځکه چه په پریښودو دَ سُنت دَ محبوب کریم صلے الله علیه وسلم کښے ستا خفګان نارضائی ملال دے (العیاذ بالله تعالیٰ) ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم

نور په مذکوره ډیر شمار ډیره خپله خاونده کریما، تهٔ عَلِیْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ یُے۔ دَ دے عاجز خجل ملامت جمله مصائب او مخصوص مصیبت تا ته معلوم دے. نو ستا دَ علم پشمار په لمحه لمحه دَ ابدالابد کښے اِیْمَانًا اِحْتِسَابًا اَدَبًا اَوْ حَیَاءً شَوْقًا وَ مُحَبَّتًا تَعْظِیْمًا وَ تَکْرِیْمًا په ژبو او لطائفو دَ جمله ذرو دَ موجود کبریائی دِ په روضه

دَ جنت کښے، او دَ محبوب صلی الله علیه وسلم پر قُوبت کښے په وسیلے او شرافت دَ محبوب انور صلے الله علیه وسلم په کوزو سترګو سره دَ ډیرے شرمندهٔ کښے عرض کوم. چه اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ○ اَللّٰهُمَّ اجرنی فی مصیبتی واخلفلی خیرا منها، اللهم عندک احتسبُ مصیبتی فاجرنی فیها وابدلنی بها خیرا منها، اللهم انی اعوذُ بک من الفتن ما ظهر منها وما بطن. ولاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم، اللهم انی ظلمت نفسی ظلما کثیرًا ولا یغفر الذنوب الا انت فاغفرلی مغفرة من عندک وارحمنی انک انت الغفور الرحیم ○ شهد الله انه لآ اله الا هو والملئکة واولوا العلم قائما بالقسط لا اله الا هو العزیز الحکیم ○ سبحان ربک رب العزة عما یصفون ○ وسلام علی المرسلین ○ والحمد لله رب العلمین ○

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے عزت رضا شے ته
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په شرافت رضا شے ته
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے عزت او په جلال
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے عظمت او په جمال
خپل مولا له دِ عاجز او ملامت رضا شے ته
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے عزت رضا شے ته
په شرافت عزت حُرمت دَ خپل وجه الکریم مولا
په برکت او لیاقت دَ خپل وجه الکریم مولا
له دِ ناتوان عاجز ذلیل او بے همّت رضا شے ته
دَ خپل ذات مقدس پاک په لوئے عزت رضا شے ته
په ابروئی دَ خپل وجه الکریم خاونده کبریا
په خوشبوئی دَ خپل وجه الکریم خاونده کبریا
له دِ بنده چه لرے بے حده ذلت رضا شے ته

دَ خپل ذاتِ مقدس پاک پہ لوئے عزت رضا شے تہ
چہ ښائی تا سرہ مولا پہ هغہ بے حدہ احسان
کریم خاوندہ کبریا پہ هغہ بے حدہ احسان
هم پہ خپل بے حدہ فیضان او مرحمت رضا شے تہ
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک پہ لوئے عزت رضا شے تہ
دَ رضا خپلے پہ عزت او شرافت یاره ربَّنا
دَ لقا خپلے پہ حُرمت او برکت یاره ربنا
تا تہ مو سوال دَ علم ستا پہ شمار حُرمت رضا شے تہ
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک پہ شرافت رضا شے تہ
پہ وسیلے دَ محمدؐ رسول الله حبیب انور،
پہ وسیلے دَ محمدؐ رسول الله حق پیغمبر
پہ وسیلے دَ محمدؐ حبیب حضرت رضا شے تہ
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک پہ شرافت رضا شے تہ
پاکے روضے کښے دَ جنت دَ **محمد امین** عاجز
ستا دَ لوئے علم پہ کرت دَ **محمد امین** عاجز
تا تہ سوالونہ او زارئ پہ هر ساعت رضا شے تہ
دَ خپل ذاتِ مقدس پہ لوئے عزت رضا شے تہ

بسم الله الرحمٰن الرحیمؐ

اللهم ربنا ذلیل محتاج یم	اے لائق دَ کل ثنا ذلیل محتاج یم
زهٔ چہ څومره ډیر ذلیل یم تہ عالم ئے	زهٔ چہ حد نہ تیر ذلیل یم تہ عالم ئے
کل خوار و کښے کیر ذلیل یم تہ عالم ئے	ډیره خپلہ کبریا ذلیل محتاج یم
زهٔ چہ څومره ډیر محتاج یم تہ عالم ئے	زهٔ چہ څومره کیر محتاج یم تہ عالم ئے
زیات لہ حدہ او شمیر محتاج یم تہ عالم ئے	رحم غواړم بینوا ذلیل محتاج یم
دَ خپل ذاتِ مقدس پہ لوئے عزت	دَ خپل ذاتِ مقدس پہ لوئے عظمت
کړے سبب دَ رضا خپلے دا ذلت	پرے و تلے تر ثری ذلیل محتاج یم

دَ خپل ذاتِ مقدس پہ لوئے جلال	دَ خپل ذاتِ مقدس پہ پاک جمال
مونږ لہ راکړے دَ رضا لقا وصال	ستا پہ دربار دا صدا ذلیل محتاج یم
اے لائق دَ کل ثنا خاوند کریمہ	هم پتا پورے پناه خاوند کریمہ
ما تہ او بخے گناه خاوند کریمہ	پریشان او اوار خطا ذلیل محتاج یم
ستا دَ علم پہ لوئے شمارِ قسمونہ	ستا دَ علم پہ مقدار م قسمونہ
دَ ازل نہ پہ باربار م قسمونہ	ربہ تا تہ اَبدا ذلیل محتاج یم
رحم فضل غواړم ستا رب العزته	ډیره خپلہ ربَّنا رب العزته
کبریا او توانا رب العزته	کمترین بنده ادنیٰ ذلیل محتاج یم
تا تہ سپارم ستا ثنا او ستا شکرونہ	تا نہ غواړم لایق ستا دَ شان خیرونہ
ما نہ دفعہ کړے مولا جملہ شرونہ	ډیر ناتوانہ بنده ستا ذلیل محتاج یم
پہ ابرو دَ محمدؐ محبوب مختار	پہ خوشبو دَ محمدؐ محبوب رونړار
پہ کل خو دَ محمدؐ محبوب سردار	ما عاجز نہ شے رضا ذلیل محتاج یم
پہ عزت دَ محمدؐ محبوب انور	پہ حُرمت دَ محمدؐ محبوب انور
پہ زینت دَ محمدؐ محبوب انور	تہ مو کړے نصیب لقا ذلیل محتاج یم
چہ لتا سره خائیږی احسانونہ	چہ لتا سره خائیږی انعامونہ
چہ لتا سره خائیږی عزتونہ	هغہ غواړم هم لتا ذلیل محتاج یم
محمد امین روضہ کښے دَ جنت	ستا پہ توان او پہ توفیق او هدایت
دَ محبوب پاک پہ ارشاد او مرحمت	زهٔ لیکمہ دا دعا ذلیل محتاج یم

بسم الله الرحمٰن الرحیمؐ

ډیره خپلہ مولا تہ پہ عزت دَ خپل وجہ الکریم
مونږ نہ شے رضا تہ پہ عزت دَ خپل وجہ الکریم
ډیره خپلہ مولا ډیر لوئے شان نہ دِ قربان شمہ
حقہ ربَّنا دَ ډیر احسان نہ دِ قربان شمہ
شے رضا بیا بیا تہ پہ عزت دَ خپل وجہ الکریم
مونږ نہ شے رضا تہ پہ عزت دَ خپل وجہ الکریم

ډیره خپله ربه په لوئے شان دَ علم ستا مُدام
اوسپارے خپل ځان ته له مونږ خوارو په بیا بیا مُدام

خپل شکرثنا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

خپل رب العزته ستا شکرونه چه لتا بنائی
خپل رب العزته ستا حمدونه چه لتا بنائی

مونږ له کړے ادا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

خپل رب العزته محبوب بنکلے دَ رضا لِقا
خپل رب العزته مطلوب بنکلے دَ رضا لقا

کړے جلوه نُما ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

اے په لوئے احسان خپل دَ خوارانو دَ دعا مجیب
خپل رب العزته په دارینو کښے مو کړے نصیب

بنکلے دلربا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

خپل رب العزته چه لتا سره خا ئیږی بیس
ته په رضا کیږے او لتا نه صادس یږی بس،

کړے نصیب حُما ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

زهٔ عاجز لیکمه په توفیق ستا تحفة الحبیب
خپل رب العزته په ارشاد دَ خپل محبوب حبیب

کړے قبوله دا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

دیر خوار **محمد امین** له خپل کرم عطا یئے،
کړے دَ دلربا ستا دَ رضا او دَ لقا څئے،

خپل ربه فِدا ته په قدرت دَ خپل وجه الکریم
مونږ نه شے رضا ته په عزت دَ خپل وجه الکریم

بسم الله الرحمٰنِ الرحیم ؕ

دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په احسان شے رضا مولا

دَ خپل وجه الکریم په لوئے ابروئی اوشرافت
دَ خپل وجه الکریم په ډیرے خوشبوئی او په عزت
دَ خپل وجه الکریم په نور تابان شے رضا مولا
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا

رب العزته خپله سوال مو ستا دَ لوئے علم بےشمار
دے دَ ازل نه تر ابد ستا په بے حد بنکلی دربار
پخپل احسان ته له هر یو مسلمان شے رضا مولا
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا

نور دَ ایمان مو کړے نصیب پخپل وجه الکریم مولا
نور دَ عرفان مو کړے نصیب پخپل ذاتِ قدیم مولا
نصیب مو کړے پخپل احسان خپل ایمان شے رضا مولا
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا


ستا دَ رضا او دَ لقا عزت دولت مو کړے نصیب
ستا دَ رضا او دَ لقا لوئے شرافت مو کړے نصیب
په ابروئی ستا دَ رضا دَ جانان شے رضا مولا
دَ خپل ذات مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا

په وسیلے او شرافت دَ خپل محبوب ډیر محترم
او کړے له مونږ سره مولا هغه احسان فضل وکرم
چه بنائی تا سره کوم شان دَ فیضان شے رضا مولا
دَ خپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا

دا **محمد امین** نا توان خجل عاجز ذلیل بنده
دیر واړ خطا او پریشان خجل عاجز ذلیل بنده
له دِ دیر خوار په شرافت دَ قرآن شے رضا مولا
دخپل ذاتِ مقدس پاک په لوئے شان شے رضا مولا

بسم الله الرحمٰن الرحیم

بے نوا گدا مضطر او نا قرار یم	ذلیل وارخطا مضطر او نا قرار یم
بے نوا گدا مضطر او پریشان یم	دیر نا توان یم خپله ربه او حیران یم
شرمنده خوار شکسته او سرگردان یم	عاجز بینوا مضطر او نا قرار یم
ستا جمله عالم چه خومره تا ته کرام دے	په لرزان او په لغزش نے هر قدم دے
ترجمله وَوزه عاجز پتا قسم دے	خپله ربنا مضطر او نا قرار یم
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عزت	ستا دَ ذاتِ مقدس په شرافت
بس هم تا پورے پناه یم هر ساعت	خپله کبریا مضطر او نا قرار یم
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے جلال	ستا دَ ذاتِ مقدس په پاک جمال
ستا دَ علم په لوئے شمار کوم سوال	شے له مونږ رضا مضطر او نا قرار یم
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے تعظیم	ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے تکریم
پناه تا پورے لہ نفس شیطان غلیم	نهٔ عاجز گدا مضطر او نا قرار یم
ستا دَ علم په شمار ستا ثنا شکرونه	ستا ادب حیا تعظیم او احسانونه
تا ته سپارم خپل خاوند بیچکونه	عاجز پُر خطا مضطر او نا قرار یم
دَ محمد مصطفیٰ په وسیلے	دَ اشرف الانبیا په وسیلے
دَ حضرت نور الهدیٰ په وسیلے	غواړو ستا عطا مضطر او نا قرار یم
محمد امین روضه کنے دَ جنت	دَ محبوب په شرافت او سعادت
ستا رضا او لقا غواړم هر ساعت	شرمنده گویا مضطر او نا قرار یم



بسم الله الرحمٰن الرحیم

مُناجات بدرگاه قاضی الحاجات

اللهم ربنا الکریم العظیم الرءوف الرحیم لک الحمد والشکر فی کلّ لمحةٍ وطرفةٍ ولحظةٍ ونفَسٍ حین عددما فی علمك وبقدر عظمة وعزةِ و شرافةِ ذاتک الحق المقدس الکبیر الاکبر العظیم الاعظم کما انت اهلهٗ وتحبّ وترضیٰ بِالسنةِ ولطائِفِ ذرّاة الموجو الکبریائیة۔

ستا کمترین ذلیل احقر محتاج بندهٔ شکسته په ابرو او په خوشبو دَ وجه الکریم العظیم الرءوف الرحیم ستا او په وسیلے دَ محبوب انور صلی الله علیه وسلم دَ جنت په روضه کنے دَ محبوب انور صلی الله علیه وسلم په نهایت قربت کنے ستا په توفیق او هدایت په کوزو سترگو سره دَ دیرہ ذلته ـ وال کوی۔ چه هر حمد او ذکر او فکر او شکر استغفار او ترجیع دَ دے عاجز محتاج بنده خپل دا سے منظور کړے۔ په ذرّو او لطائفو دَ موجود کبریائی لمحه لمحه دَ ابد الابد کنے ستا دَ علم پشمار۔ لکه چه هم دلته په روضه مبارکه کنے ذکر شوی وی۔ ایمانًا احتسابًا ادبًا و حیاءً ا تذللاً او انکسارًا۔ شوقًا۔ او محبتًا۔ تعظیمًا او تکریمًا۔ امین عدد علمک فی کلّ طرفةٍ وحینٍ، ماشاء الله لاحول و لا قوّة الا بالله العلی العظیمہ وماذالک علی الله بعزیزه إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ۝

سره دَ خپلو مشائخ کرامو، او اقرباؤ، او دوستانو، او جمله ومسلمانانو رونړو، او په بیان مذکور لطائف په ذلیل او محتاج وجود دَ دے عاجز کنے په ذکر او مراقبے تصوّر او تفکّر ایمانًا احتسابًا حقیقتًا تا ابدُ الابد جاری اولرے۔

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝ اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ وَ اَنَا اَشْهَدُ بِمَا شَهِدَ اللّٰهُ بِهٖ وَاَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ هٰذِهٖ

الشَّهَادَةَ کَمَا هُوَ اَهْلُهٗ وَیُحِبُّ وَیَرْضٰی وَهُوَ ذُوا الْجَلَالِ وَ
الْاِکْرَامِ ط لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحَانَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ o
اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا کَثِیْرًا وَّلَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ
اِلَّآ اَنْتَ فَاغْفِرْلِیْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِکَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّکَ اَنْتَ
الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ o
وَکَذَالِکَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی اَشْرَفِ الْاَنْبِیَاءِ
وَالْمُرْسَلِیْنَ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ اُمَّهَاتُ
الْمُؤْمِنِیْنَ ط کَمَا اَنْتَ اَهْلُهٗ وَتُحِبُّ وَتَرْضٰی یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِکْرَامُ
یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ط عَدَدَ عِلْمِ اللّٰهِ تَعَالٰی فِیْ کُلِّ حِیْنٍ o

بسم الله الرحمن الرحیم o

کریم رَبُّ العزة مولا بوجهک الکریم   غوا رو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
کریم رب العزته خپله کبریا خاونده   په شمار د علم ستا په دیر ادب حیا خاونده
ستا په پاک در موصدا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
کریم رب العزته اَللّٰهُ الصَّمَدُ خاونده   پشمار د علم ستا ازل نه تر ابد خاونده
هره لمحه کړو دا دعا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
کریم رب العزته الله اکبر خاونده   پشمار د علم ستا بیا بیا ستا په پاک خاونده
غوارو رضا لقا بیا بیا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
رب العزته په عزت ستا د ذاتِ مقدس   رب العزته په عظمت ستا د ذاتِ مقدس
ستا په در سوال کړو ابدا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
رب العزته په جلال ستا د ذاتِ مقدس   رب العزته په جمال ستا د ذاتِ مقدس
غوارو لتا حق دلربا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
رب العزته په ابرو ستا د ذاتِ مقدس   په فیض احسان او په خوشبو ستا د ذاتِ مقدس
نه مونصیب کړې ستا عطا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
رب العزته په عزت د محمدﷺ مصطفیٰ   په فیض احسان او شرافت د محمدﷺ مصطفیٰ
نه مونصیب کړې ستا وفا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم

رب العزته په جمال د محمدﷺ مصطفیٰ   رب العزته په وصال د محمدﷺ مصطفیٰ
سوال ستا په در کړی خوار گدا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
رب العزته په ابرو د محمدﷺ مصطفیٰ   په نور او حسن او کل خو د محمدﷺ مصطفیٰ
راکړې د خپل حسن رڼا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم
شکر ثنا ستا د لوئې علم پشمار تا ته سپارو   په دیر ادب ئې ترازله بار بار تا ته سپارو
په دیر تعظیم ادب حیا بوجهک الکریم   غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم

رب العزته **محمد امین** فقیر نا توان
تا نه جنت کښې غواړی جملګی دوستان محبان
په کور د جنت المئوا بوجهک الکریم
غوارو رضا او لقا ستا بوجهک الکریم

بسم الله الرحمن الرحیم o

ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوره ده
روح د کل جهان دلے دے مدینه منوره ده
د جمله وو مرسلانو مُقتدا او مُعتبر،
محترم او مکرم د لولاک تاج ئې په سر
شاه د انس و جان دلے دے مدینه منوره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوره ده
چه ئې دواړه جهانونه، په جمال کړه رب روښانه
عرش نه پورته رسیدلے تر خلوت د لا مکانه
هغه مخ روښان دلے دے مدینه منوره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوره ده
خورم قسم په ذوالجلال چه په دواړه جهانونه
په دربار کښې د محبوب هم لوئې کرم هم کردونه
ماته دومره ګران دلے دے مدینه منوره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوره ده

کوز کوی گوره اے رضوانه دِ کوسو کښے چه گرزیږے
دیر شرمیږه له جانانه دِ کوسو کښے چه گرزیږے

محبوب دَ سبحان دلے دے مدینه منوّره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوّره ده

که سوداکوے عاشقه په بازار دَ عاشقۍ کښے
بسم الله کړه داروان شه رازه لار دَ عاشقۍ کښے

دَ عُشّاقو جان دلے دے مدینه منوّره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوّره ده

اے عاشقه رب دِ مل شه که دَ عشق له درده جاړے
دَ زخمی زړگی دپاره که مرهم دَ وصال غواړے

ستا دَ زړهٔ درمان دلے دے مدینه منوّره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوّره ده

که په دِ دُنیا جنّت کښے خوار عاشقه داخلیږے
بس دَ عشق په قدمونو به فی الحال داروانیږے

دا دَ رب احسان دلے دے مدینه منوّره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوّره ده

په **محمّد امین** خوار دَ خپل رب ډیر احسان دے
خپل کریم خاوند پرے ډیر بے حده مهربان دے

دا عاجز ناتوان دلے دے مدینه منوّره ده
ښکلے پاک جانان دلے دے مدینه منوّره ده

بسم الله الرحمٰن الرحیم

خپل مولا ذلیل محتاج خوار شکسته یم   ربنا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
خپل مولا ذلیل محتاج عاجز بنده یم   ستر کے ښکته ملامته ډیر گنده یم
پورے ته نه شمه کتے لمن لنده یم   بینوا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
په عزّت دِ دَ ذات پاک خاوند اکبره   په عظمت دِ دَ ذات پاک خاوند اکبره

ما اومه شرمے له خپله لویه دره   خوار گدا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
مات کچکول کښے ماله خیر دَ رضا راکړه   خپل غنی خاوند خیر دَ لقا راکړه
خپل کریم خاونده خیر دَ عطا راکړه   وار خطا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
ستا دَ ذاتِ مقدس په شرافت   ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عظمت
ستا دَ ذاتِ مقدس په لوئے عزت   غواړم تا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
دَ وجه الکریم په لوئے کرم فیضان   دَ وجه الکریم دَ حُسن په لوئے شان
شے رضا رب له هر یو مُسلمان   غواړم دا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
ستا له قهره تختم ستا رحم ته رږم   امان راکړے له خپل قهره له غضبه
ته مونږ او ساتے له هر کار بے ادبه   کبریا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
خپل خاوند رب العزة ته خوار خجل یم   ستر کے خکته ملامته خوار خجل یم
ډک له شرم ولړ ذلته خوار خجل یم   کرم جرا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
ستا دَ علم په لوئے شمار رم دا باوږ   ستا دَ علم په تکرار رم دا باور
دَ ازل نه په بار بار رم دا باور   أبدا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
پورته نه شمه کتے له ډیره شرمه   وایم خکته پریوتے له ډیره شرمه
چرے بیا نهٔ راختے له ډیره شرمه   پُر خطا ذلیل محتاج خوار شکسته یم
ستا رضا هم ستا په وجه الکریم غواړم   ستا لقا هم ستا په وجه الکریم غواړ[illegible]
ستا عطا هم ستا په وجه الکریم غواړم   زهٔ ادنیٰ ذلیل محتاج خوار شکسته یم
محمّد امین روضه کښے دَ جنت   ستا په توان او په توفیق او هدایت
عفوه غواړم دَ محبوب په شفاعت   یم گویا ذلیل محتاج خوار شکسته یم

بسم الله الرحمٰن الرحیم

مناجات بدرگاهِ قاضی الحاجات

اللّٰهم ربنا الکریم العظیم الرءوف الرحیم لک الحمد والشکر کما انت اهله وتحب وترضیٰ فی کل لمحةٍ وطرفةٍ ولحظةٍ وحینٍ عدد [illegible] علمک و بقدر عظمة وعزة وشرافة ذاتک الحق المقدس الکبیر

الاکبر العظیم الاعظم وجمیع صفاتک واسمائک الحسنیٰ بالسنة ولطائف ذرّات الموجود الکبریائیة.

ستا دَعِلم پہ لوئے شمار پہ لمحہ لمحہ اَو لحظہ لحظہ او طرفہ طرفہ دَ ابد الابد کښې بیا بیا ډیرہ خپلہ غنی او بے پروا او کریم او رحیم خاوند پہ شرافت او عزت دَ ذاتِ مقدس او وجہ الکریم، او دَ جملہ صفاتو او اسماءِ حسنیٰ ستا، او پہ وسیلے دَ محبوب انور صلی اللہ علیہ وسلم او جملہ پیغمبرانو او مشائخ کرامو ستا، او پہ شرافت او عزت دَ قرآن مجید مبارک ستا، پہ روضہ دَ جنت کښې تا تہ ستا دَ علم پشمار پہ مذکورہ بیان پہ هغو نسبتونو پاکو سوالونہ دی، دعا کانے زارئے دی چہ تہ پرے رضا کیږے او سوالونہ دُعا کانے زارئے پرے قبلوے۔

چہ دَ دے روضة الحبیب پشان هم پہ دے روضہ دَ جنت کښې او پہ نہایت قربت دَ محبوب انور صلی اللہ علیہ وسلم کښې جُملہ کتابونہ، تحریرونہ، تقریرونہ، دَ دے عاجز او ذلیل محتاج بندہ خپل دا سے مقبول کړے۔ لکہ هم دلتہ تصنیف شوی او تکرار شوی او بار بار پہ مذکورہ بیان عرض شوی وی۔ وَمَا ذَالِکَ عَلَی اللّٰہِ بِعَزِیزٍ۔

اللھم ربنا، دیوان مداح[۱]، گلدستہ مدینہ منورہ[۲]، گلدستہ مصطفوی[۳]، گلزارِ مدینہ منورہ[۴]،

---

[۱] دینہ مخکښې دیوان محمد امین چاپ شوے دے۔ دا کتاب مختصر دے۔ ناشر ئے عبد السلام مرحوم دَ پشاور دے۔ سائز ئے ۲۲×۲۶ ۸/۳۲ دے۔ صفحات ئے ۱۳۶ دی۔ دا دیوان مداح هم هغہ دے نوم ئے بدل کړے دے۔ پہ دے کښې زیادت شوے دے۔ کتاب لوئے دے۔ اشعار ئے دَ حروف تہجی پشان دَ الف نہ شروع دی او پہ ی ختم دی۔ پہ شان دَ دیوان عبد الرحمن بابا۔ دیوان عبد العظیم دیوان عبد الحمید وغیرہ وغیرہ صفحات ئے ۲۸۸ دی۔ دَ فضل مالک صاحب دَ پشاور دَ دوکان نہ موندے شی ۱۲ (کاتب عفی عنہ)

[۲] دا کتاب خلور حصے دے۔ هرہ حصہ بیل بیل کتاب دے۔ اوله حصہ کښې نعتونہ، دویمہ حصہ کښې دَ پیغمبر علیہ السلام معجزات دی۔ دریمہ او خلورمہ حصہ کښې مختلف نعتونہ او نظمونہ دی۔ صرف یو محل چاپ شوے دے۔ بیا ختم شوے دے۔ دَ رومبو دوو حصو کتابت هم ما یو محل نورانی کتب خانہ پشاور تہ کړے دے۔ تر اوسہ نہ دے چاپ شوے۔ (کاتب)

[۳] دا کتاب شپږ حصے دے۔ اولے درے حصے عثمان لہ مختصر کتاب دے۔ او آخری درے حصے عثمان لہ جدا جُدا کتاب دے۔ دا مینے طباعت ختم شوے دے۔ (باقی پہ صفحہ ۲۲۳)

[۴] دا کتاب او دیوان محمد امین گلدستہ مدینہ منورہ عبد السلام مرحوم یو ځل چاپ کړی دَ ختم شوی دَا دَرس نہ ملاویږی ۱۲

بهارِ[۵] مدینہ منورہ، انوارِ[۶] مدینہ منورہ،

(دَ تیر شوی مخ پاتے حاشیہ) تول نعتونہ او نظمونہ دی۔ دَ دے شپږو وارو حصو کتابت ما هم یو ځل کړے دے۔ لیکن تر اوسہ نہ دی چاپ شوی۔ دَ پیښور دَ فضل مالک صاحب دَ کتبخانے نہ معلومات کیدے شی۔ ۱۲

[۵] بهار مدینہ منورہ۔ دِ کتاب کښې نظم و نثر دواړہ دی۔ او دَ اللہ تعالیٰ حمد و ثنا او پہ پیغمبر علیہ السلام درود مبارک جُدا جُدا الفاظو سرہ ذکر دی۔ دویم طباعت کښې مصنف پخپلہ زیادت کړے دے۔ لکہ دَ یو لوئے مشاعرے دا طرحی نظم سرہ ستا پخپل دین پورے دا تو ئے مسخرے دی ولے۔ دَ مصنف دَ وفات نہ پس مو دِ سرہ دَ هغوئ سوانح عمری دَ جوند حالات او اهم واقعات مختصرو الفاظو کښې پښتو کښې ذکر کړی دی۔ او هغہ وخت چہ کومو شاعرانو دَ هغوئ دَ وفات اشعار او مرثیے جوړے کړی دی۔ دَ دے پہ آخر کښې دی۔ دَ کتاب تول صفحات ۷۳ دی۔ دَ بالا مذکورہ دوکان نہ موندے شی۔

دَ دے دَ بعضو حالاتو اُردو کښې ترجمہ جناب پروفیسر مولانا الحاج وحید الرحمن صاحب بی اے، آنرز ایم اے۔ صدر شعبہ اسلامیات گورنمنٹ کالج پیښور کړے دہ۔ او تہ مواد ئے نورهم جمع کړی او ترجمہ کړی دی۔ نوم ئے دے "حضرت حاجی محمد آمین صاحب کی حیات پر ایک نظر"، او بیا ورپسے تکملہ لیکلے دہ۔ پروفیسر جناب خالد امین صاحب نجفی ایم اے، ایم ایس سی، ایل ایل بی، ڈی ټی ایل ډی، ایل ایل ډی ایس سی، پرنسپل نیو لاهور کالج ۱۸ الشجر بلډنګ نیلا گنبد لاهور منہ۔ پہ آخر کښې حسبِ خواهش دَ حضرت پیر عبد اللہ جان صاحب دَ پیښور دَ جناب حاجی صاحب مرحوم دَ اُردو، فارسی، پښتو نعتونہ۔ او دَ سلسلے دَ صاحبانو شجرہ مبارک آخر کښې زیاتہ کړے دہ چہ لید و سرہ تعلق لری۔ اللہ تعالیٰ دِ دَ دے تو لو دَ دارینو خیرونہ نصیب کړی۔ دَ دے کتاب پہ صفحہ ۴۷-۴۸ کښې دَ جناب حاجی صاحب مرحوم تول تصانیف ۲۹ لیکلی دی۔ او دَ دے تول صفحات ۱۰ دی۔ ډیر بهترین کتابت طباعت او اعلیٰ کاغذ سرہ دَ خواجہ ابو الخیر اکیډمی ۱۹ الشجر بلډنګ نیلا گنبد لاهور نہ نشر شوے دے۔ قیمت ئے صرف ۱۱ روپئے دے ۱۲

[۶] انوار مدینہ منورہ۔ دِ کتاب کښې هم نظم و نثر دواړہ دی۔ او پہ بیل بیل الفاظو دَ اللہ تعالیٰ حمدونہ او پہ حضور علیہ السلام درودونہ ذکر دی۔ او هغہ مشهور نعت دَ دے کتاب دے۔ [۷]

زړگیہ ستړے لګوہ دَ قدم لارہ نہ دہ!

حضرت پرے ایښے قدمونہ دومرہ خوارہ نہ دہ

دَ دے تول صفحات ۷۴ دی۔ دَ فضل مالک صاحب دَ کتبخانے نہ موندے شی ۱۲

اسرارِ[۱] مدینه منوره ، روحی[۲] فدا ، روحی نثار[۳] ،
الحمد[۴] لله ، سبحان[۵] ربی الاعلیٰ ، سبحان[۶] الله ،

۱ھ اسرار مدینه منوره ، دِ کتاب کښې نظم و نثر دواړه دی . ځائے په ځائے د الله تعالیٰ حمد و ثنا . مناجات بدرگاه قاضی الحاجات ، او په پیغمبر صلی الله علیه وسلم درودونه دی . او دا مشهور نعت دَدې کتاب دے . ـــه محبوبه را نُماشه دَلحد تورو تیرو کښې ؛ مړ شوے ارمانی یم دَ هجران سختو خوارو کښې ، دَ دے صفحات ۱۵۲ ، ر دی . دَ اسحاق صاحب (پینبوی) دَ کتبخانے نه موندے شی -

۲ھ روحی فدا ، او روحی نثار - په دے دواړو کتابونو کښې نعتونه نظمونه او درودونه دی . دَ دواړو قلمی نسخے دَ مصنف دَ لاس موجود دِی . دَ دے دواړو کتابت دَ مصنف مرحوم په ژوند شوے دے . او هغوئ پخپله کُتب فروش ته حواله کړے دے . لیکن تر اوسه ئے طباعت نهٔ دے شوے ۱۲

۳ھ الحمد لله . دِ کتاب کښې نظمونه نعتونه او درودونه دی . په ۱۳۶۹ھ مطابق ۱۹۵۰ء کښې کتابت شوے او چاپ شوے دے . هغه مشهور نعت دَدے کتاب دے ـــه شین گنبد نه را بهرشه محمدٌ رسول الله . په صفحه ۶۲ سطر ۱۴ کښې دَ مصنف د خپل لاس بسم الله شریف لیکلے شوید همدا رنګ په صفحه ۶۶ سطر ۱۲ (اللهم ربنا الکریم) دے . ص ۱۲۰ دی .

۴ھ سبحان ربی الاعلیٰ ، دا ډیر بهترین کتاب دے . په دِ کښې نظم او نثر دواړه دی . حاجی صاحب مرحوم به چه دَ جنتونو او دوزخونو دَ قران پاک دَ ایاتونو او احادیثو په رڼړا کښې کوم مؤثر او بلیغ وعظ فرمایلو . هغه اکثر دے کښې سره دَ حوالو بیان شوے دے . دا کتاب اوس نهٔ ملاویږی . صرف یو وارے بختیار احمد کتب فروش دَ پینبور په سنه ۱۹۴۷ء مطابق سنه ۱۳۶۶ھ کښې کړے دے . دَ دے صفحات ۱۴۸ دی . کاتب ئے محمد سعید صاحب دے - دَ دے مشهور نعت دا دے - ـــه تور دَ ستر ګو دَ زړه سرهِ محمدٌ رسول الله دے . یا دا منظومه دَ رابعه عادت جمله مسلمانان کړے ربه ۱۲

۵ھ سبحان الله ، دا کتاب نورانی کتب خانے پشاور چاپ کړے دے . په دِ کښې نعتونه بعضے نثر او درودونه او دَ جهاد په جوش نظمونه دی او دَ حضور صلی الله علیه وسلم دَ ویښته مبارک وضاحت چه په کومه ذریعه دَ کابل بادشاه امیر عبدالرحمن نه دَ ګټ ته رسیدلے دے . او دَ مصنف مرحوم دَ حج شریف دَ واپسئ حال چه په سنه ۱۳۶۵ھ کښې تلے وو . دَ دے سرخے لاندِ او ګډ بیان دے (پس له وصاله دَ هجران جانګداز داستان) چه کتو سره تعلق لری . آخر کښې دَ مسلم شریف او بخاری شریف یو څو احادیث دی په فضیلت دَ سبحان الله کښې - ټول صفحات ئے ۱۰۴ دی ۱۲۰

من[۱] الرب الرحیم ، فتبارک[۲] الله احسن[۳] الخالقین ،

۱ھ من الرب الرحیم . دِ کتاب کښې دَ الله تعالیٰ حمدونه ، او په رسول الله صلی الله علیه وسلم درودونه مختلفو الفاظو سره ذکر دی . مینځ ترمینځ نعتونه ، نظمونه ، و غیره درج دی . دا کتاب قلمی دے ، تر اوسه نهٔ دے چاپ شوے . ټول صفحات ئے ۶۷ ، ر دی . دَ عاشقانو هغه مشهور نعت دَ دے کتاب دے . په ص ۵۴ کښې فرمائی ـــه چغے دَ عشاق وستا دَ عرش په منارو دی نن ؛ اخلی رُخصتونه جرا او په زارو دی نن ، دا کتاب بیا دَ حج په موقعه لسنه ۱۳۷۶ھ حاجی صاحب مرحوم په حرمینو شریفینو کښې تبرګا لوستے دے اول او آخر پړے دَ پاسه قلمی تاریخونه وغیره درج کړی دی ۱۲

۲ھ فتبارک الله احسن الخالقین . دا کتاب قلمی دے . په دِ کښې هم دَ الله تعالیٰ حمد و ثنا . نعتونه ، نظمونه ، په حضور علیه السّلام درودونه مختلفو الفاظو سره دی . تر اوسه نهٔ دے چاپ شوے . ټول صفحات ئے ۱۰۵ دی . تفصیل ئے دا دے . حاجی صاحب مرحوم دا غم دَ ګجرات او خه دَ پنډی (صوبه پنجاب) په جیلخانو کښې تصنیف کړے دے . کوم وخت چه هغوئ په ملی فروری سنه ۱۹۵۳ء مطابق ملو جمادی الثانی سنه ۱۳۷۲ھ لاهور ته دَ تحفظ ختم نبوت کانفرنس په دعوت دَ جلسے بللے شوو . په دغه ورځ کښې ذدوئ تور لباس وو . دلته هم هغه تور پټکے تور سادر تور قمیص دَ شیشے په ولاړے تقریر کوی . هم په دے حالت کښې کیمره والا دَ هغوئ په ناخبرئ فوتو اخستے دے چه هغه وخت دَ لاهور مشهور اخبار زمیندار چه ایډیټر مولانا اختر علی خان وو . په اوله صفحه درج دے . دا اخبار دا تاریخ دے . روز جمعرات ۱۹ فروری سنه ۱۹۵۳ء مطابق ۴ جمادی الثانی سنه ۱۳۷۲ھ تصویر را اندِ لیکی . فخر کشمیر شیر سرحد حاجی محمد امین صاحب امیر ناجیه سرحد عزیزی مجلس عمل کے عظیم الشان اجتماع میں ختم نبوت کی حفاظت کے لئے صوبہ سرحد کی طرف سے ہر قسم کی قربانی کا اعلان فرما رہا ہے . دا اخبار ما ساتلے وو . ادس ئے هم عکس شته . دَ جلسے دَ اختتام نه پس خپل وطن ته دَ ریل په ذریعه راروان شو دَ ګجرات په سټیشن ګرفتار شو . دا سیاسی قید وو . عامه ګرفتاری وه . تقریبًا لس هزاره علماء دَ کل پاکستان ګرفتار شوی وو . چه علماؤ او عوامو دَ قادیانی خلاف اواز اوچت کړے وو . څو ورځے په ګجرات کښې دَ پهانسئ په کوټه کښې تیرے کړی دی . لکه دَ دے کتاب په لسمه صفحه کښې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په عشق کښې فرمائی . ـــه ستا دَ عشق په پټ م وجنی څهٔ غوغا ده ؛ سر را پورته کړه عجیبه تماشا ده ؛ بل قصور م غمازنه وبی قسم دے ؛ چه ستا مینه څما جمله مُدعا ده : (تراخره) در بیے بل نظم دے ـــه ما ستا دَ عشق په جُرم وجنی دا غوغا چه ده نن ؛ سر کړه را پورته په دیوال دا تماشا چه ده نن ؛ (تراخره) دَ دے میاشتو نه پس بیا (باقی په راتلونکے صفحه)

تحفة الحبيبه[1] ، الحق[2] ، اوجمله رسائل دَ الصّادقه[3] . او

(د ډیرے شو صفحے باقی بیان) دَ پنډی جیلخانے ته بدل شو. هلته میاشتے دغلته وو. دا تول مُده تقریباً نهه میاشتے وه. دکتاب پر آخری صفحه هغوئ پخپله تاریخ اختتام ورکړی دی. ختم دکتاب ۱۰ محرم روزِ عاشوره ۱۳۷۳ھ پرجیلخانه دَ پنډی صوبه پنجاب کښے «

په موقعه هغوئ دَ «منازلِ عقبیٰ» تصنیف هم دِ جیلخانه کښے کړے دے. چه دا دَ وړه شان کتاب دے. قرآن مجید کښے چه څومره آیتونه دَ آخرت متعلق دی هغه ټول ئے دِ کښے جمعه کړی دی. چه سړی ته ټول آخرت یادیږی. متقدمینو کښے داسے تصنیف چانه دے کړے. دا یو علمی کارنامه ده. او دا بیا دَ دلائل الخیرات شان دَ بیلے بیلے ورزے حزبونه دی. لوستلے به دَ رقسمه دی. یو به اته ورځ ختمیږی، دویم خمسو دی. په پنځه ختمیږی. دریم ښلشونه دی په دریمه ختمیږی، چه چا ته کوم اسان وی.

حاجی صاحب مرحوم چه دَ نهو میاشتو نه پس رها شو. کورته راغے. نو دا کتاب ئے دَ یاره دَ طباعت نورانی کتب خانے پیښاور ته حواله کړو. صرف دومره کار ئے شرف الدین کاتب لیکلے ؤ چه اوس هم ما سره دی. په دِ دوران کښے دوئ دَ حج په اراده روان شو کتاب صرف دا یو نسخه وه راوړه غوښتل چه څان سره ئے وړم دَ بیت الله شریف خوا کښے او دَ حضور دَ روضئے مبارکے سره ئے بره تبرکاً لولم. پخپله دَ کتاب اول او آخر کښے فرمائی «په اوم محرم ۱۳۷۶ھ بیت الله شریف خوا کښے لوستل شروع شو. پنځلسم محرم ختم شو» بیا لیکی «په یولسم ربیع الاول ۱۳۷۷ھ مدینه منوره په ریاض الجنة کښے حجرے مبارکے ته بالکل نزدِ شروع شو. شپږ ویشتم ربیع الاول ختم شو» دَ حج نه پس هغوئ هلته یو کال حصار شو. دَ هغے نه پس چه وطن ته راورسیدلو بیمار وو. دَ اتو میاشتو مسلسل بیمارئ نه پس په ورځ دَ هفتے ۳۱ مئی ۱۹۵۷ء مطابق ۱۱ ذیقعده ۱۳۷۷ھ باندِ وفات شو. انا لله وانا الیه راجعون. کتاب پخپل حال پاتے شو. الله تعالیٰ دِ دے او دا کوم چه نورقلمی دی. دَ ټولو دَ یاره دَ طباعت پخپل فضل سره یو ذریعه پیدا کړی. امین

---

[1] دَ دے پوره نوم دا دے (تحفة الحبيبة فی فضیلة الصلوٰة علیٰ اشرف البریة) دِ کښے ټول دَ درود شریف فضائل او ډیرو زیاتو احادیث مبارک هم دِ متعلق ذکر دی. دَ کتاب اتیا صفحے دی. اوس هم دَ اسحاق صاحب دَ پیښور دَ دوکان نه موندے شی.

[2] دا یو مختصره رساله ده په اثبات دَ ولا الضالین کښے. کاتب ئے قریشی صاحب مرحوم دَ پیښور دے.

[3] الصادقه . . . دَ جماعت ناجیه ما هانه رساله وه پښتو کښے . ابتداء کښے پنځلس ورزے پس دَ جماعت ناجیه په خرچ چاپ کیده. بیا حاجی صاحب پخپل خرچ ماهانه چاپ کولو او نشر کیده. ۱۲

جمله تحریرونه، تقریرونه دنظم ونثر چه محض په خپل فضل واحسان دِ له دِ عاجز ذلیل محتاج احقر بنده صادر کړی دی. نو دغه جمله او روضة الحبیب یوشان خالص دَ یاره دَ خپلے رضا او لقا کړے سره دَ جمله آینده طاعاتو ظاهری باطنی، امین یا مجیب السائلین، و یا رب العٰلمین ط

اللّٰهم ربنا الکریم العظیم په مذکور بیان احسانات دَ دے عاجز ذلیل محتاج بنده سره دَ حضرت مرشد محترم باباجی صاحب فضل واحد[1] او جمله مشائخ کرامو او احبابو دَ طریقت، او دَ جماعت ناجیه صالحه، او جمله مُسلمانانو نصیب کړے، ایماناً واحتساباً، ادباً وحیاءً، شوقاً وذوقاً، عشقاً ومحبتاً، تذللاً وانکساراً، حقاً وحقیقتاً، وما ذالک علی الله بعزیز ه انما امره اذا اراد شیئاً ان یقول له کن فیکون ٥ فسبحٰن الذی بیده ملکوت کل شئ والیه ترجعون ٥ په مذکور بیان ډیره خپله حق الیقین خاوند کریما غنی بے پروا، دا دَ جنت روضه ده. او په جنت کښے ستاسو حقه وعده ده چه وَلَهُمْ مَّا يَشَاءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ نو بیا بیا ډیر خپله کریمه او عظیمه او قدیمه رب العزته څمونږ دَ جمله سوالونو، دعاګانو، او آرزوګانو نه پورته فوق ده. وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ احسانونه مو دَ خپلے حق الیقین وعدے پروفا نصیب کړے. امین عدد ما فی علمک فی کل لمحةٍ ونفسٍ وحینٍ . وکذالک اللّٰهم صل وسلم وبارک علیٰ سیدنا وحبیبنا محمدٍ واٰله واصحابه وازواجه امهات المؤمنین، صلاة تدوم بدوامک وتبقی ببقائک تکون لک رضاءً ولحقه اداءً واعطه الوسیلة والفضیلة وابعثه المقام المحمود، وَتُعطِنِی ما سئلتک عاجلاً واٰجلاً فی الدین والدنیا والاٰخرة ط وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللهِ بِعَزِیْزٍ ٥ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ٥

سُبْحٰنَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ٥ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ٥ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ٥

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

په بے حده لوئے عزت خپل ربنا مولا رضا شے

چه لتانه صادریږی ، بس هم تاسره خاتیږی
ستا رضا پرے حاصلیږی ، ستا لِقا پرے حاصلیږی

په هغے فضل ورحمت خپل ربنا مولا رضا شے ،
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس ، په بے حده لوئے جلال ،
دَ خپل ذاتِ مقدس ، په بے حده زیات جمال

او په حُسن او زینت خپل ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس ، په بے حده احسانونو
دَ خپل ذاتِ مقدس ، په بے حده انعامونو

په لذت او په کثرت خپل ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

دَ خپل ذاتِ مقدس ، په کرم کریم خاونده
دَ خپل ذاتِ مقدس ، په کرم عظیم خاونده

له موږ خوارو هر ساعت ، ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ، ربنا مولا رضا شے

صد هزار هزار عالمه ، که بیرون کړے له عدمه
یو ذره به خدائی ستا ، نه شی زیاته او نه کمه

په دِ لوئے شان دَ قدرت خپل ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

په ابرو او شرافت دَ اشرف المرسلین
په جمال کمال عزت دَ محبوب ډیر بهترین

دَ محبوب په شفاعت خپل ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

دَ رضا لقا جانان ، چه دے خومره اعلیٰ شان
دَ رضا لقا جانان ، چه دے خومره پیمانګران

په دغے لوئے مرحمت ، ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ربنا مولا رضا شے

زهٔ چه خومره خوار محتاج ، او ذلیل او ملامت یم
زهٔ چه خومره ستر ګے بکته ، شرمنده پُر خجالت یم

دَ احقر په دِ ذلت خپل ، ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ، ربنا مولا رضا شے

ستا دَ علم په لوئے شمار ، ستا ثنا او ستا شکرونه
تا ته سپارم په بار بار ، ستا ثنا او ستا شکرونه

په دِ ډیر حق هدایت خپل ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ، ربنا مولا رضا شے

په روضه کښے دَ جنت ، **محمد امین** احقر
په ارشاد ډیر مبارک ، دَ محبوب حبیب انور

کړي لیکل په حقیقت خپل ، ربنا مولا رضا شے
دَ رضا په شرافت خپل ، ربنا مولا رضا شے

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دائم ایمان باور اقرار محمدی یمه زه   دَ رب دَ لوئے علم پشمار محمدیؐ یمه څه
دَ رب دَ لوئے علم پشمار په ډیر ادب او حیا   ازل نه تر ابد بار بار په ډیر ادب او حیا
په ډیر تعظیم او انکسار محمدی یمه څه   دَ رب دَ لوئے علم پشمار محمدی یمه څه
که دِم ذرے دَ کائنات په هر نفس روحو   رب ذوالجلال کړی شکر دوم دِم په ذره شوقو
والله په جمله به نثار محمدیؐ یمه څه   دَ رب دَ لوئے علم پشمار محمدیؐ یمه څه
رب العزت دَ محبوب په نورانی رُخسار   په ډیر ادب او محبت دِم کړے نصیب رفتار
دَ عاشقئے په پاکه لار محمدیؐ یمه څه   دَ رب دَ لوئے علم پشمار محمدیؐ یمه څه
رب العزت پخپل توان او په توفیق هدایت   ما تر ابد لرے طالب دَ خپل محبوبؐ وصلت
دَ عاشقئے په پاک روزګار محمدیؐ یمه څه   دَ رب دَ لوئے علم پشمار محمدیؐ یمه څه
دائم ایمان دائم ارمان دائم مقصود او طلب   خاوره دَ درګه دلربا په ډیر تعظیم او ادب

داروخُماد زړهٔ بیمار محمدیؐ یمه خه　　　درب دلوئے علم پشمار محمدیؐ یمه خه
چه ملائک قبر کښے راشی او پرسان کړی لما　　　رب العزة بر ملائکو ته عیان کړی لما
ازل نه ترابد بار بار محمدیؐ یمه خه　　　درب دلوئے علم پشمار محمدی یمه خه

خوار محمد امین روضه کښے دَ جنت جارمه
رب العزة نه یم ابرو دَ خپل محبوب غوارمه
بښکلے رضا بښکلے دیدار محمدی یمه زه
درب دَ لوئے علم پشمار محمدیؐ یمه خه

بسم الله الرحمن الرحیم

دَ مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم فضائل

عن أنس بن مالک رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صَلٰوةُ الرَّجُلِ فِی بَیْتِهٖ بِصَلٰوتِهٖ وَصَلٰوتُهٗ فِی مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَّعِشْرِیْنَ صَلٰوةٍ، وَصَلٰوتُهٗ فِی مَسْجِدِ الَّذِیْ یُجْمَعُ فِیْهِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلٰوةٍ، وَصَلٰوتُهٗ فِی مَسْجِدِ الْاَقْصٰی بِخَمْسِیْنَ اَلْفَ صَلٰوةٍ وَصَلٰوتُهٗ فِی مَسْجِدِیْ بِخَمْسِیْنَ اَلْفَ صَلٰوةٍ وَصَلٰوتُهٗ فِیْ مَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ اَلْفِ صَلٰوةٍ - (رواه ابن ماجة - كذا فی مشكوٰة المصابیح)

نو دَ مسجد اقصی یعنی بیت المقدس او مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم ثوابونه برابر شو. پنځوس پنځوس هزاره دَ بیل بیل،

صاحب دَ وفاء الوفاء لیکلی دی، چه دا حدیث اول وو. پس له دِ حدیث مبارک نه محبوبِ انور صلی الله علیه وسلم ته دَ خپل مسجد مبارک دَ زیادت وحی شوے ده. چه دَ بیت المقدس دَ هزار مونځونو نه په مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم کښے یو مونځ افضل دے.

نو پنځوس هزاره چه په هزار کښے ضرب شی، نو پنځه کروړه کیږی مطلب دا شو. چه یو مونځ په مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم کښے پنځه کروړه

مونځونه کیږی. لکه صاحب دَ وفاء الوفاء لیکلی دی.

وفی الصحیحین من حدیث أبی هریرة رضی الله عنه صَلٰوةٌ فِیْ مَسْجِدِیْ هٰذَا خَیْرٌ مِّنْ اَلْفِ صَلٰوةٍ فِیْ مَا سِوَاهُ لَا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ هذا لفظ البخاری - وزاد مسلم فَاِنِّیْ اٰخِرُ الْاَنْبِیَاءِ وَاِنَّ مَسْجِدِیْ اٰخِرُ الْمَسَاجِدِ قُلْتُ یُرِیْدُ اٰخِرَ مَسَاجِدِ الْاَنْبِیَاءِ كما نقله المحب الطبری عن ابی حاتم، وَاِلَّا فَهُوَ مِنْ اَوَّلِ مَسَاجِدِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ فَیَقْتَضِیْ ذٰلِکَ اَنْ یَّکُوْنَ الصَّلٰوةُ بِمَسْجِدِهٖ صلی الله علیه وسلم اَفْضَلُ مِنْ اَلْفِ صَلٰوةٍ فِیْ بَیْتِ الْمُقَدَّسِ لِاَنَّهٗ مِنْ جُمْلَةِ مَسَاجِدِ الْاَنْبِیَاءِ وَلَمْ یَسْتَثْنِ وَیَدُلُّ عَلٰی ذٰلِکَ مارواه بزاز عَنْ اَبِیْ سعید رض قَالَ وَدَّعَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم رَجُلٌ فَقَالَ اَیْنَ تُرِیْدُ قَالَ اُرِیْدُ بَیْتَ الْمُقَدَّسِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم صَلٰوةٌ فِیْ مَسْجِدِیْ اَفْضَلُ مِنْ اَلْفِ صَلٰوةٍ فِیْ غَیْرِهٖ اِلَّا الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (الخ)

او دا حدیث مبارک امام الحافظ محمد بن محمود مؤلف دَ کتاب (اخبار مدینة الرسول) په دے الفاظو اورے دے. پس له اتمام دَ سند نه ئے لیکلی دی. قَالَ قُلْتُ لِرَسُوْلِ اللهِ صلی الله علیه وسلم فَلِمَ قَالَ لِلصَّلٰوةِ فِیْهِ قَالَ صلی الله علیه وسلم هَاهُنَا اَفْضَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ هُنَاکَ اَلْفَ مَرَّةٍ

فائده:- پنځه کروړه مونځونه خو په حساب دَ دے کیږی چه دَ بیت المقدس دَ هزار مونځونو سره یو مونځ دَ مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم برابر وی. لیکن په حدیث شریف کښے خو لفظ دَ افضل دے. چه صیغه دَ تفضیل ده. یعنی ډیر زیات. نو اوس رب العزت جل جلاله وعم نواله ته به معلومه وی. چه دَ محبوب انور صلی الله علیه وسلم خاطر مبارک پرے خومره گران دے. او هغه دَ پنځو کروړونه ډیر زیات به خومره وی.

رَزَقَنَا اللهُ تَعَالٰی بِجَاهِ حَبِیْبِهٖ عَلَیْهِ اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ وَالتَّسْلِیْمِ کَمَا هُوَ اَهْلُهٗ وَیُحِبُّ وَیَرْضٰی. سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ٥ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ٥ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ٥

له مونږ بېنوا خوارانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
چه بنا ئیږی ستا له شانه خپل رحیم کریم خاونده
چه بنا ئیږی ستا له شانه خپل عظیم قدیم خاونده
په هغې له محتاجانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عزت او شرافت
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظمت او حقیقت
له مونږ خوارو عاجزانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عزت شرف جلال
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظمت او په کمال
له جمله بېنوایانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظیم شان خپل خاونده
دَ خپل ذاتِ مقدس په قدیم شان خپل خاونده
له جمله شکستګانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
خپل رحیم کریم خاونده دَ خپل علم په لوئې شمار
خپل عظیم قدیم خاونده دَ خپل علم په لوئې شمار
په جمله وو دعاګانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
په عزت دِ دَ لوئې شان خپل خپله الله اکبره
په عظمت دِ دَ احسان خپل موتږ او مړ شرې له دره
له محتاجو بې کسانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې

له مونږ بېنوا خوارانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
چه بنا ئیږی ستا له شانه خپل رحیم کریم خاونده
چه بنا ئیږی ستا له شانه خپل عظیم قدیم خاونده
په هغې له محتاجانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عزت او شرافت
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظمت او حقیقت
له مونږ خوارو عاجزانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عزت شرف جلال
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظمت او په کمال
له جمله بېنوایانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
دَ خپل ذاتِ مقدس په عظیم شان خپل خاونده
دَ خپل ذاتِ مقدس په قدیم شان خپل خاونده
له جمله شکستګانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
خپل رحیم کریم خاونده دَ خپل علم په لوئې شمار
خپل عظیم قدیم خاونده دَ خپل علم په لوئې شمار
په جمله وو دعاګانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې
په عزت دِ دَ لوئې شان خپل خپله الله اکبره
په عظمت دِ دَ احسان خپل موتږ او مړ شرې له دره
له محتاجو بې کسانو ربنا مولا رضا شې
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شې

خپله ربه په ابرو دَ محمدؐ محبوب مختاړ
خپله ږبه په ابرو دَ محمدؐ محبوب رونداړ
او دَ کل پیغمبرانو ربنا مولا رضا شے
له جمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شے
دَ محبوب دَ پاک مزار پرانوارو خپله ږبه
دَ محبوب دَ پاک رُخسار په انوارو خپله ږبه
او په جمله رنړاگانو ربنا مولا رضا شے
له جُمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شے
په روضه کښې دَ جنت محمدؐ امین فقیر
دَ محبوب په پاک ارشاد چه کوی ښکلے تحریر
پدے کاړ دَ فِدایانو ربنا مولا رضا شے
له جُمله مسلمانانو ربنا مولا رضا شے

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

مهربانه خپل کریم رب العزته — اعلیٰ شانه خپل کریم رب العزته
ستا دَ علم په لوئے شمارم بیا بیا خپل ئے — دَ ازل نه په باربارم بیا بیا خپل ئے
په حق الیقین اقرارم بیا بیا خپل ئے — مستغنانه خپل کریم رب العزته
که هزار هزاړ هزار هزار عالمه — هسته وے یا نیسته وے له هره دمه
یو ذره قدر به نه شی هرگز کمه — ستا له توانه خپل کریم رب العزته
که هزار هزار هزاړ هزاړ محشره — په یوه ذره درون کړے رب اکبره
داکولے شے بیا بیا له مقدره — په احسانه خپل کریم رب العزته
دَ موجود کبریائی جمله ذرے — که دَ دے خوار په سینه کښې اولړے
تل دَ ذکر فکر شکر فوارے — له ښه شانه خپل کریم رب العزته
یو ذره به دِ کرم احسان کم نه شی — یو ذره به دِ رحمت فیضان کم نه شی
بو ذره به دِ قدرت او توان کم نه شی — له هیڅ شانه خپل کریم رب العزته
په ابرو او شرافت دَ خپل محبوب — په عزت او شفاعت دَ خپل محبوب

دغه سوال دے ستا په لوئے دربار مطلوب — له نا توانه خپل کریم رب العزته
دا کتاب قبول کړے خپل رب العزته — دَ خپل ذاتِ مقدس له شرافته
اے خاونده دَ لوئے شان او لوئے عظمته — فیض رسانه خپل کریم رب العزته
په عزت دَ رضا خپلے شے رضا — په عظمت دَ لقا خپلے شے رضا
په حُرمت دَ عطا خپلے شے رضا — خوار گدانه خپل کریم رب العزته

دَ محمدؐ امین خواږ جمله سوالونه
په جنت کښې کړے قبول له ښه مضمونه
ډیره خپله پاک خاونده بیچگونه — له احسانه خپل کریم رب عزته

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
کبریا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے دَ خپل علم په لوئے شماړ
دَ ازل نه تر ابده په تکراړ او په تکراړ
ابدا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
دَ خپل ذاتِ مقدس په بے حده لوئے عظمت
دَ خپل ذاتِ مقدس په بے حده شرافت
له گدا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
دَ ذات مقدس پاک په جمله حُسن و زینت،
دَ ذات مقدس پاک په بے حده لوئے عزت
او ضیا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا.
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ستا له شان سره چه ښائی په هغے ثنا شکرونو
ستا له شان سره چه ښائی په هغو کل ادبونو

اوجیا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

ته مجیب السائلین ئے ستا وعدے حق الیقین
د وعدو په حقیقت خپل یا اله العلمین

اووفا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

د جمله وو مشتاقانو عاجزانو محتاجانو
د جمله وو بے کسانو او جمله درماندګانو

په دعا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

چه له صدق وله ایمانه ستا په در خپله سبحانه
کوز کوږ ګوری د هغو په خوږ جګر خپله سبحانه

اوجړا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

چه لتا سره خائیږی بس هم تا نه صادریږی
ستا رضا پرے حاصلیږی ما سوا پرے نه توانیږی

پرے حقا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

د خپل ذاتِ کبریا په ډیر بے حده لوئے جلال،
د خپل ذاتِ کبریا په ډیر بے حده پاک جمال

ذوالعلا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

د محمد مصطفیٰ په شرافت او عزتونو
د حضرت نور الهدیٰ په لیاقت او عزتونو

خپل اعلیٰ مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

په روضه کښے د جنت ستا د علم په لوئے شمار
ستا په ډیر پاک دربار زاری ده د محمد امین خوار

له فدا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا
ربنا مولا رضا شے په وجه الکریم خپل بیا بیا

بسم الله الرحمن الرحیم

مرثیه د ترنګزو باباجی صاحب

الله نصیب کړے خپل دیدار د باباجی صاحب — په نور معمور لرے دربار د باباجی صاحب
د شریعت و طریقت او معرفت په ګلو — تر معطر لرے ګلزار د باباجی صاحب
د محبوب ډیر محترم په پاک وجه الکریم — جاری فیضان لرے بار بار د باباجی صاحب
دواړو جهانو کښے لرے ډیر د عزت خاوندان — کل خاندان هر تعلقدار د باباجی صاحب
رب العزته د جنت روضه کښے سوال کومه — مکړے خزان د فیض بهار د باباجی صاحب
دیارلس سوو شپږ پنځوس هجره د باکمال حضرت — لسلم شوال کښے وو رفتار د باباجی صاحب
بادشاه ګلان د دواړه کړے سرفراز د اسلام — داسے جمله عالی تبار د باباجی صاحب
مرکز د دین لرے خاونده المجاهد اباد — په شرافت عزت وقار د باباجی صاحب
صلاة سلام د رب د علم په مقدار د محبوب — او سره له هر یوتا یعدار د باباجی صاحب

خوار محمد امین نن نا ستا دے د جنت روضه کښے
قربان له ګرد نه د پاڼو ر د باباجی صاحب

بسم الله الرحمن الرحیم

مناجات بدرګاه قاضی الحاجات بطفیل پیرانِ عظام ومشائخ کرامؒ سلسلهٔ قادریه مبارکه

خپل رب العزته پخپل محض احسان شے رضا
ستا په دربار سوال کوو خواران عاجزان شے رضا

تا سره چه بنائی کوم لوئے شان دَ خپل عزت ربه
تا سره چه بنائی کوم احسان دَ خپل عظمت ربه
تا سره چه بنائی کوم فیضان او کوم رحمت ربه
بس په هغه شان هغه احسان او فیضان شے رضا

دَ ډیر محترم او مکرم عابد زاهد مرشد
بحر دَ فیضان عرفان حضرت فضل واحدؒ مرشد
ستا په لار کښے ښکلے بهادر او مجاهد مرشد
تر په مخ دَ دغه مرشد بحر عرفان شے رضا

بیا په مخ دَ حضرت عالم کلؒ او نجم الدینؒ حضرت
بیا حضرت عبد الغفورؒ محمد شعیبؒ نازبین حضرت
بیا په مخ دَ حافظ محمدؒ سنته دَ دین دَ حضرت
بیا دَ محمد صدیق په حسن تابان شے رضا

بیا دَ حضرت شیخ جنیدؒ او حضرت شیخ احمدؒ په مخ
بیا دَ شاه عالمؒ شهمنورؒ ډیر معتمد په مخ
بیا دَ شاه دولهؒ صاحب طالب دَ حق مقصد په مخ
دَ عبد القادرؒ غوث الاعظمؒ په لوئے شان شے رضا

دَ ابو سعیدؒ ابو الحسنؒ ابو الفرحؒ حضرت
هم دَ عبد الواحد او عبد العزیزؒ په ډیر عزت
بیا دَ شیخ ابو بکر شبلیؒ صاحب دَ لوئے صفت
بیا دَ شیخ جنید بغدادیؒ په دوران شے رضا

بیا دَ حضرت سری سقطیؒ معروف کرخیؒ په مخ
دَ حضرت داود طائیؒ حبیب پاک عجمیؒ په مخ
بیا دَ حضرت محترم مرشد حسن بصریؒ په مخ،
بیا په مخ دَ حضرت علیؓ شاه مردان شے رضا

بیا په مخ دَ ډیر پاک محترم او مکرم محبوب
اشرف و اکرم دَ جملگی نسلِ آدم محبوب

حضرت محمد مصطفیٰ سرور عالم محبوب،
نور نه ئے تا پیدا کړه جملگی مرسلان شے رضا

اشرف و اکرم دَ مرسلانو دَ محفل محبوب،
انور و ارحم دَ مرسلانو دَ محفل محبوب
شاهِ مکرّم دَ مرسلانو دَ محفل محبوب،
دواړه جهانونه ئے چه په مخ دی روښان شے رضا

بیا دَ جبرائیل علیه السّلام په شرافت ربه
بیا دَ خپل پاک ذاتِ مقدس په لوئے عزت ربه
بیا دَ خپل وجه الکریم په حُسن او زینت ربه
فضل و کرم او کړے له هر یو مسلمان شے رضا

پورته درجات کړے دَ جمله پیرانو خپل ربه
زیات فیض و احسان کړے دَ جمله پیرانو خپل ربه
ښکلی کل حالات کړے دَ جمله پیرانو خپل ربه
کړے په نور معمور خونو جمله صاحبان شے رضا

خپل رب العزته **محمد امین** حقیر ذلیل
کونږ کوز کوری ښکته **محمد امین** حقیر ذلیل
ډیر زیات ملامته **محمد امین** حقیر ذلیل
ته له دے محتاج عاجز حیران پریشان شے رضا

بسم الله الرحمن الرحیم

ختم دَ کتاب

په محض فضل او احسان، توفیق او هدایت دَ خپل کریم و رحیم و عظیم رب العزة جل جلاله و عم نواله په ۱۰ دَ شوال المکرم هجری سنه ۱۳۷۶ھ دیارلس سوه شپږ اویا دا کتاب "روضة الحبیب" ختم شو. ما شاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم ۞ یر روضه

دَ جنت کښې، او متصل پنجرې مبارکے سره په مابین دَ اسطونة سرير، او اسطوانة حرس کښې.

او هم په دے ۱۳۵۶ھ شوال المکرم هجري دیارلس سوه او شپږ پنځوس لسنم د حضرت مرشد محترم بهادر مجاهد اعظم باباجي صاحب "فضلِ واحد" د ترنګزوي رحمة الله تعالىٰ عليه. وصال يعنې وفات شوے وو. انا لله و انا اليه راجعون ٥ نو چونکه دا کتاب په ارشاد مبارک دَ محبوب انوي عليه افضل الصلوٰة و السّلام اوليکلے شو.

نو ثواب دَ دے کتاب دِ هديه مبارکه روح مبارک ته دَ محبوب صلى الله عليه وعلىٰ اٰله واصحابه وي. او بيا دَ محبوب انور صلى الله عليه وسلم له طرفه دِ دَ هغوئ په وسيله، او عزت دَ حضرت باباجي صاحبؒ روح مبارک او دَ جمله مشائخ کرامو روحونو مبارکو ته هديه وي، بيا مور پلار دَ دے عاجز او جمله حقدارانو، دوستانو، دَ هر نسبت ته دَ دے عاجز دِ هديه وي.

بيا جمله پيغمبرانو مبارکو ته، او اهل بيتو مبارکو، او جمله اُمت دَ محبوب انوي مبارک ته او جمله مُسلمانانو ته دِ له طرفه دَ محبوب انوي مبارک ته، او جمله مسلمانانو ته دِ له طرفه دَ محبوب صلى الله عليه وسلم دَ هغوئ مبارکو په اعزاز او سرفرازئ هديه وي.

او نسبت دَ دے کتاب دِ حضرت باباجي صاحب رحمة الله عليه ته وي. ماشاء الله لاحول ولاقوة الا بالله العلى العظيم ٥

سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ٥ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ٥ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥

بسم الله الرحمٰن الرحيم

صد هزار هزار هزار شکرونه — صد هزار هزار هزار حمدونه
دَ ازل نه تر ابده په بار بار — دَرب العزة دَ لوئے علم پشمار
په لمحه لمحه دَ ابد الابد کښې — په طرفه طرفه دَ ابد الابد کښې
او هم دَ غسے درود په پاک حضرت — په ادب حيا تعظيم او محبت،

هم په آل و په اصحابو دَ محبوبؐ — هم په جملګی احبابو دَ محبوبؐ
په لوئے شان سره دَ رب العزة بنائی — چه احسان سره دَرب العزة بنائی
خاص په فضل او احسان دَ خپل خاوند — هدايت توفيق فيضان دَ خپل خاوند
کتاب ختم شو روضه کښې دَ جنت — ربه ته مو پورے نصيب کړے خپل وصلت
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عظمت — دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے عزت
دَ خپل ذاتِ مقدس په لوئے جلال — دَ خپل ذاتِ مقدس په پاک جمال
دَ خپل ذات مقدس په ادبونو — دَ خپل ذاتِ مقدس په تعظيمونو
دَ اشرف الانبيا محبوب حضرت — په شرف عزت او جاه او جلالت
دَ جمله پيغمبرانو په آبرو — دَ جمله پيغمبرانو په کل خو
دَ جمله پاکو پيرانو په خاطر — دَ جمله خپلو دوستانو په خاطر
په جنت کښې در ته سوال کوم زه خوار — ستا دَ لوئے علم په بے حده تکرار
چه قبول کړے دا جمله کتاب خپل ربه — ستا رضا لقا مو کړے ثواب خپل ربه
کل ژوندون دَ دے عاجز فقير ناتوان — دا سے کړے لکه چه دلته وي هر ان،
دَ جمله خپلو دوستانو سره ربه — دَ جمله مُسلمانانو سره ربه
په هغه شان چه لتا سره خائسته ربي — ستا رضا او ستا لقا پورے حاصليږي
ستا دَ علم په لوئے شمار دِ وي امين — تر ابده يا اله العالمين،
دا کتاب چه په هر ځائے کښې هر څوک لولي — ربه ستا فضل واحسان دِ پرے تل تلي
دا سے اجور کړے خپل رب العزته — بے زوال قائم تر تل رب العزته
لکه دلته ئے هم دِ روضه کښې لولي — دَ جوندون جمله کارونه ئے کړے بنکلي
شريعت او طريقت ئے پرے نصيب کړے — معرفت او حقيقت ئے پرے نصيب کړے
دَ محبوب تر شريعته ئے کړے زار — دَ خپل لوئے او مبارک علم پشمار
په امان ئے کړے له فسق له فجوره — په امان ئے کړے له هر ديني قصوره
په ابرو او شرافت دَ دے محبوب — په عزت او برکت دَ دے محبوب
دے عاجز ته ئے په دعا بانډ کوبا کړے — او قبول ئے دعا يا کبريا کړے
الحج هدا با ذکر مرکز دَ دين، — تر محشره يا اله العالمين
جمله اهل ئے لوے پرهيزګاران — چه په دين دَ محبوب وي قربان قربان

سرفراز کړے جماعتِ ناجیه ۔۔۔ ډیر ممتاز کړے جماعتِ ناجیه
دَ بیعت دونره جمله کړے عارفان ۔۔۔ صادقان او قیدِ ایمان او واصلان
جمکنی دارالعلومه سرفراز کړے ۔۔۔ بیل بیل خپل خپل امتیاز بانډ ممتاز کړے
دَ کفار و ظالمانو تعلیم ورک کړے ۔۔۔ چه ئے خوک امداد کوی هغه هم سپک کړے
خپله ربه سرفراز کړے کل پښتون ۔۔۔ عزتمند او ډیر ممتاز کړے کل پښتون
دَ قران قانون جاری کړے خپله ربه ۔۔۔ مسلم او ساتے له هر کار بے ادبه
دَ محمد مصطفیٰ خُلقِ عظیم ۔۔۔ دَ محمد مصطفیٰ خُلقِ کریم
کړے نصیب دَ جمکنی مُسلمانانو ۔۔۔ مهربانه په عاجزو بندګانو
ده ۱۴۰۸ه دَ شوال خپله خاونده ۔۔۔ کړے قبول موهر یو سوال خپله خاونده
دَ یارلس سوه شپږ اویا دَ هجرت ۱۳۷۶ ۔۔۔ دَدے پاک محبوب چه ډیر لری عزت
چه شو ختم دا کتاب په احسان ستا ۔۔۔ چه شو ختم دا کتاب په فیضان ستا
باباجی صاحبؒ په دِ ۱۴۰۸ه شوال، ۔۔۔ وفات شوے و نصیب ئے کړے وصال
دا کتاب دِ دَ هغوی په نوم منسوب وی ۔۔۔ او رضا لقا دِ ستا پکښے مطلوب وی

په جنت کښے محمد امین جریری
دَ محبوب هرے ادا نه قربانیږی

ربه ته ئے کړے نصیب خپله رضا ۔۔۔ ربه ته ئے کړے نصیب خپله لقا
دَ جمله خپلو دوستانو سره ربه ۔۔۔ دَ جمله مسلمانانو سره ربه

ستا دَ علم په لوئے شمار دِ وی آمین
تر محشره یا اله العالمین

تماری

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلٰمٌ
عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ آمین

تمت بالخیر

فتویٰ علماء حرمین الشریفین

زادهما الله تعالیٰ شرفًا وتکریمًا فی تردید اداء حرف (ض)
التی یقرءها بعض الناس مشابهًا بصوت الظاء هداهم الله تعالیٰ بجاہ
حبیبه الکریم علیه افضل الصلوٰة والتسلیم. آمین

استفتا :-

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ما قولکم دام فضلکم ایها العلماء الکرام والمقرون العظام فی مسئلة اداء حرف الضاد فی الحرمین الشریفین زادهما الله تعالیٰ شرفا وتعظیما الی یومنا هذا یقرؤن حرف الضاد عن مخرجه بصوته الصحیح والالاف من المسلمین یسمعون ذلک، هل هذا صحیح، او ما یقرء بعض الناس حرف الضاد علی خلاف ذلک الصوت المعروف فی الحرمین الشریفین بینوا توجروا۔

الجواب :- ان اداء حرف الضاد من مخرجه بالصوت الذی یقرؤونه فی الحرمین الشریفین. والالاف من المسلمین یسمعون ذلک الصوت هو الصحیح، واما خلاف ذلک فغیر صحیح. سواء کان صوت ذلک المخالف شابها بالظاء او بحرف اخر. هذا هو الحق. وماذا بعد الحق الا الضلال۔

(۱) بسم الله الرحمٰن الرحیم۔ الحمد لله وحده والصلوٰة والسلام علی من لا نبی بعده۔ الجواب علی هذا هو الصواب والسلام علی من اتبع الهدیٰ وخلاف ذلک لا یجوز. کاتبه خادم القرآن بالحرم الشریف النبوی حسن ابراهیم الشاعر۔

(۲) مدیر مدرسة القراءات العشر بالمدینة المنورة احمد یاسین الخیاری۔

(۳) موافقا لما قاله السید الخیاری. کتبه قاسم احمد جان۔

(۴) الجواب الذی اجابه الشیخ صحیح لا غبار علیه. الجواب صحیح الشیخ حامد القاری

له اصل ددے فتویٰ په حاجی آباد کښے شته. دوستان ئے ډیر په ښه ذره کتے شی، ماشاء الله لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم ۝ ۱۲

عبد القادر بخاری مدرس لحفظ القرآن ومعلم التجوید مدرسة المهاجرین فی المدینة المنورة.

(۵) هذا الجواب صحیح ضیاء الدین خوقندی المجاورة بالمدینة المنورة۔

(۶) الجواب الذی اجاب الشیخ صحیح لاکلام علیه۔ الشیخ عطاء الله.

(۷) الجواب فی هذه المسئلة هو ما تلقاه فی الحرمین الشریفین بالتواتر من مشائخهم وغیره لایلتفت. خادم العلم الشریف فی المدینة المنورة عنایت الله ابن السید جنید المدنی رح -

(۸) بسم الله الرحمن الرحیم ۝ نحمده ونصلی علی رسوله الکریم ط لاشک ان اداء حرف الضاد بالصوت المتعارف فی الحرمین الشریفین هو الحق. ولا یخالفه الا معاندٌ للحق. خادم الفقراء والعلماء عبد الغفور العباسی المجاور بالمدینة المنورة -

(۹) الحمد لله وحده. والصلوٰة والسلام علی من لا نبی بعده. اما بعد ما کتبه مولانا الشیخ عبد الغفور النقشبندی هو الصحیح وهو المعمول به فی الحرمین الشریفین - کتبه الفقیر الی الله عثمان بن علی الدواوی المدرس الدینی بالمدرسة الثانویة العسکریة -

(۱۰) ان مسئلة معرفة مخارج الحروف الهجائیة القرآنیة وصفاتها مما یؤخذ من افواه محقق مقوی وقراء ساداتنا العرب الکرام. او من افواه من اخذ عنهم ولازمهم واجیز منهم اجازة مطلقة کاملة - فالجواب المذکور الذی صدقه وصححه شیخنا شیخ القراء بالمدینة المنورة مولانا الاستاذ الشیخ حسن الشاعر. ومولانا السید احمد یاسین الخیاری المدنی. وغیرهما من الافاضل المذکورین المصدقین هو الصواب. وهو المعقول علیه. بل عامة اهالی بلاد العرب حتی صغارهم یخرجون حرف الضاد من مخرجها بسلیقتهم وطبیعتهم قبل تعلیمهم ویعیبون علی من خالفهم فی التلفظ بالضاد. قال الله تعالی فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّکْرِ اِنْ کُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ والله اعلم

کتبه خادم القرآن المجید والعلوم الدینیة بالمدینة المنورة محمد ابراهیم الفضلی الختنی ثم المدنی. اصلحه ربه الکریم الولی الغنی ۱۷/۱۰/۱۳۷۶ھ -

(۱۱) اصاب من اجاب. محمد علی تمکانی خادم الدین والعلم بالمدینة المنورة

(۱۲) ان ما افتی به علماء المدینه وفی مقدمتهم شیخ القراء کافٍ

شافٍ وافٍ والحمد لله رب العٰلمین ط وصلی الله علی سیدنا محمد وعلی اٰله وصحبه وسلم

کتبه السید علوی المالکی مکة المکرمه

باب السلام - غفر الله له

خصوصیت :- فتوے کانے خو دیر حجاج صاحبان راوړي. بلکه علماء کرام دَ حرمینو شریفینو دَدے فتویٰ لیکلو نه تنګ شوی دی. لیکن فتویٰ دا ده وی چه قرأت دَ حرف (ض) دَ حرمینو شریفینو صحیح دے. نو څوک چه مشابه بالصوت بالظاء (ض) لولی. هغوئ وائی یقینی دغه قرأت صحیح دے. لیکن حجاج نه پوهیږی. په حرمینو شریفینو کښے هم (ض) مشابه لصوت الظاء ویلے شی. اګر چه دا سے کسان په جمله مسلمانانو کښے دا سے کم دی لکه مالګه په اوړو کښے. لیکن بیا دا په زړګونو دَ سوادِ اعظم مسلمانان دروغجن کوی. العیاذ بالله تعالیٰ. نو الحمد لله چه په دِ فتویٰ کښے صریحًا تاکیدًا دا واضح شو. چه مشابه الصوت بالظاء غلط غیر صحیح دے. بلکه هغوئ لیکلی دی. وَمَا ذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلَالُ ط ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم ۝

محمد امین عُفی عنه

التماس

جناب صلاح الدین صاحب چه دَ محترم حاجی فقیر محمد صاحب مرحوم مالکِ نورانی کُتب خانه پیښور کشر برخوردار دے ښه نوجوان او دَ ښو اخلاقو خاوند دے. ډیر په مینه محبّت او اخلاص ئے دَ "روضة الحبیب" په چاپ کولو کښے کوشش او همّت اوکړو. دَ مسلمانانو دَ دعا اُمید وار دے. الله جل جلاله دِ دَ دارینو خیرونه نصیب کړی. آمین.

اللّٰهم وفقه لما تحب وترضیٰ۔